# اسلام پوهنه



ليکونکی: مولانا ابو فاروق رح

ژباړونکی: عبد الواسع "صابر"

## دا کتاب د عقیدې د کتابخانې سایت نه داونلود شوی دی.

## www.aqeedeh.com

برښنا لیک: book@aqeedeh.com

په عقیدې سایت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسایت د همغږۍ په معنا نه ده.

### په فارسی ژبه کې ځینی مفید سایټونه:

www.aqeedeh.com
www.islamtxt.com
www.shabnam.cc
www.kalemeh.tv
www.islamtape.com
www.blestfamily.com
www.islamworldnews.com
www.islamage.com
www.islamwebpedia.com
www.islampp.com
www.zekr.tv
www. mowahedin.com
www.sadaislam.com
www.islamhouse.com
www.bidary.net
www.tabesh.net
www.farsi.sunnionline.us
www.sunni-news.net
www.mohtadeen.com
www.ijtehadat.com
www. nourtv.net
www.videofarsi.com

# اسلام پوهنه

ليكونكي: علامه ابوفاروق (رحمه الله)
ژباړن: عبدالواسع صابر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الحمد لله و الصلاة و السلام على رسول الله

﴿ رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴾

# فهرست


| ګڼه | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | د ژباړن سریزه | الف |
| | **لومړی فصل: ایمان** | |
| ۲ | د مسلمانیدولپاره دعلم اړتیا | ۲ |
| ۳ | د مسلمان اوکافر اصلي توپیر او فرق | ۱۱ |
| ۴ | د غور وړ خبرې | ۲۴ |
| ۵ | د کلمهٔ طیبه معنیٰ | ۳۵ |
| ۶ | کلمهٔ طیبه او کلمهٔ خبیثه | ۴۸ |
| ۷ | په کلمهٔ طیبه باندې د ایمان راوړلو هدف او مقصد | ۶۰ |
| | **دویم فصل: اسلام** | |
| ۸ | مسلمان چاته ویل کیږي؟ | ۷۰ |
| ۹ | د ایمان معیار اوستهنډرډ | ۸۵ |
| ۱۰ | د اسلام اصلي او حقیقي معیار | ۹۲ |
| ۱۱ | د الله تعالی اطاعت دڅه لپاره؟ | ۱۰۹ |
| ۱۲ | دین اوشریعت | ۱۲۰ |
| | **دریم فصل: لمونځ** | |
| ۱۳ | عبادت | ۱۳۴ |
| ۱۴ | لمونځ | ۱۴۲ |
| ۱۵ | په لمانځه کې تاسې څه لولئ؟ | ۱۵۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۶ | په جماعت سره لمونځ | ۱۷۲ |
| ۱۷ | لمونځونه ولې بې اغیزې شویدي؟ | ۱۸۸ |


## شلورم فصل: روژه


| | | |
|---|---|---|
| ۱۸ | روژه | ۲۰۰ |
| ۱۹ | دروژې اصلي موخه اوهدف | ۲۱۰ |


## پنځم فصل: زکات


| | | |
|---|---|---|
| ۲۰ | زکات | ۲۲۱ |
| ۲۱ | دزکات حقیقت | ۲۳۵ |
| ۲۲ | په ټولنیزژوندکې دزکات درجه | ۲۵۰ |
| ۲۳ | دانفاق فی سبیل الله عام احکام | ۲۶۰ |
| ۲۴ | دزکات ځانګړي احکام | ۲۷۴ |


## شپږم فصل: حج


| | | |
|---|---|---|
| ۲۵ | حج | ۲۸۸ |
| ۲۶ | دحج تاریخ | ۳۰۴ |
| ۲۷ | دحج ګټې اوفایدې | ۳۱۹ |
| ۲۸ | دحج نړیواله اجتماع اوټولنه | ۳۳۲ |


## اووم فصل: جهاد


| | | |
|---|---|---|
| ۲۹ | جهاد | ۳۴۹ |
| ۳۰ | دجهاد اهمیت | ۳۶۵ |

# بسم الله الرحمن الرحيم

## د ژباړن سریزه

اسلام پوهنه د علامه ابوفاروق رحمة الله عليه د هغه مهم، نامتو او مشهور کتاب پښتو ژباړه ده چې تر اوسه پورې سل ځلې چاپ شوی او هر ځل په زرګونو چاپ شوی چې ټول شمیر یې لکونو ته رسیږي.

پدی کتاب کې د اسلام پنځه بناوې په ډیره ساده، اسانه، روانه او له دلایلو ډکه ژبه وړاندی شوی چې که په رینتیا، بې له ضد او تعصب څخه پرې غور وشي نو د اسلام حقانیت به ورته د لمر پشان روښانه او څرګند ښکاره شي چې هیڅ ډول شک، شبهه او زړه تنګي به پکې ونه ګوري.

دا کتاب مو هم په ډیره ساده، روانه او خوږه پښتو ژبه وژباړه تر څو ځمونږ پښتانه ورونه هم ددې مهم، ضروري او اړین کتاب له خوږو خبرو او معلوماتو څخه بې برخې پاتې نشي او د فتنو پدی دور کې د خپل عظیم دین اسلام په حقانیت او رینښتنولی باندې پوه شي.

په اسلام پوهنه کې لومړې د ایمان څخه بحث شوی چې د دین بنیاد او بنسټ پرې ولاړ دی او پرته له هغې څخه دین هیڅ معنی نلري، بیا وروسې د اسلام بیان شویدی چې د ایمان په بنیاد ولاړ دی او پدې کې ټول ضروري او اړین معلومات وړاندې شوي.

د ایمان او اسلام څخه وروسته د اسلام اساسي، بنیادي او ضروري رکن لمونځ ته ځای ورکړل شوی او د هغې

اهمیت، فایدې، ګټې او حکمتونه بیان شویدي، د لمانځه څخه وروسته د روژې فایدې، ګټې او حکمتونه وړاندی شوي چې که په ریښتیا سره عملي شي نو د انسان څخه متقي، پرهیزګار او شکر کوونکي جوړوي.

د روژې څخه وروسته د اسلام د اقتصادي نظام بنسټ او بنیاد زکات بیان شوی او د هغې اهمیت ته په دین او دنیا کې اشاره شویده، همدارنګه زکات د مسلمان لپاره یو ازمیښت او امتحان بلل شویدی.

بیا ورپسې نړیوال عبادت حج ته هم اشاره شویده، د هغې تاریخ، اهمیت، ګټې، فایدې او اغیزې وړاندې شویدي، که چیرې پدی عبادت باندې سم عمل وشي نو مسلمانان به یو واحد، لوی او ستر ځواک شي چې که دکفري نړۍ ځواکونه ورته لاسونه هم یو کړي نو زوربه یې پرې ونه رسیږي.

په اخر کې د اسلام څوکې، د اسلام حفاظت کوونکې او پورته عبادت جهاد في سبیل الله ته اشاره شوی، د هغې اړتیا، ضرورت او اهمیت بیان شوی او جهاد داسې عمل بلل شوی که هغه په شرعي او سمه طریقه سرته ورسول شي نو نړۍ به د امن او کرارۍ زانګو وګرځي، هر ظلم، تیري او زور ځواکي به ختمه شي.

والسلام

عبدالواسع صابر

۱۳۸۸-۱۰-۱۰ لمریز

# لومړی فصل

# ایمان

# ۱
# دمسلمانیدو لپاره د علم اړتیا

## دالله پاک تر ټولو لوی احسان

ځما د اسلام ورونړو!

هر مسلمان دزړه له اخلاصه پدې پوهېږي چې په نړۍ کې تر ټولو لوی اوستر الهي احسان اسلام دی، هر مسلمان پدې باندې دالله پاک شکر او مننه سرته رسوي چې هغه يې د اخري پيغبرپه امت کې پېدا کړی، اود اسلام ستر او لوی نعمت يې ور په برخه کړی، خپله الله پاک د بندګانو لپاره دالوی اوسترنعمت بللی دی، قرآن مجيد پدې هکله فرمايي:

﴿ ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا ﴾ المائدة: ۳

((نن ماستاسې لپاره ستاسې دين پوره او مکمل کړ، او پر تاسې مې خپل نعمت پوره کړ،اوستاسې لپاره مې داخبره غوره کړه چې ستاسې دين اسلام وي)).

## د احسان پېژندني غوښتنه

کوم احسان چې الله پاک پرتاسې کړی دهغې حق اداء کول پر تاسې فرض دي، ځکه څوک چې دچا د احسان حق او بدله نه ورکوي هغه ته احسان هېرونکې وايي، او تر ټولو غټ او بد احسان هېرول دا دي چې انسان دالله پاک حق هېر کړي.

اوس شايدتاسې پوښتنه وکړئ چې د الله پاک حق څه ډول اداء کېږي؟

زه اوس درته وایم چې کله تاسې الله پاک په محمدي امت کې داخل کړئ نو د دې احسان سمه او غوره شکریه او مننه اداء کول دا دي چې تاسې دمحمدﷺ پیروي او اطاعت وکړئ.

کله چې تاسې الله پاک په اسلامي امت کې داخل کړئ نو دهغه ددې مهربانۍ حق تاسې داسې پوره کولای شئ چې تاسې پوره مؤمنان او مسلمانان شئ.

ددې څخه پرته تاسې د الله پاک د احسان حق او شکر نشئ اداء کولای، نو که تاسې ددې احسان حق ادا نکړ نو لکه څرنګه چې دالله پاک احسان لوی دی دهغې ګناه او وبال هم همدومره لوی دی، الله پاک دې مونږ ټول ددې وبال څخه وساتي.

## د مسلمان کېدو لپاره لومړي ګام

د دې څخه وروسته به تاسې دوېمه پوښتنه دا کوئ چې سړی څه ډول پوره مسلمان کېدای شي؟

ددې پوښتنې ځواب ډېر لوی دی چې کېدای شي وروسته کله بیان شي خو اوس دهغې په هکله څه لنډ شانته معلومات وړاندې کېږي چې هغه عبارت دلومړي پل څخه دی او دا ددې لارې لومړي ګام بلل کېږي.

## ایا مسلمان دنژاد اونسل نوم دی؟

لږ په خپل دماغ باندې زور واچوئ اوفکر وکړئ چې مسلمان چاته ویل کېږي؟ ایا انسان دمورڅخه مسلمان پیدا کېږي؟ ایا یو سړی یواځې پدې مسلمان ګڼل کېږي چې هغه دمسلمان ځوی اود مسلمان لمسی دی؟

ايا يو مسلمان هم همداسې له موره مسلمان پېدا کېږي لکه څرنګه چې يو برهمن له موره پېدا کېږي؟ ايا د راجپوت ځوی راجپوت او د شودر ځوی شودر پېدا کېږي؟

ايا مسلمان د کومې کورنۍ، قوم، نژاد او نسل نوم دی لکه څرنګه چې انګريز دانګريز په کور کې پېدا کېږي؟ يا جټ پدې خاطر چې د جټ په قوم کې پېدا شويدی؟

ايا مسلمان پدې خاطرمسلمان دی چې د مسلمانانو په قوم کې پېدا شويدی؟

کومې پوښتنې چې ماستاسې څخه وکړی تاسې به ددې ځواب څرنګه ورکوئ ؟

تاسې به دا وايئ چې داسې نده مولانا صاحب!

مسلمان دنسل اونژاد په وجه مسلمان نه بلل کېږي، بلکې د اسلام راوړلو په سبب مسلمان بلل کېږي، کله چې هغه اسلام پرېږدي نو بيا هغه مسلمان نه پاتې کېږي.

که يو انسان برهمن وي که راجپوت، که انګريز وي که جټ او که پنجابې وي که حبشي، کله چې هغه اسلام ومني نو په مسلمانانو کې شمېرل کېږي. خو بل سړی چې د مسلمان په کوراو قوم کې پېداشوی وي که اسلام خوشې کړي نو هغه د مسلمانانو له ډلې څخه ووت سره لدې که هغه دسيداو پير ځوی هم وي.

دا ولې داسې ده ؟ تاسې به ځما دپوښتنو ځواب همداسې ورکوئ کنه ؟ ستاسې دخپل ځواب څخه داځر ګنديږي چې کوم لوی نعمت د مسلمانئ چې الله پاک تاسې ته درک يدی داتاسې ته هسې له موره په ميراث پاتې شوی ندی چې تل به ستاسې پورې نښتی وي که تاسې دهغه پروا کوئ او کنه بلکې دا داسې لوی

نعمت دی چې دهغې د لاسته راوړلو لپاره به خپله هلې ځلې او خواري کوئ. که تاسې خپله کوښښ او هلې ځلې وکړی نو هغه به پلاس درشي او که دهغې پروا مو ونکړه نو ستاسې څخه اخستل کیږي هم.

## د اسلام راوړلو مطلب

اوس تاسې مخکې ولاړ شئ، تاسې وویل چې په اسلام راوړلو سړی مسلمان ګرځي،پوښتنه دا ده چې د اسلام راوړلو مطلب اومعنی څه ده؟

ایا داسلام راوړلو دا مطلب دی چې یو سړی دی په خوله ووایي چې زه مسلمان یم ! بس هغه مسلمان شو؟ یا د اسلام راوړلو مطلب دا دی. لکه چې هندوان څو منترونه په خوله پرته له فکر اوغور څخه لولي، مسلمان هم باید پرته له غور او فکر څخه دعربي څو جملې او کلمات ولولي بس پدی به مسلمان شي؟ تاسې خپله ووایئ چې د دې څواب به څرنګه ورکوئ؟

تاسې به داسې وایئ چې د اسلام راوړلو مطلب اومعنی داده چې کومې لار ښوونې حضرت محمدﷺ راوړیدي په هغې ځان پوه کړي ، دزړه له اخلاصه یې ومني او بیا دهغې سره سم عمل وکړي، چې څوک داسې وکړي هغه مسلمان دی اوچه څوک یې ونکړي هغه مسلمان ندی.

## لومړی اړتیا : علم او پوهه

کوم ځواب چې تاسې ورکوئ دهغې څخه څرګندیږي چې لومړې د اسلام نوم علم اوپوهه ده او بیا دعلم څخه وروسته عمل. یوسړی

د علم او پوهې څخه پرته هم برهمن کېدای شي ځکه برهمن پېدا شویدی او برهمن به وي، یوسړی پرته له علم څه پښتون کېدای شي ځکه چې پښتون پېدا شوی او پښتون به وي،خو یو سړی پرته له علم او پوهی څخه مسلمان کېدای نشي، ځکه چې مسلمان دپېدایښت له امله مسلمان نشي کېدای بلکې دعلم اوپوهی په وسیله مسلمان ګرځي، چاته چې څرګنده نه وي چې د حضرت محمدﷺ لارښوونې څه دي نوهغه به پرې څه ډول ایمان راوړي اوڅه ډول به پرې عمل وکړي؟ او کله چې دپوهی او عمل څخه پرته هغه پرې ایمان را وړي نوهغه به څه ډول مسلمان شي؟ د دې څخه څرګنده شوه چې دجهالت او ناپوهۍ سره مسلمان پاتې کېدل امکان نلري.هر څوک چې دمسلمان په کور کې پېدا شویدی، د هغه نوم دمسلمانانو پشان دی، د مسلمانانو پشان جامې اغوندي، او خپل ځان ته مسلمان وایي په اصل اوحقیقت کې هغه مسلمان ندی، په حقیقت او اصل کې مسلمان هغه څوک دی چې اسلام پېژني اوپه هغې دپوهی او علم سره ایمان اوباور لري.

دمسلمان اوکافر تر منځ فرق اوتوپیر یواځې په نامه سره ندی چې دې عبدالله اوهغه جان دی، نو ځکه یو مسلمان او بل کافر دی،همدارنګه دکافر او مسلمان فرق او توپیر په جامو او لباس کې ندی چې یو کمیس او پرتوګ اغوندي اوبل دریشي ځکه نو یو مسلمان او بل کافر دی بلکې د دواړو تر منځ فرق او توپیر په علم اوپوهه کې دی.

هغه یوپدې کافر دې چې پدې نه پوهیږي چې دده او د ده د خالق تر منځ اړیکې څه دي او د خالق درضا او خوښۍ سره سم څه ډول ژوند تیرول پکار دي؟

که دیو مسلمان څوی هم همداسې وي نو بیا د کافر او مسلمان د څوی په منځ کې څه فرق دې اوولې داسې وایي چې فلانې کافر او فلانې مسلمان دی.

وروڼو! کومه خبره چې زه درته کوم هغه په خلاصو غوږونو واورئ او په سړه سینه غور پرې وکړئ، پدې ښه پوه شئ کوم لوی نعمت او احسان چې الله پاک درباندې کړیدی اوتاسې هر وخت دهغې شکر اومننه اداء کوئ دهغې لاس ته راوړل او له لاسه وتل په علم او پوهی پورې تړاو لري.

که علم نه وي نو دا نعمت انسان ته پلاس نه ورځي؟ که لږ شانته پلاس راوړل شي خود ناپوهۍ او جهالت په سبب هر وخت د دې ویره شته چې بیایې له لاسه ولاړ شي او هغه به دخپلې ناپوهۍ اوناخبرۍ په سبب وایي چې زه لاهماغسې مؤمن اومسلمان پاتې شوی یم.

هغه څوک چې پدې نه پوهیږي چې په کفر او اسلام کې څه فرق او توپیر دی اوپه اسلام اوشرک کې څه امتیاز اوتفاوت دی؟ د داسې سړي مثال دهغه چا پشان دی چې د سیند په غاړه غاړه په توره تیاره او شپه کې روان وي او په تلو تلو کې بلې خوا او بل لوري ته روان شي اوخپله اصلي لاره ورڅخه پاتې شي او یاداچې په لاره کې ورته کوم دجال ولاړ وي اوهغه ته ووایي چې ښاغلیه تا خوخپله لاره په تیاره کې غلطه کړې نوځما پسې راځه چې زه دې خپل موخې او هدف ته ورسوم.

دتورې شپې مسافر چې خپله لاره پخپلو سترګو نشي ليدلا ی چې نيغه او سمه لاره کومه يوه ده؟ نو بيابه په ناپوهۍ سره خپل لاس د دجال پلاس کې ورکوي او هغه يې چې هر لوري ته ګرځوي هغه لوري ته ورسره ځي. دا خطر داسې سړي ته ځکه په لاره کې پېدا کېږي چې دده سره خپله کومه رڼا او روښنايي نشته او نه خپله په هغه لاره باندې بلدتيا لري په کومه چې دې روان دی.

که چېرې دهغه سره روښنايي او رڼا وي او په لاره باندې هم بلدتيا ولري نو بيا هغه نه لاره ورکولا ی شي او نه يې څوک په لاره کې غلطولې او بې لارې کولا ی شي.

تاسې همداسې فکر وکړئ چې دکوم مسلمان سره علم او پوهه نوې د هغه لپاره لوی خطر هر وخت موجود وي، ځکه هغه پدې نه پوهېږي چې قرآن مجيد کومه لاره خلکوته په ګوته کوي او حضرت محمدﷺ کومې لارښوونې لري؟ دهمدی ناپوهۍ، ناخبرۍ او جهالت په سبب هغه خپله هم لاره ورکولا ی شي او هم يې بل څوک بې لارې کولای شي، خو که دهغه سره دعلم او پوهې رڼا وي نو د ژوند په هرپل او ګام کې هغه داسلام نيغه اوسمه لاره پېژندلې او پېدا کولا ی شي، په لاره کې چې د کفر، شرک، الحاد،فسق او فجور کومې کوڅې او کږې وږې لارې راځي هغه ټولې پېژندلې او ځان ورڅخه خلاصولې شي، که په لاره کې ورسره کوم ګمراه کوونکې او بې لارې کوونکې مخامخ شي نو په يو څو خبرو باندې هغه پېژندلې شي چې دا خو له لارې څخه بې لارې کوونکې دی نو دهغه پيروي او اطاعت نکوي.

## د علم او پوهې اهمیت

ورونو!

دکوم علم او پوهې اړتیا چې زه درته بیانوم په هغې باندې ستاسې او ستاسې داولادونو اسلام راوړل او مسلمان پاتی کېدل تړلی دي. دا څه عادي شې ندی چې د هغې څخه دی څوک بې پرواشي.

تاسې دخپلې کرهنې او زراعت په کار کې بې پروایي او غفلت نکوئ، فصلونوته په اوبو ورکولو اودهغې په ساتنه او حفاظت کې غفلت او بې پروایي نکوئ، خپلو څارویو ته په دانه او وښو ورکولو کې بې پروایي نکوئ او د خپلې دندی او کسب په کارونو کې هېڅ وخت له غفلت او بې پروایي څخه کار نه اخلی ، دا ولې نکوئ؟ ځکه چې ددې غفلت،لټی او بې پروایي په پاې کې هر څه له لاسه ځي او بیا به له لوږې څخه ستاسې خوږ بدن او ځان ختم شي.

نو اوس ماته تاسې دا ووایئ چې دهغه علم او پوهی په لاس ته راوړلو کې ولې غفلت، بې پروایي اولټې کوئ په کوم پورې چې ستاسې مسلماني، عقیده او اخرت تړلی دی؟ ایا د دې بې پروایی، لټی او غفلت په پاې کې دایمان پشان خوږ، قیمتي او ارزښتناک شي له لاسه نه وځي ؟ ایا ایمان او عقیده له بدن او ځان څخه خوږ او قیمتي شی ندی؟ تاسې چې کومه خواري، کوښښ او هلې ځلې د خپل بدن د ساتنې او حفاظت لپاره کوئ ایا د هغې لسمه برخه هلې ځلې او کوښښ د ایمان او عقیدی د ساتنی لپاره کوئ؟

زه تاسې ته دانه وایم چې تاسې هر یو مولوي او لوی عالم جوړ شئ، لوی لوی کتابونه ولولئ او دخپل عمر لس، دولس کاله پدې کې ولګوئ، د مسلمانی لپاره دومره زیات علم ندی پکار.

بلکې زه دا درته وایم چې تاسې د شپې او ورځې په څلرویشت ساعتونو کې یو ساعت ددیني علم او پوهی لپاره ورکړئ ځکه په هر مسلمان نارینه او ښځینه باندې دومره علم او پوهه فرض او

لازمي ده چې هغه پدې پوه شي چې قرآن مجيد دځه موخې اوهدف لپاره رالیږل شویدی اوڅه لار ښوونې یې رواړې دي اونبيﷺ دکومو شیانود راوستلو،ځای پرځای کولو او کوموشیانو د لری کولو او ختمولو لپاره راغلې ؤ؟ په هغه لارو چارو او طریقو ځان پوه کړئ چې الله پاک د مسلمان لپاره ټاکلې دي، د دومره علم اوپوهی د لاسته راوړلو لپاره زیات وخت ته اړتیا نشته که چاته ایمان او عقیده ګرانه، قیمتي،ارزښناکه او خوږه وي نو بیا خو یو ساعت وخت په ټوله شپه او ورځ کې ورکول څه ګران وسخت کارندی.

## ۲
## د مسلمان او کافر اصلي فرق او توپیر

څمادا اسلام ورونړو!

هر مسلمان داسې فکر کوي اوتاسې به هم شاید همداسې فکر او نظر ولرئ چې دمسلمان درجه اومرتبه تر کافر لوړه اوپورته ده، مسلمان الله پاکﷻ ته ګران اومحبوب دی اوکافر ورته ناګران دی، مسلمان دالله پاک له لوري ببښل کېږي خو کافر ته هیڅ بخشش نشته. مسلمان به بلاخره جنت ته ځي او کافر به بلاخره ددوزخ او اورته ننوځي.

زه اوس تاسې ته دا خبره څرګندوم چې دا دومره لوی فرق اوتوپیر ولې په منځ کې شته؟ پداسې حال کې چې کافر هم د آدمؑ اولاد دی او مسلمان هم، کافر هم ستاسې پشان انسان دی، کافر هم ستاسې پشان دوه سترګې، غوږونه، پوزه او خوله لري، هغه هم له همدې هوا څخه تنفس کوي اوله همدې اوبو څخه اوبه څښي، په همدې خاوره او ځمکه باندې اوسیږي او د همدې زمکې او خاورې حاصلات ستاسې پشان خوري، ستاسې پشان له موره پیدا کېږي او ستاسې په څېر مړکېږي، هغوی هم الله پاک پیدا کړي او تاسې یې هم پیدا کړي یاستئ، نو بیا ولې او د څه لپاره په درجه او مرتبه کې دومره فرق او توپیرموجود دی؟ تاسې ولې جنت ته ځئ او هغوی دوزخ ته؟

## ایا یواځې په نامه کې سره توپیر شته؟

پدې خبره غور کول پکار دي چې ایا په دوه انسانانو کې دې دومره فرق اوتوپیر یواځې پدې خاطر وي چې یوعبدالله او بل جان دی، یو عبدالرحمن او بل رنجیت سنګ دی؟ یا داچې تاسې په کوچنیوالی کې سنت شوی یاستئ او هغوی سنت شوی ندي؟ یا تاسې غوښه خورئ او هغوی ترکاري؟ الله پاک چې د ټولو مخلوقاتو او یا د ټولو انسانانو خالق او مالک دی داسې ظلم اوتېرې نکوي چې په کوچنیو او وړو، وړو خبرو باندې دومره لوی فرق راولېږي چې یو بنده جنت ته او بل بنده اور، دوزخ اوجهنم ته واچوي.

## اصلي او حقیقي توپیر د اسلام او کفر دی

که چېرې د نامه خبره نه وي نو بیا پدې خبره غور او فکر کول اړین اوضروري دې چې حقیقي فرق اوتوپیر په څه کې دی؟ددې پوښتنې ځواب یواځې یودې او هغه دا چې اصلي او حقیقي فرق اوتوپیر په اسلام او کفر کې دی.

داسلام معنیٰ او مطلب دالله پاک خبره منل او دهغه اطاعت کول دي،د کفر معنیٰ او مطلب دالله پاک خبره نه منل اودهغه اطاعت نکول دي.

مسلمان او کافر دواړه انسانان دي اودواړه دالله پاک بندګان دي خو مسلمان پدې غوره او افضل دی چې هغه خپل خالق او مالک پېژني، دهغه د حکم او امر مننه او اطاعت کوي،او دهغه د حکم له سرغړونې څخه ډار او ویره لري.

او دوهم انسان له پورته او لوړې مرتبې او درجې څخه څکه ښکته غورځول کېږي چې هغه خپل خالق او مالک نه پېژني، دهغه خبره نه مني او نه دهغه اطاعت کوي.

په همدې خاطر الله پاک د مسلمان څخه خوښ اوراضي وي او د کافر څخه ناخوښه او ناراضي وي،مسلمان ته د جنت او ابدي نعمتونو ورکولو ژمنه کوي او کافر ته فرمايي چې تابه په دوزخ کې اچوم.

## د توپير لامل علم او عمل دی.

د دې خبرو څخه څرګنده شوه چې د مسلمان او کافر تر منځ بیلوونکي شيان دوه دي: يو علم او بل عمل. يعنی لومړې پدې پوهيدل اړين دي چې اصلي او حقيقي مالک او بادار څوک دی؟ دهغه مالک او بادار حکمونه او امرونه کوم کوم دي؟دهغه دخوښۍ په لاره تلل څه طريقه لري؟ په کومو کارونو باندې هغه خوشحالېږي او په کومو کارونو خفه او ناراضا کېږي؟

کله چې دا خبرې ورته معلومې اوڅرګندې شوې نو بيا د هماغې سره سم خپل ځان دخپل مالک او بادار غلام اومننوونکې ګرځوي،څه چې دمالک اوبادار خوښه وي په هغې ځي او په څه چې خفه کېږي دهغې څخه ځان ساتي، که دده په زړه کې يوه خبره وي او مالک ورڅخه بله غواړي نو د خپل زړه ونه مني بلکې د بادار په خبره عمل وکړي، که ده ته کوم کار او خبره غوره او ګټوره ښکاري خو بادار ورته وايي چې دا کار او خبره ګټوره نده او بده ده نو دې هم بايد هماغسې ومني، اوکه ده ته يوه خبره بده او خرابه معلومېږي خوبادار ورته ووايي چې دا ګټوره اوغوره ده

نو دی هم باید هغه غوره وګڼي، که ده ته په یو کار کې زیان او تاوان ښکاري خو بادار ورته ووایي چې داکار وکړه نوهغه باید وکړي، که دده ځان او مال هر څه پکې ځي بایدویي کړي، که په بل کار کې ده ته ګټه او فایده ښکاري خوبادار ورته حکم کوي چې دا کاربه نکوی نو که د ټولې نړۍ مال، دولت او ګټه ده ته پلاس ورځي هغه کار به بالکل نه کوي.

د همدې علم، پوهې، عمل او کړو وړو په سبب مسلمان دالله پاک خوښ اومحبوب بنده شي او په هغه باندې رحمتونه نازلوي، الله پاک ورته عزت او درناوی ورکوي، درجه اومرتبه یې لوړه‌وي.

کافر همدا علم او پوهه نلري عمل اوکړه وړه یې هم ددې سره مخالف وي، نو هغه جاهل اونه مننونکې بنده وي، بلاخره هغه دالهي رحمت څخه بې برخی شي.

اوس تاسې خپله انصاف وکړئ او پدې خبره فکر اوغور وکړئ: ایاهغه څوک چې ځانته مسلمان وایي اود کافر پشان جاهل اوناپوهه وي، د کافر پشان نه مننوونکې او سرکښه وي، ایا د نوم، جامو، خوراک او څښاک په سبب د دواړو تر منځ دومره فرق او توپیر موجود دی؟ چې یوافضل او بل ذلیل او بیا په اخرت کې یو د رحمت اوبل دعذاب څښتن ګرځي؟

اسلام د کوم قوم، قبیلې، نسل او نژاد نوم ندی، چې له نیکه څخه پلار ته او بیا له پلار څخه ځوی ته په میراث پاتې شي.

دلته دا خبره نشته چې د برهمن ځوی که هر څومره جاهل او بې علمه وي هغه به خامخا برهمن او دلوړې درجې لرونکې وي، د موچي ځوی که هر څومره علم او پوه ولري خو دموچي ځوی دی نو

هغه دی هماغه موچي وي،ځکه چې دموچي په کور کې پېدا شویدی.

پدې هکله الله پاک پخپل عظیم کتاب کې داسې فرمایلي دي:

﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ﴾ الحجرات: ۱۳

(دالله په وړاندې ستاسې عزتمندانسان هغه څوک دې چې ترټولومتقي وي)

څوک چې الله پاک زیات پېژني اودهغه ښه او غوره اطاعت کوي نو هماغه به د الله پاک په وړاندې دعزت،درجې او لوړې مرتبې خاوند وي.

حضرت سیدنا ابراهیمؑ دیو بُتْ پالوونکي په کور کې پېدا شوخوهغه الله پاک وپېژندلو،دهغه اطاعت یې وکړاو هغه ته تسلیم شو نو الله پاک ددې په بدل کې هغه ته د ټولې نړۍ امامت ورکړ.

د حضرت نوحؑ په نبوي کورنۍ کې کنعان پېدا شو خو هغه الله پاک ونه پېژندلو او دهغه حکم یې ونه منلو، الله پاک د نبوي کورنۍ څه پروا ونکړه او هغه ته یې داسې عذاب ورکړ چې دنورو لپاره دعبرت درس وګرزېده.

نو تاسې پدې خبره ښه پوه شئ چې د الله پاک په وړاندې چې د یو انسان او بل انسان په منځ کې کوم لوړوالی او ښکته والی شته هغه په علم او عمل سره دی، په دنیا او اخرت دواړو کې دالله پاک فضل او رحمت هغه چاته په نصیب کېږي چې هغه لوی اوعظیم ذات او دهغه ښودلی شوی لارې او طریقې پېژني اوبیا په هغې باندې عمل کوي او هغه خپلوي.

کوم کسان چې دا صفات او خصوصیات ونلري که دهغه نوم عبدالله او عبدالرحمان وي یا جان او کرتار سنګ وي دواړه د الله پاک په وړاندې یو شانته دي، په دواړو کې څه فرق نشته او نه داسې کسانو ته رحمت او فضل رسیږي.

## په اوسني وخت کې مسلمانان ولې سپک او ذلیل دي؟

ورونړو!

تاسې خو خپل ځانته مسلمانان وایئ، او پدې عقیده او ایمان لرئ چې په مسلمان باندې د الله پاک رحمت او فضل وي، خو لږ په غږولو سترګو وګورئ چې ایا په تاسې نن سبا رحمت نازلیږي ؟ په اخرت کې چې څه دي هغه به په راتلوونکې کې تاسې وګورئ خو اوس پدې دنیا کې چې ستاسې څه حال دی هغه ته پام وکړئ.

په هندوستان کې تاسې د پنځلس کروړو څخه زیات یاستئ، ستاسې شمېر اوتعداد دومره زیات دی که هر یو یوه یوه تیږه او ډبره وغورځوئ نو غرونه به ورڅخه جوړ شي، خو سره ددې هم چې شمېرمو دومره دی بهرني او خارجي کفار او یرغل ګر په تاسې حکومت کوي. ستاسې غاړې او څټونه دهغوی په لاس کې دي چې کوم لوري ته موګرځوي هغه لوري ته به ځئ.

ستاسې سرونه چې مخکې پرته دالله پاک څخه بل چاته نه ښکته کېدل اوس کفارو او د خدای څخه باغیانو ته ښکته کیږي، ستاسې په عزت باندې د لاس اچولو لپاره هیچا هم زړه نه کولو خواوس هغه عزت ختم او پایمال شو. ستاسې لاس به چې تل لوړ او پورته وو. اوس ښکته دی او دکافر په وړاندې غزیدلې او خپور شویدی.

جهالت،ناپوهی او بې وځلی هر لوري ته پرتاسې خپلې وزرې خپرې کړيدي او ذلت ستاسې په نصیب شویدی، ایادا ټول دالله پاک رحمت اوفضل دی؟

که دا رحمت او فضل نه وي بلکې څرګند غضب وي نو بیا په مسلمان باندې د الله پاک غضب ولې راځي؟ مسلمان او سپکاوې؟ مسلمان او غلامي؟

دا هېڅ امکان نلري، لکه څرنګه چې یو شی په یووخت کې نه سپین او نه تور کېدای شي بلکې یو به وي.

که چېرې مسلمان دالله پاک محبوب وي نوبیا محبوب او سپکاوی؟ ایا الله پاک نعوذبالله ظالم او حق خوړونکې دی؟ چې تاسې دهغه حق پېژنئ، دهغه اطاعت او پېروي کوئ او بیاهم هغه پرتاسې ظالمان او کافران واکمن اوبرلاسې کړي؟ او تاسې ته د اطاعت او مننی سزا درکړي؟

که ستاسې پدې خبره ایمان او باور وي چې الله پاک ظالم ندی، او پدې ایمان او باور لرئ چې دا طاعت بدله ذلت او سپکاوې ندی، نو بیا پدې اقرار وکړئ چې ستاسې دعوه او خبره غلطه ده او دکوم شي چې اقرار کوئ په هغې کې غلطي خامخاشته.

بې شکه چې ستاسې په تذکره او کارت کې مسلمان لیکل کېږي خود الله پاک په دربار کې پدې تذکره او سرکاري کاغذونو باندې پرېکړې او فیصلې نه کېږي.

الله پاک ځانته دفتر او دیوان لري،هلته تاسې لټون وکړئ چې ستاسې نومونه په اطاعت کوونکې کې لیکل شویدی او که په باغیانو او سرغړونکو کې؟

الله پاک تاسې ته خپل کتاب راولېږلو چې تاسې هغه ولولئ اوخپل خالق او مالک وپېژنئ، دهغه داطاعت او منني طريقه او لاره معلومه کړئ.

دخداى لپاره ووايئ چې ايا تاسې ددې لپاره کله کوښښ کړى چې پدې کتاب کې څه ليکلي شويدي؟ الله پاک خپل محبوب پيغمبر ﷺ تاسې ته را ولېږلو چې تاسې ته د مسلمانۍ طريقه او لاره په ګوته کړي، ايا تاسې کله هم ددې کوښښ کړى چې نبي ﷺ کومه طريقه او لاره ښودلې ده؟

الله پاک تاسې ته په دنيا اواخرت کې د عزت، درناوي اوسرلوړۍ طريقه په ګوته کړى، ايا تاسې په هماغه لاره او طريقه باندې ځئ ؟ الله پاک په ځرګنده او روښانه ډول ټول هغه شيان ښودلي چې په دنيا او اخرت کې دذلت،سپکاوي او غلامۍ سبب ګرځي، ايا تاسې دهغې کارونو څخه ځان ساتئ؟

راته ووايئ چې ددې پوښتنو ځواب ستاسې سره څه دى؟

که تاسې دا خبره منئ چې نه مونږ د الله پاک له کتاب څخه لارښوونه تر لاسه کړى اونه مو په هغې طريقې باندې عمل کړى نو بيا تاسې ووايئ چې په کوم شي تاسې مسلمانان شويئ؟ چې بيا تاسې ته د دې مسلمانئ بدله درکول شي؟ په څه ډول چې ستاسې مسلماني وي په هماغه ډول به تاسې ته بدله درکول کېږي او په همدې څېر به په اخرت کې هم درته بدله پلاس درځي.

ما مخکې هم دى خبرى ته اشاره وکړه چې د مسلمان او کافر تر منځ فرق او توپير په علم او عمل کې دى، د دې څخه پرته بل فرق نشته.

که د یو چا علم د کافر په شان وي او بیا هم هغه ځانته مسلمان وايي نو دا بالکل دروغ وايي، کافر پدې نه پوهیږي چې قرآن څه وايي او په هغې کې څه لیکلی شویدي، که همداډول جهالت او ناپوهي د مسلمان هم وي نو بیا ولې ځانته مسلمان وايي؟

کافر پدې نه پوهیږي چې نبيﷺ څه ښودلي او الله پاک ته یې درسیدلو کومه لاره اوطریقه په ګوته کړې ده، نوکه مسلمان هم همداسې ناخبره، ناپوهه اوجاهل وي نو بیا په څه شي مسلمان شو؟ کافر د الله پاک دخوښی او رضا پر ځای خپله خوښه اوخپله رضا غواړي او پېژني، که چېرې مسلمان هم دهغه پشان ازاد، بې پروا، خپل سرې، باغي او دخپل خواهش بنده وي نو بیا خپل ځانته مسلمان په څه وايي؟

کافر د حلالو او حرامو تر منځ فرق او توپیر نکوي،په کوم کار اوشي کې چې څه ګټه او خوند وګوري هغه غوره کوي، که هغه حلال وي که حرام هغه یې پروا نلري، که همدا کار او رویه یومسلمان ولري نو په ده او کافر کې اخر فرق او توپیر څه شی دی؟

لنډه دا چې که چېرې مسلمان د اسلام څخه داسې ناخبره اوناپوهه وي لکه څرنګه چې کافر دی، او مسلمان هم د کافر پشان کارونه کوي، نو بیا داسې مسلمان ته په کافر باندې څه فضیلت، پورته والی او لوړ والی شته ؟ او دې به ولې په قیامت کې دا کافرانو په ډله کې نه راپورته کېږي؟

دا داسې خبرې دي چې په سړه سینه باید مونږ او تاسې ټول پرې ښه غور او فکر وکړو.

## د غور او فکر ځای

ځما خوږو ورونړو!

تاسې دا فکر ونکړئ چې زه د مسلمان څخه کافر جوړوم، داسې نده او نه ځما موخه اوهدف دا دی، زه خپله پدې فکر او غور کوم او مونږ او تاسې ټول باید پدې خبره ښه غور او فکر وکړو چې آخر ولې مونږ او تاسې دالله پاک له رحمت څخه لرې او بې برخې یو؟ په مونږ ولې له هر لورې څخه کړاوونه او مصیبتونه راځي ؟ کوم خلک چې مونږ ورته کافر او د الله پاک څخه باغیان او سر غړونکې وایو هغوی په مونږ برلاسي او غالب دي؟ مونږ چې ځانونه اطاعت کوونکي او منونکې بولو ولې مغلوب او غلامان یو؟

ماچې ثومره پدې خبره غور او فکر کړی نوځما باور او یقین راغلې چې په مونږ او کفارو کې اوس یواځې دنامه فرق او توپیر پاتې دی ځکه مونږ له الله پاک څخه په سرغړونه، باغي توب او نافرمانۍ کې د کفارو په څېر یو! خویواځې لږ شانته فرق او توپیر شته چې هغه ځمونږ لپاره په درد نه خوري او دا ځکه چې مونږ او تاسې پدې باور او ایمان لرو چې قرآن مجید دالله پاک کتاب دی.

خو سره ددې بیا هم دهغه سره داسې رویه اوسلوک کوو لکه څرنګه یې چې کفار ورسره کوي .

مونږ پدې ښه باور او ایمان لرو چې حضرت محمدﷺ دالله پاک استازې او برحق پیغمبر دی خو بیا هم دهغه داطاعت او پیروۍ څخه داسې تښتولکه څرنګه چې کفار تښتي.

مونږ پدې پوهېږو چې په دروغ ویونکو الله پاک لعنت ویلی دی، رشوت خوړونکي او رشوت ورکوونکي داوړه ګنهګار دي،

سودخوړونکي اوسودورکوونکي تر ټولو غټ مجرمان دي،غیبت دخپل ورور غوښه خوړل دي، په فحش او بې حیا کارونو باندې د جهنم او اور سزا ورکول کېږي، خو پدې ټولو خبرو او کارونو باندې د پوهې، باور او یقین کولو سره سره د کفارو پشان مونږ هم اخته اوبوخت یو، ځکه چې ځمونږ سره دالله پاک څخه ویره، ډار او خوف نشته.

په همدې خاطر مونږ چې لږ زیات مسلمانان یو په هغه راته انعام اوشاباسې نه بلکې سزا راکول کېږي.

د کفارو حکمراني او واکمني، په هر ځای کې ماتې، ذلت او سپکاوی ځمونږ په برخه کېدل د همدې جرم او ګناه سزا ده چې راکول کېږي، دا ځکه چې مونږ د یو لوی او عظیم نعمت شکریه او مننه ادا نکړه او دهغې په قدر، قیمت او ارزښت نه پوهیږو او نه یې پروا لرو.

ځما ګرانو ورونو!

زه چې څه درته وایم دا د دې لپاره نه وایم چې زه تاسې ملامتوم، زه د ملامت کولو لپاره نه یم راپورته شوی، بلکې ځما موخه او هدف دادی چې کوم شیان مونږ له لاسه ورکړي او راڅخه تللي دي هغه بیرته تر لاسه کړو.

او د ورک شوی شي د پیدا کولو فکرهغه وخت د انسان سره پیدا کېږي چې کله هغه پدې پوه شي چې څه راڅخه ورک شویدي او هغه ورک شوی شی څومره قیمتي او ارزښناک دی. په همدې خاطر ستاسې درا بیدارولو اوویښولو کوښښ کوم چې تاسې پدې پوه شئ چې ستاسې سره ډیر قیمتي او ارزښتناک شی موجودوو،

هغه درځه تللې دی اوس دهغې د بیا پلاس راوړلو او پیدا کولولپاره کوښښ اړین دی.

## دعلم او پوهې د لاسته راوړلو فکر

ما مخکې ویلي وه چې دمسلمانئ لپاره تر ټولو مهم او ضروري شې د علم او پوهې لاس ته راوړل دي ترڅو مونږ د اسلام دین وپیژنو.

هر مسلمان باید پدې پوه شي چې قرآن مجید څه تعلیم او ښوونه کوي؟ د رسول اللهﷺ طریقه څه ده؟ اسلام څه ته وایي؟ د اسلام او کفر تر منځ کوم کوم فرقونه شته؟

د دومره علم او پوهې څخه پرته څوک مسلمان کېدای نشي، خو دافسوس خبره داده چې د دومره لږ علم او پوهې لاس ته راوړلو فکر هم ستاسې سره نشته.

ددې خبری او حالت څخه داسې معلومېږي چې په تاسې کې دا احساس نشته چې مونږ د څومره قېمتي او ارزښناک شي څخه بې برخې شوی یو؟

څما ورونو!

مور خپل بچې ته هم ترهغې شیدی نه ورکوي چې هغه ونه ژاړي، انسان چې کله تږی شي نو د اوبو پسې ګرځي او الله پاک بیا اوبه ورته پیدا کوي، تاسې چې خپله تږي نه یاستئ نو دابو څخه ډک کوهي تاسې ته هېڅ ارزښت او اهمیت نلري.

لومړې باید تاسې پدې پوه او خبر شئ چې د دین څخه ناپوهي او ناخبري تاسې ته څومره زیان او تاوان رسولې دی؟

دالله پاک مقدس او عظیم کتاب ستاسې سره شته خو تاسې پدې نه پوهیږئ چې په هغې کې څه لیکلې شویدي؟ ایا د دې څخه بله کومه خبره زیاته زیان او تاوان رسوونکې شته دی؟

تاسې لمونځونه کوئ خو پدې نه پوهېږئ چې مونږ پدې لمانځه کې الله پاک ته څه ډول وړاندېز کوو!نو د دې څخه لوی تاوان بل څه کېدای شي؟

هغه کلمه چې تاسې په هغې سره داسلام دین ته ننوځئ د هغې معنیٰ او مطلب درته معلوم ندی،پدې نه پوهېږئ چې ددې کلمې په لوستلو سره پرما کوم مسؤلیتونه اچول کېږي؟ ایا دمسلمان لپاره د دې څخه زیات کوم شی تاواني کېدای شي؟

دفصل او کښت دخرابیدو اوسوځیدو معلومات درته ښه شته، د کار نه پېدا کېدو په تاوان ښه پوهېږۍ اود خپل مال په تاوان او ګټه ښه خبریاستئ.

خو د اسلام څخه دناخبرۍ اوناپوهۍ زیان او تاوان درته څرګند ندی.

کله چې تاسې ته د دې زیان ، تاوان او نقصان معلومات وشي نو بیا به تاسې پخپله ووایئ چې ددې څخه د خوندي کېدو طریقه او لاره څه ده؟ کله چې تاسې خپله وړاندېز وکړئ نو ان شاء الله هر څه به تاسې ته پلاس درشي او لارې به درته خلاصې او پرانستل شي.

# ۳
# دغور وړ خبرې

## د قرآن مجید سره ځمونږ سلوک او رویه

ځما د اسلام ورونړو!

په دنیا کې اوس مسلمانان هغه نیک بخته انسانان دي چې دهغوی سره دالله پاک کلام بالکل محفوظ، د ټولو تحریفاتو څخه پاک او په هماغه شکل او صورت سره موجود دی کوم چې په نبيﷺ باندې د الله پاک له لوري نازل شوی وو.

خو په دنیا کې اوس مسلمانان تر ټولو بدبخته قوم دی چې د هغوی سره د الله پاک کلام پخپل اصلي شکل اوصورت کې موجود دی خوهغوی یې له برکتونو او نعمتونو څخه محروم او بې برخې دي. قرآن مجید د دې لپاره هغوی ته رالیږل شوی وو چې هغوی یې ولولې او تلاوت یې کړي، په هغې ځان پوه کړي،د هغې سره سَم عمل وکړي او دهغې په رڼا کې په زمکه باندې الهي نظام او حکومت جوړ کړي، قرآ ن مجید ددې لپاره راغلی وو چې هغوی ته عزت، درناوی او ځواک ورکړي، هغه د دې لپاره رالیږل شوی وو چې د زمکې پر مخ هغوی الهي خلیفه ګان وګرځوي.

تاریخ پدې شاهد اوګواه دی چې هرکله هغوی پرې سم عمل کړې نود نړۍ امامان او واکمنان ګرځیدلي دي.

اوس مسلمانان قرآن مجید یوازې د دې لپاره په کورونوکې ساتي چې په هغې باندې پیریان او بلاګانې وشړي، دهغې ایاتونه ولیکي اوپه غاړه کې یې ځوړند کړي، هغه په اوبو کې ویلی کړي

او ویې څښې، یواځې دثواب لپاره هغه پرته له غور اوفکر څخه ولولې، هغوی اوس لدی کتاب څخه د ژوند په معاملا تو کې هېڅ ډول لارښوونه اوهدایت نه اخلي اودا نه پوښتي چې څمونږ عقایدڅه دي ؟ مونږ به راکړه ورکړه څه ډول کوو؟ په دوستۍ او دښمنۍ کې کوم قانون عملي کړو؟ څمونږ خپل نفس اود الله پاک نور بندګان په مونږ څه حقوق لري اوهغه باید څه ډول پوره اواداء کړو؟ څمونږ لپاره کوم حق او کوم باطل دی ؟ د چا اطاعت اړین دی او دچا نافرماني او سرغړونه ؟ اړیکې دچاسره ساتل اړین دي او دچاسره نه ساتل ؟

څمونږ دوست څوک دی او دښمن څوک ؟ څمونږ عزت، شرف، برې او ګټه په څه کې ده او څمونږ زیان،تاوان،ناکامي او سپکاوې په څه کې دی ؟

دا ټولې خبرې اولارښوونې باید له قرآن څخه مسلمان واخلي خواوس مسلمانانو دا کار پرېښی دی، اوس هغوی له مشرکانو، کفارو، بی لارې خلکو، د خپلو ګټو پسې لیونیو خلکواود خپل نفس او شیطان څخه پوښتنه کوي او بیا په هماغې لارې حرکت کوي.

په همدې خاطر الله پاک هغوی همداسې پرېښودل او د نورو په حکمونو د تللو څخه چې کومه پایله را پېدا کېږي هغه د دې خلکو په نصیب شوه، اوس په هندوستان،چین، جاپان، فلسطین، شام، الجزایر، مراکش او نورو ځایونو کې ددې سرغړونې او بې اطاعتۍ پایلې ګوري.

قرآن مجیدد خیر او برکت چینه ده،څومره چې تاسې دهغې څخه دخیر او برکت غوښتنه کوئ په هماغه کچه هغه تاسې ته خیر

او برکت درکوي. که تاسې د قرآن مجید څخه د پیریانو شرل، د تبوخي اوسردرد، تبې اوناروغیو تداوي، په نوکرۍ کې کامیابي او نور کوچني او واړه کارونه غواړئ نو بس هغه به درکول کیږي.

که تاسې له قرآن مجید دنړۍ پاچايي، واکمني او مشري وغواړۍ نو هغه هم درکوي، که تاسې خپل ځان دالله پاک عرش ته نژدې کول غواړۍ نوهلته موهم نژدې کوي.

دا ستاسې دخپل لوښي په ظرفیت پورې اړه لري چې له بحر او سمندر څخه دوه یا درې څاڅکې را اخلئ او که ډیر، پدا سې حال کې چې بحر او سمندر تاسې ته په هره کچه اواندازه ورکولو ته تیار دی.

ورونو!

څمونږ مسلمان ورونه چې د دې الهي کتاب قرآن مجید سره کوم ناروا سلوک او رویه کوي هغه دومره شرموونکې اوخندنې دی که په کومه معامله کې له دوی سره څوک داسې وکړي نوپه هغه پورې به وخاندي او هغه به لیونې او بې عقل وګڼي.

تاسې ووایئ که یو څوک له ډاکټر څخه نسخه واخلي او بیا هغه نسخه په تبوتو کې تاو کړي او بیايي په غاړه کې واچوي، یا یې په اوبو کې حل کړي اوویې څښي، تاسې داسې سړي ته څه وایئ؟ ایا تاسې به پداسې سړي پورې ونه خاندئ؟تاسې به هغه لیونې اوبې عقل ونه بولئ؟

ترټولو لوی او عظیم حکیم او ډاکټر تاسې ته د ټولو ناروغیو لپاره ښکلې او کار کوونکې نسخه لیکلې او رالیږلې ده خو ستاسې د سترګو په وړاندې دهغې سره چې څه کیږي هغه ګورئ

خو د هیچا په هغې خلکو خندانه راځي او نه څوک هغې کسانو ته لیونیان وایي.

هېڅوک پدې غوراو فکر نکوي چې نسخه په غاړه کې داچولو ، په اوبو کې د حل کولواو څښلو لپاره نه ده بلکې د دې لپاره ده چې د هغې د لاربنوونې سره سم دوايي استعمال شي.

## په قرآن مجید پوهیدل او عمل کول اړین دي.

تاسې ووایئ چې که یو څوک ناروغ شي او هغه بیا د طب کوم کتاب راواخلي او دهغې لوستل پیل کړي اودا کار پدې عقیده او پدې فکر کوي چې ددې کتاب په ویلو او لوستلو سره ناروغي لرې کېږي نو تاسې به د دې سړي په هکله څه فیصله او پرېکړه کوئ ؟ ایا تاسې به دا ونه وایئ چې دا دلیونیانو ځای ته واستوئ ځکه چې دده مغز او دماغ خراب شویدي ؟ خو حکیم اوعلیم ذات چې دشفا کوم کتاب ستاسې لپاره رالیږلې دی دهغې سره ستاسې رویه او سلوک څه دی؟

تاسې هغه لولئ او دهغې تلاوت کوئ او پدې خیال او فکر یې کوئ چې پدې به ټولې ناروغئ ختمې او له منځه ولاړې شي؟ په هغې د عمل کولو هېڅ اړتیا نشته، نه دهغې د پرهیزونو څخه ځان ساتل اړین دي کوم چې هغه د ناروغئ د تداوئ لپاره په ګوته کړي.

تاسې هغه حُکم او فیصله په خپل ځان ولې نکوئ چې دناروغئ د تداوئ لپاره د طب کتاب لولې او هماغه یې دناروغیو د علاج لپاره بس اوکافي ګڼلو؟

که تاسې ته د چاله لوري داسې يوليک راشي چې په نابلده، او نااشنا ژبه وي نو تاسې به منډې وهئ چې په هغې ژبې باندې د پوهيدونکي سړي څخه دليک مطلب او موخه معلوم کړئ، ترهغې پورې چې تاسې د ليک مطلب اوموخه معلوم نکړئ تاسې په کرار او ارام نه کېنئ،دا د عادي او ورځني کاروبار او تجارتي ليکونو په هکله ستاسې سلوک اورويه ده چې په هغې کې د څو روپيو ګټه او فايده وي، خو د ټولو کائناتو د خالق اورب له لوري چې کوم ليک ستاسې ددايمي او ابدي ګټې او فايدې لپاره راليږلې شويدی هغه تاسې همداسې په خپلو کورونو کې پرېښې دی، دهغې په مطلب اوموخه باندې د ځان پوهولو هېڅ کوښښ نکوئ، ايا دا د حيرانتيا اوتعجب خبره نده؟

## دالله دکتاب سره د ظلم پايله

دا خبرې زه د ټوکو او وخت تيرولو لپاره نه کوم، که تاسې پدې خبرو غور اوفکر وکړئ نو ستاسې زړه به د دې شاهدي او ګواهي ورکړي چې تر ټولو زيات ظلم او تېرې دالله پاک له کتاب سره کېږي، او ظلم او تېرې کوونکې خلک هغه دي کوم چې ځانته مؤمنان، مسلمانان او په هغې باندې ځان قربانوونکې بولي. بې شکه چې هغوی ايمان لري او هغه تر خپل ځان هم ورته ګران وي خو افسوس دا دی چې همدوی تر ټولو زيات ظلم کوونکې دي، دالله پاک له کتاب سره د ظلم کولوپايله ښه څرګنده اومعلومه ده.

پدې ښه پوه شئ چې د الله پاک کتاب ددې لپاره ندی راغلې چې انسانان په مصيبت، تکليف، کړاو او مشقت کې واچوي. فرمايي:

﴿ مَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لِتَشۡقَىٰٓ ۝٢ ﴾ طه: ۲

قرآن مجید دسعادت اونیک بختی چینه ده د بدبختی او شقاوت وسیله نده،دا هیڅ امکان نلري چې کوم قوم دی په قرآن عمل کوونکې وي او بیا دې هم سپک، ذلیل، محکوم، اوخوار وي، دهغوی په غاړه کې دې دغلامی غړوندې اودنورو پلاس کې دې دهغوی واګي اواختیار وي، او چېرې چې غواړي هغه لوري ته دې یې کشکوي لکه څرنګه چې څاروي کشکول کېږي.

دا پایله یواځې هغه وخت ورته پېدا کېږي چې کله د الله پاک له کلام سره ظلم او تېرې وکړي.

دبني اسرائیلو پایله ستاسې په وړاندې ده،هغوی ته تورات اوانجیل دواړه راغلي وه او ورته په څرګنده ویل شوي وه چې:

﴿ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ أَقَامُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِم مِّن رَّبِّهِمۡ لَأَكَلُواْ مِن فَوۡقِهِمۡ وَمِن تَحۡتِ أَرۡجُلِهِمۚ ﴾ المائدة: ٦٦

«که هغوی په تورات، انجیل اونورو کتابونوباندې عمل کولې کوم چې دوی ته لیږلې شویدي نو په هغوی به رزق له آسمان څخه راوریدلې اوله زمکې څخه به رزق راخوټیدلې».

خو هغوی د الله پاک په کتابونو باندې ظلم او تېرې وکړاو پایله یې داسې ولېدله چې:

﴿ وَضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلۡمَسۡكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٖ مِّنَ ٱللَّهِۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۗ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ۝٦١ ﴾ البقرة: ٦١

«په هغوی سپکاوې اوخواري وتپل شوه او د الله په غضب کې راګیر شول، دا ځکه چې هغوی دالله د ایاتونو څخه منکر شوي وه

او دالله پیغمبران یې په ناحقه اوناروا سره وژل، او پدې وجه چې هغوی نافرماني کړی او له حد څخه تیر شوي وه)).

د کوم قوم سره چې دالله پاک کتاب وي او بیا هم خوار، سپک، ذلیل، محکوم او مغلوب وي نو پوه شئ چې هغوی حتماً دالله په کتاب باندې ظلم کوونکې دي او ددې اصلي لامل همدا ظلم او تیرې کول دي.

دالله پاک له غضب او قهر څخه دخوندي کېدلو اوخلاصون لپاره پرته لدی څخه بله لاره او چاره نشته چې دهغه د کتاب سره ظلم او تیرې خوشې شي اودهغې د حق اداء کولو کوښښ وشي.

که تاسې ددې لوی جرم اوگناه څخه لاس په سر نشئ نوهېڅکله به هم ستاسې حالت او ژوند بدل نشي،که تاسې پوهنتونونه، ښوونځي، مدرسې او دښوونې او روزنې ادارې خلاصې کړئ اوستاسې هر کوچنی اوماشوم فارغ التحصیل شي او د یهودیانو پشان دسودخوړلو له لارې مېلیونران هم شئ.

## مسلمان چاته ویل کېږي؟

وروڼو!

هر مسلمان باید تر ټولودمخه پوه شي چې مسلمان چاته ویل کېږي او دمسلمان معنیٰ اومطلب څه دی؟

که یو انسان پدې نه پوهېږي چې انسانیت څه شی دی؟ د انسان اوحیوان فرق اوتوپیر په څه کې دی؟نو هغه به بیا دحیواناتو اوڅارویو په شان حرکتونه کوي او دخپل انسانیت درناوی او قدربه نکوي.

په همدی توګه که یو چاته څرګنده نه وي چې د مسلمان کېدلو معنیٰ څه ده؟ په مسلمان اونا مسلمان کې څه توپیر او فرق دی؟ نوهغه به دنامسلمانو په شان حرکتونه کوي او د مسلمانۍ درناوی اوقدر به نکوي.

نو هر مسلمان اودهر مسلمان کوچنی اوماشوم باید پدې پوه شي چې زه ځانته ولې مسلمان وایم ؟ داسلام په قبلولو سره په انسان کې څه بدلون او توپیر پیدا کېږي؟ او په هغه باندې کوم کوم مسؤلیتونه اچول کېږي؟ داسلام حدود اوپولې کومې دي؟ چې دهغې په منځ کې په پاتې کېدلو سره انسان مسلمان بلل کېږي او دهغې څخه دباندې په قدم کېښودلو سره د مسلمانۍ څخه وځي؟ سره ددې که هغه ځانته په خوله او ژبه مسلمان وايي.

## د اسلام معنیٰ

د اسلام معنیٰ دالله پاک اطاعت اوپېروي کول دي،اوخپل ځان الله پاک ته سپارل اسلام دی، دالله پاک په وړاندې د خپلې خوښې اوازادۍ څخه تریدل اسلام دی، د الله پاک دپادشاهۍ اوواکمنۍ په وړاندې خپل سربنکته کول او دهغې منل اسلام دی، څوک چې خپل ټول معاملات الله پاک ته وسپاري هغه مسلمان دی.

څوک چې خپل معاملات پخپل لاس کې یا بل چاته وسپاري هغه مسلمان ندی.

الله پاک ته د سپارلو او حواله کولومطلب دا دی چې هغه د خپل کتاب او رسول په وسیله چې څه را استولې هغه ومنل شي او په هغې کې هیڅ مخکې وروسته والی ونکړي او نه پکې دلایل

ووايي، په ژوند کې چې هره معامله او ستونزه ورته پېدا شي په هغې کې يوائې د قرآن او نبوي حديثو مننه او پېروي وکړي.

ځوک چې خپل عقل، د دنيا قوانين او هره خبره شاته پرېږدي او په هره معامله کې د الله پاک له کتاب او دهغه له رسولﷺ څخه لارښوونه اوهدايت وغواړي چې ماته څه کول اړين دي او له څه څخه ځان ساتل پکار دي؟ بيا چې له هغه لوري ورته څه لارښوونې اوهدايات وشي هغه پرته له دليل او مخکې وروسته والي څخه ومني او دهغې په خلاف هر څه رد کړي. همدا او يوائې همدا مسلمان دی دا ځکه چې ده خپل ځان الله پاک ته سپارلې دی او الله پاک ته ځان سپارل مسلماني ده.

ددې په خلاف کوم ځوک چې د قرآن او نبوي سنتو پروا نه ساتي بلکې د خپل زړه خبره مني، د پلار او نيکه څخه چې څه ورته پاتې دي هغه مني، يا په دنيا کې چې کوم رواج اودود چلېږي د هغې سره سم کار کوي، د خپلو معاملاتو په هکله له قرآن اونبوي حديثو څخه لارښوونه او هدايت غوښتل اړين نه بولي چې څه وکړي اوڅه ونکړي، يا دا چې هغه ته له قرآن او نبوي حديثو څخه څه ځرګند شي او بيا هغه ووايي چې ځما عقل او دماغ داسې شی نه مني نو ځکه زه دا نشم منلای يا ځما د پلار او نيکه رواج او دود د دې سره مخالف دی نو ځکه زه دهغې منلو ته تيار نه يم، ياد نړۍ قانون د دې سره ټکرخوري ځکه زه په هغې تللې نشم، نو داسې انسان هېڅکله مسلمان کېدای نشي، هغه دروغ وايي چې خپل ځان مسلمان بولي.

## د مسلمان دندې او مسؤلیتونه

کله چې تاسې لا اله الا الله محمد رسول الله لولئ او د مسلمانئ اقرار کوئ نو تاسې د دې خبرې اقرار کوئ چې ستاسې لپاره یواځېنې قانون دالله پاک دی، ستاسې واکمن او حاکم یواځې الله پاک دی، تاسې به یواځې دالله پاک اطاعت کوئ، او ستاسې په وړاندې حق یواځې هغه دی چې د الله پاک د کتاب او درسول الله ﷺ د سنتو څخه څرګند اومعلوم شي.

ددې معنیٰ او مطلب داشو چې تاسې د الله پاک په وړاندې د خپلې ازادۍ اوخپلې خوښې څخه تیر شوئ، اوس د دې څخه وروسته تاسې دا حق نلرئ چې ووایئ زما رایه اونظر دا دی، یا د دُنیا دستور اورواج دا دی، یا د کورنۍ او کلي رواج دا دی، یا فلانې ولي او پیر داسې فرمایي، د الله پاک او رسول الله ﷺ د فرمان په مقابل کې تاسې دهیڅا خبره هم نشئ منلی.

اوس ستاسې کار دا شو چې هر څه اوهره معامله قرآن او نبوي حدیثو ته وړاندې کړئ، څه چې دهغې سره سم وي هغه ومنۍ اوڅه چې دهغې مخالف وي هغه رد اووغورځوئ که دهر چا خبره او د هر چا وینا وي.

تاسې چې ځان ته مسلمان هم وایئ او بیا هم د نړۍ د اصولو، رواجونو اوقوانینو خیال هم ساتئ، پداسې حال کې چې دا دواړه یو د بل ضد اومخالف دي.

لکه څرنګه چې ړوند سړی ځان بینا نشي ښودلې، کوم بوچې او پوزه پرې کړی ځان روغ رمټ نشي ښودلې، په همدی توګه هېڅوک هم ځان مسلما ن نشي ښودلې او معرفی کولې چې خپل د ژوند ټول معاملات د قرآن او نبوي حدیثو د تابع کولو څخه انکار

وکړي، د الله پاک او رسول اللهﷺ په مقابل کې دخپل عقل یا د دُنیا د اصولو، دود او رواج څخه دلیل وړاندې کړي، څوک چې ځان مسلمان نه ګڼي او ځان مسلمان نه ګرځوي هغه هېڅوک هم نشي اړ کولای چې خامخا دې اسلام راوړي،هغه اختیار لري چې هر دین او هر مذهب غوره کوي، هر نوم چې په ځان ږدي هغه کېښودلې شي.

خو کله چې هغه ځان ته مسلمان وایي نو پدې باید ښه پوه شي چې تر هغې ده ته مسلمان ویل کېږي چې دې داسلام په چوکاټ کې اوسېږي او هغه مراعاتوي . پدې چوکاټ کې چې څوک وي هغه مسلمان دی اوڅوک چې ددې څخه دباندې پل کېږدي هغه له اسلام څخه ووتلو.

د دې وروسته چې هغه ځان مسلمان بولي او ځان ته مسلمان وايي نو هغه هم خپل ځان ته اوهم نورو خلکو ته دوکه ورکوي قرآن مجید فرمایي:

﴿ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴿٤٤﴾ ﴾

المائدة: ٤٤

((اوڅوک چې دالله پاک دنازل شوي حکم سره سم پرېکړه نکوي هغه کافردی.))

# ۴
# د کلمهٔ طیبه معنیٰ [1]

څما د عقیدی اوایمان ورونړو!

تاسې ته څرګنده ده چې کله انسان د اسلام په دایره کې داخلیږي نوهغه به یوه کلمه وایي چې هغه کلمه څه اوږده او لویه نده بلکې څوټکې دي:

لَا اِلٰهَ اِلا اللهُ مُحَمدٌ رَسُوْلُ اللهِ

( د الله څخه پرته بل څوک دعبادت وړ او لائق نشته اومحمد ﷺ د الله رسول دی).

ددې ټکوپه ویلو سره مخکېنې انسان په نوي انسان باندې بدلیږي، مخکې هغه کافر وو خو اوس مسلمان شو، مخکې ګنده اوناپاک وو خو اوس پاک او صاف شو، مخکې دخدای د غضب وړ وو خواوس د هغه دوست او محبوب شو، مخکې دوزخ ته تلوونکې وو خواوس د هغه لپاره دجنت درازې پرانستل کیږي.

خبره یواځې دلته نه ختمیږي بلکې ددې کلمې په وجه د یو انسان او بل انسان په منځ کې لوی فرق او توپیر پیدا کیږي.

کوم انسانان چې دا کلمه وایي هغوی ټول یو ملت او امت شمارل کیږي او کوم چې ورڅخه انکار کوي هغوی بل ملت اوبله ډله بلل کیږي.

که پلار دا کلمه لولې او ځوی ورڅخه انکار کوي نو بیا دپلار او ځوی تر منځ اړیکې نه پاتې کیږي ځکه نو پداسې حالت کې د پلار میراث ځوی ته نه ورکول کیږي، مور او خورګانې بیا د هغه څخه لرې ګرځي آن چې پرده ورڅخه کوي.

پردې او بل څوک چې کلمه ووايي اوپدې کورکې خپلوي وکړي هغه دکور په ميراث کې بيا برخمن ګرځي خوخپل اولاد يې ورڅخه د کلمې دانکار په وجه بې برخې کېږي.

لنډه دا چې داکلمه داسې عظيم شی دې چې پردي سره پخپلو کې يوځای کوي اوخپل سره د انکار په وجه جلا کوي،ددې کلمې زور،ځواک اوطاقت دومره زيات دی چې د هغې په وړاندې د وينې اړيکې اود رحم اړيکې هېڅ اهميت نلري.

## دومره لوی توپير ولې؟

اوس پدې خبره غور پکار دی چې د دوه انسانانو تر منځ دومره لوی توپير اوفرق ولې منځ ته راځي؟

پدې کلمه کې څه دي؟

دا خو څو توري دي لکه: لام، الف، ه، م،و، س اوداسې څو نور. که دا توري سره يو ځای او بيا ولوستل شي نو څه جادو او سحر پرې کېږي چې ديو انسان د ژوند لورې پرې بدلېږي؟ ايا په همدې څو تورو لوستلو باندې د انسانانو تر منځ د ځمکې اوآسمان په اندازه اوکچه توپير اوفرق راپېدا کېږي؟

ځما د ايمان او عقيدی وروڼو!

که تاسې له خپل عقل اوپوهې څخه لږ شانته کار هم واخلئ نوپدې به پوه شئ چې دا اثر او اغېزه يواځې په خوله اوشونډو ښورولو کې نشته.

مشرکان اوکافران شايد همدا فکر وکړي اوهمدا وګڼي چې ګوندی ددې تورو او کلماتو په ويلوسره به غرونه وښورېږي،

ځمکه به څېرې او وشلېږي، چېنی به راوخوټېږي او اوبه به روانې شي.

که چاته ددې منتر او کلماتو معنیٰ یاده وي اوکه نه وي یاده. هغوی فکر کوي چې دا ټول زور او ځواک بس په همدې څو کلماتو او منتر کې پروت دی چې بس په خوله او شونډو ښوررولو سره د جادو او طلسم دروازې پرانستل کېږي.

د اسلام په دین کې بلکې په اسلام کې اصل شی دکلمې مفهوم، معنیٰ او مطلب دی، د کلمې تاثیر او اغېزه په معنیٰ او مطلب کې ده، که معنیٰ نه وي او هغه زړه ته ښکته نشي اودهغې په زور او ځواک سره ستاسې فکر، اخلاق،عادات اوعمل بدل نشي نوبوائې ددې کلماتو په ژبه او خوله ویل اوتکرارول څه زور او ځواک نلري.

زه به دا خبره دیومثال په ویلو سره درته څرګنده او په ډاګه کړم:

داسې فرض کړئ چې ستاسې ساړه اویخني شویده اوس که تاسې په خوله اوژبه هر څومره د برېستنې چیغې اوناري ووهئ نو ساړه او یخني درڅخه نه کمیږي بلکې که ټوله شپه یو لک ځلې هم تاسې همدا یادونه اوذکر وکړئ.

خو که تاسې د برېستنی په پوښ کې مالوچ واچوئ او بیایې واغوندی، نو سملاسی به یخني او ساړه ختم شي.

یا داچې تاسې ډیر تږي شوي یا ستړي او ټوله ورځ د سهار څخه تر ماښام پورې د اوبو اوبو چیغې او نارې ووهئ نو ستاسې تنده به ختمه نشي خو که د ابو یو غړپ را واخلئ اوهغه وڅښئ نو ستاسې تنده به ختمه اود ځګر اور به مو یخ شي.

که تاسې زکام یا ریزش نیولې یاستئ اوټوله ورځ د درملو نومونه په خوله او شونډو اخلئ نو زکام او ریزش به د رڅخه لرې نشي خو که تاسې درمل او دوا استعمال کړئ نو تبه او درد به درڅخه ولاړ شي.

بس همدا حال د کلمهٔ طیبه هم دی، یواځې په خوله اوشونډو د هغې اداء کول او لوستل د کافرڅخه مسلمان نه جوړوي، د ناپاک څخه پاک نه جوړوي، د لعنتي څه دوست نه جوړوي اود دوزخي څخه جنتي نه جوړوي.

دا هغه وخت کېږي چې کله تاسې ددې کلماتو په معنیٰ، مفهوم او مطلب باندې ځان پوه کړئ اوهغه ستاسې زړه ته ښکته شي او هغه د زړه په اخلاص سره ومنئ او قبول يې کړئ.

بیا د دې کلماتو معنیٰ او مطلب په زړه کې ونیسئ اوهغه په ژبه اداء کړئ نو تاسې ته به دا څرګنده شي چې مونږ دخپل پېدا کوونکي او ټولې نړۍ په وړاندې څومره لوی خبره کړی اوددې په ویلو سره څومره مسؤلیت او بار راباندې پرېوتې دې.

که ددې پوهې سره سره تاسې اقرار وکړ نو ستاسې په فکر، عقیده او ذهن باندې د دې کلمې اغېزه او اثر کېږي، بیا به تاسې پخپل زړه او دماغ کې داسې خبرې ته ځای نه ورکوئ چې هغه د دې کلمې ضد او مخالف وي، دا به هم په زړه کې ساتئ چې څه د دې کلمې مخالف او ضد وي هغه ټول دروغ او دا کلمه ریښتنی او سمه ده، بیا به دا کلمه ستاسې د ژوند په ټولو اړخونو باندې واکمنه او حاکمه وي، تاسې د دې کلمې داقرار څخه وروسته ددې څخه د انکار کوونکو کافرانو پشان ازاد ژوند نشئ تیرولا ی چې څه مو خوښه وي هغه سرته ورسوئ بلکې اوس تاسې د دې

کلمې لاندې راغلي یاست، هغه چې څه درته وايي هماغه به سرته رسوئ، له څه څخه چې مومنع کوي له هغې څخه به منع کېږئ.
پدې توګه او طریقه چې تاسې کلمهٔ طیبه ولولۍ اوپه هغې اقرار وکړئ نوتاسې به مسلمانان شئ او پدې توګه په لوستلو سره د دوه انسانانو تر منځ توپیر او فرق را پېدا کېږي.

## د کلمې مطلب اومفهوم

اوس راځئ چې زه درته د کلمې مطلب او مفهوم وړاندې کړم چې د هغې په ویلو سره انسان په کوم شي باندې اقرار او ژمنه کوي اود کوموشیانو پابند ګرځي.
د کلمې معنیٰ دا ده چې پرته له الله ﷻ څخه بل هېڅوک هم د عبادت وړ نشته او محمدﷺ دالله رسول دی. په کلمه کې د(اله) تکې راغلې چې دهغې معنی خدایﷻ دی.
خدای ﷻ هغه چاته ویل کېږي چې هغه مالک وي،واکمن وي، پېدا کوونکې وي،پالوونکې او لوی کوونکې وي،ددُعاګانو اوریدونکې او قبلوونکې وي او ددې وړ وي چې د هغه عبادت دی وشي.
اوس چې تاسې **لا اله الا الله** ولوستله نوددې معنیٰ دا شوه چې تاسې لومړې د دې خبرې اقرار وکړ چې نړۍ خدای لري ،هغه پرته له خدای څخه نده پېدا شوی اونه دا چې هغه ډیر خدایان لري بلکې هغه یواځې یو خدای لري او پرته له هغه څخه بل څوک خدای او اله نشته.

دوېم شي چې تاسې په هغې باندې اقرار وکړ هغه دا چې ستاسې اوټولې نړۍ پېدا کوونکې او مالک همدا الله پاک دی، ستاسې اوټولې نړۍ شیان دهغه ملکیت دی، پېدا کوونکې او

روزي ورکوونکې همغه دی، مرګ اوژوند د هغه پلاس کې دی، غم او درد، خوښي اوخوشحالي هم دهغه له لوري ده، هرچاته چې څه ورکول کېږي د هغې حقيقي مالک همدا دی، ویره له هغه څخه پکار ده، غوښتل له هغه څخه پکار دي،سرښکته کول يواځې هغه لره پکار دي، عبادت او بندګی يواځې هغه لره ښايي، دهغه څخه پرته مونږ د هيچا بندګان نه يو او د هغه څخه پرته بل څوک څمونږ بادار، آقا او واکدار نشته. څمونږ اصلي مسؤليت اودنده داده چې دهغه حکم ومنو او دهغه د قانون پېروي وکړو.

## د الله پاک سره ژمنه اوعهد

کومه ژمنه اووعده چې تاسې د **لا اله الا الله** په ويلو اواقرار کولو له الله پاک سره وکړه اوپه هغې باندې مو ټوله نړۍ اوکائنات ګواه او شاهد وګرځول ،که تاسې ددې ژمنی اووعدې مخالفت کوئ نو ستاسې ژبه، ستاسې پښی لاسونه، ستاسې هر ويښته ويښته، د ځمکې اوآسمان هره ذره ذره چې تاسې دهغوی په وړاندې خپل ځان دروغجن ثابت کړ،دا ټول به ستاسې په خلاف دالله پاک په دربار کې شهادت او ګواهي ورکوي،بيا به تاسې دحشر په مېدان کې داسې ملامت،سپک اوذليل شئ چې هېڅوک او هېڅ شی به ستاسې په کار نه راځي اونه به ستاسې پلويتوب او ملګرتيا کوي. هلته به هېڅ وکيل او دفاع کوونکې ستاسې له لوري نه پېدا کېږي بلکې خپله وکيلان چې دلته يې قانون لاندې باندې کاوه هلته به ستاسې پشان ملامت، خوار او ذليل ولاړ وي.

هغه محکمه، قضاء اود فیصلې دربار به داسې نه وي چې تاسې پکې جعلي اسناداودروغجن شهادتونه وړاندې کړئ اوخپل ځان پرې خلاص کړئ.

ددنیا د پولېسو اوپلټونکو ادارو څخه تاسې خپل جرم اوګناه پټولې شئ خودالهي پولېسو،څارونکو او تفتیش کوونکو څخه هېڅ شی هم نشئ پټولای.

د دنیا پولېس رشوت خوړلې شي خو الهي پولېس هېڅ شی نه خوري او نه ورته اړتیا لري.

ددنیا ګواهان اوشاهدي ورکوونکې دروغ ویلی شي خو الهي ګواهان اوشاهدان بالکل رېښتنی دي .د دنیا واکمنان،قاضیان او پرېکړه کوونکې بې عدالتي او بې انصافي کولای شي خوالله پاک ﷻ داسې واکمن او قاضي ندی چې بی عدالتې وکړي.

کوم زندان، محبس اوجیل چې الله پاک د مخالفت کوونکو لپاره تیار کړی دهغې څخه د تېښتې لاره او چل هم نه پېدا کېږي.

دالله پاک ﷻ سره دروغجنه ژمنه اووعده کول بې عقلي او حماقت دی. کله چې دهغه سره وعده، ژمنه او اقرار کوئ نو ښه په غور، فکر او دقت سره یې کوئ اوبیا په هغې عمل کوئ، په تاسې داجبر نشته چې خامخا په ژبه او خوله اقرار وکړئ ځکه چې په خوله اوژبه هسې تشه اوخالي وعده او ژمنه بې ځایه او بې فایدی کار دی.

## د رسول اللهﷺ د لار ښوونې اقرار

د (( **لا اله الا الله**)) تر ویلو وروسته تاسې( **محمد رسول الله**) وایئ، ددې مطلب دا دی چې تاسې دا خبره ومنله چې محمدﷺ د

الله پاک پيغمبر دی، دکوم چاپلاس چې هغه خپل قانون انسانانو ته رالیږلی دی.

الله پاک دبادار،واکداراوشاهنشاه تر منلو او قبلولو وروسته پدې ځان پوهول اړين دي چې ددې بادار اوشاهنشاه حکم اوامر څه دی؟ مونږ کوم کوم کار وکړو چې لوی اوستر پاچا را څخه خوښ او کوم کوم کار ونکړو چې هغه راڅخه خفه اوناراضه نشي.؟

په کوم قانون باندې د عمل کولو څخه وروسته هغه مونږ ښښي اوکه مخالفت مووکړ نوهغه سزا اوعذاب راکوي؟په همدې خبرو دپوهيدلو او بيانولو لپاره الله ﷻ خپل نبي او پيغمبر حضرت محمدﷺ را استولې دی اودهغه پوسیله يې مونږ ته خپل لارښوونکې کتاب راليږلې دی ، په هغې باندې دعمل کولو پوسیله نبيﷺ مونږ ته دا وښودله چې دالله پاک جل جلاله بندګې اوپيروي څه ډول بايد وشي.

کله چې تاسې د محمد رسول اللهﷺ اقرار وکړ نوددې مطلب دا شو چې کوم شيان نبيﷺ فرمايلې هغه به منو ،دهغې پيروي به کوو اوکوم قانون او طريقه چې دهغې مخالفه وي په هغې به لعنت استوو.

که ددې وينا او اقرار څخه وروسته بيا هم تاسې دنبيﷺ قانون پرېښوده اود دنيا نور قوانين موومنل نوپه نړۍ کې به ستاسې څخه بل دروغجن او بې ايمان نه وي ځکه چې تاسې پخپله خوله ددې خبرې اقرار کړی وو چې محمدرسول الله کوم قانون راوړی هغه حق دی او تاسې به دهغې پيروي اومتابعت کوئ. دهمدې وينا اواقرار په برکت تاسې دمؤمنانو وروڼه وګرځيدئ، په همدې سره تاسې دخپل پلار څخه ميراث وړئ، د همدې په برکت سره

تاسې دیوې مؤمنې مېرمنې سره نکاح کوئ، په همدی وجه ستاسې اولادستاسې خپل قانوني اوجائز اولاد دی.

د همدې په برکت مسلمانان ستاسې مرسته کوونکې وګرځیدل او تاسې ته زکات درکوي.

ستاسې د مال، ځان اوعزت ساتنه کوي،که د دې سره سره تاسې خپل اقرار او ژمنه ماته کړه نو د دې څخه غټه او لوی بې ایمانې په دنیا کې بل څه نشي کېدای.

که تاسې په( **لا اله الا الله محمد رسول الله**) باندې د پوهې سره سره اقرار کوي نو په تاسې لازم دي چې دالهي قانون پېروي وکړئ، که ددې دعملي کولو لپاره هېڅ پولېس او اداره موجوده نه وي. که څوک دا فکر کوي چې د الهي قانون د تطبیق لپاره پولېس، پوځ، محکمه او زندان نه ښکاري نو دهغې مخالفت کول آسانه کار دی !! خو د حکومتي قانون د تطبیق لپاره چې پوځ، پولېس او زندان شته نو ځکه د هغې قانون ماتول ګران او سخت برېښي!! زه د داسې شخص او سړي په هکله په ځرګنده واېم چې ده په( **لا اله الا الله محمد رسول الله**) باندې په دروغو اقرار کړیدی، داسې شخص خپل خدای ته، ټولې نړۍ ته، ټولو مسلمانانو او خپل ځان اونفس ته دوکه ورکړي.

## د دې اقرار مسؤلیتونه

زماورونو اودوستانو!

ما ستاسې په وړاندې د کلمهٔ طیبه معنیٰ او مطلب بیان کړ، اوس پدې لړ کې یو بل اړخ ته ستاسې توجه اوپام راګرځوم:

تاسې پدې خبره اقرار وکړ چې الله پاک د هر شي مالک او ښتن دی، نو د دې خبرې معنیٰ دا ده چې ستاسې ځان هم ستاسې ندی بلکې د الله پاک ملکیت دی، ستاسې لاس ستاسې ندی، ستاسې سترګې، ستاسې غوږونه او ستاسې دبدن هر غړی ستاسې ندی، دا زمکه چې تاسې یې کښت کوئ، دا څاروي چې تاسې ورڅخه ګټه پورته کوئ،دا مال او دولت چې تاسې ورڅخه کار اخلئ، د دې څخه یو هم ستاسې خپل ندی بلکې دا ټول شیان دالله پاک ملکیت دی خو تاسې ته د عطیې،امانت او تحفې په توګه درکړل شوی دی.

ددې اقرار سره سره چې الله پاک دهرشي مالک دی. بیاځان خپل ګڼل،بدن خپل ګڼل،مال خپل ګڼل،اوفلانې فلانې شی خپل بلل،څه خپل ګڼل اوڅه دبل چا ګڼل، دا ټول هسې بې ځایه خبرې اودعوې دي.

که تاسې پدې خبره دزړه له اخلاصه عقیده اوباور لرئ چې الله پاک دټولو شیانو مالک دی نوپه تاسې دوه خبرې منل اړینې دي:

لومړې دا چې اصلي مالک الله پاک دې اودا شیان تاسې ته د امانت په توګه درکړل شویدي.

نو تاسې به د دې امانت څخه په داسې توګه اوطریقه کاراخلئ چې په کومه طریقه دهغې مالک راضي کېږي اوکه داسې نه وي نوبیا دا دوکه ،چل او فریب ورکول دي.

بیاتاسې خپل لاسونه او پښې دهغه درضا اوخوښې په خلاف نه شئ ښورولای ، تاسې دخپلو سترګو څخه هم دهغه د رضا اوخوښې په خلاف کار نشئ اخستلای، تاسې پخپله ګېډه کې داسې شی نه شئ اچولې چې هغه پرې خفه اوناراضه کېږي،تاسې پدې ځمکو او

جایدادونو کې هم دهغه دخوښې په خلاف کار نشئ کولای ، تاسې چې خپلې مېرمنې او خپل اولادونه خپل بولئ هغه هم ستاسې سره امانت دي ، نو تاسې ددوی څخه دحقیقي اواصلي مالک دخوښې اورضاپه خلاف کارنشئ اخستلای ، که تاسې دهغې سره مخالفت کوئ نو بیا تاسې غاصبان اوزور څواکان یاستئ ځکه چې تاسې غاصب هغه چاته وایئ چې د چا څمکه یې لاندې کړی وي.

که تاسې دځمکې د غاصبانو په څېرد الله پاک په ورکړل شوي شیانو کې دخپلې خوښې سره سم کار کوئ او دحقیقي مالک پروا نه ساتئ نو تاسې هم غاصبان یاستئ.

که تاسې خپل شیان خراب کړل او خپل لاسونه اوپښې موماتې کړې نو ددې تاسې پروانه ساتئ خو که د بل چاشی مو خراب کړ نو تاسې به تاوان ورکوئ او تاسې ګنهګار یاستئ.

ستاسې ځان او بدن ستاسې خپل ندې نودهغې ضایع کول بې ایمانی ده بلکې هغه به د خپل مالک اوصاحب د خوښې سره سم استعمالوئ.

## اسلام راوړل په الله باندې احسان ندی

دوېمه خبره چې هغه باید په نظر کې وساتئ هغه داده چې: کله تاسې دیو مالک اوڅښتن شی او مال،چې ستاسې سره امانت دی هغه د خپل اصلي مالک دخوښې سره سم استعمالوئ نوبیا په هیچا باندې احسان اومنت نکوئ، نه دمال په مالک باندې او نه په بل چا باندې .

که تاسې دهغه په لاره کې څه ورکړل، یا څه خدمت مووکړاو یا ځان مودهغه په لاره کې قربان کړ نودابه ستاسې په وړاندې لویه او غټه خبره وي خو سره د دې هم تاسې په هیڅ احسان ندی کړی.

که تاسې څه کار کړی وي هغه به دومره وي چې دمالک حق بۀ مو اداء کړی وي.

دا خو دفخر، ویاړ اوغاړی پورته کولوکار ندی او نه ددې وړتیا لري چې ګوندی تاسې ډیر لوی کارکړیدی، اودهغې لپاره ډیر پروپاګند او تبلیغات وکړئ او ستاینې یې بیان کړئ.

په یاد وساتئ چې حقیقي اوریښتنې مسلمان هغه څوک دی چې د خپل ښتن او مالک په لاره کې چې څه ورکوي اویا څه خدمت کوي هغه پرې ناز، منت او احسان نکوي بلکې عاجزي او تواضع کوي ځکه چې فخر اواحسان باروول نیک عمل بربادوي، که چا داحسان،بدلی او منت لپاره څه کار وکړ نو دهغې اجر الله پاک نه ورکوي ځکه چې هغه داکار دالله پاک لپاره نه بلکې دمنت اواحسان لپاره کړی نو ځکه بدله اواجر نه ورکول کیږي.

## دالله پاک احسان اوځمونږ سلوک

ورونو!

د خپل مالک احسان وګورئ چې خپل شیان درڅخه اخلي او بیا هم درته وایي چې دا شیان مادر څخه په بیه اوقیمت اخستي اوزه به دهغې بدله اوعوض خامخادرکوم.الله اکبر! دا دی د حقیقي مالک شان،سخا او کرم! ایا ددې مثال شته دی؟.

الله پاک په خپل کتاب کې فرمایي:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ ٱشْتَرَىٰ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلْجَنَّةَ ﴾ التوبة: ۱۱۱

( الله له ایمان لرونکو څخه دهغوی ځانونه اومالونه اخستي دي چې دهغوی لپاره به په بدله کې جنت وي.)

داستاسې سره د حقیقي مالک سلوک اورویه ده خواوس تاسې خپل سلوک او رویه هم وګورئ، کوم شی چې تاسې ته حقیقي مالک درکړی اوهغه یې بیا درڅخه دبدلی اوعوض په ورکولو واخیست خو تاسې بیا هم هماغه شی، په بل چا باندې خرڅوئ او په ډیره لږه او کمه بیه باندې، اخستوونکي ستاسې څخه د خپل حقیقي مالک د خوښی په خلاف کار اخلي اوتاسې دهغوی خدمت پدې فکر کوي چې همدا حقیقي روزي ورکوونکي دی. تاسې خپل دماغونه خرڅوئ، خپل لاسونه او پښې خرڅوئ، خپل بدنی ځواک خرڅوئ، او هر هغه څه خرڅوئ چې دالله پاک څخه باغیان یې ستاسې څخه اخلي.ددې څخه بدسلوکي او بداخلاقي به څه وي؟

خرڅ شوی شی دوهم ځلي خرڅول قانوني جرم اوګناه ده، په دنیا کې په داسې خلکو دخیانت اودوکې ور کړلو دوسیه چلیږي ایا تاسې دا فکر کوئ چې د الله پاک په محکمه اوقضاء کې به په هغې باندې پریکړه اوفیصله نه کیږي؟

# ۵
## کلمهٔ طیبه او کلمهٔ خبیثه

داسلام ورونړو!

مخکې ما دکلمهٔ طیبه د معنیٰ په هکله څه شیان وویل،اوس یو ځل بیا زه غواړم ددې کلمې په هکله څه تشریح ستاسې په وړاندې کېږدم ځکه چې دا کلمه د اسلام بنسټ دی.

دهمدې کلمې پوسیله انسان اسلام ته داخلیږي اوهېڅوک تر هغې پورې حقیقي مسلمان نشي کېدای چې تر څو پورې پدې کلمه پوره پوه نشي او خپل ژوند دهغې سره سم جوړ نکړي.

الله ﷻ پخپل کتاب کې ددې کلمې په هکله دا رنګه فرمایي:

﴿ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي ٱلسَّمَآءِ ﴿٢٤﴾ تُؤْتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍۭ بِإِذْنِ رَبِّهَا ۗ وَيَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ ٱجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ ٱلْأَرْضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٍ ﴿٢٦﴾ يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱلْقَوْلِ ٱلثَّابِتِ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِي ٱلْءَاخِرَةِ ۖ وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّٰلِمِينَ ۚ وَيَفْعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ﴿٢٧﴾ ﴾ ابراهیم ۲٤ - ۲۷

((ایا تاسې نه ګورئ چې الله پاک دکلمهٔ طیبه مثال د څه شي سره کړیدی؟ ددې مثال داسې دی لکه د یو اصیل ذات ونه چې د هغې ریښې په ځمکه کې ژورې تللې وي، څانګې یې آسمان ته رسیدلې وي،هر وخت دخپل رب په حکم سره مېوه ورکوي،دا مثالونه الله ځکه ورکوي چې خلک دهغې څخه عبرت او سبق واخلي، دخبیثه کلمې مثال د یوې بد اصلي او کچه ونې په شان

دی چې دځمکې له سطحې څخه لرې کېدلی شي او هغه هېڅ تکيه ونلري،الله ایمان لرونکوته د یو ثابت قول په بنسټ په دنیا او اخرت کې ثبات او ټيکاو وربښي اوظالمان بې لارې کوي،اوالله هغه څه کوي چې خوښه يې شي)).

یعنی د کلمهٔ طیبه مثال داسې دی لکه چې یوه اصیله اوغوره ونه چې ریښی يې په ځمکه کې ښه ژورې تللې وي اوخاښونه يې آسمان ته پورته شوی وي او د تل لپاره د خپل رب په حکم سره مېوه ورکوي.

د دې بر خلاف خبیثه کلمه یعنی بد او دروغجن اقرار او عقیده داسې وي لکه یوه کم اصله ونه چې د ځمکې په سر باندې پرته وي او په یوه اشاره باندې له خپل ځای څخه بې ځایه کېدای شي ځکه چې هغه په ځمکه کې کلکه شوی نه وي.

دا یو بې جوړې مثال دی که تاسې په هغې غور وکړئ نولوی سبق او عبرت به ورڅخه تر لاسه کړئ.

ګورئ! ستاسې په وړاندې د دواړو ونو مثالونه شته دی، یو د آم ونه ده چې څومره ژوره تللې ده اوڅومره پورته اولوړ خاښونه لرې، هر لورې ته دهغې خاښونه رسیدلې وي، څومره ښه او غوره مېوه نیسې او ولې ددې دومره صفت او ستاینه شویده؟ ځکه چې ددې زړی قوي وو او هغه زړي د ونی جوړېدو وړتیا درلوده،او دا حق دومره ریښتنی وو چې کله هغه د حق توب دعوه وکړه نو ځمکې،اوبو،هوا، د ورځې ګرمی او د شپې سوړوالی لنډه دا چې هرېو دهغه حق تسلیم کړ او له چا څخه چې يې څه وغوښتل هغه يې ورکړل نو هغه دخپل حق په زور او ځواک سره دومره لوی او قوي ونه شوه چې مېوه يې ورکړه اوداېې ثابته کړه چې په حقیقت

کې هغه ددې ور وه چې داسې لویه ونه ورڅخه جوړه شي ځکه دزمکې او آسمان ټول قوتونه دهغې سره یو ځای شول او هغوی پدې برخه کې په حقه وه اوهمدا کار یې باید کړی وا ی.

دا ددې لپاره چې د دې ونو ټول حقونه چې په ځمکه، هوا او اوبو کې دي هغه دهمدی اصلي ونو اوبوټو لپاره دي.

د دې اصلي،لوی او ځواکمنې ونې په مقابل کې هغه خس اوخاشاک واقع دي چې دهغې زوراوځواک څه شي دی؟ کوچنی اولنډی ریښی چې ماشوم یې هم ویستلی شي، دومره نرم او منځ خالي چې لږ شانته باد یې هم مړاوې کولای شي.که لاس ورنژدی شي نوداغزیو پوسیله یې هر کلی کوي، که خوند یې وڅکل شي نو دخولې مزه اوخوند خرابوي، په ورځ کې څومره پیدا کیږي اوڅومره له منځه ځي، ددوی دا حال ولې دی؟

دا ځکه چې دهغوی په زړي اوتخم کې دومره قوت او ځواک نه وو چې کوم د آم د زړي سره وو، کله چې اصل بوټی نه وي نو ځمکه همداسې بې کاره پرته وي اوداسې کم اصله بوټوټه لږځای ورکوي،څه لږاوبه ورکوي،هوا هم ورسره څه مرسته کوي خو د ځمکې اوآسمان ځواکونه دداسې بوټو حق نه مني ځکه نوپه ځمکه کې دهغې ریښی وړاندې نه ځي او نه په هوا کې دهغې خانګونه پورته او خپریدای شي،د هغې سره نه اوبه او نه هوا پوره مرسته کوي.

کله چې داکم اصله بوټي چې بې خونده اواغزی لرونکې وي دومره لږ پورته کیږي چې دهغې څخه په ډاګه کیږي چې د ځمکې او آسمان ځواکونه د داسې بوټودټوکیدو او پورته کیدو لپاره ندي.هغې ته چې دا څومره ورکړل شوی دا دهغوی لپاره هم ډیر دي.

دا داوړه مثالونه په نظر کې ونیسئ او بیا د کلمۀ طیبه او کلمۀ خبیثه په فرق او توپیر باندې غور وکړئ.

## کلمۀ طیبه څه شی دی؟

کلمۀ طیبه یوه ریښتنی حقیقي خبره، داسې ریښتنی خبره چې په ټوله نړۍ کې د هغې څخه بله ریښتنی خبره نشي پیدا کېدای یعنی دا چې د ټول جهان اونړۍ پیدا کوونکې یواځې الله پاک دی او پدې خبره د ځمکې او آسمان هر شی ګواهي او شاهدي ورکوي.

انسان ، څاروي، ونې، ډبرې اوکانړي ، د شګو ذرې، روانی ویالې، ځلیدونکې لمر،بلکې ټول څیزونه چې هر لوري ته خپاره دی، پدې کې کوم شی دی چې الله پاک نه وي پیدا کړی؟ اوپرته له الله پاک څخه د بل چاپه مهربانۍ او فضل سره ژوندی پاتې وي؟ او پرته له الله پاک څخه یې بل څوک پناه او ختمولای شي.؟

کله چې دا ټول جهان،نړۍ او کائنات الله پاک پیدا کړی وي اودهغه په مهربانۍ او فضل سره ژوند کوي او هغه د دې ټولو واکمن او حاکم دی نو تاسې به خامخا پدې اقرار وکړئ چې پدې دنیا او نړۍ کې پرته له الله پاک څخه د بل چا خدایي او پاچایي نشته، کله چې تاسې پدې خبره اقرار وکړئ نو دا ټول کائنات او شیان به ووایي چې تاسې تر ټولو ریښتنی خبره وکړه او مونږ ټول ستا پدې رښتینوالئ باندې ګواهي اوشاهدي ورکوو.

کله چې تاسې د دې لوی اوواحد الله په دربار کې ښکته کېږئ نوټول درسره ښکته کېږي ځکه چې دا ټول شیان د الله پاک عبادت کوونکې دي.

کله چې تاسې د دی لوی اوواحد خدای حکم اوفرمان منئ نو ټول شیان ستاسې ملګرتیا کوي ځکه چې دا ټول دهغه الله پاک حکم منوونکې دي.

کله چې تاسې پدې لاره روانیږه نو یواځې به نه وئ بلکې د کائناتو بې شمېره لښکر به ستاسې سره ملګری وي ځکه چې د لمرڅخه نیولې د زمکې د یوی کوچنی ذری او بڅرکې پورې ټول په همدې لاره تلوونکې دي.

تاسې چې په هغه باندې تکیه، توکل او بروسه وکړئ کوم چې د آسمان او زمکې د ټولو خزانو او زیرمو واکمن دی.

کله چې تاسې دا ټول حقیقتونه په نظر کې وساتیه او بیا په کلمه باندې ایمان، باور او اقرار وکړئ او د هغې د غوښتنې سره سم خپل ژوند برابر او عیار کړئ نو بیا به درته څرګنده شي چې دځمکې او آسمان ټول شیان ستاسې سره ملګرتیا او مرسته کوي.

د دنیا څخه نیولې تر اخرت پورې به تاسې خوښ او خندان مخ په وړاندې روان وئ، دیوې ثانې او لحظی لپاره به هم ناکامي او نامرادي نه ګوریه.

په همدې خاطر الله پاک فرمایلې دي چې دا کلمه داسې ونه ده چې دهغې ریښې په ځمکه کې ژورې تللې او خپرې شویدې او خاښونه یې په آسمان کې یوي اوبلې خواته خپاره شوي، هر وخت او د تل لپاره د الله پاک په حکم مېوه ورکوي.

## خبیثه کلمه څه شی ده؟

ددې په مقابل کې خبیثه کلمه وګورئ هغه څه شی دی؟ ددې معنیٰ اومطلب دا دی چې د دې نړۍ او دنیا هیڅ خدای نشته یادا

چې د الله څخه پرته نورخدایان هم شته دی،تاسې پدې خبره غور او فکر وکړئ چې ایا ددې څخه به بل غټ او لوی دروغ او بې معنیٰ خبره بله وي؟دځمکې او آسمان کوم شی ددې خبری په هکله شهادت او ګواهي ورکوي؟

د هریان وایي چې خدای نشته خو د ځمکې او آسمان هر شي دا وایي چې دا خبره دروغ او غلطه ده، مونږ او تاسې ټول الله پاک پیدا کړي یواو همدې خدای تاسې ته دا ژبه درکړیده چې اوس داسې لوی دروغ پرې وایې.

مشرکان وا ي چې د یو الله سره نور خدایان هم شریک دي،نور هم روزي ورکوونکې دي، نور هم مالکان دي، نور هم قسمتونه جوړوي او بدلوي، نور هم د زیان او ګټې رسولو توان لري ، نورهم دُعاګانې اوري ، نور هم د خلکو مرادونه پوره کولای شي، نور هم د ویرې او ډار وړتیالري، په نورو هم توکل کېدای شي،پدې کائناتو باندې د بل چا حکم هم چلیږي،دالله پاک سره سره دنورو فرمان او حکم هم دمنلو او پیروي کولو وړتیا لري.

د دې په ځواب کې د زمکې او آسمان ټول شیان وایي چې دا ځرګند دروغ دي، هره خبره چې تاسې کوئ داد حقیقت سره بالکل مخالفه ده.

اوس تاسې غور وکړئ چې څوک دا کلمه غوره کړي او دهغې سره سم ژوند پیل کړي هغه به په دنیا او اخرت کې څومره ښه ژوند ولري؟

الله پاک دخپلې مهربانې په وجه داسې خلکو ته وخت او مهلت ورکوي او روزی هم ورکوي.

چې دځمکې او آسمان ټول شیان ستاسې سره ملګرتیا او مرسته کوي.

د دنیا څخه نیولې تر اخرت پورې به تاسې خوښ او خندان مخ په وړاندې روان وی، دیوی ثاني او لحظی لپاره به هم ناکامی او نامرادی نه ګوری.

په همدې خاطر الله پاک فرمایلی دی چې دا کلمه داسې ونه ده چې دهغې ریښې په ځمکه کې ژوری تللی او خپرې شویدی او څانګې یې په آسمان کې یوی اوبلې خواته خپاره شوی، هر وخت او د تل لپاره د الله پاک په حکم مېوه ورکوي.

## خبیثه کلمه څه شي ده؟

ددې په مقابل کې خبیثه کلمه وګورئ هغه څه شي دی؟ ددې معنی اومطلب دا دی چې د دی نړۍ او دنیا هیڅ خدای نشته یادا چې د الله څخه پرته نورخدایان هم شته دی،تاسې پدې خبره غور او فکر وکړئ چې ایا ددې څخه به بل غټ او لوی دروا‌غ او بې معنی خبره بله وی؟دځمکې او آسمان کوم شي ددې خبرې په هکله شهادت او ګواهي ورکوي؟

د هریان وایي چې خدای نشته خو د ځمکې او آسمان هر شي دا وایي چې دا خبره دروغ او غلطه ده. مونږ او تاسې ټول الله پاک پېدا کړی یواو همدې خدای تاسې ته دا ژبه درکړیده چې اوس داسې لوی دروغ پرې وایي.

مشرکان وایي چې د یو الله سره نور خدایان هم شریک دی،نور هم روزی ورکوونکې دی، نور هم مالکان دی، نور هم

کله چې دا ټول جهان، نړۍ او کائنات الله پاک پېدا کړی وي اودهغه په مهربانۍ او فضل سره ژوند کوي او هغه د دې ټولو واکمن او حاکم دی نو تاسې به خامخا پدې اقرار وکړئ چې پدې دنیا او نړۍ کې پرته له الله پاک څخه د بل چا خدايي او پاچايي نشته، کله چې تاسې پدې خبره اقرار وکړئ نو دا ټول کائنات او شیان به ووايي چې تاسې تر ټولو رېښتنی خبره وکړه او مونږ ټول ستا پدې رښتینوالۍ باندې ګواهي اوشاهدي ورکوو.

کله چې تاسې د دې لوی اوواحد الله په دربار کې ښکته کېږئ نوټول درسره ښکته کېږي ځکه چې دا ټول شیان د الله پاک عبادت کوونکې دی.

کله چې تاسې د دی لوی اوواحد خدای حکم اوفرمان منی نو ټول شیان ستاسې ملګرتیا کوي ځکه چې دا ټول دهغه الله پاک حکم منوونکې دی.

کله چې تاسې پدې لاره روانېږۍ نو یواځې په نه وئ بلکې د کائناتو بې شمېره لښکر به ستاسې سره ملګری وی ځکه چې د لمرڅخه نیولې د زمکې د یوی کوچنی ذری او بڅرکې پورې ټول په همدې لاره تلوونکې دی.

تاسې چې په هغه باندې تکيه، توکل او بروسه وکړئ کوم چې د آسمان او زمکې د ټولو خزانو او زیرمو واکمن دی.

کله چې تاسې دا ټول حقیقتونه په نظر کې وساتۍ او بیا په کلمه باندې ایمان، باور او اقرار وکړئ او د هغې د غوښتنې سره سم خپل ژوند برابر او عیار کړئ نو بیا به درته څرګنده شي

کوي، هغوی به هېڅکله نيغ او سم کارونکړي چې دهغې ځخه په دنيا او اخرت کې غوره مېوه او پايله پلاس ورشي.

## کلمه ويونکې ولې خوار او ذليل دي؟

ورونو!

تاسې د کلمهٔ طيبه او کلمهٔ خبيثه توپير،فرق او پايلې واوريدلې، اوس به تاسې دا پوښتنه حتماً کوئ چې مونږ خودکلمهٔ طيبی منوونکې اوويونکې يو،نو بيا څه خبره ده چې مونږ نه ځواکمن يواو نه توان لرونکې پداسې حال کې چې دکلمهٔ خبيثه منوونکې ځواکمن او د پوره مادي توان لرونکې دي؟

د دې پوښتنې ځواب ځما په غاړه دی او زه به د دې ځواب درکوم خو پدې شرط چې ځما په ځواب باندې ځوک خفه نشي او هغه بد ونه بولې، بلکې له خپل زړه څخه وپوښتې چې ايا زما ځواب صحيح او رښتيا دی او که نه؟

لومړې دا چې ستاسې دا خبره خپله دروغ او غلطه ده چې تاسې کلمه ويوونکې او منوونکې ياستئ اوبيا ځواکمن اوقوي نه ياستی! د کلمهٔ طيبه دمنلو معنیٰ دا نده چې يواځې هغه په ژبه د طوطي پشان تکرار کړئ بلکې هغه بايد په خوله او ژبه ولوستل شي او دهغې معنیٰ او مطلب زړه ته ښکته شي، بيا دهغې په خلاف چې کومه عقيده او فکر وي هغه د زړه څخه ووځې،په غړو باندې ددې کلمې خلاف کومه خبره هم سرته ونه رسيږي.

ځما ورونو!

دخدای لپاره ووایي چې ایا ستاسې همدا حال ندی؟ ایا په تاسې کې په لس گونو اوسل ګونو کافرانه او مشرکانه خیالات او فکرونه نشته کوم چې د کلمهٔ طیبه مخالف او ضد دي؟

ایا د مسلمان سر پرته دالله پاک څخه د بل چاپه وړاندې نه ښکته کیږي؟

ایا مسلمان د نوروڅخه ویره او ډار نکوي؟ ایا هغوی دنورو په کومک او مرسته باندې اعتماد اوتوکل نکوي؟ ایا هغوی نور روزی ورکوونکې نه بولي؟ ایا هغوی دالله پاک د قانون په مقابل کې د نورو قوانینو په خوښۍ سره پیروي نکوي؟ ایا مسلمانان په عدالتونو او محکموکې په څرګنده دانه وایي چې مونږ د شریعت قانون نشو منلی؟

ایا په تاسې کې داسې خلک نشته چې هغوی د خپلې شخصی ګټی لپاره د الله پاک د قانون حکم ماتوي؟

ایا په تاسې کې داسې خلک نشته چې هغوی د کفارو د قهر اوغضب څخه ویریږي خو د الله پاک له غضب او قهرڅخه ویره نلري؟

ایا هغه خلک په تاسې کې نشته چې د کفارو د خوښۍ او رضا لپاره هر څه ته تیار دي خو دالله ﷻ د خوښۍ او رضا هیڅ پروا نه ساتي؟

که همداسې وي نو بیا تاسې په کومه خوله او ژبه دا خبره کوي چې مونږ دکلمهٔ طیبه منوونکې ولې څواکمن او غالب نه یو؟

لومړې تاسې په کلمهٔ طیبه باندې دزړه په اخلاص ایمان راوړۍ او بیا ددې کلمې سره سم خپل ژوند غوره کړۍ او بیا تاسې وګورۍ چې ایا هغه ونه راپیدا کیږي کنه کومه چې په ځمکه کې

کلکې ریښې ولري او تر آسمان پورې دهغې خاښونه پورته شوي او هر لوري ته خپاره شوی وې. که داسې نه وي او بیا معاذالله خپل خدای دروغجن وبولې چې تاسې ته یې دروغ ویلي دي.

## ایا کلمه خبیثه منوونکي ځواکمن او زیات دي؟

ستاسې داخبره هم سمه نده چې دخبیثه کلمې منوونکې غالب اوښه زیات دي. نه مخکې داسې وه او نه اوس داسې ده.

تاسې خو یواځې د مال، دولت او مزو چړچو حالت په سترګو ګوره او دهغې په لیدلو سره فکر کوئ چې هغوی غالب، زیات او ځواکمن دي، خو تاسې دهغوی له زړونو څخه وپوښتې چې ایا هغوی ډاډه او مطمئن دي؟

هغوی دمزو چړچو او عیش عشرت په سامانونو کې ډوب پراته دی خو په زړونو کې یې اور لمبې وهي چې هغوی ډاډ او اطمنان ته نه خوشي کوي، د الله پاک دقانون مخالفت دهغوی له کورونو څخه دوزخ جوړ کړی.

تاسې ورځپاڼې اواخبارونه وګوره چې په لوی‌دیځ هېوادونو کې څومره ځان وژنی کېږي، څومره زیات طلاق اچول کېږي او نسلونه څومره کمی‌ږي.

په خبیثه جنسی ناروغیو څومره لکونه خلک اخته شویدی او دهغوی ژوند یې تباه او برباد کړیدی؟

دمختلفو خلکو تر منځ په خوراک باندې څومره شخړی او لانجی روانی دي؟ کېنی، حسد، دښمنی او ضد څومره انسانان پخپل منځ کې سره په جګړو اخته کړیدي؟ دمزو چړچو په سبب

دانسانانو ژوند څومره تريخ او بې خونده شويدی. پدې لوی لوی ښارونو اود غرونو پشان و دانيو کې څومره خلک د بې وځلې ژوند تيروي؟ ايا تاسې همدا ژونداو همدا حالت غلبه او بر لاسي بولې؟ ايا همدا جنت دی چې تاسې هغې ته په تلوسه کې ياستې؟

ځما ورونو!

په ياد ولرۍ چې دالله پاک وينا هيڅ وخت دروغ نشي کېدای ،په حقيقت کې دکلمهٔ طيبه څخه پرته بله کلمه هيڅ نشته چې دهغې په پېروي کولو سره انسان په نړۍ کې د ډاډ ژوند تير کړي او په آخرت کې بريا تر لاسه کړي. تاسې هر لوري ته وګورئ، نو هيڅ شی به په نظر درنشي.

## ۲
## په کلمهٔ طیبه باندې د ایمان راوړلو موخه اوهدف

ځما د اسلام ورونو!

ما په مخکنیو دوه ویناګانوکې تاسې ته د کلمهٔ طیبه مطلب اوحقیقت بیان کړ.نن ورځ زه پدې بحث کوم چې پدې کلمه باندې دایمان راوړولو ګټې او فایدې څه دي او هغې ته څه اړتیا ده؟

### هر کار یوه موخه او هدف لري

تاسې هر یو پدې ښه پوهیږئ. هر څوک چې څه کارکوي هغه خامخا څه موخه.هدف اوغرض لري او یا په کې څه ګټه او فایده وي. هیڅوک بې موخې.بې هدفه او بې فایدې کارنکوي.تاسې او به ولې څښئ؟ ددې لپاره چې تنده مو ماته شي،که د اوبو څښلو څخه وروسته هم ستاسې تنده ماته نشي نو.تاسې اوبه هیڅکله هم نه څښئ ځکه چې دا هسې خوشې او بې ځایه کار دی.

تاسې خوراک ولې خورئ ؟ ددې لپاره چې لوږه مو ختمه شي. بدن ته مو د ژوند چانس پلاس ورشي او طاقت پکې پیدا شي، که د خوراک کولو اونه کولو پایله یوشانته وي نو بیا تاسې خوراک خوړل هسې خوشې کار بولئ.

په ناروغۍ کې تاسې ولې دوا خورئ ؟ ددې لپاره چې ناروغي ختمه او بدن مو روغ جوړ شي که ددوا دخوړلو څخه وروسته هم ناروغي ختمه نشي نو بیاستاسې ددوا خوړل هسې بې ځایه دي.

تاسې په زراعت اوفصل کې ولې دومره خواري او کوښښ کوئ؟ ددې لپاره چې له فصل او زراعت څخه غله، دانه، ترکاري او مېوې پلاس درشي، که د تخم له کرلو څخه وروسته هم څمکه څه شی او حاصل نه ورکوي نو تاسې به په قلبه کولو، تخم کرلو او اوبو ورکولو کې دومره خواري اوکوښښ نه کولو.

لنډه دا چې په دنیا کې چې هر څه تاسې کوئ خامخا یو موخه او هدف لري، که هغه موخه او هدف تر لاسه شي نو تاسې وایې چې دا کار سم روان دی او که موخه تر لاسه نشي نو تاسې بیا ووایې چې دا کار سم ندی روان.

## دکلمې ویلو موخه او هدف

پورته خبره په ذهن کې وساتئ اوځما یوي یوي پوښتنې ته ځواب راکوئ.

تر ټولو لومړئ پوښتنه دا ده چې کلمه دڅه لپاره لولئ؟ تاسې ددې څخه بل ځواب نشئ راکولای چې پدې سره دکافر او مسلمان توپیر اوفرق کېږي؟

زه اوس پوښتنه درڅخه کوم چې ددې توپیر اوفرق موخه او مطلب څه شي دی؟ ایا د دې موخه دا ده چې د کافر دوه سترګې او دمسلمان څلور سترګې راپېدا شي؟ یاد کافر یوسر وي خو دمسلمان دوه سرونه راپېدا شي؟ تاسې به خامخا ووایې چې ددې مطلب دا ندی.

دفرق او توپیر مطلب اوموخه دا ده چې دکافر او مسلمان پایله او آخر سره بیل بیل وي،کافر به په آخرت کې دخدای له رحمت څخه بې برخې وي، ناکام اونامراد به وي خو مسلمان به دالله پاک

خوښي او رضا تر لاسه کړي او په آخرت کې به کامیاب او بریالي وي.

## داخرت برې اوناکامي

زه درته وایم چې تاسې ځما د پوښتنو سم ځواب راکړ خو دا راته ووایي چې دا آخرت آخر څه شي دی؟ دآخرت برې اوناکامي څه شي دی؟ هلته کامیاب اوناکام څه معنیٰ لري؟

تر دې چې زه پدې خبره پوه نشم مخکې نه ځم.

د دې پوښتنې ځواب ورکول ستاسې په غاړه ندي ځکه د دې پوښتنې ځواب مخکې ورکړل شویدی چې الدنیا مزرعة الاخرة (دنیا د آخرت کښت ځای دی).

یعنی دنیا او آخرت جلا او بیل بیل شیان ندي بلکې یوه لړۍ ده چې پیل یې دنیا او آخر یې آخرت دی، د دواړو ترمنځ اړیکې داسې دي لکه دځمکې اوکښت، په زمکه کې چې تاسې قلبه چلوۍ، تخم پکې اچوئ، اوبه ورکوئ، د فصل او کښت پالنه کوئ تر هغې چې کښت تیار شي او تاسې ورڅخه حاصل واخلۍ او بیا یې ټول کال په مزه سره خورۍ.تاسې چې په ځمکه کې هر ډول تخم وکرۍ هماغه فصل اوحاصل درکوي، که غنم وکرئ نو غنم درکوي، که اغزی وکرئ نو اغزی درکوي که هیڅ ونه کرئ هیڅ نه درکوي.

په قلبه کولو، تخم اچولو، اوبه ورکولو اود فصل په ساتلو کې چې تاسې ځومره غلطۍ وکړئ د هغې اثر اواغېزه په فصل باندې پرېوځي اوحاصل ورسره اغېز من کېږي.

که تاسې دا ټول کارونه په ښه اوسمه طریقه سره سرته رسولې وي نو دفصل اوحاصل په اخستلو کې دهغې ګټه او فایده ګورې.
همدا مثال د دنیا اواٰخرت هم دی، دنیا ځمکه اوخاوره ده، ځمکې ته انسان ځکه راغلې دی چې هلته خواري اوکوښښ وکړي اودځان لپاره ښه او غوره فصل اوکښت تیار کړي.
دپیدا ایښت څخه تر مرګ پورې انسان ته مهلت او وخت ورکړل شویدی چې پدې وخت اومهلت کې چې هغه هر ډول کښت اوفصل وکرلو هغه به دمرګ څخه وروسته تر لاسه کوي، کوم فصل او کښت چې هغه کرلې په هغې باندې به په آخرت کې ژوند او ګذاره کوي.
چا چې په دَنیا کې غوره او ښه کښت کرلې، هغې ته یې ښې اوبه ورکړي، دهغې یې ښه پالنه کړې نو د مرګ څخه وروسته به هغه ته ښکلې ، ډولې او شین باغ ورکړل شي چې بیا به هلته هېڅ کوښښ او خوارۍ ته اړتیا ونلري، په دَنیا کې چې هغه پخپل باغ کې کوم کوښښ کړی په آخرت کې به په هغې مېوه اوفصل باندې ښه او آرام ژوند تیروي اودهمدې باغ نوم جنت دی او په آخرت کې د بریالیٔتوب معنیٰ او مطلب همدا دی.
ددې په مقابل کې چې څوک په دُنیا کې زهرجنې مېوې اواغزې لرونکې بوټې کري نو په آخرت کې به هم هماغه زهرجن او اغزن فصل پلاس ورځي،هلته بیا ده ته دا وخت او مهلت نه ورکول کېږي چې خپل تاوان او زیان پرې را وګرځوي او بل کښت تیار کړي، بیا به نو په همدې خراب، زهرجن او اغزن کښت اوفصل باندې خپل ټول ابدي ژوند تیروي.

کوم اغزي چې ده کرلي په هغې به پرېوځي. کوم زهرجن بوټي چې هغه کرلي وه دهغې په مېوه به وخت تېروي. همدا دوزخ دی اوهمدې ته دآخرت ناکامي اونامرادي واي.

د آخرت دا تشریح چې ماوکړه ددې ثبوت په قرآن مجید اونبوي احادیثو کې شته. ددې څخه څرګندېږي چې په آخرت کې بریالیتوب. کامیابي اوناکامي ددنیا دکوښښ او خوارئ پایله ده او دده دعلم اوعمل سموالې اوخراب والې پکې مهم رول لري.

## دکافر او مسلمان په پایله کې توپیر ولې؟

کله چې تاسي پدې خبره پوه شوئ نو پدې خبره سملاسي پوهیدلې شئ چې دکافر او مسلمان فرق او توپیر بې دلیله او بې وجې ندی. په حقیقت کې د پای او اخرت فرق او توپیر په پیل او شروع پورې تړاو لري. که په دنیا کې دکافر او مسلمان په علم اوعمل کې فرق او پوپیر موجود نه وي نو په آخرت کې د دواړو ترمنځ بیا توپیر او فرق نشته. دا هیڅ امکان نلري چې دیو سړي علم او عمل دې د کافر پشان وي او بیا دې په آخرت کې دهغه پایې او انجام دکافر سره فرق او توپیر ولري.

## دکلمې موخه او هدف د علم او عمل سموالې

یوځل بیا داپوښتنه راپېدا کېږي چې د کلمې دویلو مطلب او موخه څه شی دی؟

تاسي مخکې ددې ځواب داسي ورکړی وو چې ددې موخه اوهدف دا دی چې د کافر او مسلمان پای او انجام سره توپیر او فرق ولري؟

اوس چې تاسې د پای او انجام تشریح واوریدله نو تاسې باید پخپل ځواب باندې یو ځل بیا غور او فکر وکړئ.

تاسې به دا ووایې چې دکلمې د ویلو موخه او هدف دا دی چې په دنیا کې انسان خپل علم او عمل دواړه سم اوصحیح کړي تر څو په آخرت کې دهغه پایله سمه او غوره شي.

دا کلمه په دنیا کې انسان ته داپه ګوته کوي چې په څه ډول ښکلې او غوره باغ کېښنوي تر څو دهغې څخه ښه، سمه اوغوره مېوه پلاس راوړي.

څوک چې دا کلمه نه مني نو هغه ته به په څه ډول د باغ کېښنودلو طریقه څرګنده شي. هغه به باغ په څه ډول کېښنوي او په څه ډول به ورڅخه مېوه او حاصل تر لاسه کوي؟

که څوک دا کلمه په خوله اوژبه واي خوعلم او عمل یې داوړه د کافر او نه منوونکې پشان وي نو تاسې به پخپله دا پرېکړه وکړئ چې د داسې کلمې په لوستلو به څه پلاس ورنشي او هېڅ دلیل نشته چې دده پایله به دکافر او مشرک سره توپیر ولري.

په خوله اوژبه کلمه لوستل په خدای باندې احسان او منت کول ندی چې تر څو هغه د باغ کېښنولو طریقه یاده نکړي. اوهغه باغ جوړنکړي بلکې په ټول ژوند کې هغه اغزي کري او بیا اُمید او هیله لري چې هغه ته دی دمېوو څخه ډک باغ ورکړل شي لکه چې مخکې بیان شول.

که د باغ کېښنولو اونه کېښنولو پایله او نتیجه یوه وي نو بیا دا کار بې ځایه او خوشې دی. دکومې دوا دخوړلو څخه وروسته چې ناروغي هماغسې پخپل حال پاتې وي نو دا دوااودرمل ندي بلکې هسې شی دی.

که دکلمه ویوونکي اونه ویوونکي علم اوعمل سره یوشانته وي د داسې کلمې ویل بې موخــه دی، کله چې دکافر او مسلمان په ژوند کې سره فرق اوتوپیر نه وي نو بیا په آخرت کې د دواړو په پایله کې به څه توپیر او فرق راپېدا شي.

## کلمهٔ طیبه کوم عمل ور زده کوي؟

اوس دا پوښتنه پېداکېږي چې کلمهٔ طیبه کوم ډول پوهه اوعلم ور ذده کوي؟ اوددې پوهې اوعلم څخه وروسته دکافر او مسلمان په علم او عمل کې څه فرق او توپیر راپېدا کېږي؟

## ۱- دالله پاک بندګي

ګورۍ ورونو! د کلمې څخه چې تاسې ته څه څرګندیږي هغه دا دی چې تاسې دالله پاک بندګان یاستۍ اودبل چا نه یاستۍ، کله چې دا خبره تاسې ته څرګنده شوه چې تاسې دالله پاک بندګان یاستۍ نو دهغه د خوښې اوقانون سره سم به عمل کوئ، که تاسې دهغه دخوښې او رضا مخالفت کوئ نو دا د خپل مالک څخه بغاوت او سرغړونه ده.

## ۲- د رسول اللهﷺ پېروي اومننه

د دې پوهې اوعلم څخه وروسته تاسې ته دوېم علم او پوهه هم پلاس درځي هغه دا چې حضرت محمدﷺ د الله پاک استازې اورسول دی،کله چې دا خبره تاسې ته څرګنده شوه نو دا خبره به هم درته په ډاګه شي چې نبيعليه السلام چې په دنیا کې د باغ لګولو کومه طریقه ښودلې ده هغه باید خپله شي او دهغې سره سم ګلان،

میوې اوبوټي کېنول شي اود اغزيو د کرلو ځخه ځان وساتل شي .
که تاسې دخپل نبي په طريقه باندې په دنيا کې باغ ولګولو نو په آخرت کې به ښه، خوږه اوغوره میوه پلاس درشي، خو که د هغه د ښودلی شوی طريقی په خلاف تاسې عمل وکړئ، دګلانو اومیوو پرځای اغزي وکرۍ په آخرت کې به اغزي پلاس درشي.

## د علم سره سم باید عمل وشي.

د دې علم اوپوهې د لاس ته راوړلو وروسته باید عمل او کړه وړهم دهغې سره سم شي، که تاسې پدې باور او یقین لرۍ چې یوه ورځ مرګ راځي، او د مرګ ځخه وروسته بل ژوند شته، اوپه هغه ژوند کې به تاسې په همدې کرل شوي کښت باندې ګذاره کوئ کوم چې تاسې په دنيا کې کرلی، نوبيا دا امکان نلري چې تاسې دخپل لارښود طريقه خوشی کړئ او بله طريقه او لاره خپله کړئ.
په دنيا کې تاسې زراعت اوکرهڼه ولې کوئ؟ د دې لپاره چې تاسې پدې باور او يقين لرئ چې د دې ځخه غله، دانه اوميوه پيدا کېږي او که داسې ونه کړو نوهيڅ پلاس نه راځي اودلوږې ځخه به مړه شو.
که تاسې پدې باور او يقين درلوده چې د کرهڼې اوزراعت ځخه پرته غله، میوه او دانه پلاس راځي یاد غلې اودانې پرته ژوند کېدای شي نو تاسې هيڅ وخت دا کوښښ او خوارې نه کوله.
تاسې همدا مثال په ځان باندې ولګوی، کوم ځوک چې په ژبه وايي الله پاک ځمونږ مالک دی اومحمد ﷺ د هغه استازی اورسول دی، د آخرت ژوند هم ريښتينی دی، خو د ده عمل د قرآن مجيد

او نبيﷺ د لاربنوونو مخالف وي، نو پدې پوه شئ چې د دې سړي ايمان کمزورې دی.

هغه چې په فصل، کښت اوزراعت باندې کوم باور،يقين اواعتماد لري که همدا باور او يقين يې د دنيا او آخرت په هکله وا ی نو هېڅکله به يې بې پروايي اوغفلت نه وا ی کړی.

هېڅوک قصداً دخپل ځان لپاره اغزي نه کري، اغزي هغه څوک کري چې پدې باور او يقين نلري چې د دې څخه اغزي پېدا کېږي اوهغه به ورته زيان او تکليف رسوي.

تاسې قصداً په خپل لاس کې دآور سکروټې نه را اخلئ ځکه تاسې پدې باور او يقين لرئ چې دا سکروټې ستاسې لاس سوځوي.

خو يو کوچنې اوماشوم سکروټو ته لاس ورنژدی کوي ځکه هغه پدې نه پوهيږي چې آور اوسکروټې لاس او بدن سوځوي او د هغې پايله څه ده.

# دویم فصل

# اســلام

# ٧

## مسلمان چاته ویل کېږي؟

زما د اسلام ورونو!

زه نن تاسې ته د مسلمان صفتونه بیانوم، یعنی درته په ګوته کوم چې د مسلمانیدو لپاره کوم کوم شرطونه اړین او ضروري دي، انسان باید څه وکړي چې هغه د مسلمان ویلو وړتیا پیدا کړي.

### کفر څه شی دی او اسلام څه شی دی؟

پدې خبره د پوهیدلو څخه مخکې تاسې باید دا وپېژنئ چې کفر څه شی دی او اسلام څه شی دی؟

کفر دا دی چې سړی د الله پاک د حکم منلو څخه انکار وکړي، او اسلام دا دی چې انسان یواځې د الله پاک حکم منونکې شي او د هر ډول طریقې، قانون او حکم له منلو څخه انکار وکړي چې د الله پاک د رالیږلې شوي قانون او هدایت سره مخالف وي. د اسلام او کفر دا ډول فرق او توپیر قرآن مجید په څرګندو ټکو کې وړاندې کړی فرمایي:

﴿ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴿٤٤﴾ ﴾ المائدة: ٤٤

یعنی څوک چې د الله د نازل شوی هدایت سره سم حکم ونکړي، دا سې خلک په اصل کې کافران دي).

د فیصلې او پریکړې کولو څخه دا موخه نده چې یواځې په محکمو او قضاء کې دی د الهي قانون سره سم فیصلې وشي، بلکې ددې څخه مراد او مطلب هغه فیصلې دي چې هر انسان یې د خپل ورځني ژوند په کارونو او معاملو کې کوي

هره ګړۍ تاسي ته دا پوښتنه پېدا کېږي چي دا کار وکړم او که ويې نکړم؟فلانۍ خبره داسي وکړم او که يې ونکړم؟ په فلانۍ معامله کي دا طريقه اختيار کړم او که بله طريقه؟

پدي ټولو حالاتو او کارونو کي يو لوري ته د قرآن مجيد او نبوي سنتو سره سم طريقه موجوده وي او بل لوري ته دانسان دخپل نفس او خواهش، دپلار نيکه طريقه او رواج او د انسانانو جوړې شوی طريقې موجودی وي.

اوس که يوانسان د الله پاک ښودلې شوی طريقه خوشی کړي او په ځای يې بله طريقه غوره کړي نوپه اصل کي ده د کفر کار وکړ،که هغه پخپل ټول ژوند کي همدا لاره او طريقه غوری کړه نو دی پوره کافر دی او که په ځينو کارونو کي يې دالله پاک طريقه منله او په ځينو کي يې دبل چا طريقه غوره کوله نو څومره چي هغه دالله پاک څخه پرته په نورو طريقو عمل کوي په هماغه کچه دی په کفر کي اخته اوډوب دی. څوک نيمايي کافر دی، څوک څلورمه برخه کافر دی. په چاکي لسمه برخه کفر دی. اوپه چا کي شمله برخه کفر لندی دا چي څومره په هغه کي بغاوت وي په هماغه کچه کفر وي.

اسلام بس ددې څخه بل څه ندی چي انسان دی يواځې د الله پاک بنده او غلام وي. نه دې د نفس بنده وي نه د پلار نيکه د طريقې،نه د کورنۍ اونه د قوم او قبيلې،نه د مولوی صاحب اونه د پير اوفقير صاحب،نه د ځمکي والا اونه د ولسوال صاحب، نه د قاضي صاحب اونه د والي صاحب بلکي پرته دالله څخه دبل هيچا بنده بايدنه وي. قرآن مجيد پدې هکله دارنګه فرمايي:

﴿ قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُولُوا۟ ٱشْهَدُوا۟ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٦٤﴾ ﴾ آل عمران: ٦٤

ای نبيﷺ!اهل کتابوته ووايه! راځئ چې مونږ اوتاسې په يوه داسې خبره سره يو شو چې څمونږاوتاسې تر منځ يوشانته ده (چې ستاسې پيغمبرانوهم هماغه کړی اوزه يې هم دنبي په حيث کوم) هغه خبره دا ده چې مونږ به پرته دالله څخه د بل چا عبادت نکوو اودهغه سره به بل څوک نه شريکوو. بله خبره داچې په مونږ کې به يو هم پرته د الله څخه بل څوک خپل بادار او آقا نه بولو. که هغوی دا خبرې نه منې نوهغوی ته ووايه چې مونږ مسلمانان يو.

همدارنګه قرآن مجيد فرمايي:

﴿ أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾ ﴾ آل عمران: ٨٣

ايا هغوی پرته له الله څخه د بل چا اطاعت کول غواړي؟ حال دا چې څه چې په آسمانونو او څه چې په ځمکه کې دي هغوی ټول په خوښه او ناخوښه د هغه اطاعت کوي او ټول هغه ته واپس کېدونکي او ورتلونکي دي.

پدې دواړو اياتونوکې يوه خبره بيان شويده يعنی دا چې اصلي دين د الله پاک اطاعت او پېروي کول دي. دالله پاک د عبادت يواځې دا معنیٰ او مطلب ندی چې انسان پنځه وخته هغه ته سجده وکړي بلکې دا الله پاک د عبادت معنیٰ، مفهوم اومطلب دا دی چې هر وخت او په هر حالت کې د هغه د احکامو اطاعت او منښه وکړي. د کومو شيانو څخه چې هغه منع کړې د

هغې څخه منع شي او دکوم شي چې هغه حکم کړی هغه پر ځای کړي.

په هره معامله کې وګوري چې دالله پاک حکم څه دی؟دا باید ونه ګوري چې ځما خپل زړه څه وايي، عقل څه واي، پلار نیکه څه ویلی دي، د کورنۍ او قوم خوښه څه ده، ښاغلي مولوي صاحب څه واي او ښاغلي پیر صاحب څه واي، فلانې حاکم او واکمن څه واي اوفلانې والي صاحب څه واي، تاسې که دالله پاک حکم خوشي کړاو د بل چا حکم مو ومنلو نو تاسې هماغه د الله پاک سره ملګری او شریک وګرځولو. هغه ته مو داسې درجه او مرتبه ورکړه کومه چې یواځې الله پاک ته یې ورکول اړین وه، حکم ورکوونکې خو یواځې الله پاک دی. قرآن مجید دا رنګه فرمایي:

﴿إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِ﴾ الأنعام: ۵۷

د عبادت وړتیا خوهغه ذات لري چې تاسې یې پېدا کړي یاستئ او دهغه په اراده ژوندي یاستئ، پداسې حال کې چې د زمکې اوآسمان ټول شیان دهغه عبادت او بندګي کوي.

هېڅ کانې د بل کانې عبادت نکوي،هېڅ ونه دبلې ونې اطاعت نکوي،هېڅ ښاروې د بل ښاروي اطاعت نکوي، ایا تاسې د ښارویو، ونو اوکاڼو څخه هم بدتر شوی یا ست؟ هغوی ټول دالله پاک اطاعت کوي اوتاسې الله پاک پرېږدئ او د نورو شیانو عبادت کوئ، دا هغه خبره ده چې قرآن مجید پخپلو دواړو ایاتونو کې بیان کړې ده.

## د بې لارۍ او ګمراهۍ درې لارې

اوس زه تاسې ته دا په ګوته کوم چې کفر او بې لاري له کوم ځای څخه راپیدا کېږي،قرآن مجید مونږ ته فرمايي چې دا بدبخته بلا له درې لارو څخه منځ ته راځي:

## ۱- دنفس بندګي او پېروي

د کفر او بی لارۍ لومړۍ لاره دا ده چې انسان د خپل نفس غلام، بند او پېروي کوونکې وګرځي.

﴿ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ ٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٠﴾ ﴾ القصص: ۵۰

د دې څخه به بل کوم لوی بې لارې او ګمراه وي چې د الله پاک دلارښوونو څخه پرته يې د خپل نفس د خواهشاتو پېروي وکړه، داسې ظالمو خلکوته الله (ج)هدايت نکوي.

مطلب دا چې د انسان دکفر او او بې لارۍ لپاره تر ټولو لوی شی دهغه د خپل نفس خواهشات دي څوک چې دخپلو خواهشاتوبنده شو نو د هغه لپاره بيا دالله پاک بندګي ممکن نه وي، ځکه هغه به تل دا هڅه کوي چې ماته مال او دولت له کومه راشي؟ زما عزت او نوم په څه کې دی؟ ماته خوند اومزی چېرې پېدا کېږي؟ ماته آرام او راحت څرنګه پلاس راځي؟

بس دا شيان چې په څه کې پلاس ورځي هماغه به غوره کوي،سره ددې که هغه الله پاک منع او بند کړي هم وي، په کوم شي کې چې دا شيان نه وي هغه بالکل نه غوره کوي سره د دې که دهغې حکم الله پاک ورکړی هم وي.

دداسې انسان خدای الله پاک نه دی بلکې دهغه خپل نفس دده اله اوخدای دی، داسې انسان ته به هدایت اوسمه لاره څرنګه پلاس ورشي؟

همدې خبرې ته قرآن مجید په یوبل ځای کې دا ډول اشاره کړې:

﴿ أَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَـٰهَهُۥ هَوَىٰهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ﴿٤٣﴾ أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَٱلْأَنْعَـٰمِ ۖ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾ ﴾ الفرقان: ٤٣ - ٤٤

ای محمدﷺ! تا دداسې سړي په حال غور کړیدی کوم چې خپل خواهش یې خپل خدای ګرځولی دی؟ ایا ته دداسې انسان ځارنه کولای شې؟ ایا ته فکر کوې چې ددوی څخه ډیر خلک اوري اوپوهېږي؟ هېڅکله داسې نده! دا د ځارویوپشان دي بلکې دهغوی څخه هم بدتر او ښکته پرېوتې دي).

د نفس د غلامانو او بندګانو بدتریدل د ځارویو څخه داسې یو شی دی چې هېڅ شک پکې نشته،تاسې ته به هېڅ داسې ځاروې څرګند نشي چې هغه د الله پاک دټاکلې شوې پولو څخه تیر شي،هر ځاروې هغه څه خوري چې الله پاک ورته ټاکلي وي،دومره خوري څومره چې ورته ټاکلې شوی وي. او کوم کار چې ورته سپارل شوی وي هماغه کار کوي، خو انسان داسې ځاروې دی چې کله دخپل نفس غلام او بنده شي نو بیا داسې کارونه او چارې کوي چې شیطان هم دهغې څخه پناه غواړي.

## ۲- په پټو سترګو دپلار نیکه پېروي

دوېمه لاره چې په هغې کفر او بې لارې منځ ته راځي هغه په پټوسترګو او پرته له دلیل څخه د پلار نیکه رسم اورواج، عقیده

، فکر او طریقه خپلول او دهغې غلام او پیرو کېدل دي، او هغه د الله پاک له حکم اوامر څخه غوره، پورته او لومړي بلل دي او کله چې ددې شیانو په مقابل کې ورته د الله پاک حکم او امر وړاندې شي نو هغه یې پدې دلیل نه مني چې زه خو دخپلو پلرونو او نیکونو رسم او رواج، طریقې او لارې چارې نشم پرېښودلې او څه چې له هغوی څخه راته پاتې شوي په هماغې ځم.

څوک چې پدې رنځ،ناروغۍ او ناپوهۍ کې اخته وي هغه کله دالله پاک بنده کېدای شي، دهغه خدای او اله دهغه پلار، نیکه، قوم اوقبیله ده.

هغه ولې په دروغو دا دعوه کوي چې زه مسلمان یم؟

قرآن مجید پدې هکله ډېر څرګند هدایات او لارښوونې کړې او خلک یې خبر دار کړي:

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ۗ أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٧٠﴾ ﴾ البقرة: ۱۷۰

او کله به چې هغوی ته وویل شول چې تاسې د الله د رالیږلې شوي حکم پیروي وکړئ نوهغوی به ویل چې مونږ خودهغوخبرو پیروي کوو چې له پلار نیکه څخه راته پاتې دي،سره د دې چې دهغوی پلار او نیکه په څه نه پوهیدل او نه په سمه لاره باندې وه، ایا بیا هم دوی دهغوی پیروي کوونکې دي؟

همدارنګه قرآن مجید په بل ځای کې په ډاګه فرمايي:

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ قَالُوا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ۚ أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٠٤﴾ ﴾ المائدة: ۱۰۴

او کله به چې هغوی ته وویل شول چې تاسې دهغه حکم په لوري راشئ چې الله پاک نازل کړی او د رسول الله طریقی ته، نو هغوی به ویل چې ځمونږ لپاره هغه طریقه بس او کافي ده چې مونږ په هغې باندې خپل پلار او نیکه موندلي دي،ایا دوی به دخپل پلار نیکه د طریقو پېروي کوي چې هغوی په هېڅ نه پوهیدل او نه په نیغه لاره باندې وه).

دا داسې بې لاري او ګمراهي ده چې د هر وخت او هرې زمانې جاهل او ناپوهه خلک په هغې کې اخته وي او د تل لپاره همداسې انسانان د رسولا نوعلیهم السلامو له پیروۍ څخه انسانان منع کوي،کله چې حضرت موسیٰ﷤ خپل قوم د الله پاک شریعت او قانون ته راوبللو نو دهغه وخت خکلوهم همدا خبره وکړه:

﴿ قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِتَلۡفِتَنَا عَمَّا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَا ﴾ یونس: ۷۸

ایا ته مونږ له هغې لارې څخه اړول غواړې په کومه لاره چې مونږ خپل پلرونه او نېکونه بیا موندلي وه؟

حضرت سیدنا ابراهیم﷤ چې کله دخپل قوم خلک له شرک څخه منع کړل نوهغوی هم همدا وویل:

﴿ قَالُواْ وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا لَهَا عَٰبِدِينَ ﴿٥٣﴾ ﴾ الأنبياء: ۵۳

مونږ خپل پلارونه او نېکونه د دوی عبادت کوونکې موندلي وه.

لنډه دا چې دهر پیغمبر اونبي په مقابل کې خلکو همدا دلیل وړاندې کړی چې تاسې څه وایئ هغه ځمونږ د پلارو او نېکونو د طریقې او رواج سره مخالف دي ځکه یې مونږ منلی نشو، پدې هکله قرآن کریم فرمایي:

﴿ وَكَذَٰلِكَ مَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَآ إِنَّا وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّقْتَدُونَ ﴿٢٣﴾ ۞ قَٰلَ أَوَلَوْ جِئْتُكُم بِأَهْدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمْ عَلَيْهِ ءَابَآءَكُمْ قَالُوٓاْ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٢٤﴾ فَٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٥﴾ ﴾ الزخرف: ۲۳ - ۲۵

يعنى همداسې شويدي چې كله هم مونږ كوم كلي ته ويرونكي استولي دي نو د هغې كلي شتمنو او مشرانو خلكو دا ويلي چې مونږ خپل پلارونه او نېكونه په يوه لاره تلوونكې موندلي دي نو مونږ اوس په هماغه قدمونو باندې تلونكې يو، پيغمبربه هغوى ته ويل: كه زه تاسې ته دهغې څخه غوره خبره وكړم په كومه خبره چې تاسې خپل پلرونه او نېكونه موندلي دي نو بياهم تاسې هماغه د پلار نيكه لاره خپلوئ ؟ هغوى به ځواب كې ويل: مونږ هغه خبره نه منو كومه چې تا راوړيده! پس كله چې هغوى داسې ځواب وركړ نو مونږ هم هغوى ته سمه سزا وركړه، اوس وګوره چې ځمونږ د اياتونو د دورغ ګڼوونكو پاى څه ډول ده؟

د دې ټولو شيانو له بيانولو څخه وروسته الله پاک فرمايي:! يا تاسې دخپل پلار نيكه د طريقو پېروي كوئ او كه ځما داحكامو او لا رښوونو؟ دواړه خبرې په يو وخت كې نه كېږي، كه ځان مسلمان جوړوئ نو ټولې لارې چارې او طريقې خوشې كړئ او څه چې مونږ درته وايو هغه ومنئ ،بيا فرمايي:

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ أَوَلَوْ كَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ يَدْعُوهُمْ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ﴿٢١﴾ ۞ وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ

﴿وَإِلَى اللَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ ﴿٢٢﴾ وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحْزُنكَ كُفْرُهُ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا﴾ لقمان: ۲۱ - ۲۳

(یعنی کله چې هغوی ته وویل شول چې دهغه حکم پېروي وکړئ چې الله پاک رالیږلې دی نو هغوی وویل: مونږ یوائې د هغولارو پېروي کوو چې خپل پلرونه اونیکونه مو پرې موندلې دي! سره لدې که شیطان هغوی سخت عذاب ته هم کشکوي. هغه څوک چې خپل ځان الله پاک ته وسپاري او نیکې کوونکې شي نو هغه په یوه کلکه رسۍ باندې منګولې ولګولې، د ټولو معاملو پای د الله پاک پلاس کې ده، چا چې لدی څخه انکار وکړ نو ای پیغمبره! د دوی په انکار خفه نشي، هغوی ټول ماته راتلوونکې دي،بیا به مونږ ورته د خپلو عملونو پایله په ګوته کړو).

## ۳- د غیرالله اطاعت او پېروي

دا پورته د بې لارۍاو ګمراهۍ راتللو دوېمه لاره وه، درېمه لاره چې بې لارې او ګمراهي پرې راځي هغه قرآن مجید دابنودلې چې کله انسان د الله پاک حکم خوشی کړي، د نورو خلکو حکم منل پیل کړي او دا فکر کوي چې زه دچا حکم او امر منم هغه ډیر لوړ او لوی شخصیت دی.دهغه خبره پخه ده، یاد هغه پلاس کې څما روزي ده څکه نو دهغه خبره منل حتمي دي، فلانې د ډیر ځواک او قدرت څښتن دی دهغه پېروي او منه پکار ده. یا به فلانې ما پخپلو ښیراګانو باندې تباه او برباد کړي، یا به هغه ما د ځان سره جنت ته بوځي نو هغه چې څه وایي بس هغه سم او صحیح دي، یا فلانې قوم او ملت ډیره

ترقي او پرمختګ کړی نو دهغې لارې چارې او طریقې خپلول پکار دي، نو پداسې خلکو باندې د الله پاک د هدایت لارې بندیږي.

﴿ وَإِن تُطِعۡ أَكۡثَرَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ ﴾
الأنعام: ۱۱٦

که چېرې تا د ډیرو خلکو پېروي اواطاعت وکړ کوم چې په ځمکه کې اوسیږي نو هغوی به تا د الله له لارې څخه بې لارې کړي.

یعنی انسان هغه وخت په سمه او نیغه لاره باندې برابریږي چې کله د هغه یوخدای او یو حاکم وی، چاچې په سل ګونو او زرګونو خدایان منلي او ګرځولي ، کله دیو منې او کله د بل، کله دیو په لاره ځي اوکله د بل نو داسې انسان به کله هم سمه او نیغه لاره پیدا نکړي، اوس به تاسې پدې پوهیدلي یاستئ چې دبې لارۍ او ګمراهۍ درې اسباب او لاملونه دي:

۱ـ لمړی د نفس غلامي او بندګي.

۲ـ دویم د پلارنیکه د لارو او طریقو بندګي او غلامي.

۳ـ دریم دنړۍ او دنیا د خلکو غلامي، بندګي اوپېروي کول چې پدې کې واکمنان، مذهبي مشران، سیاست پوهان او بې لارې لیډران ټول راځي.

دا درې واړه لوی اوغټ بتان دي چې هر یو ځانته ځانته دخدایۍ دعوه کوي، څوک چې ځان مسلمان بولې او ځان مسلمان جوړول غواړي نو تر ټولو لومړې باید دا درې بتان مات کړي، بیا به نو مسلمان شي خوکه چا دا درې بتان پخپل زړه کې ساتلي وي هغه ته د یو الله پاک بنده کېدل ډیر ګران او سخت کار دی، که هغه ټوله ورځ لمونځونه کوي، دریا روژې نیسي، او دمسلمانانو پشان شکل او صورت جوړوي، پدې

شیانوخوهغه انسانانو او مسلمانانو ته دوکه او فریب ورکولای شي، خپل ځان ته هم دوکه ورکولای شي چې زه ډیر پوخ او کلک مسلمان یم خو الله پاک ته دوکه نشي ورکولا ی ځکه هغه د زړونوپه پټوحالاتو ډیر ښه پوهیږي.

## ځمونږ د مسلمانانو حالت

ورونړو! ما چې د کومو درې بتانو یادونه تاسې ته وکړه ددې غلامې او بندګي کول اصل شرک دی، تاسې د ډیرو بتان مات کړل، د چونې او خښتوڅخه جوړې شوې بُت خانې مو ونړولې، خو په سینو کې چه کومې بُت خانی جوړې شوې دي دهغې په لوري مو هیڅ پام ندی کړی، د ټولو څخه ډیر مهم او ضروري شی بلکې د مسلمانیدو لپاره لومړې شرط دا دی چې دا دری بتان مات شي.

سره ددې چې زه عامو مسلمانانو ته وایم او زه پدې باور او یقین لرم چې د ټولې نړۍ مسلمانان په خصوصي توګه د هندوستان مسلمانان ددې درې بتانو څخه چې څومره زیان او تاوان ګوري هغه ستاسې په وړاندې دی.

څرنګه چې اوس یواځې تاسې ځما په وړاندې حاضر یاستی نو زه په ځانګړې توګه تاسې ته وایم چې ستاسې د بربادۍ، تباهی، زوال او سپکاوي اصلي علت او لامل همدا درې بتان دی، دلته ستاسې فیصدي تر نورو ټولو قومونو زیاته ده خو سره لدی هم تاسې وزن، قدر او ارزښت نلرۍ. د ډیرو کمو خلکو اولږ کیږو قدر، وزن او ارزښت ستاسې څخه زیات دی، ایا تاسې ددې په علت او لامل باندې کله فکر او غور کړیدی؟

ددې اصل علت او لامل دا دی چې د نفس غلامي او بندګي، دکورنيو رواجونو بندګي او دالله پاک څخه پرته د نورو انسانانو بندګۍ ستاسې توان، ځواک، ارزښت او وزن ختم کړیدی.

## نژادي يا توکمی تبعيض

په تاسې کې ځينی راجپوت دي، ځينی مغل دي، ځينی کاکړ دي، ځينی جټان دي بلکې ډير قومونه په تاسې کې شته، اسلام دا ټول ګډوډ قومونه سره يو قوم، يو د بل ورونه او يو ځواکمن او قوي ديوال وګرځولو چې دهغې ډبرې او خښتې يو له بل سره نښتې او پيوسته دي.

خو تاسې اوس هم هماغه پخوانې هندو فکر او نظر لرئ، لکه څرنګه چې په هندوانو کې بيل بيل ګوت دي په تاسې کې هم هماغسې قومونه او قبيلې تر اوسه جلا جلا دي، ستاسې د قومونو تر منځ تر اوسه پورې کورني اړيکې نه نيول کېږي اونه نکاح کېږي،يوله بل سره ورورې اوعزيز ولې نکوئ، په خوله خو يو بل ته ورونه وايۀ ولې په عمل کې مو هماغه بيلتون شته چې کوم د اسلام څخه مخکې وو،همدې بيلتون ستاسې څخه يو قوي او کلک ديوال جوړ نشوکړای، ځکه چې ستاسې هره خښته او ډبره سره جلا او بيله بيله ده، تاسې هېڅکله نه يوځای پورته کېدلای شئ اونه يو ځای اويولاس د کوم مصيبت مقابله کولای شئ.

که چېرې ستاسې څخه داسلامي لارښوونو سره سم غوښتنه وشي چې تاسې دا بيلتون او تبعيض خوشې کړئ او پخپلو کې سره يو موټې شئ نو تاسې به څه ځواب ورکړئ؟

ستاسې څواب به يوائې دا وي چې څمونږ پلرونو او نيکونو همداسې کول نو مونږ څرنګه هغه خوشې کړو؟ ددې څواب به دالله پاک له لوري څه ډول راځي ؟

هغه به بس داوي چې تاسې دا رواجونه مه خوشې کوئ او داهندي طريقې مه پرېږدئ، مونږ به تاسې همداسې بيل بيل او ټوټه ټوټه ساتو، ستاسې د زيا توالي سره سره به تاسې خوار، سپک او ذليل اوسئ.

## په ميراث کې د نورو حق او برخه خوړل

الله پاک تاسې ته حکم کړی چې په ميراث کې انجونی او هلکان ټول حق او برخه لري، تاسې ددې حکم په مقابل کې څه څواب ورکوئ ؟

ستاسې څواب دا دی چې څمونږ د پلرونو او نيکونو په قانون،طريقو او رواج کې خو انجونې او هلکان دواړه برخه نلري او مونږ دالله پاک دقانون او حکم پرځای دخپل پلار نيکه د رواج او طريقی تابع يو.

دخدای لپاره تاسې راته ووايئ چې اسلام همداسې وي؟

تاسې ته ويل کېږي چې خپل فلانې رواج او دود مات کړئ ،ستاسې څخه به هر يو دا وايي چې لومړې دی نورخلک دامات کړي بيا به يې مونږ هم مات کړو، که نورو خلکو انجونو ته برخه او حق ورنکړ نو پدې خوبه څما مال اودولت نورو خلکو ته ورشي او د نورو کورونو مال او دولت به څما کورته رانشي څکه هغوی خوداحق نه منې، تاسې پدې فکر او غور وکړئ چې ددې معنی اومطلب څه دی؟

ایا د الله پاک د اطاعت او بندګۍ لپاره تاسې دا شرط لګوئ چې لومړې دې نور هغه عملي کړي بیا به زه پرې عمل کوم؟
سبا به همداسې تاسې بیا وایئ دا نور خلک چې زنا کوي نو زه یې هم کوم، نور چې غلا کوي زه یې هم کوم،لنډه داچې تر څو چې نور خلک ګناهونه خوشي نکړي زه دګناه خوشي کولوته چمتو نه یم.
ددې څخه څرګنده شوه چې په عمل کې دهمدې درې واړو بتانو بندګي او عبادت کېږي، دنفس بندګي،د پلار نیکه د طریقوبند ګي او دکافرو او مشرکو قومونو بندګي اوددې درې واړو بندګیو سره سره داسلام او مسلمانۍ دعوه هم کېږي.
دا خو دوه مثالونه او نمونې وې کنه تاسې خپلې سترګې پرانزئ نو ډیرې ناروغۍ به پخپل ځان کې وګورئ بیا به تاسې ته څرګنده شي چې کله د یو بُت بندګي کېږي،کله د دوه بُتانو او کله کله ددرې واړو بُتانوعبادت کېږي او ددې سره سره د اسلام دعوه هم، نو تاسې بیا څرنګه ددې اُمید او هېله کوئ چې په تاسې باندې به هغه رحمتونه اونعمتونه پیرزو کېږي کوم چې صادقو او مخلصو بندګانو ته ورکول کېږي.

## ۸

## د ایمان معیار او سټنډرډ

زما د اسلام ورونو! ما مخکې تاسې ته ویلي وه چې د انسان د بې لارۍ او ګمراهۍ درې علتونه او سببونه دي : یو دا چې د الله پاک قانون خوښی کړي اود خپل نفسي خواهشاتو غلام او بنده وګرځي . بله دا چې دالله پاک د حکم او قانون پر ځای د خپل پلار نیکه ، کورنۍ او قوم رسم او رواج ته وړاندې والې او مخکې والې وکړي، دریم دا چې د الله پا ک او رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونې او طریقي یو لوري ته کړي او د هغې پر ځای د انسانانو اطاعت او پېروي پیل کړي، که هغه انسان دده د خپل قوم شخه وي او که د بل قوم شخه وي .

### د مسلمان اصلي تعریف

دمسلمان اصلي او حقیقي تعریف دا دی چې هغه به ددې درې ناروغیو او ګند ګیو شخه پاک او صاف وي، مسلمان هغه چاته ویل کېږي چې پرته د الله پاک شخه د بل چا بنده نه وي او پرته د رسول الله ﷺشخه د بل چا پېروي کونکې نه وي، مسلمان هغه شوک دی چې د زړه په اخلاص سره پدې باور او یقین ولري چې د الله ﷻ او رسول الله ﷺلارښوونې سراسر او ټول حق دي او ددې مخالف چې هر شه وي او دي هغه ټول باطل او ناحقه دي او د انسان د دنیا او اخرت خیر ، ګټه او فایده یوائې د الله پاک او رسول الله صلی الله وسلم په لارښوونو او پېروۍ کې ده .

پدي خبرو او شيانو باندې چې څوک کامل او پوره يقين او باور ولري نو هغه د خپل ژوند په ټولو کارونو او چارو کې يواځې دې ته گوري چې پدې هکله زما د رب او رسول حکم، لاربښوونه او امر څه دی او کله چې ورته حکم او لاربښوونه ښکاره شي نو بيا پرته د ځنډ او ډيل څخه د هغې په وړاندې خپل سربښکته کوي، که پدې باندې د هغه زړه ډير ناکراره شي ،د کورنۍ او قوم خلک ډيره وا ويلا او جبر وکړي او نړۍوال ورسره هرڅومره مخالفت او ضد وکړي هغه د هيچا پروا نه کوي. ځکه هريو ته د هغه ثرگند ځواب دا وي چې زه د الله پاک بنده يم نه ستاسې او ما په رسول الله صلى الله عليه وسلم ايمان راوړيدې نه په تاسې باندې.

## د منافقت نښې او علامې

### ۱ - د نفس غلامي او بنده گي

ددې برعکس که څوک دا وايي چې د الله پاک او هغه د رسول ﷺ خبره همدا ده خو زما زړه دانه مني، ما ته پدې خبره کې زيان او تاوان ښکاري ځکه نو زه د الله پاک او رسول الله (ص) حکم خوشې کوم او د خپل زړه خبره منم نو د داسې سړي زړه د ايمان څخه خالي دی، هغه مؤمن ندی بلکې منافق دی چې په ژبه وايي زه د الله پاک بنده او د رسول الله (ص) پيروي کوونکې يم خو هغه په حقيقت کې د خپل نفس بنده او د خپلې رايې او فکر پيروي کوونکې دی.

## ۲ - د رسم او رواج پابندي

په همدی توگه که یو سړی دا وایي چې د الله پاک او رسول اللهﷺ حکم چې هر څه وي خو د پلار نیکه څخه مونږ ته دا خبره راپاتې شویده هغه څرنگه خوشی کړو، یا فلانې رسم او رواج زمونږ په کورنۍ کې همداسې روان دی هغه په څه ډول مات کړم، داسې انسان هم په منافقانو کې شمارل کېږي، سره ددې که هغه لمونځونه کوي او په ځمکه خپل تندی سولوی او په ښکاره یې څومره ښه شرعي شکل او صورت جوړ کړی وي دا ځکه چې د شریعت اصل او حقیقت دده زړه ته ندی ښکته شوی.

دین یوائې د رکوع، سجدې، روژې او حج نوم ندی او نه دین د انسان په شکل، صورت او لباس کې دی بلکې اصل او حقیقي دین د الله پاک او رسول اللهﷺ اطاعت او منل دي.

هغه څوک چې پخپلو معاملاتو کې د الله پاک او رسول اللهﷺ د اطاعت او منلې څخه انکار کوي په حقیقت کې دده زړه د دین څخه خالي دی، دده لمونځ، دده روژه، دده شرعی صورت او شکل د چل او دوکې څخه پرته بل څه ندي.

## ۳ - د نورو قومونو نقالي او پیښي کول

دارنگه که څوک د الله پاک د کتاب او د رسول اللهﷺ د لارښوونو څخه بې پرواشي او وایي چې دا شیان او خبری ما ځکه غوره کړي چې فرنگیان او امریکایان داسې کوي او دا پکې رواج، دود او دستور دی، او فلانی خبره ځکه منم چې د همدې خبرې په سبب هغه قوم ترقي او پرمختگ کوي، فلانی خبره ځکه منم چې لیډر، رهبر او مشر داسې وایي، داسې

انسان باید هم د خپل ایمان خیر وغواړي ځکه چې دا شیان د ایمان سره نه یو ځای کېږي.

که مسلمان وي او مسلمان پاتې کېدل او اوسیدل غواړي نو هره هغه خبره چې د الله پاک او رسول اللهﷺ د لاربښوونو سره مخالفه او ضد وي هغه په دیوال باید وولي که ته داسې نشی کولای نو بیا تا ته د ایمان دعوه کول مناسب ندي.

په ژبه باندې وایي چې زه د الله پاک او رسول اللهﷺحکم او خبره منم خو د خپل ژوند په معاملاتو کې هر وخت د نورو د خبرو په مقابل کې د خپل رب او رسول خبرې ردوې دا نه ایمان دی نه اسلام بلکې سوچه منافقت دی.

د قرآن مجید په سورة النور کې الله پاک څرګند او په ډاګه فرمایلي دي:

﴿ وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلرَّسُولِ وَأَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۚ وَمَآ أُو۟لَٰٓئِكَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا دُعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلْحَقُّ يَأْتُوٓا۟ إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ ﴿٤٩﴾ أَفِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَمِ ٱرْتَابُوٓا۟ أَمْ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُولُهُۥ ۚ بَلْ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُوا۟ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۚ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٥١﴾ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخْشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴿٥٢﴾ ﴾ النور: ٤٧ - ٥٢

خلک وایي چې مونږ په الله او د هغه په رسول ایمان راوړی او مونږ اطاعت قبول کړی بیا وروسته لدی څخه له اطاعت او منلو مخ اړوي، داسې خلک ایمان لرونکې ندي

او کله چې هغوی د الله او رسول لوري ته بلل کېږي تر څو رسول اللهﷺد هغوی ترمنځ پرېکړه وکړي نو د هغوی څخه ځینی خپل مخونه اړوي، خو کله چې خبره د هغوی د ګټې وي بیا هغه

منی، ایا د هغوی په زړونو کې مرض او ناروغي ده؟ یا دا چې هغوی په شک کې پرېوتي دي؟ یا هغوی په دې ویرېږي چې الله او رسول به د هغوی حق پایمال کړي؟ په هر حال اولامل چې هر څه وي خو دوی پر خپل ځان ظلم کوونکې دي. په حقیقت کې چې کوم ایمان لرونکې دی د هغوی طریقه داده چې کله هم هغوی د الله او رسول لوري ته بلل کېږي تر څو رسول اللهﷺ د هغوی په منځ کې پرېکړه وکړي نو هغوی وایې چې مونږ واوریدل او د هغې اطاعت مو وکړ، همدوی برې موندونکې دي. او هغه څوک چې د اللهﷻ او رسول اللهﷺ اطاعت وکړي او د الله ﷻ څخه ویرېږي او د هغه له نافرمانۍ څخه ځان ساتي بس همدوی کامیاب او بریالی دي».

پدې مبارکو ایاتونو کې چې د ایمان کوم تعریف بیان شوېدی په هغې باندې تاسې غور او فکر وکړئ اصلي او حقیقي ایمان دا دی چې خپل ځان د الله ﷻ کتاب او د رسول الله ﷺ لارښوونو ته تسلیم کړي کوم حکم او امر چې له هغه ځای وشي د هغې په وړاندې خپل سر ټیټ کړي او ددې په هکله د هیچا خبره وا نه وري نه د خپل زړه، نه د خپلې کورنۍ، نه د خپلوانو او نه د نړۍوالو داسې حالت اوکېفیت چې په چاکې راپېداشي هغه مئومن اومسلمان دی اوڅوک چې ددې کېفیت څخه خالي اوبې برخې وي هغه منافق دی او بل څه ندی

## د الله پاک د اطاعت څو نمونې او مثالونه

### ۱ - د شراب پرېښودلو مثال

تاسې به اوریدلی وي چې په عربو کې شراب څښلو دومره زیات رواج درلوده ،ښځې او نارینه، ځوانان او زاړه ټول په

شرابو آخته وه، هغوی د شرابو سره عشق درلوده، د هغې په ستاینه کې به ئې شعرونه او غزلې ویلې او په هغې به یې ځان قربانولو.

دا به هم تاسې ته معلومه وي چې کله انسان شرابي شي بیا د هغې پرېښودل ځومره ګران اوسخت وي. شرابیان خپل ځان ورکوي خو د شرابو پرېښودل ورته ګران او سخت وي، که شرابی ته شراب ونه رسېږي نو هغه د ناروغ څخه هم خرابېږي، ایا تاسې دا هم اوریدلي چې کله په قرآن مجید کې د شرابو د حراموالي قطعي حکم راغې نو څه وشول ؟

هماغه عربانوچې په شرابو به یې ځان ورکولو ددې قرآني حکم د اوریدلو سره سم یې د شرابو ټول متکې او خومان مات کړل، د مدیني منورې په کوځو کې شراب داسې روان او بهیدل لکه چې د باران اوبه روانې وي. په یوه غونډه او مجلس کې شراب څښل کېدل چې د رسول الله ﷺ د استازی او اواز کوونکې اواز او غږ یې واوریده چې شراب څښل حرام شول نو د چا پلاس کې چې پیاله او جام په کوم حالت کې وو په هماغه حالت کې پاتې شو، د چا خولې ته چې پیاله رسیدلې وه هغه یې ورڅخه سمدستي لرې کړه او یو څاڅکې یې هم د ستوني څخه ښکته کېدو ته پرېنښوده. دا دی د ایمان حالت. کېفیت او شان! دې ته وایي د الله او رسول ﷺ اطاعت او منڼه.

## ۲ - په ګناه باندې اقرار او اعتراف کول

تاسې ته څرګنده ده چې په اسلام کې د زنا سزا څومره سخته ده، په لوڅو ډېرو سل دُرې، چې د هغې په فکر کولو هم د انسان غونې ودرېږي.او که واده والاوي نو د هغه لپاره په کاڼو او ډبرو

باندې ویشتل تاکل شویدي، یعنی په ډبروتر هغې ویشتل چې مړ شي، د داسې سختې سزا نوم چې واوریدل شي نو د انسان بدن ورسره لړزیږي، خو تاسې به دا هم اوریدلې وي چې د چا په زړه کې ایمان وي د هغه حالت او کیفیت به څه وي؟

د یو صحابي ﷺ څخه زنا وشوه، هیڅ گواه او شاهد هلته موجود نه وو، د هیڅ محکمې او قضا ویره ورسره نه وه چې څوک به یې ورته مخامخ کړي، پولیسو ته هیڅ خبر ورکونکې هلته نه وو، یواځې په زړه کې ایمان او د آخرت د سزا یقین وو نو هغه د خپل ځان سره وویل چې تا د خپل نفس دخواهش پوره کولو لپاره د الله پاک حکم مات کړ نو اوس چې کومه سزادرته تاکل شوی د هغې لپاره ځان تیار او چمتوکړه.

هغه صحابي ﷺ پخپله رسول الله ﷺ ته راغې او وې ویل: یا رسول الله! ما زنا کړې! ما ته سزا راکړه، نبي ﷺ ورڅخه مخ واړولو نو صحابي هغې لورته ورغې او هماغه خبره یې ورته وکړه بیا نبي ﷺ ورڅخه مخ واړولو نو صحابي بیا هغې لوري ته ورغې او هماغه خبره یې ورته تکرار کړه درې څلور ځلې یې همدا خبره تکرار کړه-دې ته وایي ایمان! د چا په زړه کې چې ایمان موجود وي هغه ته په لوڅه او لغړه شا باندې سل دُرې خوړل اسانه وي خو د الله پاک په دربار کې د گناه سره حاضریدل ورته سخت او گران وي.

## ۳- اړیکې پریکول او شکول

تاسې ته دا هم څرگنده ده چې په دنیا کې انسان ته د خپلوانو څخه بل څوک ډیر گران او محبوب نه وي، په ځانگړي

توګه پلار، ورور او ځامن ورته دومره ګران او محبوب وی چې په هغوی ځان قربانول ورته اسانه بریښي خو تاسې لږ شانته د بدر او اُحد مېدان ته وګورئ چې هغوی د چا په خلاف جګړې ته وړاندې کېدل؟ پلار د مسلمانانو په پوځ کې او ځوی د کافرانو په لښکر کې یا پلار یو لوري ته او ځوی بل لوري ته، یو ورور یو لوري ته او بل ورور بل لوري ته. نژدې نژدې خپلوان یو د بل مقابلې ته ولاړ وه او داسې سره و جنګېدل لکه هېڅ چې سره نه پېژني.

دا جوش، جذبه او ولوله د پیسو، روپیو، ځمکې او بل څه شي لپاره نه وه بلکې هغوی د ایمان او عقیدې د اختلاف په سبب د یو بل مقابلې او جګړې ته ولاړ وه او ددې توان او طاقت یې درلوده.

## د پخواني رسم او رواج څخه توبه کول

تاسې ته معلومه ده چې په عربو کې څومره غلط رسم او رواج موجود وؤ ټول اسلام ختم او ورک کړ، د ټولو څخه لوی رواج بت پالنه وه چې د سل ګونو کلنو څخه را پد بخوا یې رواج درلوده. اسلام اعلان وکړ چې بتان خوشې کړئ. شراب، زنا، قمار، غلا. لاړې شکول او نور ټول خوشې کړئ، مېرمنې په عربو کې لوڅې ګرځېدلې اسلام حکم وکړ چې مېرمنې باید پرده وکړي، مېرمنو او ښځو ته په میراث کې حق نه ورکول کېده اسلام وویل چې د ښځو هم په میراث کې برابر حق دی، ځوی بللې ته هغه حیثیت او درجه ورکول کېده لکه د خپل اصلي اولاد پشان، اسلام اعلان وکړ چې د هغه حیثیت د اصلي ځوی پشان ندی که خپله ښځه طلاقه کړي نو د هغې سره نکاح

کېدای شي، لنډا دا چې خومره پخواني غلط او خراب رواجونه وه هغه اسلام مات او ختم کړل.

ایا تاسې ته څرګنده ده چې کومو کسانو ایمان راوړې وو د هغوی حالت او طریقه څه ډول وه ؟

د پیړیو پیړیو راهیسې چې کوم بتان د هغوی نېکونو او پلرونو ساتلي وه او د هغوی یې عبادت کولو دوی په خپلو لاسونو هغه مات او ټوټې ټوټې کړل، د سل ګونو کلنو را هیسې چې کوم دودونه او رواجونه په هغوی کې موجود وه هغه ټول یې پایمال او ختم کړل. کوم شیان چې هغوی مقدس او سپڅلي ګڼل ایمان لرونکو هغه تر پښو او قدمونو لاندې پایمال او دل کړل. کوم شیان چې هغوی حرام، بد او مکروه ګڼل د اسلام په حکم سره هغوی روا او جائز و بلل، کوم شیان چې د پیړیو څخه پاک او صاف بلل کېدل د اسلام د حکم سره سم یو دم ناپاک وګڼل شول او کوم چې دپیړیو څخه ناپاک بلل کېدل هغه د اسلام په حکم پاک وګڼل شول.

د کفر په طریقو کې چې کوم شیان د خوند او مزو چړچو وه د اسلام د حکم په راتللو سره هغه ټول خوشې شول او د اسلام کوم احکام چې سخت او ګران وه هغه ټول په خوښئ او خوشحالی سره قبول او عملي شول، ددې نوم دی ایمان او همدی ته وایي اسلام! که د عربو خلکو په هغه وخت کې ویلي وایي چې مونږ دا ځکه نه منو چې پدې کې زمونږ تاوان او زیان دی او فلانې کار ځکه نه خوشې کوو چې پدې کې زمونږ ګټه او فایده ده، فلانې کار حتماً کوو ځکه چې د پلار نیکه څخه دا طریقه راته پاتې ده، فلانې کار د رومیانو زمونږ خوښ دی، فلانې رواج د

ایرانیانو زمونږ په ګټه دی لنډه دا چې که هغوی د اسلام یوه یوه خبره غورځولې او پرېښودلې نو نن ورځ به په دنیاکې هېڅ مسلمان پاتی نه وایي.

## د الله پاک د خوښۍ او رضا لاره

ورونو! په قرآن مجید کې حکم وشو چې:

﴿لَن تَنَالُوا۟ ٱلْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا۟ مِمَّا تُحِبُّونَ﴾ آل عمران: ۹۲

یعني د نېکۍ مرتبې ته نشې رسیدلایې تر هغې پورې چې تاسې هغه شیان قربان نکړئ کوم چې تاسې ته ګران او محبوب وی. بس همدا د اسلام او ایمان روح او جان دی. د اسلام اصلي شان دا دی چې کوم شیان تاسې ته ګران او محبوب وي هغه د الله پاک په خاطر قربان کړئ.

د ژوند په ټولو معملاتو او چارو کې تاسې ګورئ چې د الله پاک حکم انسان یو لوري ته را بولي او د نفس خواهش او هېله انسان بل لوري ته بولي، الله پاک د یو شي حکم ورکوي او نفس وایي چې پدې کې زیان، تکلیف او کړاو دی، الله پاک د یوې خبرې څخه منع کوي خو نفس وایي چې دا ډیر مزدار او ډیر د فایدی شی دی. یو لوري ته د الله پاک رضا، خوښي او خوشحالي ده او بل لوري ته ټوله دنیا را پورته کېږي لنډه دا چې په هر ګام کې انسان ته دوه لارې مخی ته ورځي.

یوه لاره د اسلام ده او دوېمه د کفر او نفاق ده، چا چې د دنیا هر شی خوشی کړ او د الله پاک دحکم په وړاندې یې سرښکته کړهغه د اسلام لاره غوره کړه. اوچاچې د الله پاک حکم پرېښودلواودخپل زړه یا د دنیا خوښي او خوشحالي یې وغوښتله نو هغه د کفر او نفاق لاره غوره او خپله کړه.

## نني مسلمان

د نني خلکو حال دادی چې د اسلام کومه خبره چې ورته اسانه وي هغه په پوره خوښۍ سره مني خو کله چې د اسلام او کفر اصلي مقابله راشي نو له هغه ځای خپل لورې او طرف بدلوي، د اسلام په ډیرو لوی لوی د عوه کوونکو کې هم همدا کمزوري شته ، هغوی ډیر د اسلام چېغې وهي، د هغې تعریف او ستاینه کوي، تردی چې ژبې یې وچې شي او ځینې ظاهري کارونه هم کوي خو کله چې هغوی ته وویل شي چې راځئ د کوم اسلام چې تاسې یې صفتونه کوئ هغه پخپل ځان عملي او نافذ کړو نو سمدستي وایي چې پدې کې فلانې کار گران او سخت دی اوس دې همداسې وي، یعنې دا چې اسلام یوه ښکلي نانځکه ده چې له لرې باید دهغې تعریفونه وشي، خو هغه پخپل ځان، خپلې کورنۍ او خپلو معملاتو باندې هېڅکله عملي او نافذ نشي، دا خو زمونږ د دین دارانو حال دی، دنیا داران خو څه کوی، په همدی خاطر زمونږ په روژو، لمونځو او نورو دیني کارونو کې اثر نشته ځکه چې روح پکې نشته کله چې روح شتون ونلري نوبې روحه بدن به څه کرامت وښئ ؟

# ۹
# د اسلام اصلي او حقيقي معيار

ځما د اسلام ورونو!

الله پاک پخپل کتاب کې فرمايي:

﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ ﴾ الأنعام: ۱۶۲ - ۱۶۳

ورته ووايه! چې ځما لمونځ،زماقرباني،زماژونداو زما مرګ يوازې دهغه الله لپاره دي چې رب دعالمیانو دې ،شريک نه لري يودې،په همدې کار زه ګمارل شوې اوله هرچازه لومړنې سر ټيټوونکې يم.

ددې تشريح دنبي ﷺ ددې مبارکې لاربښوونې څخه ښه کيږي:

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: مَنْ أَحَبَّ لِلَّهِ وَأَبْغَضَ لِلَّهِ وَأَعْطَى لِلَّهِ وَمَنَعَ لِلَّهِ فَقَدْ اسْتَكْمَلَ الْإِيمَانَ (ابوداود)

له حضرت ابوامامه (رض) څخه روايت دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چاچې دالله لپاره د چاسره مينه وکړه، چا چې دالله لپاره دښمني وکړه، چاچې چاته ورکړل اودچا څخه يې بند کړل دالله لپاره،هغه خپل ايمان پوره او بشپړ کړ(يعنی پوره او کامل مؤمن شو).

ما چې لومړې کوم آيت شريف ستاسې په وړاندې ولوست دهغې څخه معلوميږي چې داسلام غوښتنه داده چې انسان بايد خپله بندګي،خپل ژونداو خپل مرګ يوازې

دالله پاک لپاره خاص او ځانګړې کړي او پرته له الله پاک څخه بل څوک پکې شریک اوګډ نکړي. بندګي، ژونداومړینه یې پرته له الله پاک څخه د بل چا لپاره نه وي.

د دی تشریح چې مادنبيﷺ دمبارک حدیث څخه تاسې ته وکړه دهغې څخه څرګندیږي چې دانسان مینه، محبت، دښمني، د ورځني ژوند لارې چارې او راکړه ورکړه باید ټول دالله پاک لپاره وي او همدا دایمان غوښتنه ده، د دی څخه پرته ایمان نه پوره کیږي، لوړې اوپورته درجې اومرتبې خو لاڅه کوي چې دهغې دروازه ورته هم نه خلاصیږي. پدې لارو چارو کې چې څومره کمې اوکمزوری وي په هماغه کچه به ایمان کمزوری او کم وي، اوکله چې پدې ټولو کې انسان مکمل دالله پاک شي نوایمان به یې کامل او پوره شي.

ځینی خلک دا فکر کوي چې دا ډول کارونه یواځې دلوړو درجو او مرتبودترلاسه راوړلو لپاره دروازه پرانیزي، دایمان او اسلام لپاره په انسان کې د داسې حالتونو پیدا کېدل حتمي او اړین ندي، یعنې د دې څخه پرته هم انسان مؤمن او مسلمان کېدې شي.

خو دا یوه غلطي اوسهوه ده چې د هغې د پېدا کېدو لامل او علت دادی چې عام خلک د فقهي اوقانوني اسلام اود اصلي او حقیقي اسلام چې دالله پاک په وړاندې د اعتبار وړ دې توپیر او فرق نشي کولای.

# دقانوني اوحقيقي اسلام فرق اوتوپير

## قانوني اسلام

په فقهي او قانوني اسلام کې دانسان زړه اوباطن ته نه کتل کېږي اونه هغه په نظر کې ساتي، بلکې دهغه ژبني اقرار، ويناا وهغه نښې او علامې ليدل کېږي چې د ژبني وينا اواقرار د ثبوت لپاره اړين دي.

که چا په ژبه په الله پاک، رسول اللهﷺ، آخرت، قرآن اونورو مؤمن به شيانو باندې اقرار وکړ او وروسته يې هغه شرايط هم پوره کړل کوم چې د دې اقرار د ثبوت لپاره اړين دي نودا داسلام په دايره کې داخل اودمسلمان په حيث منل کېږي او دهغه سره دنورو مسلمانانو په شان سلوک کېږي.

خو دا چارې يواځې د دنيا لپاره دي اوپه دنيوي لحاظ د يوې مسلمانې ټولنې لپاره قانوني او تمدني بنسټ برابروي چې دا ټولنه پرې ولاړه ده.

د دې پايله پرته له دې څخه بله څه نده چې داسې اقرار کوونکي دې په يوه ټولنه کې راټول شي او ټول دې مسلمانان وګڼل شي، او هېڅوک دې کافر نه بلل کېږي، يو پر بل دې قانوني، شرعي، اخلاقي اوټولنيز حقوق ولري، دهغوی ترمنځ دې دنکاح او خپلولۍ اړيکې شتون ولري، ميراث دې پکې ويشل کېږي اونور تمدني اړيکې دې هم منځ ته راشي.

## حقيقي اسلام

خو په آخرت کې د انسان نجات، خلاصون، برې اودهغه مؤمن او مسلمان منل کېدل اودالله پاک په محبوبو بندګانو

کې داخلیدل د دې قانون اوفقهي اقرار پورې اړه نلري، بلکې هلته اصلي شی دانسان د زړه تصدیق، دهغه د زړه میلان او پخپله خوښه ټول ځان الله پاک ته تسلمول دي.

په دنیا کې چې کوم ژبنې اقرار کېږي هغه د شرعي قضاء، دعامو مسلمانانو اوعامو انسانانو لپاره دی ځکه چې هغو ټول یواځې ظاهر ګوري، خو الله پاک د انسان باطن اودهغه زړه ګوري نوایمان یې اندازه کولای شي.

د الله پاک لخواچې انسان په کوم ډول تَلَلَ،امتحانول ،ارزول اوازمو ل کېږي هغه دا چې ایا د ده ژوند او مرګ، مینه او محبت، وفاداری، اطاعت او بندګي او د ټول ژوند چاری دالله پاک لپاره دي او که د بل چالپاره؟ که دا ټول شیان د الله پاک لپاره ثابت شول نو هغه مؤمن اومسلمان دی او که د بل چا لپاره ثابت شول نو هغه نه مؤمن دی او نه مسلمان، هغه چې پدې چارو کې څومره خام ثابت شو په هماغه کچه به یې ایمان او اسلام خام وي، سره د دی چې د خلکو په وړاندې به هغه ډیرلوی اوِ غټ مسلمان ښکاري او عامو مسلمانانو به لوړی درجې، مرتبې او القاب ورکړي وي.

دالله پاک په وړاندې یواځې دهغه شي قدر، ارزښت او قیمت شته کوم چې هغه درکړي اوته یې دهغه په لاره کې قربان کړې یایې نکړې.

که تا دهغه درکړي شیان دهغه په خاطر ولګول نوتاته به هغه قدر، ارزښت او قیمت درکړي چې وفا کوونکو او دهغه حقیقي بندګانو ته ورکول کېږي،او که ځینی شیان دی دالله پاک له بندګۍ څخه پټ کړل نوستا دا اقرار اووینا

چې زه مسلمان اومؤمن یم اوما هرڅه الله پاک ته سپارلي دي ، دروغ اوچل دی چې یوازې د دنیا خلک او مسلمانان پرې غولېدای شي اوتاته په خپله ټولنه کې دقدر او عزت وړ مقام درکولای شي تر څو ته د نورو شیانو د حقوقو څخه ګټه پورته کړی، خو پدې دروغو، چل اودوکې باندې الله پاک تا په خپلو وفا کوونکو اومخلصو بندګانو کې نه حسابوي.

د حقیقي اوقانوني اسلام تر منځ چې ما کوم فرق او توپیر تاسې ته وړاندې کړ که تاسې په هغې غور او فکر وکړئ نو د دی پایلې یواځې په آخرت کې توپیر نلري بلکې په دنیا کې هم څه ناڅه اثر لري.

په نړۍ کې چې څومره مسلمانان پیدا شوي یا اوس شته هغه ټول په دوه ډولو ویشل کېدایې شي.

## د مسلمانانو دوه ډولونه

### جُزْوي مسلمانان

یوډول مسلمانان هغه دي چې په الله پاک او رسول اللهﷺ باندې اقرار کوي او اسلام دخپل مذهب په حیث مني خو دا مذهب دخپل ژوندپه چارو کې د یوې برخې اوځانګې په توګه ګڼي، پدې ځانګړې برخه اوځانګه کې د اسلام سره کــه درناوې او احترام وي، کـه عبادت وي، کـه تسبیحات او ذکــر وي، کـه د خـوراک او څـښاک آداب وي اونـور ګـڼ شمېرچاري چې په مذهبی کارونو کې راځي دا ټول مني، خو دژوند په نورو چارو، ځانګو اوشعبو کې بیا اسلام ته

لاره او اجازه نه ورکوي چې د ده په کارونو کې دې ګوتې ووهي.

که هغه دخپلې ګټې، نفس، هېواد، قوم اویابل چاسره محبت کوي نوهغه ازاد دی، که هغه دښمني کوي یا جنګ کوي نو هغه ټول د کوم دنیوي او یانفساني غوښتنو په بنسټ کوي.

دهغه تجارت، دهغه راکړه ورکړه، دهغه معاملات او اړیکې، دهغه رویه او سلوک دخپلو بچیانو، کورنۍ، ټولنې او ملګرو سره ټول د دین څخه ازاد او د دنیا لپاره وي.

د یو دهقان په توګه، دیو سوداګر او تجار په توګه، دیو واکمن په توګه، د یو پوځي او عسکرپه توګه او د یو کسب ګر په توګه باید دهغه مقام او حیثیت ازاد وي چې دهغه دمسلمانۍ سره هیڅ اړیکې ونلري.

که داسې خلک او افراد سره یوځای شي او په ټولنېز ډول تمدني، تعلیمي او سیاسي ادارې جوړې کړي چې په ښکاره داسلام سره اړیکې ولري خو په حقیقت کې د اسلام سره دهغې هیڅ اړیکې او تړاونه وي.

## پوره مسلمانان

دوهم ډول مسلمانان هغه دي چې خپل ټول شخصیت او خپل ټول وجود په اسلام کې جذب کړي، دهغه ټول حیثیتونه دیو مسلمان په حیث په اسلام کې جذب شي. که هغه پلار وي نو دمسلمان په حیث ، که هغه ځوی وي نو

دمسلمان په حیث، که هغه سوداګر، که دهقان، که نوکر او کسب ګر وي نو دمسلمان په حیث وي.

د هغه ولولې او احساسات، دهغه هیلې او خواهشات، دهغه فکر او نظریات، دهغه خیالات او رایې، دهغه کرکه او نفرت او دهغه خوښه اوناخوښه هرڅه داسلام تابع او لاندې وي.

دهغه په زړه او دماغ ، دهغه په سترګو او غوږونو، دهغه په ګیډه او جنسي غړو، دهغه په لاس او پښو او دهغه په بدن او روح باندې داسلام پوره او مکمله ولکه او قبضه وي.

نه دهغه محبت داسلام څخه ازاد وي او نه یې دښمني، هغه چې دچاسره یو ځای کېږي نو داسلام په خاطر اوله چا څخه چې جلا کېږي هم داسلام په خاطر جلا کېږي.

که چاته ورکړه کوي نو پدې خاطر چې د اسلام حکم دی چې هغه ته دې ورکړل شي اوله چا څخه یې چې منع کوي نو اسلام واي چې هغه ته باید ورنکړل شي.

د ده دا رویه او سلوک په یوازې ځان نه بلکې په ټولنیزه توګه هم هغه خپل ژوند داسلام په چوکاټ کې برابر ساتي.

د یو ټولګي په حیث دهغه وجود یواځې د اسلام لپاره پاینبت ولري او دهغه ټولنیزی چارې او رویې هم د اسلام په اصولوباندې ولاړ وي.

## الله پاک ته محبوب مسلمانان

په حقیقت کې دا دواړه ډوله مسلمانان یو دبل سره مختلف دي، سره لدی که په قانوني توګه دا دواړه په

يوامت او يو ملت كې داخل دي او دوا ړوته مسلمانان ويل كېږي.

د لومړنۍ ډلې مسلمانانو څخه په اسلامي تاريخ كې د وياړ او افتخارهېڅ كوم كار اواثر نه دى ليدلى شوى، هغوى په حقيقت كې كوم داسې كار نه دى كړى چې دنړۍ په تاريخ كې يې اثر او اغېزه كړې وي، ځكه چې د داسې كمزورومسلمانانو شتون هېڅ نه دى حس كړى، كه اسلام ته كوم تېتوالى او ښكتوالى په برخه شوى نو دهمدى خلكو له لوري ورته په نصيب شوى. دهمداسې ډول مسلمانانو زياتوالى بلاخره اسلامي نړۍ دكفر په پښو كې واچوله اومسلمانان دهغوى تر لاس لاندې په لږه ازادۍ باندې قانع او راضي شول، الله پاك ته داسې مسلمانان هېڅ پكار او محبوب نه وه.

الله پاك خپل پيغمبران د دې لپاره نه رالېږل او نه يې خپل كتابونه د دې لپاره رالېږلي وه چې دا ډول مسلمانان پيدا او وړاندې كړي، په دنيا كې د داسې مسلمانانو دنه شتون هېڅ كمښت نه حس كېده چې دهغې لپاره دې انبياء رالېږل شي اووحې دې همداسې روانه و ساتل شي.

په حقيقت كې كوم مسلمانان چې الله پاك ته محبوب دي او دهغې د پيدا كولو او وړاندې كولو لپاره انبياء عليهم السلام او كتابونه رالېږل شوي او داسلام له نظره يې مؤثر اواغېزمن كار كړى يايې اوس كوي هغه يوازې او يوازې دوېم ډول مسلمانان دي اوبس.

## حقيقي پېروي دبرلاسي لامل دی

دا يوازې د اسلام لپاره خاص او ځانګړې نده بلکې د دنيا دټولو نظرياتو او مسلکونو لپاره ده، چې دهغوی بيرغ او توغ د داسې پيروانو پلاس ندی پورته شوی چې هغه مسلک، فکر او نظر يه دخپل ژوند د يوی ځانګی په حيث منلې وي، دهغه ژوند او مرګ دخپل مسلک او نظر لپاره نه بلکې دبل چا لپاره وي.

نن هم تاسې ګورئ چې ديو مسلک او فکر حقيقي اوربنتني پيروان هغه کسان دي چې په پوره اخلاص سره خپل فکر او مسلک ته وفادار اومخلص وي، چې هغوی خپل ټول شخصيت پکې جذب او وقف کړی وي، هغوی ته ترخپل ځان او اولاد هم فکر او مسلک ګران اومحبوب وي، د دنيا هر يو فکر، نظر او مسلک دداسې پيروانو غوښتونکې وي، که کوم فکر، مسلک اونظرته په نړۍ کې برلاسي اوغلبه په نصيب کېږي نو د همداسې پيروانو په برکت ورته په برخه کېږي.

## مسلمان يوازې دالله پاک مخلص او وفادار وي

البته په اسلام اونورو مسلکونو کې توپير شته ځکه چې نور مسلکونه چې کله د انسان څخه دا ډول قرباني، سربښندنه اووفاداري غواړي نو دايې په هغه انسان باندې حق نه وي بلکې دايې بې ځايه غوښتنه وي.

خو اسلام چې دانسان څخه د دې غوښتنه کوي دايې حق دی، اسلام چې دکومو شيانو په هکله انسان ته وايې چې ته خپل شخصيت، خپل ژوند اوخپل ځان ورڅخه قربان

کړه، پدې کې يو هم داسې نه دی چې په انسان دی دهغې د ورکولو حق وي خو اسلام چې دکوم خدای او الله لپاره د دې شيانو قرباني او ايثار غواړي په حقيقت کې هغه د دې حقدار اومستحق دې چې هر څه پرې قربان شي ځکه چې څه په آسمانونو او څه په ځمکه کې دي دا ټول دالله پاک دي انسان خپله ټول دالله پاک دی، څه چې د انسان سره دي يا په انسان کې شتون لري هغه ټول دالله پاک دي، نو د عقل، منطق، عدل او انصاف غوښتنه داده چې څه دالله پاک وي هغه دی هماغه ته ورکړل شي، که د دی شيانو څخه انسان د خپل ځان يا بل چا لپاره څه پټوي يا يې ساتي دا په اصل کې خيانت اوغداري ده، پرته لدی څخه چې دهغې اجازه الله پاک ورکړې وي، انسان چې کومه قرباني دالله پاک لپاره ورکوي دا په حقيقت کې دامانت او حق پوره کول او اداء کول دي نه احسان اومنت، که د دې خبرې څخه سترګې پټې کړو نو دمسلمانانو لپاره دنورو مسلکونو په پيروانو کې دعبرت او پند درس پروت دی چې هغوی د باطلو، درغجنواو شلخيو خدايانو لپاره دومره زياته قرباني او سربښندنه ورکوي او پخپله عقيده باندې کلکوالی څرګندوي چې د نړۍ په تاريخ کې دهغې نمونه او مثال کم پيدا کيږي . داخومره د تعجب او حيرانتيا خبره ده چې دباطل او دروغو لپاره دې داسې قرباني او ايثار ورکول کيږي خود حق لپاره دی دهغې زرمه برخه هم نه ښکاريږي

## د نفس محاسبه او ارزونه

د ایمان او اسلام کوم معیار چې پدې مبارک آیت او مبارک حدیث کې ښودل شوي دی، زه غواړم چې په هغې باندې مونږ خپل ځانونه تول کړو او دهغې په رڼا کې دخپل ځان محاسبه او ارزونه وکړو.

که تاسې دا وایئ چې مونږ ایمان راوړی دی او اسلام موقبول کړی دی، ایا په حقیقت کې ستاسې ژوند اومرګ دالله پاک لپاره دی؟ ایا تاسې یوازی ددې لپاره ژوندي یاست چې ستاسې ټول استعدادونه، وړتیاوې، ستاسې د بدن او روح ټول ځواکونه ، ستاسې وختونه ، ستاسې کوښښونه او هلې ځلې د دی لپاره مصرفیږي چې دالله پاک رضا او اراده ستاسې پلاس پوره او مکمله شي او هغه کار سرته ورسیږي چې الله پاک یې د اسلامي امت پلاس پوره کول غواړي؟ ایا تاسې خپل اطاعت او بندګي دالله لپاره خاص او ځانګړی کړیده؟ ایا دنفس غلامي او بندګي، د کورنۍ، قوم، ملګرو، حکومت او ټولنې بندګي ستاسې له ژوند څخه بلکل او پوره بهر شویده؟ ایا تاسې خپله خوښه او ناخوښه د الله پاک د حکمونو تابع او لاندې ګرځولې ده؟ ایا تاسې چې له چاسره مینه او محبت کوئ دخدای لپاره یې کوئ؟ ایا د چا څخه چې کرکه کوئ د الله پاک لپاره یې کوئ؟ ایا پدې محبت او کرکه کې ستاسې نفسي خواهش ندی داخل؟ ایا ستاسې ورکول او منع کول خاص دالله پاک لپاره دي؟ ایا خپل نفس، خپلې ګیډې او نورو خلکو ته چې څه ورکوئ د دې لپاره یې ورکوئ چې دالله پاک حکم او امر دی او هغه یې حق ټاکلی دی، اوپدې ورکولو کې

دالله پاک رضا او خوښي غواړئ؟ او له چا څخه يې چې بندوئ ايا د دې لپاره يي بندوئ چې الله پاک حکم کړی دی او پدې بندولوسره تاسې دالله پاک رضا او خوښي غواړئ؟ که تاسې دا ټول حالات او کېفيتونه پخپل ځان کې ګورئ نو بيا دالله پاک شکر اداء کړئ، ځکه چې هغه تاسې ته د ايمان لوی اوعظيم دولت په نصيب کړې دی، او که تاسې پدې حالاتو او کېفيتونو کې کمزوري او کمښت وينئ نو بيا ټول فکرونه پرېږدئ او د دې کموالي او کمزورۍ د پوره کولو فکر او غم وکړئ، پدې هکله خپل ټول کوښښونه او هلې ځلې پکار واچوئ، ځکه د دې کمې په پوره کولو پورې ستاسې د دنيا اواخرت برې اوکاميابي تړاو لري. تاسې که پدې دنيا کې نور هرڅه تر لاسه کړئ نو هغه دا تاوان نشي پوره کولای چې د دې کمې او کمزورۍ پوسيله تاسې ته رسيدلې دې. خو که تاسې دا کمې پوره کړ نو که په دنيا کې هېڅ هم پلاس درنشي نو تاسې په زيان او تاوان کې نه ياستۍ، دا معيار د دې لپاره تاسې ته ندی ښودل شوی چې نور پرې تول کړئ او بيا په هغوی د منافق، کافر، مؤمن او مسلمان حکم او فيصله وکړئ.

بلکې دا معيار د دې لپاره درکړل شوې دی چې تاسې په هغه خپل ځان تول کړئ او آخرت ته د رسيدو څخه مخکې مخکې خپل کمې اوکمزوري معلومه کړئ او دهغې د لرې کولو او پوره کولو لپاره هلې ځلې او کوښښونه وکړئ، تاسې پدې فکر کې بايد پرې نه وځۍ چې قاضيان او مفتيان تاسې څه بولي او کومه درجه درکوي؟ بلکې پدې

فکر او غم کې اوسې چې عالم الغیب و الشهاده او احکم الحاکمین ذات تاسې څه ډول بولې. تاسې باید پدې ډاډه نشئ چې څمونږ نوم په مسلمانانو کې لیکلی شوي دی بلکې د دې غم او فکر وکړئ چې د الله پاک په دفتر کې ستاسې حیثیت څه دی؟ که ټوله نړۍ تاسې ته د ایمان او اسلام سند درکړي نو پدې هېڅ هم نه کېږي، پرېکړه او فیصله چې دکوم ذات پلاس کې ده دهغه په وړاندې دمنافق پر ځای مؤمن، د باغی پر ځای اطاعت کوونکې او د بې وفا پر ځای وفا کوونکې اصلي برې او کامیابي ده.

## ۱۰
## د الله ﷻ اطاعت دڅه لپاره؟

د اسلام ورونړو!
ما مخکې ځو ځو ځلې ستاسې په وړاندې دا خبره کړېده چې اسلام دالله پاک او رسول اللهﷺ داطاعت او پېروۍ نوم دی، او انسان تر هغې مسلمان کېدای نشي ترڅوچې هغه خپل خواهشات، رسم او رواج، ددنیا د خلکو سره اړیکې لنډه دا چې دهر چا اطاعت او پېروي خوشی نکړي او یواځې د الله پاک او رسول اللهﷺ اطاعت او پېروي غوره کړي.
اوس زه ستاسې په وړاندې داخبره څرګنده ووم چې د الله پاک او رسول الله ﷺپه پېروۍ اواطاعت باندې دومره زیات تاکېدولې شویدی؟
یوڅوک دا پوښتنه کولای شي چې ایا الله پاک ځمونږاطاعت او پیروۍته وړی او اړدی چې ځمونږ څخه دخپل ځان او خپل رسول اطاعت او پېروي غواړي؟
ایا الله پاک هم د نړۍ د واکمنانو او مشرانو پشان د حکومت اوواکمنۍ وږی تږی دی چې دنړۍ د واکمنانو پشان وایي چې تاسې به ځما پېروي او اطاعت کوئ؟
زه اوس دهمدی پوښتنو ځواب تاسې ته په ګوته کوم.

**د الله ﷻ په اطاعت کې دانسان برې او کامیابي ده.**

اصل خبره دا ده چې الله پاک د انسان څخه چې دخپل اطاعت او پېروۍ غوښتنه کوي پدې کې خپله دانسان خیر، برې

اوکامیابي وي، هغه د نړۍ د واکمنانو پشان ندی چې دخپلې ګټې اوفایدی لپاره خلک خپل غلامان او بندګان ګرځوي بلکې هغه د ګټې او فایدې څخه بې نیازه او بې پروا دی، هغه الصمد دی، هغه ته ددې اړتیا نشته چې ستاسې څخه مالیات او ټیکس واخلي، هغه ودانیو،موټرو، د عیش او عشرت سامان او وسایلو ته هېڅ اړتیا نلري، هغه پاک دی، هیچا ته اړ ندی، په دنیا او کائناتو کې ټول شیان دهغه دی، د ټولو کائناتود خزانو یواځنې مالک او څښتن دی.

هغه یواځې ددې لپاره ستاسې څخه دخپل اطاعت او پېروۍ غوښتنه کوي چې ستاسې خیر اوکامیابي غواړي،هغه نه غواړي کوم مخلوق چې هغه اشرف المخلوقات ګرځولې هغه دشیطان،ابلیس یا بل کوم انسان غلام او بنده وګرځي یا د سپکو اوذلیلو مخلوقاتو په وړاندې سر ښکته کړي.

هغه نه غواړي اشرف المخلوقات کوم چې هغه ورته په ځمکه کې خلافت ورکړی د ناپوهۍ او جهالت په تورو تیاروکې سرګردانه ورګرځي او د څارویو پشان دخپلوخواهشاتو د پوره کولو په کنده کې پرېوځي.

په همدې خاطر فرمایي چې تاسې ځما اطاعت او پېروي وکړئ، مونږ چې دخپلو رسولانو په وسیله کوم نوراو روښنایي تاسې ته در استولې دهغې په رڼا کې حرکت وکړئ نو تاسې ته به نیغه لاره پلاس درشي اوبیا ددې نیغې لارې په تللو سره به تاسې د عزت، درناوي او قدر څښتنان شئ او په آخرت کې به هم دعزت خاوندان شئ.

الله پاک پخپل کتاب کې دارنګه فرمایلې دي:

﴿ لَآ إِكْرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشْدُ مِنَ ٱلْغَيِّۚ فَمَن يَكْفُرْ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَاۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥٦﴾ ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يُخْرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَوْلِيَآؤُهُمُ ٱلطَّٰغُوتُ يُخْرِجُونَهُم مِّنَ ٱلنُّورِ إِلَى ٱلظُّلُمَٰتِۗ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٥٧﴾ ﴾

البقرة: ۲۵٦ - ۲۵۷

په دین کې زور اوجبر نشته، دهدایت نیغه لاره د جهالت له کږو لارو څخه جدا او صافه صافه ښودل شوې، اوس چې ستاسې څخه څوک دروغجن خدایان او ګمراه کوونکې باداران خوشې کړي اوپه یوالله ایمان راوړي نوهغه پداسې کلکه او قوي رسۍ باندې منګولې ولګولې چې هغه شلیدل نلري، الله دهر شي اوریدونکې او په هر شي پوهیدونکې دی،

کوموخلکو چې ایمان راوړ دهغوی ساتونکې الله دی، هغه به دوی له تیارو څخه راباسي او روښنایي ته به یې رسوي،او کومو خلکو چې دکفرلاره غوره کړه دهغوی ساتوونکې دروغجن او ګمراه کوونکې باداران دي،چې دوی به له روښنایي څخه تیارکېو ته ننباسي،هغوی دوزخ ته تلوونکې دي چېرې چې به هغوی د تل لپاره وي.

## پرته له الله څخه د بل چا اطاعت بې لارې او ګمراهي ده.

اوس دی خبرې ته فکر وکړئ چې پرته له الله پاک څخه دبل چا اطاعت او پېروي څرنګه انسان تیارو ته رسوي، او د دې دلیل او لامل څه دی چې روښنایي یواځې د الله پاک په اطاعت

او پېروۍ کې ده؟ تاسې ګورئ چې پدې دنیا کې ستاسې اړیکې د ډېرو خلکو سره دي او په هغې کې راګیر یاستئ.

تر ټولو لومړې اړیکې ستاسې دخپل بدن اووجود سره دي، دا لاسونه، دا پښې، دا سترګې دا غوږونه، دا ژبه، دا زړه او دماغ، دا ګېډه بلکې ټول غړي او اعضاء الله پاک ستاسې د خدمت لپاره تاسې ته درکړیدي، دا پرېکړه به اوس تاسې کوئ چې ددې غړو څخه څه ډول کار او خدمت اخلئ.

په ګېډه کې څه واچوئ او څه وانه چوئ؟ د لاسونو څخه څه کار واخلئ او څه وانخلئ؟ خپلې پښې په کومه لاره روانې کړئ اودکومې لارې څخه یې وساتئ؟ د سترګو اوغوږونو څخه کوم کار واخلئ او کوم کار ورڅخه وانخلئ؟ خپله ژبه د کومو خبرو لپاره پکار واچوئ او له کومو څخه یې وساتئ؟ په زړه کې څه ډول عقیدوته ځای ورکړئ؟ پخپل دماغ باندې څه فکرونه وکړئ؟

د دې ټولو خدمت کوونکو او چوپړانو څخه تاسې هم ښه او هم بدکار او خدمت اخستلای شئ، همدا ستاسې څخه د لوړې او پورته مرتبې انسان هم جوړولې شي او دځناورو څخه د ښکته او لاندې درجې انسان هم.

همدارنګه ستاسې اړیکې دخپل کور او کورنئ سره هم شته دی، پلار، مور، خور، ورور، مېرمن، اولاد او نور خپل خپلوان دی چې له هغوی سره ستاسې اړیکې شپه او ورځ وي.

اوس دا ستاسې پورې اړه لري چې دهغوی سره څه ډول رویه او سلوک غوره کوئ؟ هغوی پر تاسې څه حقوق لري او تاسې په هغوی څه حقوق لرئ؟

دهغوی سره په غوره او ښه رویه باندې ستاسې د دنیا او اخرت خوښي، راحت او برې تړلې دی، که تاسې د دې خپلوانو

سره بده او غلطه رویه غوره کړئ نو دنیا مو د ځان لپاره جهنم او دوزخ وګرځوله، په دنیا کې نه بلکې په اخرت کې به هم تاسې خپل خدای ته ځواب ورکوئ او هغه به درڅخه ددوی د حقوقو په هکله سخته پوښتنه کوي.

بیا ستاسې اړیکې ددنیا د ډیرو او مختلفو خلکو سره دي، ځینې خلک ستاسې ګاونډیان دي، ځینې ستاسې دوستان او ملګري دي، ځینې ستاسې دښمنان دي، ډیر خلک داسې دي چې ستاسې لپاره کار اوخدمت کوي، د ځینو څخه به تاسې څه اخلئ او ځینو ته به تاسې څه ورکوئ. ځینې خلک په تاسې باور او اعتماد کوي او خپل کارونه تاسې ته سپاري، په ځینو باندې بیا تاسې باور او اعتماد کوئ او خپل کارونه هغوی ته سپارئ.

ځینې ستاسې واکمنان دي اود ځینو تاسې واکمنان یاستئ، لنډه دا چې په شپه او ورځ کې تاسې د دومره خلکو سره اړیکې او معاملې لرئ چې د شمېر څخه وتلې دي.

په دنیا کې ستاسې خوښي، کامیابي، عزت، نیک نوم او راحت پدې کې دی چې ستاسې دا ټول اړیکې او تعلقات په سمه او صحیح توګه روان وي، همدارنګه په اخرت کې هم تاسې هغه وخت کامیاب او بریالي کېدای شئ چې د خپل رب او خالق سره پداسې حال کې مخامخ شئ چې د دې خلکو درباندې هېڅ حق نه وي پاتې، په چامو ظلم او تېرې نه وي کړی، د چا حق او مال مو نه وي خوړلې، څوک ستاسې په خلاف په هغې دربار کې شکایت ونکړي، د چا د ژوند خرابوالي وبال پر تاسې نه وي، د چا عزت، حیا او ابرو ته مو زیان نه وي رسولې.

لنډه دا چې دا پرېکړه او فیصله ستاسې پلاس کې ده چې دا ټول اړیکې په سمه او صحیح طریقه سمبال کړئ او ددې اړیکو دخرابوونکو کارونو او شیانو څخه ځان وساتئ.

اوس تاسې فکر او غور وکړئ چې دخپل بدن سره، دخپلې کورنۍ سره او دنورو ټولو خلکو سره د صحیحو او سمو اړیکو ساتلو لپاره تاسې ته په هر ګام او قدم کې د علم او پوهې اړتیا شته.

په ګام ګام او پل پل کې تاسې ته د دې اړتیا پیښیږي چې کوم سم او کوم غلط دی؟ حق کوم دی و باطل کوم دی؟ عدل او انصاف کوم دی ظلم ناروا کومه ده؟ د چادر باندې څومره حق دی؟په کوم شي کې اصلي او حقیقي ګټه او فایده ده او په کوم شي کې اصلي او حقیقي زیان اوتاوان دی؟

که تاسې دا علم او پوهه پخپل نفس او بدن کې لټوئ نوهلته نشته ځکه چې نفس خپله جاهل اوناپوهه دی، دنفس سره خودخواهشاتو دپوره کولوڅخه بل څه نشته، نفس خوبه درته وایي چې شراب څښه، زنا کوه، حرام خوره ځکه چې پدې کې مزې او چړچې دي، هغه به درته وایي چې د ټولو حق خوره او د هیچا حق مه اداء کوه ځکه چې په همدې کې ستا ګټه او فایده ده.له نوروهر څه اخله خو هېڅ مه ورکوه،هغه به درته وایي چې د ټولو څخه خپل مطلب پوره کوه خوخپله د چا دغم دوا مه ګرځه ځکه چې پدې کې هم ګټه ده اوهم راحت او ارام دی.

که تاسې خپل ځان داسې جاهل، ناپوهه اوناداان ته وسپارلو نوهغه به مو ښکته بوځي تردې چې ستاسې څخه به یو بدتر،بدکاره او بدنفس انسان جوړ شي چې په پایله کې به ستاسې دنیا او اخرت دواړه خراب، تباه او برباد شي.

دوهم صورت دا دی چې تاسې د خپل ځان په شان په نورو انسانانو باور او اعتماد وکړئ او خپل واګي اوواک هغوی ته وسپارئ چې هر چېرې مو بیایې هلته ورسره ولاړ شئ،پدې صورت کې دا خطر شته چې یو بد کاره او غلط سړې به مو د خپل خواهش او خپل بدپلان ښکاره کړي، یا به یو جاهل او ناپوهه سړي ته پلاس ورشئ چې هغه خپله هم بې لارې او ګمراه دی نو تاسې به هم بې لارې او ګمراه کړي.یا به یوظالم اوتیرې کوونکې ستاسې څخه داسې کار واخلي چې په نورو ظلم او تېرې وکړئ او دهغه د لاس آله شئ.

لنډه دا چې پدې صورت کې بیا هم تاسې ته هغه علم،پوهه اورڼا یې پلاس نه درځي کوم چې تاسې ته پل په پل او ګام په ګام پکاریدله تر څو سم او غلط درته په ګوته کړي او په نیغه لاره مو روان کړي.

## حقیقي هدایت اولارښوونه یواځې دالله له لوري ده.

ددې ټولوڅخه لوړاوپورته یواځې دالله پاک ذات داسې دی چې دهغه څخه تاسې ته علم، پوهه او رڼا پلاس درتلایې شي ځکه چې الله پاک د لوی اوستر علم څښتن دی اوهم لوی اوستر لیدونکې ذات دی.

هغه د هر شي په حقیقت او اصلیت باندې تر ټولو ښه پوهیږي، هغه په سمه او صحیحه توګه درته ښودلې شي چې ستاسې حقیقي ګټه او حقیقي زیان په کوم کوم شي کې دی.
ستاسې لپاره په حقیقت کې کوم کار سم او کوم کار غلط دی.

الله پاک بې نيازه او بې پروا دی،هغه خپل موخه او هدف نلري، هغه دې ته هېڅ اړتيا نلري چې تاسې وغولوي او څه ګټه ترې لاس ته راوړي ځکه نو هغه بې نيازه مالک دی چې تاسې ته په د کوم حرص او تمې هدايت او لارښوونه وکړي او په هغې کې يواځې ستاسې ګټه او فايده وي.

الله پاک عادل هم دی، دهغه په پاک ذات کې د ذرې برابر هم د ظلم او تېرې شک او شبه نشته ځکه نو هغه به دعدل او انصاف سره سم حکم درکوي، دهغه په حکم عملي کولو کې ددې خبرې هېڅ خطر نشته چې تاسې به پخپل ځان يا بل چا باندې ظلم او تېرې وکړئ.

## د الهي هدايت او لارښوونې څخه څه ډول کار اخيستل کېږي؟

کومه روښنايي چې د الله پاک له لوري پلاس راوړل کېږي دهغې لپاره دوه خبرې اړينې دي لومړې دا چې دکوم ذات څخه چې دا روښنايي، علم او پوهه راځي په هغه باندې خپله او دهغه په پاک استازي او پيغمبر باندې دزړه له تل او اخلاصه ايمان راوړئ، يعنی پدې پوره او مکمل باور اويقين ولرئ چې کوم هدايت، لارښوونې اوعلم چې پيغمبر(ص) راوړی هغه بالکل حق دی که تاسې د هغې په حقيقت پوهېږئ او که د هغې حقيقت او حکمت درته څرګندنه وي.

دوېم دا چې د ايمان، باوراو يقين کولو څخه وروسته د هغې لارښوونو او هدايت اطاعت او پېروي وکړئ ځکه چې ددې اطاعت او پېروئ څخه پرته هېڅ هم پلاس نه درځي، د مثال په توګه:

که یو څوک تاسې ته ووایي چې داشی زهر اوخطرناک دی،مړ کوونکې اومرګونی شی دی،هغې ته لاس ورنژدی نکړئ اونه یې وخورئ.

تاسې ورته وایئ چې بې شکه تاسې سم او ریښتیا وایې داشي زهر دی، مرګونی دی خوددې وینا او پوهیدو سره سره بیا هم تاسې هغه شی خوری. نو ددې لازمي پایله به هغه وي چې دنه پوهیدونکې وه، پدې ډول پوهیدلو او نه پوهیدلو کې څه توپیر او فرق دی چې پایله یې یوه وي؟

اصلي فایده او ګټه پدې کې ده چې د یقین، باور او اعتماد سره سره په هغې باندې عمل هم وکړی شي، د کوم شي حکم او امرچې شویدی هغه یواځې په خوله او ژبه باندې تکرار نکړي بلکې په هغې باندې عمل هم وکړي او له کوم کار او عمل څخه چې منع کړې شوې له هغې څخه یواځې په خوله نه بلکې په عملی توګه منع شي، په همدی خاطر الله پاک فرما یلي:

﴿ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ ﴾ المائدة: ۹۲

خما اطاعت وکړئ او خما د رسول اطاعت وکړئ.

﴿ وَإِن تُطِيعُوهُ تَهۡتَدُواْ ﴾ النور: ٥٤

که خما د رسول اطاعت وکړئ نوتاسې ته به هدایت په نصیب شي.

﴿ فَلۡيَحۡذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنۡ أَمۡرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمۡ فِتۡنَةٌ ﴾ النور: ٦٣

هغه خلک چې خمونږ د رسول ﷺ د حکم څخه مخالفت کوي باید پدې وډارشي چې هغوی په کوم مصیبت او فتنه کې ونه لویږي.

## د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ د اطاعت مطلب

ځما د اسلام ورونړو!

زه چې بيا بيا دا خبره تاسې ته کوم چې يواځې دالله اورسولﷺ اطاعت اړين او ضروري دی، ددې مطلب او موخه دا ندی چې تاسې به د هيچا خبره نه منئ او نه اورئ. ددې مطلب اوموخه دادی چې د چاپسی به په پټو سترګو نه ځئ بلکې تل به دا ګورئ چې ځوک څه درته وايي هغه داللهﷻ او رسول اللهﷺ د حکم او وينا سره سم او برابر دی او کنه؟

که چېرې دالله پاک او رسول اللهﷺ د حکم او امر سره برابروي هغه بايد ضرور او حتمي ومنئ، ځکه چې دا دهغه خبره او حکم ندی بلکې د الله پاک او رسول اللهﷺ حکم او امر دی.

که چېرې هغه د الله پاک او رسول اللهﷺ د حکم او خبرې سره مخالفت وي نو دهغه پر مخ يې ورووليئ سره د دې که هغه هر ځوک وي ځکه چې تاسې ته د الله پاک او رسول اللهﷺ د حکم څخه پرته د بل چا د حکم منلواجازه نشته.

تاسې ته دا څرګنده ده چې الله پاک کوم حکم درکوي هغه دخپل رسول اوپيغمبر پوسيله درکوي، او د رسول اللهﷺ د وفات څخه اوس څو پيړۍ تېرې شويدي خو دالله او رسول ټول احکام په قرآن او حديث کې موجود دي. قرآن مجيد او حديث شريف خو خپله يوې اوبلې خواته ګرځيدلې نشي چې تاسې ته راشي او حکم درته وکړي او يا موله څه شي څخه منع کړي.

په قرآن او حديث باندې دعمل کولو طريقې او لارې چارې به خامخا يو انسان خلکو ته په ګوته کوي او پرته لدی څخه چاره او لاره نشته.

اړتیا یواځې دې خبرې ته ده چې تاسې په پټو سترګو د انسانانو پسې ولاړ نشئ او نه په پټو سترګو دهغوی اطاعت او پېروي وکړئ بلکې دا وګورئ چې دهغه انسان خبره د قرآن او حدیث سره برابره ده اوکنه؟ که د قرآن او حدیث شریف سره برابره وې نو بیا دهغه اطاعت پر تاسې فرض دی او که د قرآن او حدیث مخالف وي دهغه اطاعت حرام دې.

# ۱۱
# دین او شریعت

## ډلې ډلې کېدل دڅه لپاره؟

په مذهبي اودیني خبرو کې تاسې زیات وخت دوه کلمات اودوه الفاظ زیات اورۍ او زیات بې خپله هم استعمالوۍ. یو دین او بل شریعت خوپه تاسې کې ډیر کم داسې خلک شته چې د دې کلماتو په معنیٰ او مفهوم پوهیږي چې دین څه ته وایي او شریعت څه شی دی؟

بې سواده او بې تعلیمه خلک خوملامت ندي بلکې د څه کم زیات علم او پوهې لرونکې خلک او آن چې ځینې مولوی ان هم ددې دواړو په سمه او صحیح معنیٰ باندې نه پوهیږي او نه د دواړو فرق او توپیر سره کولای شي.

د همدې ناپوهۍ په سبب کله کله دین او شریعت سره ګډوډ او یو دبل سره یې مخلوط کړي، دهمدې څخه ډیرې خرابۍ پیدا کېږي، نن زه تاسې ته ددې ډیر آسانه اوساده تعریف، معنیٰ او مفهوم بیانوم.

## د دین معناوې

دین څو معناوې لري: لومړۍ معنی یې عزت، حکومت، سلطنت او پاچایي ده.

دویمه معنا یې دلومړۍ معنی برعکس ده یعنی تر لاسه لاندې کېدل، اطاعت، غلامي، امر منل او بندګي.

دریمه معنا یې حساب کول،فیصله کول او د کړو وړو سزا او جزا ده.

په قرآن مجیدکې دین په همدې درې معناګانو سره استعمال شویدی. فرمایي:

﴿ إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُ ﴾ آل عمران: ۱۹

دالله په وړاندې دین هغه دی چې په هغې کې انسان الله پاک د عزت څښتن اوخاوند وبو لي او پرته له الله پاک څخه د بل چاپه وړاندې ځان خوار او ذلیل نکړي، یواځې الله پاک خپل بادار، مالک او پاچا ومني او پرته له هغه څخه د بل چا غلام،امر منوونکې او تابع نشي، یواځې الله پاک سزا اوجزا ورکوونکې وګڼي، پرته له هغه څخه د بل چا له سزا او جزا څخه ویره او ډار ونلري، یواځې الله پاک پوښتنه او حساب کوونکې وبولي او پرته له هغه څخه د بل چاله حساب څخه ویره ونه ساتي د همدی دین نوم اسلام دی.

چا چې داخوشی کړ اوددې پر ځای ئې بل څوک د عزت خاوند، اصلي واکدار، اصلي پاچا، اصلي مالک،اصلي سزا اوجزا ورکوونکې، او دهغه په وړاندې سرښکته کول، بندګي او غلامي کول، د هغه حکم منل، یا د هغه له سزا او جزا څخه ویره اوتمه کول. دا ټول دروغجن او باطل دینونه دي، الله پاک داسې باطل او غلط دین هیڅکله هم نه قبلوي.

ځکه چې دا دحقیقت سره بالکل مخالف اوضد دی. په دې ټولو کائناتو کې پرته د الله پاک څخه بل اصلي د عزت خاوند او څښتن څوک نشته، نه دبل پاچایي اوواکمني شته اونه د بل د غلامۍ اوبندګۍ لپاره انسان پیدا شویدی.

نه د دي اصلي اوحقيقي مالک څخه پرته بل څوک سزا ورکوونکي اوجزا ورکوونکي شته، همدا خبري په نورو اياتونو کي دارنګه بيان شويدي:

﴿ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ ﴾ آل عمران: ۸۵

يعنی هغه څوک چي د الله پاک پاچايي او واکمني خوشي کړي او بل څوک خپل پاچا او واکدار وبولي، بيا د هغه غلامي او بندګي وکړي، هغه دسزا اوجزا ورکوونکي وبولي د داسي انسان دين الله پاک هېڅکله نه قبلوي دا ځکه چي:

﴿ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعْبُدُواْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ ﴾ البينة: ۵

الله پاک انسانان خپل بندګان ګرځولي دی اودخپل ذات څخه پرته يي د بل چا دغلامۍ او بندګۍ حکم ورته ندی کړی، د هغوی وظيفه اومسؤليت دا دی چي دټولو څخه مخ واړوي او يواځي د الله پاک لپاره خپل دين يعنی اطاعت او غلامي ځانګړی او خاصه کړی، يواځي د هغه بندګي وکړي او يواځي د هغه له حساب څخه ويره او ډار ولري.

﴿ أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾ ﴾ آل عمران: ۸۳

ايا انسان پرته له الله ﷻ څخه دبل غلامي اواطاعت کول غواړي؟ پداسي حال کي چي د آسمان او زمکي ټول شيان د الله پاک اطاعت کوونکي او حکم منوونکي دي، او هغوی ټول د حساب او کتاب لپاره پرته د الله پاک څخه بل لوری ته تلوونکي نه دي. ايا انسان د زمکي،آسمان او ټولو کائناتو څخه بيله او جلا لاره د ځان لپاره غوره کوي؟

﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾ ﴾ التوبة: ۳۳

الله پاک خپل رسول ته د ریښتني دین د علم ورکولو سره ددې لپاره لیږلی چې د ټولو دروغجنو خدایانو خدای ختمه کړي او انسانان داسې ازاد کړي چې هغوی پرته دالله پاک څخه د بل چا غلامان او بندګان پاتې نشي.

سره لدی چې مشرکان او کافران پدې کارسره ډیرې چیغې اوناري ووهي اودا کار بد وګڼي.

﴿ وَقَـٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ ﴾
الأنفال: ۳۹

اوتاسې جنګ وکړئ تر هغې پورې چې دغیر الله د واکمنی فتنه ختمه شي او په دنیا کې یواځې دالله پاک قانون نافذ شي،د الله پاک پاچاهي ومنل شي اوانسان یواځې دالله پاک بندګي وکړي.

ددې پورتنیو ایاتونو اودهغې له تشریح څخه تاسې ته دا څرګنده شوه چې دین څه معنیٰ،مفهوم اومطلب لري:

۱_الله پاک بادار،مالک اوحاکم منل.

۲_د الله پاک غلامي، بندګي او اطاعت کول.

۳_د الله پاک له حساب څخه ویریدل، دهغه له سزا څخه ویره لرل او دهغه د جزا او بدلې تمه او امید ساتل.

څرنګه چې انسانانو ته د الله پاک حکم ،دهغه د کتاب اودهغه د رسولﷺ لخوا څخه رسیدلی دی نو د کتاب او رسولﷺ اطاعت اوحکم منل هم په دین کې داخل دي لکه چې فرمایي:

﴿ يَـٰبَنِىٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ ءَايَـٰتِى ۙ فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٥﴾ ﴾ الأعراف: ۳۵

اې د آدم اولاده! کله چې ځما رسولان تاسې ته ځما احکام راوړي نو څوک چې دا احکام قبول کړي اوتقوىٰ خپله کړي او د هغې سره سم خپل عمل برابر او سم کړي،نه به پدوی ویره وي او نه به دوی غم جن کېږي.

ددې آیت شریف څخه دا څرگنده شوه چې هر انسان ته الله پاک خپل احکام نیغ په نیغه نه ورکوي بلکې د خپلو استازو او رسولانو ﷺ پوسیله یې ورته رسوي، نوهغه څوک چې الله پاک خپل حاکم مني نو هغه یواځې په هغه صورت کې دالله پاک اطاعت کولای شي چې دهغه د استازي او رسول (ص)اطاعت وکړي او د رسول پوسیله چې کوم احکام راغلي د هغې پېروي او اطاعت کول عبارت له دین څخه دي.

## شریعت څه شی دی؟

اوس زه تاسې ته دا څرگندوم چې شریعت څه شی دی؟ د شریعت معنیٰ لاره او طریقه ده. کله چې تاسې الله پاک خپل حاکم اوواکدار ومنلو او دهغه بندگي او غلامي مو ومنله او دامو هم ومنل چې رسولﷺ د هغه له لوري حاکم ټاکل شویدی او کتاب هم دهغه له لوري راغلې دی نو په دی منلو سره تاسې په دین کې داخل شوئ.

د دې منلو څخه وروسته چې تاسې په کومه طریقه دالله پاک بندگي کوئ او دهغه په اطاعت کې چې په کومه لاره ځئ دهغې نوم شریعت دی،دا لاره او طریقه هم الله پاک دخپل استازي او رسول پوسیله ټاکلی او ښودلی ده.

هغهﷺ به درته په گوته کوي چې دخپل رب عبادت په څه ډول وکړئ، د طهارت اوپاکوالي طریقه داده، د نیکۍ اوتقوىٰ لاره

دا ده ،حقوق باید پدې توګه پوره او داء شي،معاملات باید په دې ډول سرته ورسیږي او ژوند باید دا رنګه سرته ورسیږي.

فرق او توپیرپه دین او شریعت کې دا دی چې دین د تل لپاره یووو، یو دی او یو به وي، خو شریعتونه ډیر راغلې، ډیر منسوخ او ختم شویدی، ډیر پکې بدل رابدل شویدی خو هېڅکله د شریعت په بدلون سره دین ندی بدل شوی.

د حضرت نوح ﷺ او حضرت ابراهیم ﷺ دین یو وو، د حضرت موسی ﷺ او حضرت عیسی ﷺ دین یو وو. د حضرت شعیب ﷺ ،حضرت صالح ﷺ، او حضرت هود ﷺ دین یو وو،او د حضرت محمد مصطفی ﷺ دین هم هماغه دی. خو دټولو په طریقه، لاره اوشریعت کې څه ناڅه فرق او توپیر شته، د لمانځه اوروژې طریقې په یوکې یو ډول او په بل کې بل ډول وی، د حلال او حرام احکام، د طهارت او پاکوالي اصول، نکاح،طلاق او دوراثت قانون په هر شریعت کې د بل شریعت سره توپیر درلوده، خوددې ټولو فرقونو اوتوپیرونو سره سره ټول مسلمانان وه. که هغه د حضرت نوح ﷺ منونکې وه که د حضرت ابراهیم ﷺ ،که د حضرت موسی ﷺ اوکه د حضرت عیسی ﷺ پیروان او امتیان وه، دا ځکه چې د دې ټولو دین یو وو او هغه دین اسلام دی.

د دې خبرو څخه څرګنده شوه چې په شریعت کې فرق او توپیر په دین کې توپیر نه راولې،ځکه دین یو دی که په هغې باندې د عمل کولو لارې چارې او طریقې سره بدلې هم وي.

## د شریعتونو د توپیر ډول یا شریعتونه څه ډول توپیر لري؟

داسې وګڼئ چې یو بادار ډیر نوکران لري، هغه کسان چې څوک خپل بادار نه بولي او نه دهغه خبره او حکم مني نوهغه په نوکرانو کې نه شمارل کېږي او له هغې دایرې څخه وتلې دی.

خوهغه خلک چې خپل بادار مني، د هغه حکم منل خپله وظیفه او مسؤلیت بولي اودهغه له سرغړونې څخه ویرېږي. هغه ټول په نوکرانو کې شامل دي.

که د نوکرۍ،خدمت او چوپړ طریقې او لارې چارې سره جلاوي نو په نوکرۍ کې یې څه فرق او توپیر نه راځي، که بادار یو نوکرته یو ډول طریقه وښودله او بل ته یې بله طریقه، نو بل نوکرته دا حق نشته چې هغه یواځې خپل ځان نوکر وبولي اونور نوکران ونه ګڼي، همدارنګه که نوکران د بادار څخه یوه خبره واوري یو نوکر ورڅخه یومطلب واخلي او بل ورڅخه بل او بیا دواړه دخپل پوهې اوعلم په اساس په هغې عمل وکړي نو دا دواړه په نوکرۍ کې سره برابر دي، کېدای شي یو د مطلب او مفهوم په پوهیدلو کې غلطي کړې وي او بل سم او صحیح مطلب ورڅخه اخستی وي خوتر هغې پورې چې کوم یو د نوکرۍ او اطاعت څخه انکار نه وي کړی تر هغې پورې هیچاته دا حق نشته چې هغه نوکر ونه ګڼي او یا ورته د نوکرۍ څخه د خارج کېدو پیغور ورکړي.

د دې مثال څخه تاسې د دین او شریعت فرق او توپیر ښه پېژندلای شئ، د نبيﷺ څخه مخکې الله پاک دمختلفو رسولانو علیهم ا لسلامو پوسیله مختلف شریعتونه رالیږل چې چاته یې د نوکرۍ یوه طریقه او چاته یې بله طریقه ښودله، د دې ټولو طریقو سره سم چې چا اطاعت او نوکري کړې هغه ټول

مسلمانان وه سره لدی چې دهغوی دعبادت،نوکرۍ او اطاعت طريقى سره بيلى بيلى وى.

کله چې حضرت محمدﷺ راغى نو بادار او لوى واکدار حکم وکړ، چې پخوانۍ ټولې طريقې اولارې چارې منسوخ شوى، پس لدى څخه چې ځمونږ ځوک عبادت،اطاعت اونوکري کوي نو پدې نوې طريقه اولاره به ئې کوي کوم چې مونږ داخري پيغمبر پوسيله انسانانو ته ښايو، د دې څخه وروسته هيڅاته په پخوانيو طريقودعبادت اونوکرۍ کولو حق او اجازه نشته.

اوس که ځوک په نوې طريقه نه ځي او پخوانۍ طريقې غوره کوي هغه په اصل کې د خپل بادار او واکدار حکم نه مني بلکې د خپل زړه او خپلې خوښى خبره مني ځکه نو هغه د نوکرۍ څخه خارج دى يعنى د مذهب په ژبه هغه کافر دى.

## د فقهى اختلاف ډول

دا خو دپخوانيو انبياءعليهم السلام د منوونکوخبره وه، د نبيﷺ په پيروانو باندې د مثال دوهمه برخه ښه تطبيق کېږي.

الله پاک چې کوم شريعت نبي عليه السلام ته ورکړيدى،ټول هغه کسان چې دا شريعت مني اوپه هغې د عمل کولوتکل لرى هغه ټول مسلمانان دى،اوس که يو ځوک ددې شريعت څخه يو ډول مطلب اوفهم اخلى او بل بل ډول فهم اومطلب او بيا هريو د خپل فهم، پوهى او علم په اساس په هغې عمل کوي که ددوى په طريقه کې څه فرق وي، په هر صورت دوى ټول په نوکرۍ او بندګۍ کې داخل دي دا ځکه هريو چې په کومه لاره روان دى پدې فهم او احساس باندې روان دى چې دا ځما دبادار، واکدار

او پاچا حکم دی نو بیا بل څوک څه حق لري چې خپل ځان نوکر وبولي او نور پخپله خوښه اوواک له نوکرۍ څخه خارج کړي، که هغه څه حق لري نو دومره ویلې شي چې ما دخپل بادار اوواکدار خبره په سمه توګه پېژندلې او دهغې څخه مې سم مطلب اخستې او هغه بل ندی اخستې خو پدې خبره کې هم هغه ته د دې اجازه او حق کله شته چې بل څوک له نوکرۍ څخه خارج کړي؟ هغه څوک چې داسې خپل سر ي کارونه کوي نو هغه خپل ځان ته دبادار او واکدار حق او اختیار ورکوي او هغه دا ګڼي چې ګوندې دبادار پشان ځما خبره هم باید خلک ومني، که تاسې ځما فهم او مطلب نه منئ نو زه بیا تاسې له نوکرۍ څخه وباسم.

په دی خبره لږ شانته غور او فکر وکړئ چې دا څومره لوی اوغټه خبره ده له همدی امله نبي ﷺ فرمایلي دي:

څوک چې مسلمان ته کافر ووایي نودا خبره په همده باندې بیرته راګرځي. دا ځکه چې الله پاک مسلمان دخپل حکم تابع ګرځولې دی خو داسې شخص دا وایي چې تاسې به ددې سره سره ځما د راي او نظر غلامي او پابندي هم کوئ، یعنی ستاسې رب یوازې الله پاک ندی بلکې زه هم کوچنې خدای یم که تاسې ځما خبره ونه منئ نو زه به موداللّه پاک له بندګۍ او غلامۍ څخه دباندې وغورځوم که هغه تاسې خارجوي اوکنه،د داسې خبرې کوونکې ته که بل سړی کافر شو یا نشو خو ده خپله ځانته دکفر لاره او دروازه خلاصه کړه.

ګرانو ورونو! اوس تاسې ددین او شریعت فرق اوتوپیر ښه وپېژندلو، او پدې هم پوه شوئ چې دبندګۍ د طریقې د بدلون اوتوپیر سره سره په دین کې څه فرق نه راځي پدې شرط چې

عمل يې په اخلاص اومينه باندې ولاړوي،اوهغه لاره په کومه چې دې عمل کوي دالله پاک اوپيغمبر(ص) پوسيله ښودل شوې وي او له ده سره دخپل عمل په هکله د الله پاک دکتاب او د نبيﷺ د سنتو څه دليل هم موجود وي.

## د دين او شريعت د فرق نه پېژندلو زيان او تاوان

اوس زه تاسې ته دا په ګوته کوم چې د دين او شريعت په منځ کې د فرق نه پېژندلو څخه تاسې ته څومره زيانونه او تاوانونه رسيږي.

په مسلمانانو کې دلمانځه داداء کولو مختلفې طريقې دي، يو په سينه لاس ږدي، دوېم په نامه باندې يود امام شاته فاتحه لولي او بل يې نه لولي،يو امين په زور اوجهر سره وايي بل يې پټ اوخفيه وايي.

هر يو مسلمان چې په کومه طريقه روان دى هغه پدې نيت اواراده روان دى چې دا طريقه دنبيﷺ ده او دهغې لپاره سند هم وړاندې کوي،سره لدى چې د لمانځه داداء کولو طريقه، شکل او صورت يې سره فرق و لري بياهم ټول دنبيﷺ پيروان دي.

خو ځينې ظالمان چې د دين او شريعت په فرق او توپير باندې نه پوهيږي هغوى د طريقو اختلاف ددين اختلاف بللې دى، خپله ډله او ګروپ يې جلا کړى، جومات او امام يې بيل کړى، يوبل ته د کفر او فسق کنځلې کوي،يوبل له خپل خپل جومات څخه په زور او ټيلو ټيلو وباسي، قضاء او محکمو ته خبرې ولاړې او د نبيﷺ امت يې ټوټې ټوټې کړ.

په دومره خبرو او کارونو باندې دهغوی زړونه یخ او ساړه نشول نو بیایې په کوچنیو او وړو خبروباندې یو بل کافر، فاسق او بې لارې بلل پیل کړل.

ځینې کسان چې د قرآن مجید اومبارکو احادیثو څخه یوه خبره او مسئله راباسي نوبیاځې هغه د ځان لپاره دلیل اوحجت نه ګڼي او په هغې یواځې خپله عمل نکوي بلکې دا خپله خبره او خپل فهم په نورو هم په زور او جبر سره مني او که څوک دهغه خبره او فهم و نه مني نوبیه زور او جبر سره یې داسلامي امت او اسلامي ملت څخه خارجوي.

تاسې چې په مسلمانانو کې حنفي، شافعي، حنبلي، مالکي اواهل حدیث ګورئ دوی ټول قرآن اوحدیث د اخري سند په حیث مني او دخپل فهم او پوهې سره سم دهغې څخه احکام راباسي، داسې کېدای شي چې دیو فهم سم او صحیح وي او د بل غلط یا کمزوری.

زه هم د یوی طریقې، پېروي کوم اوهغه راته سمه او صحیح معلومېږي .زه د نورو طریقو والا سره بحث هم کوم څکه ماته چې څه صحیح او سم ښکاري په هغې باندې هغوی هم پوهوم او کومه خبره چې ماته غلطه معلومېږي هغه غلطه ثابتوم.

د یو چا فهم اوخبره غلطتیدل یو شي دی او ددین څخه وتل او خارجیدل بل شي دی.

د خپل فهم او پوهې سره سم په شریعت باندې عمل کول دهر مسلمان حق دی، که لس مسلمانان په لسو طریقو باندې په شریعت باندې عمل کوي تر هغې پورې دوی مسلمانان دي چې شریعت مني او د یو امت غړي دي. د هغوی د ګروپ او ټولګي د بیل والي او جلا والي لپاره هېڅ وجه نشته.

کوم خلک چې پدې خبرو نه پوهيږي هغوی په وړو وړو خبرو جلا جلا ډلې او ګروپونه جوړه وي، يوله بل څخه جلا کيږي،خپل جوماتونه او امامان سره جلا کوي، يوله بل سره دوستي، خپلوي، اړيکې او نور شلوي، اوخپل ګروپونه داسې روزي او داسې يې تربيه کوي لکه چې دوی بيل امت او ملت دی.

## د جلا جلا ډلو او فرقو جوړولو زيانونه

تاسې ته دانه څرګنديږي چې ددې ډلو او فرقو جوړولو څخه مسلمانانو ته څومره زيانونه او تاوانونه رسيږي. په خبرو او وينا کې خومسلمانان يو امت ښکاري،په هندوستان کې د مسلمانانو شمېر څو سوه ميليونونو ته رسيږي،که دوی په رېښتيا سره يو موټې او متحد شي نو بيا په ټوله نړۍ کې هيڅ انساني ځواک نشته چې دوی مغلوب اويا ذليل کړي او بل څوک حکومت او واکمني پرې وکړي. دا يوازې همدا ډلې او ټپلې دي چې، ددوی ځواک او قوت يې کمزوری کړی او په سل ګونو ډلې يې ورڅخه جوړې کړي، دهغوی زړونه سره جلا دی، هغوی په سختو حالاتو کې هم يو د بل سره نه نژدې کيږي، د يوې مسلمانې ډلې خلک د بلې مسلمانې ډلې خلک داسې بدګڼي لکه چې يو يهودي د عيسايي سره ضد او دښمني لري بلکې دهغې څخه هم سخت تعصب ورسره کوي.

داسې هم شويدي چې يو ډلې د بلې ډلې دمغلوبولو او کمزوری کولو لپاره دکفارو سره لاس يوکړی نو پداسې حالاتو او شرايطو کې چې ټول اسلامي امت مغلوب،کمزوری او د نورو تر

لاس لاندې دی نو څه د حیرانتیا او تعجب خبره نده بلکې دا د دوی دخپلو لاسونو اوخپلو کړو وړو کمال او پایله ده، په هغوی باندې دالله پاک هغه عذاب نازل شویدی کوم چې هغه پخپل کتاب کې بیان کړی:

﴿أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ﴾ الأنعام: ٦٥

دالله پاک دعذاب یوصورت اوشکل داهم دی چې تاسې په ډلو وویشي اوبیا تاسې پخپلو کې سره یو بل ووژنی.

ورونړو! په کوم عذاب کې چې د تول هندوستان مسلمانان آخته دي دهغې آثار او نښې ماته په پنجاب کې ترنورو زیاتی ښکاري، دلته دمسلمانو ډلو تر منځ خپل منځي اختلافات او جګړې زیاتی دي ځکه نو د شمیر د زیاتوالي سره سره ستاسې قوت او ځواک بې اغېزی او بې اثره دی. که تاسې خپل خیر او نیکي غواړی نو دا ډلې ټپلې ختمې او ماتې کړئ، یو د بل سره ورونه او یو امت وګرځي.

د الله پاک شریعت داسې نه دي چې اهل حدیث، حنفي، بریلوي، دیوبندي، شیعه او نور جلا جلا امتونه وګرځي دا ټولې ډلې ټپلی دناپوهی اوجهالت زیږنده دي، الله پاک یواځې یو امت (امت مسلمه) معرفي کړی دی

## دريم فصل

# لمونخ

# ۱۲
## عبادت

د اسلام ورونو!

مخکې ماتاسې ته ددین او شریعت مطلب روښانه او څرګند کړی وو، نن زه تاسې ته یوه بله کلمه هم روښانه کول غواړم کوم چې مسلمانان یې په عمومي توګه وايي خو ډېر کم خلک دهغې په سم او صحیح مطلب باندې پوهېږي، هغه کلمه عبادت دی.

الله پاک پخپل کتاب کې دارنګه فرمایلي دي:

﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ ﴾ الذاريات: ٥٦

یعنی ما انسانان او پیریان دبلې موخې اوهدف لپاره ندي پیدا کړي بلکې ددې لپاره چې زما عبادت وکړي.

ددې آیت شریف څخه دا څرګنده شوه چې څمونږ اوستاسې دپېدایښت او ژوند اصلي موخه او هدف پرته د الله پاک دبندګۍ څخه بل څه ندی.

اوس ددې څخه تاسې دا معلوموﻻ ی شئ چې د عبادت په مطلب، معنی اومفهوم باندې پوهیدل څومره اړین او ضروري دي.

که تاسې دهغې له معنی، مفهوم اومطلب څخه ناخبره وئ نو بیا تاسې هغه موخه او هدف نه شئ پوره کوﻻ ی دکوم لپاره چې تاسې پېدا شوي یاستئ، کوم شی چې خپل کار او موخه نشي پوره کوﻻ ی هغه خوشې اوناکام ګڼل کېږي.

ډاکټر چې کله د چا درملنه او علاج ونشي کړای نو هغه ناکام بلل کېږي او څوک ورته بیا نه ورځي.

کوم دهقان او بزګرچې کښت او حاصل تر لاسه نشي کړای هغه بيا ناکام بلل کيږي اوڅوک ځمکه ورته نه سپاري اوهغه په کرنه او زراعت کې ناکام بولي.

او کله چې تاسې دخپل ژوند او پيدايښت موخه او هدف (عبادت) پوره نشئ کړای،نو ستاسې ټول ژوند ناکام بلل کيږي.

دهمدې لپاره زه دا غواړم چې تاسې په غور او توجه سره د عبادت په مفهوم، مطلب او معنی باندې ځان پوه کړئ اوهغې ته پخپل ذهن او زړه کې ځای ورکړئ ځکه چې ستاسې دژوند برې او ناکامي په هغې پورې اړه لري.

## د عبادت مطلب او مفهوم

دعبادت کلمه دعبد څخه اخستل شويده، دعبد معنی ده بنده او غلام يعنی دعبادت معنی بندګي او غلامي ده، څوک چې د چا غلام، نوکر او بنده وي که هغه د خپل بادار په خدمت او چوپړ کې داسې پاتې شي چې دخپل بادار دخوښی او رضا سره سم کار کوي نو دا عبادت شو خو د دې په خلاف که يو څوک دچا نوکر، غلام او بنده وي، دهغه څخه د خپلې نوکرۍ او خدمت عوض، بدله او مزدوري هم اخلي خو د خپل بادار دخوښی او رضا سره سم کار نکوي نوداسې انسان ته باغي، سرکښه اونافرمان وايي بلکې نمک حرام ورته ويل مناسب دي.

اوس پدې ځان پوه کړئ چې دخپل بادار په وړاندې د بنده پشان ودريدل څرنګه کيږي:

۞- د بنده او غلام لومړې کار او دنده دا ده چې خپل بادار او مالک، بادار او مالک وګڼي او پدی پوه شي چې هغه ماته

رزق او روزي راکوي، هغه زما ساتنه کوي، دهغه سره وفا کول او ټينګ ودريدل پر مافرض او اړين دي،دهغه څخه پرته بل څوک د دې وړتيا نلري چې زه دهغه سره وفا وکړم.

۞- دغلام او بنده دوهم کار اودنده دا ده چې هغه هر وخت او تل دخپل بادار اومالک اطاعت اوپيروي وکړي، دهغه حکم او امر پرځای کړي، هيڅکله دهغه د حکم له منلو څخه سرغړونه ونکړي، د خپل بادار او مالک د خوښی او رضا مخالف کوم کار پخپله خوښه ونکړي اونه د بل چاخبره اوحکم ومني.

غلام او بنده هر وخت بنده او غلام دی، هغه دا حق نلري چې دخپل بادار فلانی کار منم او فلانی نه منم، يازه د دومره وخت لپاره دخپل بادار نوکر، غلام اوبنده يم او پاتې وخت زه دهغه له بندګی، غلامی او خدمت څخه ازاد يم.

۞- دغلام اوبنده دريم کار او دنده داده چې دخپل بادار اومالک ادب،درناوی او احترام وکړي، دادب او درناوي لپاره چې بادار ورته څه طريقه او چل ښودلی دهغې سره سم عمل وکړي، کوم وخت چې بادار د سلامی او حاضريدو لپاره ټاکلی هماغه وخت حاضر شي اود دې خبری ثبوت او دليل وړاندې کړي چې زه پخپل کار اودنده باندې کلک ولاړ يم.

بس همدا دری شيان چې سره يو ځای شي ددې څخه عبادت جوړيږي:

لومړی: دخپل بادار سره وفا کول.

دوهم: دخپل بادار اطاعت او منڼه.

دريم: دهغه ادب، درناوې او احترام ساتل.

الله پاک چې فرمايلي: وما خلقت الجن والانس الا ليعبدون. د دې مطلب او معنی دا ده چې الله پاک انسانان او پيريان ددې

لپاره پېدا کړی چې هغوی لده سره وفا کوونکې وي او د بل چا سره لاره نیو ونکې نه وي،یواځې دالله پاک اطاعت او مننه وکړي او دهغه د حکم اوامر په خلاف دبل چا اطاعت او پېروي ونکړي، یواځې دهغه په وړاندې د ادب، تعظیم او درناوي سر ښکته کړي او دهغه څخه پرته د بل چا په وړاندې ښکته نشي.

اللهﷻ دعبادت په هکله دا دري کارونه او دندې وړاندې کړیدي او همدا مطلب او معنیٰ دهغو ټولو ایاتونو ده چې الله پکې دعبادت حکم کړیدی.

ځمونږ د پیغمبر حضرت محمدﷺ اونورو ټولو پیغمبرانو علیهم السلامو دخبرې مطلب اوموخه همدا وو چې : الا تعبدوا الا یاه)) ( دالله پاک څخه پرته د بل چا عبادت مه کوئ)

یعنی یو قانون دی چې تاسې باید د هغې اطاعت او مننه وکړئ اوهغه قانون د الله پاک دی، او یواځې یوذات دی چې دهغه پېروي او عبادت باید وشي او هغه الله پاکﷻ دی.

## د عبادت دغلط مفهوم اومطلب پایلی

دعبادت همدا مطلب پخپل ذهن کې وساتئ او بیا ځما پوښتنو ته ځواب راکړئ:

تاسې د هغه نوکر اوخدمت کوونکې په هکله څه وایې کوم چې دخپلې وظیفې او دندې د پوره کولو لپاره نه ځې بلکې تل دخپل بادارپه وړاندې لاس په نامه ولاړوي اوپه لکونوځلې دهغه دنامه یادونه اوذکرکوي،پداسې حال کې چې بادار هغه ته وایې چې ولاړشه دفلانې او فلانې حق ورکړه خو هغه ورسپارل شوی

کار ته نه ځي بلکې پرله پسې په دواړو لاسونوسلامونه کوي اولاس په نامه ولاړ وي.

بادار هغه ته حکم کوي چې فلانۍ فلانۍ خرابۍ او ورانۍ سمې کړه خوهغه يوائينچ هم دځپل ځای څخه نه خوځيږي او پرله پسې سجدې کوي او بس.

بادار هغه ته حکم کوي چې دغل او داړه مار لاسونه وريړې کړه خو هغه د حکم اوريدلو سره سره هلته ولاړ وي او په ښکلي اواز سره دا وايي: دغله لاس پرې کړئ، د غله لاس پرې کړئ او همدا جمله په شل ګونو ځله تکرار وي، خو يو پل او يو ګام هم دهغه نظام دجوړېدو لپاره نه اخلي په کوم کې چې دغله لاس پرې کېږي.

ايا تاسې د داسې چاپه هکله ويلايې شئ چې دا د ځپل بادار خدمت، نوکري او بندګې کوي؟

که ستاسې کوم نوکر او چاکر داسې سلوک غوره کړي نو زه نه پوهيږم چې تاسې به ورسره څه وکړئ؟

خو زه حيران يم چې تاسې د الله پاک هغه نوکر او چاکر ته چې داسې سلوک او رويه يې غوره کړې هغه ته لوی عبادت کوونکې او پرهيزګار وايې!!!

دا ظلم او تېرې کوونکې دسهار څه تر ماښام پورې څوځو ځله په قرآن کريم کې د الله پاک حکمونه لولي خو د دې حکمونو د پوره کولو او عملي کولو لپاره حرکت هم نکوي او ګام هم نه پورته کوي بلکې پرله پسې نفلونه کوي، په زر ګيزو تسفو د الله پاک يادونه او ذکر کوي، په ښکلي اواز سره د قرآن مجيد تلاوت کوي.

کله چې تاسې د داسې انسان کارونه وګورئ نو فکر کوئ چې لده څخه بل لوی عابد، زاهد او پرهيزګار انسان نشته، دا غلط تصور او فکر ځکه پيدا کيږي چې د عبادت سم او صحيح مفهوم خلکوته څرګند نه وي. يو بل نوکر اوچاکر چې شپه اوورځ د بل چا خدمت او چوپړ کوي،احکام اوامرونه د نورو اوري او هغه مني، د نورو قانون مني او په هغې عمل کوي او دخپل بادار هر وخت مخالفت کوي خو د سلامۍ په وخت کې خپل بادار ته راځي او دهغه نوم په ژبه باندې تکراروي.

که ستاسې يو نوکر داسې سلوک او رويه غوره کړي نو تاسې به دهغه سره څه وکړئ؟ چې امر او احکام د نورو اوري او منې، د نورو په قانون عمل کوي او دخپل اصلي او حقيقي بادار د حکم او امر هر وخت مخالفت کوي او دهغې څخه سرغړونه کوي خو د سلامۍ په وخت کې د خپل بادار په وړاندې حاضريږي او په ژبه باندې دهغه نوم پرله پسې تکرار وي.

کله چې هغه تاسې ته په خوله بادار ووايي نو تاسې به سمدستي هغه ته دا ځواب ورنکړئ چې ته ډير سپک، دروغجن او بې ايمانه انسان يې، تنخوا او معاش څما څخه اخلې!، خدمت اونوکري دنورو خلکو کوي، په خوله ماته مالک اوبادار وايې خو په حقيقت کې د نورو خدمت او نوکري کوي؟

دا خو يوه ساده او آسانه خبره ده چې هر عقل لرونکې په هغې باندې پوهيدلی شي.

ايا دا د حيرانتيا خبره نده چې ځينې خلک شپه او ورځ د الله پاک قانون ماتوي، د کفارو او مشرکانو په امرونو او

حکمونو عمل کوي او په خپل ورځني ژوند او عمل کې د الله پاک د احکامو هېڅ خیال نه ساتي؟

ایا دداسې خلکو لمونځ، روژې، ذکر، تلاوت، حج او زکات تاسې عبادت ګڼئ؟ د دې غلطۍ یو دلیل دا دی چې تاسې د عبادت د اصلي او حقیقي مفهوم څخه ناخبره یاستئ. د یو بل نوکر او غلام مثال وګورئ!.

بادار چې د خپلو نوکرانو او غلامانو لپاره کومې جامې او یونیفارم ټاکلی دی هغه په ښه توګه اغوندي،په ډېر آدب او درناوي سره دخپل بادار په وړاندې حاضرېږي، هر امر او حکم چې اوري په دواړو لاسونو سلام کوي، ښکته کېږي او داسې څرګندوي چې د ده څخه بل مخلص او وفادار انسان نشته.

د سلامۍ په وخت کې تر ټولو مخکې حاضري ورکوي، دخپل بادار په نوم یادولو کې تر نورو ټولو غلامانو میدان ګټي.

خو بل لوري ته همدا نوکراو غلام د خپل بادار د دښمنانو او باغیانو خدمت او چوپړ کوي،د خپل بادار په خلاف په ټولو دسیسو اوپلانونوکې ګډون کوي، د بادار د ورکولو او ختمولو لپاره چې څومره هلې ځلې او کوښښونه کېږي په هغې ټولو کې دا کم بخت برخه اخلي، دشپې لخوا څخه د خپل بادار دیوالونه سوري کوي خودورځې بیا د یو مخلص او وفادار نوکر په څېر هلته حاضرېږي.

تاسې د داسې نوکر په هکله څه فکر کوئ او څه وایئ؟ ایا تاسې هغه ته پیر صاحب،مولانا صاحب، د یندار صاحب او متقي صاحب نه وایې؟ تاسې هغه ته داسې درانه اود قدر وړ نومونه ځکه اخلئ چې دهغه لوی او اوږده ږیره وي، پایڅې یې د ښنګرو څخه لوړې وي، د هغوی په تندیو او وچولو دعبادت

داغونه او نښانې وي، هغوی اوږده اوږده لمونځونه کوي، او غټې غټې تسبې په لاس کې ګرځوي نو ځکه خلک هغوی لوی زاهدان او متقیان بولي.ددې وجه او دلیل هم همدا دی چې تاسې د عبادت په مفهوم غلط پوه شوي یاستئ.

تاسې داګڼې چې لاسونه په سینه کېښودل او سجده کول، څوکلمات او خبرې په ژبه تکرارول، بس همدا رسمي او ټاکلي شوي حرکتونه او رسمونه پوره کول عبادت دی.

تاسې فکر کوئ چې د رمضان دمیاشتې د لومړې ورځې څخه تر اخري ورځې پورې د سهار څخه تر ماښام پورې وږی او تږی اوسیدل اصل عبادت دی.

تاسې دا بولئ چې د قرآن کریم څو رکوع په ژبه تلاوت کول عبادت دی.

تاسې دا فکر کوئ چې مکې مکرمې ته تلل او هلته د بیت الله شریف طواف کول عبادت دی.

دا ځکه چې تاسې د څوکارونو ظاهري شکل پرځای کول عبادت بولئ او څوک چې دا څو ظاهري حرکتونه او خوزښتونه کوي نو تاسې فکر کوئ چې هغه د الله پاک عبادت کوي او ددې آیت شریف

﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ ﴾ الذاریات: ٥٦

مطلب او موخه پوره شوه،نورهغه په خپل ورځني او عملي ژوند کې پوره ازاد دی چې څه کوي هغه کولای شي.

## په پوره ژوند کې بندګي کول عبادت دی.

په حقیقت کې الله پاک چې تاسې د کوم عبادت اوبندګۍ لپاره پیدا کړي یاستئ او دهغې حکم یې درکړیدی هغه بل شي دی.

هغه عبادت دا دی چې تاسې پخپل ټول ژوند کې هر وخت او په هر حال کې دالهي قانون پېروي او اطاعت وکړئ او دټولو هغو قوانینوله اطاعت اومننی څخه بیزار شئ کوم چې دالهي قانون مخالف او ضد دي.

ستاسې هر حرکت او خوزښت دهغو پولو او چوکاټ په منځ کې وي کوم چې الله پاک ستاسې لپاره ټاکلی دی.

ستاسې هر کار اوعمل دهغې طریقی سره سم وي کوم چې الله پاک ستاسې لپاره غوره کړی.

پدې ډول او طریقه چې تاسې کوم ژوند تیروی، ټول سراسر عبادت او بندګي ده.

پدې ډول ژوند کې ستاسې خوب هم عبادت دی او ستاسې وینښ او بیدار اوسیدل هم عبادت دی، خوراک موهم عبادت دی او څښاک موهم عبادت دی.

ګرځیدل راګرځیدل مو هم عبادت دی آن تردې چې دخپلې مېرمنې سره یوځای کېدل او دخپل اولاد سره مینه او محبت هم عبادت دی.

کوم کارونه چې تاسې هغه بالکل دنیوی بولی، هغه ټول دینداري اوعبادت دی، که تاسې پدې دنیوي کارونو کې دالله پاک ټاکلې شوی پولې او طریقې مراعات کړئ او هغه په نظر کې وساتئ او دا وګورئ چې پدې کې کوم روا او کوم ناروا دي؟ کوم حلال او کوم حرام دی؟کوم شیان فرض شویدي او له کومو څخه منع شویده؟په کومو شیانو الله پاک رضا کېږي او په کومو نارضا کېږي؟.

د مثال په ډول تاسې د روزۍ ګټلو لپاره له کوره وځئ، پدې لاره کې ډیر داسې حالات مخې ته راځي چې د حرامو لاس ته

راوړل او ګټل ډیر آسانه وي. که تاسې د الله پاک له ویرې هغه حرام پرېښودل او یواځې په حلال مال باندې مو بسوالې وکړ نو څومره وخت چې تاسې پدې سفر او لاره کې تیر کړیدی هغه ټول په عبادت کې شمارل کېږي، دا مال او روزي چې تاسې خپله وخوړله یا مو پخپله مېړمن او بچو باندې وخوړله یا مونورو حقدارو او اړو خلکو ته ورکړه پدې ټولو کې تاسې ته ثواب او اجر درکول کېږي.

که په سفر او لاره کې تاسې د لارې څخه اغزي یا بل کوم زیان رسوونکې شی پدې خاطرلری کړ چې د الله پاک بندګانو ته تکلیف رسوي نو دا هم عبادت ا ود ثواب کار دی،

که تاسې د کوم ناروغ پوښتنه یاخدمت وکړ، کوم ړانده یا لار ورکې ته مو لاره وښودله، یا مو د کوم غریب او بې وځلې سره مرسته او کومک وکړ دا ټول عبادت دی.

تاسې که پخپلو خبرو کې له درواغو، غیبت، بدو ویلو. زړه ازارولو او پوچو خبرو څخه ځان وساتلو او د الله پاک له ویرې موحق خبره وکړه نو څومره وخت چې تاسې پدې خبرو اترو کې مصرف کړی هغه ټول په عبادت کې شمارل کېږي.

پس دالله پاک اصلي عبادت دا دی چې د پوهیدلو دعمر څخه تر مرګ پورې دهغه په قانون او طریقو باندې ولاړ شئ او دهغهﷻ د حکمونو سره سم خپل ژوند تیر کړئ.

ددې عبادت لپاره هېڅ وخت ندی ټاکلې شوی بلکې هر وخت او په هر حال کې هغه کول پکار دي، ددې عبادت لپاره هېڅ شکل نشته په هر ډول او هر شکل کې یې کول اړین دي.

تاسې دانشئ ویلایې چې زه په فلانې وخت کې د الله پاک بنده یم او په فلانې وخت کې دهغه له بندګۍ او غلامۍ څخه ازاد یم، او داهم نشئ ویلایې چې فلانې وخت یواځې د الله پاک د بندګۍ او عبادت لپاره دی او فلانې وخت د عبادت او بندګۍ لپاره ندی.

ورونړو!.

اوس تاسې ته دعبادت مفهوم او مطلب څرګند شو او داهم درته څرګنده شوه چې په هر حال او هر وخت کې دالله پاک بندګي او اطاعت کول عبادت دی.

اوس تاسې شاید پوښتنه وکړئ چې دا لمونځ، روژه اوحج نو څه شیان دي؟

د دې آسانه او ساده ځواب دا دی چې ددې عبادتونو پوسیله چې الله پاک پر تاسې فرض کړی هغه لوی او عمومی عبادت ته تیارول او چمتو کول دی چې په ټول ژوند کې به یې هر وخت اداء کوئ.

۞ لمونځ تاسې ته په شپه او ورځ کې پنځه ځله دا خبره درپه یادوي چې تاسې دالله پاک بندګان او غلامان یاستۍ اودهغه بندګي به کوئ.

۞ روژه په کال کې یو میاشت تاسې دهغه لوی اوعمومي عبادت لپاره روزي او تړیننګ درکوي

۞ زکات تاسې ته دا په ګوته کوي چې دا مال د الله پاک بخشش او عطیه ده، دا تاسې دځپلو خواهشاتو لپاره مه خرڅوئ بلکې دځپل مالک او صاحب حق پکې ادای کړئ.

۞ حج کول په زړه کې د الله پاک دلویۍ او عظمت داسې خیال او فکر راپېدا کوي چې که هغه یو ځل په زړه کې ځای ونیوه نو ټول عمر بیا له هغه څخه نه لرې کېږي.

د دې ټولو عبادتونو تر اداء کولو وروسته که تاسې د دې وړ وګرځیدۍ چې ستاسې ټول ژوند دالله پاک عبادت شي نو بې شکه چې ستاسې لمونځ بیا حقیقي او واقعي لمونځ دی، ستاسې روژه بیا حقیقي او اصلي روژه ده، ستاسې زکات بیا اصلي او حقیقي زکات دی اوستاسې حج بیا حقیقي او اصلي حج دی.

که چېرې داسې ونشول اودا موخه اوهدف یې پوره نشو کړائ نو بیا وچوسجدو او رکوع ګانو، لوږه او تنده تیرولو، دحج په څو رسمونو اداء کولو او زکات په مال ورکولو باندې هېڅ کار هم نه کېږي.ددې مثال داسې دی لکه چې په یو بدن کې روح وي هغه بدن هم ګرځي او هم کارونه کوي نوهغه ته ژوندی انسان وایي خو که په بدن کې روح نه وي نو هغې ته بیاانسان نه بلکې مړی ویل کېږي

مړی هم لاس،پښې، پوزه، غوږونه بلکې ټول غړی پوره او مکمل لری خو په هغې کې یوائې روح نه وي نو تاسې داسې انسان بیا پخپل کورکې نه ساتې بلکې زر تر زره یې په خاورو کې پټوئ او ځان ورڅخه بې غمه کوئ.

په همدې توګه دکوم لمانځه چې ارکان پوره وي اودروژې شرطونه پوره وي خو په هغې کې دالله پاک څخه ویره او دهغه سره مینه او محبت،وفا کول او اطاعت نه وي دکوم لپاره چې دا لمونځ او روژه فرض شویده نو بیا دا هم د بې روحه بدن په شان دی.

# ۱۳
# لمونځ

ځما د اسلام ورونو!

ما مخکې تاسې ته د عبادت اصل مطلب اومفهوم بيان کړی وو اودا ژمنه مې درسره کړې وه چې په اسلام کې کوم عبادتونه فرض شويدي د هغې په هکله به هم درته څه ناڅه وايم چې دا عبادتونه په څه ډول سره يو مسلمان د لوی عبادت لپاره تيار او چمتو کوي د کوم لپاره چې الله پاک انسانان او پيريان پېدا کړيدي.

پدې لړ کې تر ټولو لوی او تر ټولو مهم لمونځ دی او نن ورځ يوائې دهمدې په هکله درته څه مهم شيان وړاندې کوم.

## د عبادت پراخه مفهوم

دا خوتاسې ته څرګنده شويده چې عبادت په اصل کې بندګۍ ته وايي، او کله چې تاسې دالله پاک د بندګۍ لپاره پېدا شوي ياستۍ نو تاسې هېڅکله هم د هغه د بندګۍ څخه ازاد نشئ کېدای.

لکه څرنګه چې تاسې نشئ ويلی چې زه د دومره ساعتونو لپاره د الله پاک بنده يم او پاتې وخت دهغه بنده نه يم، او داهم نشئ ويلايې چې زه دومره وخت په عبادت کې تيروم او پاتې وخت د عبادت څخه خلاص او ازاد يم چې هر څه کوم، تاسې خو په پېدايښتي او فطري توګه دالله پاک غلامان ياستۍ، هغه تاسې د بندګۍ لپاره پېدا کړي ياستئ، ځکه نوستاسې ټول ژوند بايد دهغه په عبادت او بندګۍ کې مصرف شي او

هېڅکله د يوي ثانيي لپاره هم بايد تاسې د دې عبادت څخه بې پروا او غافل نشئ.

دا مې هم تاسې ته ويلي وه چې د عبادت مطلب دا ندی چې تاسې د دنيا څخه يو لوري ته په کنج کې کېنئ او الله، الله کوئ بلکې د عبادت اصل او حقيقي مفهوم او مطلب دا دی چې په دنيا کې تاسې څه کوئ هغه د الله پاک د خوښي او رضا سره سم وکړئ.

ستاسې خوب اوبيداريدل، ستا خوراک او څښاک، ستاسې ګرځيدل راګرځيدل لنډه دا چې ټول کړه وړه دالله پاک د قانون پابند او دهغې سره سم وي، تاسې چې کله پخپل کور کې مېرمنې او کوچنيانو، وروڼو خويندو، خپلوانو اوعزيزانو سره وي نود دې ټولو سره به داسې اړيکې ساتئ چې څرنګه الله پاک حکم کړيدی. تاسې چې کله خاندئ او خبرې کوئ نوهم بايد پام وکړئ چې تاسې د الله پاک له بندګۍ څخه آزاد نه ياستئ، کله چې تاسې د روزۍ ګټلو لپاره وځئ او د خلکو سره راکړه ورکړه کوئ نو هلته به هم په هره خبره کې د الله پاک احکامو ته پام کوئ، او هېڅکله به د هغې حد او پولو څخه تېرې نکوئ چې الله پاک درته ټاکلی دي.

کله چې تاسې د شپې په تياره کې وئ او يوه ګناه کولای شئ چې د دنيا دخلکو څخه هېڅوک هم تاسې نشي ليدلای او پدې وخت کې هم تاسې ته دا خبره په ياد وي چې الله پاک ماګوري، هغه د ويرې اوخوف کولو مستحق اوور دی نه د دنيا خلک او پولېس.

کله چې تاسې په يو ځنګل کې يواځې روان ياستی او هلته تاسې داسې ګناه او جرم کولای شئ چې پوليس اود نورو هيڅ خطر نه وي، پدې وخت کې هم بايد تاسې الله پاک راپه ياد کړئ اود هغه له ويرې دګناه او جرم څخه لاس واخلئ.

کله چې تاسې ددروغو، خيانت، او ظلم له لارې ښه پرېمانه ګټه تر لاسه کولای شئ او څوک ستاسې لاس نيوونکې هم نه وي خو تاسې د الله پاک څخه ويره او خوف وکړئ او د هغې ګټې څه پدې خاطر تير شئ چې الله پاک په هغې خفه او ناراضه کېږي.

کله چې رښتيا اوامانت تاسې ته په ښکاره تاوان اوزيان رسوي خو تاسې هغه زيان او تاوان ومنی خاص پدې خاطر چې پدې سره الله پاک خوشحالېږي.

دنيا خوشي کول او په کنج کې کېناستل او تسبيح اچول يواځې عبادت ندی بلکې د دنيا په کارونو کې د الله پاک د قانون پابندي کول عبادت دی.

د الهي ذکر مطلب دا ندې چې په خوله الله، الله تکرار کړئ بلکې اصلي او حقيقي ذکر دا دې چې تاسې ددنيا په کارونو کې هم الله پاک له ياده ونه باسئ او هر وخت درته په ياد وي، هغه کارونه چې انسانان دالله پاک څخه بې پروا او غافله کوي تاسې په هغې کې هم له الله پاک څخه بې پروا او غافله نشئ.

د دنيا په ژوندون کې ډير داسې وختونه او چانسونه راځي چې د الله پاک د قانون په ماتولو سره ډيرې زياتې ګټې تر لاسه کېږي او په پابندئ باندې تاوان رسېږي خو هلته الله پاک يادول او د هغه په قانون باندې پابندي کول عبادت وي، همدا دی په اصل کې د الله پاک يادول، د همدې نوم دی الهي ذکر، دهمدی ذکر په لوري قرآن مجيد اشاره کړيده.

﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَٱبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ وَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٠﴾ ﴾ الجمعة: ۱۰

يعنی کله چې لمونځ ختم او خلاص شي نو په ځمکه کې خپاره شئ، دالله د فضل يعنی حلال رزق په ګټلو پسی هڅه پيل کړي او الله پاک زيات يادوئ ترڅو تاسې کامياب شئ.

## د لمانځه ګټې اوفائدی

د عبادت دا مطلب او مفهوم په ذهن کې وساتئ او بيا غور اوفکر وکړئ چې دداسې لوی او ستر عبادت د سرته رسولو لپاره چې کوموشيانو ته اړتيا ده هغه لمونځ په څه توګه په انسان کې را پيدا کوي.

## ۱- د بندګی احساس

تر ټولو مهمه خبره داده چې بيا بيا تاسې ته داپه ياد شي چې زه د الله پاک بنده او غلام يم.

اودهغه بندګي به په هر حالت کې کوم، د دې يادونی اړتيا ځکه پيدا کيږي چې ستاسې په نفس کې شيطان ناست دی او هر وخت دا درته وايي چې ته ځما بنده او غلام يې، په لکونو او ميليونونو شيطانان په دنيا کې هر لوري ته خپاره شويدي او هر يو همدا وايي چې ته زما بنده يې.

د دې شيطانانو طلسم او جادوتر هغې نه ماتيږي تر څو چې انسان ته په شپه او ورځ کې څو ځلې دا وريـاد نکړل شي چې تـه پرته د الله پاک څخه د بل چا بنده او غلام نه يې، او همدا يادول لمونځ سرته رسوي.

سهار وختي چې له خوب څخه راپورته شئ نو دا خبره در په یادوي، کله چې د ورځې په دنیوي کارونو کې بوخت او مصروف یاستی،درې ځلې لمونځ دا خبره درپه یادوي او کله چې د خوب لپاره پورته کېږئ نو یو ځل بیا لمونځ دا خبره در په یاد وي .دا د لمانځه لومړی گټه اوفایده ده او په قرآن مجید کې لمانځه ته په همدې خاطر ذکر ویل شویدی یعنی داد الله پاک یاد اوذکر دی.

## ۲- مسؤلیت او خپله دنده پېژندل

ځرنگه چې په ژوندون کې تاسې ته په هر قدم او هرگام کې دالله پاک دحکمونو عملي کول اړین دي نو د دې لپاره پکار دی چې په تاسې کې دخپلې دندې، مسؤلیت اووظیفی پېژندلو احساس را بېدار شي او د دې سره سره په تاسې کې د مسؤلیت او وظیفی داداء کولو اوپوره کولو عادت اوخوی هم راپېدا شي.

څوک چې مسؤلیت اووظیفه نه پېژني هغه هېڅکله د احکامو اطاعت اوپابندي نشي کولای، او هغه څوک چې مسؤلیت اووظیفه پېژني خو د اداء کولو پروایې نکوي نو د هغه څخه هم داتمه او اُمید نشته چې هغه به په شپه او ورځ کې دا په سل گونو احکام په ښه توگه پوره کړي.

## ۳= د اطاعت تمرین اومشق

کومو کسانو چې په پوځ یا پولېسو کې کار کړی وي هغوی پدې خبره ډیر ښه پوهېږي چې پدې دواړو وظیفو اوکارونو کې د کار د کولو لپاره هغوی ته په څه ډول تمرین،مشق او ټریننګ

ورکول کېږي، په شپه او ورځ کې څو ځلې شپېلاق وهل کېږي اوپوځيانو ته په يو ځاى کې د راټولېدوحکم اوامر کېږي.

بيا ورباندې تمرين او مختلف قسم سخت کارونه سرته رسوي. دا ټول پدې خاطر ورباندې پرله پسې تکرارېږي چې په هغوى کې د حکم د پرځاى کولو عادت اوخوى جوړ شي، کوم کسان چې ددې تربيت، تمرين او ټريننګ په دوران کې بې کاره، لټ اود حکم نه منوونکې ثابت شي هغوى له کار او وظيفى ګوښه او لرى کيږي.

په همدې توګه لمونځ هم په شپه اوورځ کې پنځه شپېلا قه وهي تر څو د الله پاک پوځيان چې کله هغه اواز واوري نو له هرى خوا څخه رامنډه کړي، يو ځاى ته راټول شي او دا خبره ثابته کړي چې مونږ دالله پاک حکم او امر منلو ته تيار او چمتو يو. کوم کسان چې د آذان په اوريدو سره بيا هم کرار ناست وي او حرکت نکوي نو دوى خو يا خپل مسؤليت نه پېژني يادا چې دومره بيکاره، لټ او نالايق دي چې دوى بايد دالله پاک په پوځ کې پرينښودل شي.

نبيﷺ له همدې امله فرمايلي دي چې کوم کسان د آذان اوريدلو سره سره لمانځه ته د خپلو کورونو څخه نه راوځي ځما زړه داغواړي چې ولاړ شم او د هغوى کورونو ته اور واچوم. او همدا لامل دى چې نبي عليه السلام لمونځ د کفر او اسلام تر منځ د بيلتون نښه او علامه ښودلى ده.

د رسول اللهﷺ او صحابه کرامو په دوره کې هغه څوک مسلمان نه بلل کېده چې د جماعت لمانځه ته به نه راتللو، آن چې ښکاره منافقانو به هم د دنيا د کارونو په خاطر په جماعت

لمانځه کې ګډون کولوچې رسوا نشي، قرآن مجید منافقان پدې ندي ملامت کړي چې هغوی لمونځ نکوي بلکې پدې يې ملامت کړي چې په اخلاص او صداقت سره لمونځ نکوي بلکې په بد زړه او ناخوښۍ سره لمانځه ته پورته کېږي. قرآن مجید فرمايي:

﴿وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ ﴿١٤٢﴾﴾ النساء: ۱٤۲

کله چې لمانځه ته پورته کېږي نوسست اولټ پورته کېږي.

ددې څخه ښرګندیږي چې کوم کسان لمونځ نکوي هغوی مسلمانان نه بلل کېږي دا ځکه چې اسلام یوازې عقیدتي او فکري شی نه بلکې عملي نظام دی، داسې نظام چې هر وخت او هره لحظه به د عمل کولو او د کفر په خلاف د ودریدلو هڅه او کوښښ کوي.

د داسې سخت او کلک کار او عمل لپاره دې ته اړتیاده چې مسلمان هر وخت د الله پاک داحکامو عملي کولو ته چمتو او تیار وي، څوک چې داسې استعداد او لیاقت ونلري هغه د اسلام ندی پکار.

له همدې امله په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ فرض شو چې کوم کسان د اسلام او ایمان دعوه کوي دهغوی بیا بیا امتحان او ازموینه واخستل شي چې ایا په اصل او حقیقت کې دوی مسلمانان دي او که هسې خوشې د خولې دعوه کوي؟ ایا هغوی پخپل ژوند کې د الله پاک احکام عملي کوي او کنه؟ کوم کسان چې د الله پاک د بلنې اوغوښتنې اواز اوري او بیاهم له خپل ځای څخه حرکت نکوي نو ددې څخه په ښرګنده معلومیږي چې دوی پخپل عملي ژوند کې د اسلام منلوته تیار او چمتو

او چمتو ندي، د هغوی دا دعوه غلطه ده چې مونږ الله پاک او رسول اللهﷺ منو په همدې هکله قرآن مجید فرمايي:

﴿ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ ﴿٤٥﴾ ﴾ البقرة: ٤٥

دالمونځ سخت اودروند دی خوپه خاشعینوباندې ندی دروند.

یعنی هغه کسان چې دالله پاک اطاعت او بندګۍ ته تیار ندي په هغوی لمونځ سخت او ګران تماميږي. په چا چې لمونځ دروند او ګران شي نو دا د دې خبرې ثبوت دی چې هغه د الله پاک بندګۍ او اطاعت ته چمتو ندی.

## ۴- د الله پاک ځخه ویره پیدا کول

بل مهم شی دا لله پاک څخه ویره، ډار اوخوف په زړه کې پیدا کېدل دي، مسلمان تر هغې پورې په اسلام باندې عمل نشي کولای تر څو چې د هغه په زړه کې دا یقین او باور نوي چې الله پاک هغه هر وخت او په هرځای کې هم ویني، د هغه هر حرکت څاري، الله پاک په توره تیاره کې هم هغه ګوري او په یواځې او پټ ځای کې هغه څاري، د ټولې دنیا څخه ځان ساتل او ځان پټول آسانه دي خو د الله پاک څخه ځان ساتل سخت او ناممکن دي، د ټولې دنیا د سزاګانو څخه انسان ځان ساتلې او خوندي کولای شي خو د الله پاک له سزا څخه څوک نشي خوندی کېدای، همدا باور، یقین او اعتماد انسان د الله پاک د احکامو د سرغړونې او نافرمانۍ څخه ساتي. د همدې یقین او باور په بنسټ هغه د حلالو او حرامو فرق کوي کوم چې الله پاک د ژوند په مختلفو معاملواوچارو کې ټاکلې دي.

کله چې دا باور، یقین او اعتماد کمزورې یا سست شي نو بیا مسلمان په سمه او صحیح توګه اسلامي ژوند نشي تیرولی، په همدې خاطر الله پاک په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ فرض کړ تر څو مسلمان په زړه کې دا یقین اوباور بیابیا تازه او کلک کړي. قرآن مجید د لمانځه همدا فایده او ګټه بیان کړیده:

﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ﴾ العنکبوت: ٤٥

لمونځ انسان له بدۍ او بې حیایې څخه منع کوي.

که پدې خبره تاسې غور او فکر وکړئ نو خپله به پرې پوه شئ. د مثال په توګه: د لمانځه لپاره اودس کوئ او بیا روانیږئ، که تاسې ناپاکه او بې اودسه لمانځه ته ولاړ شئ، یا ستاسې جامې ناپاکې او نجسې وي یا داچې ستاسې اودس نه وي او تاسې ووایې زما اودس شته نو په دنیا کې تاسې څوک نیولی شي؟ خو تاسې دا کار نکوئ، دا ولې؟

دا کار پدې خاطر نکوئ چې پدې باور او یقین لرئ چې دا کار له الله پاک څخه پټ نشي پاتې کېدای!

په لمانځه کې تاسې په خفیه اوپټه توګه تلاوت کوئ که هغه تاسې ونه لولئ او یا دهغې پر ځای بل شي ولولئ نو څوک پرې خبریږي، خو تاسې دا کار نکوئ، دا ولې؟ ددې لپاره چې تاسې یقین او باور لرئ چې الله پاک هر څه اوري او هغه مونږ ته د خپل شارګ څخه هم نژدې اوقریب دی.

په همدې توګه تاسې په ځنګل او پټ ځای کې هم لمونځ کوئ، په کور کې چې کله یواځې وئ هم لمونځ کوئ، پداسې حال کې چې تاسې هېڅوک هم نه ګوري او هیچاته هم دا نه څرګندیږي چې هغه لمونځ ندی کړی، ددې لامل اودلیل څه دی؟

دا ځکه چې تاسې په پټه هم د الله پاک له مخالفت څخه ډار اوویره لرئ، او تاسې پدې ښه پوخ یقین لرئ چې دا ګناه او جرم دالله پاک څخه پټ نشي پاتې کېدای.

ددې خبرو څخه اوس تاسې اندازه کولای شئ چې لمونځ څه ډول دانسان په زړه کې د الله پاک ویره، ډار او دهغه دعلیم او خبیر ګڼلو باور او یقین راپېدا کوي او تل یې تازه ساتي.

تاسې په ۲۴ساعتونو کې څرنګه هر وخت د الله پاک بندګي او عبادت کولای شئ چې ستاسې په زړه کې د الله پاک ویره او ډار موجود نه وي. که لدې شیانو څخه ستاسې زړه خالي وي نو بیا دا امکان نلري چې تاسې دی د ژوند په ټولو معاملو کې په نیکۍ باندې کلک ولاړ اوله بدۍ څخه لاس په سر شئ.

## ۵- د الهي قانون څخه خبریدل

بل مهم شی چې د عبادت او بندګۍ لپاره پکار دی هغه دالله پاک له احکامو څخه خبریدل او پوهه ده، دا پدې خاطر چې که تاسې دهغه قانون اواحکامو څخه خبر نه یاستۍ نو دهغې اطاعت او پابندي به څرنګه کوئ؟ دا کار هم لمونځ سرته رسوي.

په لمانځه کې چې تاسې کوم قرآن مجید تلاوت کوئ دا دهمدې لپاره دی چې تاسې دهغې قانون څخه خبرشئ، د جُمعې دلمانځه خُطبه هم دهمدې لپاره ده چې تاسې د الهي احکامو څخه خبر شئ. د جماعت اوجمعې د لمانځه یوه لوی ګټه دا ده چې پرله پسې عام او پوه خلک یودبل سره یو ځای شي او د خپلو دیني احکامو او مسایلو څخه خبر شي خو داستاسې

بدبختي ده چې څه په لمانځه کې لولی دهغې په معنیٰ او مفهوم باندې نه پوهېږئ، تاسې ته خطبه هم پداسې شکل او طریقه درکول کېږي چې له هغې څخه تاسې هېڅ یادولې نشئ، په جماعت او جمعه کې هم پوهان او ناخبره د یو بل سره مسایل نه شریکوي.

لمونځ خوتاسې ټولو ته د دې فایدواو ګټو د تر لاسه کولووخت پلاس درکوي، چې تاسې دهغې څخه ګټه نه اخلئ نو ګناه دچاده؟

## ۶- د ټولنېزتوب تمرین اومشق

بل مهم شي پدې لاره کې دا دې چې مسلمان باید دژوند پدې طوفان کې یواځې او تنها نه وي بلکې ټول مسلمانان د یو قوي او کلک جماعت اوډلې په څېر دالله پاک عبادت او دهغه د احکامو پابندي اودهغه د قانون عملي کول سرته ورسوي، په نړۍ کې داسلامي قانون دعملي کولو لپاره ټول سره ملا وتړي او د یو بل سره کومکې او مرستندوی شي.

تاسې پوهېږئ چې د ژوند پدې میدان اولوبه کې یو لوري ته د الله پاک مخلص او مطیع بندګان یعنی مسلمانان او بل لوري ته د الله پاک څخه باغي او کافران ولاړ دي، شپه او ورځ د اطاعت او بغاوت تر منځ شخړه او کش مکش روان دی، باغیان د الله پاک قانون ماتوي او په نړۍ کې شیطاني قانون عملي کوي. که ددې لوی شیطاني او کفري طوفان او سیلاب په مقابل کې یو مسلمان یواځې ودریږي نو څه نشي کولای بلکې دې ته اړتیاده چې ټول مسلمانان سره یو لاس اویو موټې په ټولنېز ډول د دې بغاوت مقابله وکړي اوپه نړۍ کې الهي قانون نافذ کړي.

د دې اجتماعي او ټولنېز يوالي او وحدت پېدا کوونکې تر ټولو زيات لمونځ دی، پنځه وخته په جماعت سره لمونځ کول، بيا د جمعې ټولنه، بيا د اخترونو ټولنه دا ټول مسلمانان سره متحد او يو موټې ساتي او په هغوی کې عملي اتحاد را پېدا کوي چې په ورځني عملي ژوند کې يو د بل کومکې او مرستندوی کېدای شي.

# ۱۴
## په لمانځه کې تاسې څه لولئ؟

زما د اسلام ورونو!

ما مخکې ویلي وه چې لمونځ په څه ډول انسان د الله پاک عبادت او بندګۍ ته چمتو او تیاروي؟ ما چې څه ویلي وه د هغه څخه به تاسې ته دا ثرګنده شوی وي چې که څوک د لمانځه په معنیٰ او مطلب نه پوهېږي نو یواځې پدې خاطر لمونځ کوي چې دا فرض او د الله پاک حکم دی نو پداسې لمونځ کوونکې کې هم د الله پاک څخه ویره، الله پاک حاضر او ناظر ګڼل او د هغه په لوی دربار کې د ودریدلو او حساب ورکولو احساس را پېدا او ژوندي ساتي، د هغه په زړه کې د تل لپاره دا عقیده او یقین ژوندي وي چې زه پرته له الله پاک څخه د بل چا بنده او غلام نه یم او الله پاک زما اصلي او حقیقي پاچا، حاکم او واکدار دی. پداسې انسان کې د مسؤلیت د پوره کولو او د الهي احکامو د پرځای کولو استعداد او توان پېداکېږي، پداسې انسان کې پخپله هغه صفات او خویونه را پېداکېږي کوم چې د انسان ټول ژوند د الله پاک عبادت او بندګي ګرځوي.

اوس زه تاسې ته دا په ګوته کوم چې که کوم انسان ددې لمانځه په معنیٰ، مفهوم او مطلب باندې پوه شي او بیا یې د پوهې سره سره اداء کړي نو دهغه ایمان، یقین او باور به څومره قوي شي او د هغه د ژوند پانه به څومره واوړي.

## اذان او د هغه اغېزې

تر ټولو د مخه اذان راواخلئ، تاسې په یوه شپه ورځ کې پنځه ځلې دا کلمات او جملې تکراروئ:

الله اکبر – الله اکبر : الله تر ټولو لوی دی - الله تر ټولو لوی دی.

اشهدُ ان لا اله الا الله : زه شاهدي او ګواهي ورکوم چې پرته له الله څخه بل څوک د عبادت وړ او حقدار نشته.

اشهدُ ان محمدا رسول الله : زه شاهدي او ګواهي ورکوم چې محمد صلی علیه وسلم د الله رسول دی.

حی علی الصلوة :راشئ لمانځه ته.

حی علی الفلاح : راشئ کامیابۍ او برۍ ته. الله اکبر الله اکبر :الله تر ټولو لوی دی،الله تر ټولو لوی دی.

لا اله الا الله : د الله څخه پرته بل څوک معبود او د عبادت وړ او مستحق نشته.

تاسې وګورئ چې دا څومره ځواکمن او قوي اواز دی، دا اواز تاسې ته په شپه او ورځ کې پنځه ځله په څه ډول دا در په یادوي چې په ځمکه کې څومره واړه او لوی انسانان او نور چې د خدایتوب دعوه کوي هغه ټول دروغجن دي، په ځمکه او آسمان کې یواځې یو ذات دی چې هغه لوی دی، او هماغه لوی ذات د عبادت او بندګۍ وړ او حقدار دی، راشئ د هماغه لوی ذات عبادت او بندګي وکړئ، د هغه لوی ذات په عبادت او بندګۍ کې ستاسې برۍ، نجات او کامیابي ده. څوک به داسې وي چې دا لوی او قوي اوازو اوري اوبیاهم له ځای څخه ونه ښورېږي؟ دا څنګه امکان لري چې د چا په زړه کې دې ایمان وي

او هغه دی دومره لوی ، ځواکمن او قوی اواز او شاهدي واوري او بیا دې هم پخپل ځای هماغسې ناست وي او د خپل بادار او واکدار په وړاندې دې خپل سر ښکته نکړي؟

## اودس

ددې اواز په اوریدو سره تاسې پورته کېږئ لومړې خپل حالت گورئ چې زه پاک یم اوکه نا پاک؟ زما جامی پاکې دي که نا پاکې؟ زه اودس لرم او کنه؟ یعنې پدې باوراو یقین لرئ چې د کائناتو د خالق عبادت په هر حالت کې کېدای شي خو ددې لوی او عظیم پاچا په وړاندې په نا پاک بدن، نا پاکو جامو او بی اودسه ودریدل ډیره بې ادبي او سپین سترگي ده، په همدی خاطر تاسې د لمانځه څخه مخکې د خپل پاکوالي کوښښ کوئ یا غسل او یا اودس کوئ که تاسې د اودسه په دوران کې خپل غړي وینځئ او ورسره د الله پاک ذکر او یادونه هم کوئ او بیا په اخر کې هغه دُعا کوي چې نبي علیه السلام ښودلی ده، نو پدې اوداسه باندې به یوازې ستاسې غړي پاک نشي بلکې ستاسې ظاهر او باطن دواړه به پاک او صفا شي. د نبي علیه السلام هغه دُعا چې تر اوداسه وروسته لوستل کېږي داده:

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنْ التَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنْ الْمُتَطَهِّرِينَ.(رواه سنن الترمذي)

زه گواهي او شاهدي ورکوم چې پرته له یو لاشریک الله څخه بل څوک د عبادت وړ او حقدار نشته، او زه دا شاهدي او گواهي هم ورکوم چې محمد صلی علیه وسلم د الله بنده او پېغمبر دی،

يا الله ما په توبه كوونكو كې شامل كړه او ماله پاكوكسانوڅخه وګرځوه.

## نيت

ددې څخه وروسته تاسې د لمانځه لپاره پورته كېږئ مخ مو د كعبې شريفې په لورې دى، پاك او صاف د كائناتو د لوى پاچا په وړاندې ولاړ او حاضر ياستى، تر ټولو د مخه ستاسې له خولې څخه دا كلمات وځي الله اكبر - الله تر ټولو لوى او ستر دى، ددې لوى او څواكمن اقرار څخه وروسته تاسې خپل لاسونه تر غوږونو پورې پورته كوئ يعنې تاسې له دنيا او په هغې كې د هر شي څخه لاس په سر كېږئ، بيا لاسونه تړئ يعنې د خپل بادار، حاكم او واكدر په وړاندې په ادب سره ودرېږئ، ددې څخه وروسته بيا تاسې څو وړاند ېزونه كوئ.

## تسبيح

سبحٰنک اللهم و بحمدک وتبارک اسمک وتعالیٰ جدک ولا اله غيرک.

يا الله ستا پاكي بيانوم له هر ډول عيب څخه ، او ستا تعريف او صفت بيانوم ، ستانوم ډير بركتي دى او لوړ دى شان ستا ، او پرته ستا څخه بل څوک معبود او د عبادت حقداراووړ نشته.

## تعوذ

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم : زه د شيطان رټلى شوي څخه په الله پاک باندې د هغه له شرارت او لاس وهنې څخه پناه غواړم.

## بَسْمَلَه

بسم الله الرحمٰن الرحيم : پيل کوم د الله په نامه سره چې ډېر زيات مهربان او د رحم خاوند دى

## حمد

﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٢ :ټول ښه صفات الله لره دي چې پالوونکي د ټولو عالميانو او مخلوقاتو دى .

ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣ : ډېر زيات مهربان او ډير رحم کوونکي دى .

مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ۝٤ : د آخرت او د جزا او سزا د ورځې مالک او څښتن ( چې هلته فيصله کېږي او هر چاته به خپله بدله ورکول کېږي ).

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝٥ : اى الله! مونږ خاص ستا عبادت کوو او مونږ خاص ستا ځينې مرسته غواړو .

ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ۝٦ : مونږ ته نيغه او سمه لاره وښايه .

صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ : د داسې خلکو لاره چې تاپرې فضل او انعام کړى دى .

غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝٧ ﴾ :

په چا چې ستا غضب نوې شوى او څوک چې بې لارې او گمراه نوې .

امين : اى الله ! همداسې دى وي، اى مالکه ! زمونږ دا دعا قبوله کړه.

# د قرآن مجید مختلف سورتونه

## د العصر سورت

﴿ وَٱلۡعَصۡرِ ۝١ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ۝٢
په زمانه باندې قسم چې انسان په زیان او تاوان کې دی.
إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ
خو یواځې هغه کسان له زیان اوتاوان څخه بچ اوخوندي دي چې هغوی ایمان راوړی اونېک عملونه یې کړي.
وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ۝٣ ﴾
او هغوی چې یو بل ته یې په حق سره لارښونه کړې او یو بل ته یې په حق باندې تلقین کړیدی.

پدې مبارکو ایاتونو کې ددې درس او سبق ورکول کېږي چې انسان د زیان، تاوان او ناهیلۍ څخه هغه وخت خوندي او بچ پاتې کېدای شي چې ایمان راوړي، صالح او نېک عمل وکړي او یواځې پدې بسوالی ونکړي بلکې د ایمان لرونکو داسې یوه ډله او ټولگې جوړکړي چې په حق دین باندې د کېدو او پاتې کېدو لپاره د یو بل سره مرسته او کومک وکړي.

## د الماعون سورت

﴿ أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ۝١
ایا تاولېده هغه څوک چې د اخرت ورځ نه مني نو هغه به څرنگه سړی وي؟
فَذَٰلِكَ ٱلَّذِي يَدُعُّ ٱلۡيَتِيمَ ۝٢
داسې انسان یتیم رټي او ټیله کوي.

وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴿٣﴾

خپله بې وځلو ته خوراک نه ورکوي نور هم دې نه هڅوي چې هغوی ته خوراک ورکړي.

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ﴿٤﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ﴿٥﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ يُرَآءُونَ ﴿٦﴾ وَيَمْنَعُونَ ٱلْمَاعُونَ ﴿٧﴾

تباهي او هلاکت دی داسې لمونځ کوونکو ته چې ( داخرت د ورځې د انکار په وجه ) د خپلو لمونځونو څخه غافله او بې پروا وي او که لمونځونه اداء کوي نو دريا او ځان ښودنې لپاره يې کوي، او دهغوی زړونه دومره کوچني او تنګ دي چې په عادي شيانو ورکولو سره هم خفه او انديښمن کېږي.

ددې څخه دا درس او عبرت تر لاسه کېږي چې په آخرت باندې يقين لرل د اسلام روح او اصل دی، ددې يقين اوباور څخه پرته د اسلام په لاره څوک تللی نشي.

## د الهمزه سورت

﴿ وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ﴿١﴾

افسوس او ارمان دی دهغه چا په حال باندې چې د خلکو عيبونه لټوي او په خلکو پسې اوازونه کوي او ملنډې پرې وهي.

ٱلَّذِى جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُۥ ﴿٢﴾

هغه چې مال راټولوي او بيا يې شماري او حسابوي.

يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُۥٓ أَخْلَدَهُۥ ﴿٣﴾

هغه پدې هيله اوتمه دی چې دا مال به دده سره تل پاتې وي.

كَلَّا ۖ لَيُنۢبَذَنَّ فِى ٱلْحُطَمَةِ ﴿٤﴾

هيڅکله داسې نشي کېدای هغه به خامخا يوه ورځ مړکېږي او په حطمه کې به اچول کېږي.

وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْحُطَمَةُ ﴿٥﴾

ايا تا ته ځرګنده ده چې حطمه څه شی دی ؟

نَارُ ٱللَّهِ ٱلْمُوقَدَةُ ﴿٦﴾ ٱلَّتِى تَطَّلِعُ عَلَى ٱلْأَفْـِٔدَةِ ﴿٧﴾

د الله لمبی وهونکې آور دی چې د هغې لمبی په زړونو باندې را تاوېږي .

إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ ﴿٨﴾ فِى عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍۭ ﴿٩﴾

هغه لوړې لوړې ستنې چې د لمبو په شان به پدوی راتاووي.

لنډه دا چې تاسې د قرآن مجيد هر سورت چې لولئ په هغې کې به تاسې ته لوړ هدايات او لارښوونې درکول کېږي او تاسې ته به ويل کېږي چې د الله پاک احکام کوم کوم دي چې د هغې سره سم تاسې عمل وکړئ .

## رُکوع

ددې لارښوونو او هداياتو تر لوستلو وروسته يو ځل بيا تاسې الله اکبر لولئ او تر نمايې پورې ښکته کېږئ چې دې ته رکوع وايي : سبحان ربی العظيم : پاک دی رب زما چې ډېر لوی اوعظيم دی .

بيا نيغ اوسم ودرېږئ او دا وايئ : سمع الله لمن حمده: واوريده الله پاک اواز د هغه چاچې د ده حمد او صفت يې بيانولو او بيا ورپسې دا وايئ : ربنالک الحمد : اې زمونږ ربه! ټول ښه صفات تالره دي .

## سجده

بيا تاسې الله اکبر لولئ او ښکته پرځمکه خپل تندی ږدئ چې دې ته سجده وايي او په هغې کې بيا دا وايئ : سبحان ربی الاعلیٰ: پاک دی زما رب چې تر ټولو لوړ او پورته دی .

## التحيات

التَّحِيَّاتُ لِلَّه وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّه وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّه الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.(رواه صحيح البخاري)

بیا تر سجدو وروسته الله اکبر وایئ او په آدب سره کښېنئ او دا وایئ:

التَّحِيَّاتُ لِلَّه وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ

زموږ سلامونه، زموږ لمونځونه او ټولې پاکې خبرې الله لره دي

السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّه وَبَرَكَاتُهُ

سلام دې وي پرتا اې نبي ﷺ او د الله پاک رحمت او برکتونه.

السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّه الصَّالِحِينَ

سلام دې وي پرموږ او په ټولو نېکو او صالحو بندګانو د الله پاک باندې.

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ

زه شاهدي او ګواهي ورکوم چې پرته له الله څخه بل څوک د عبادت او بندګۍ وړ او حقدار نشته.

وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

او زه ددې ګواهي او شاهدي هم ورکوم چې محمد (ص) د الله بنده او رسول دی.

ددې وینا څخه وروسته تاسې د شهادت ګوته پورته کوئ دا ځکه چې دا په لمانځه کې ستا د ګواهۍ او شهادت اعلان دی چې د ژبې سره ستاسې لاس او ګوتې هم د هغې ګواهي ورکوي.

ددې څخه وروسته تاسې درود شریف لولئ:

اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ (مسند احمد)

اې الله رحمت وکړی په محمد ﷺ او د هغه په آل باندې لکه څرنګه چې تا رحمت کړی وو په ابراهيم ﷺ او په آل ابراهيم باندې، يقيناً ته د غوره صفاتو خاوند او ستايلی شوی يې، او اې الله برکت وکړه زمونږ په سردار حضرت محمد ﷺ او د هغه په آل باندې لکه څرنګه چې تا برکت کړی وو په ابراهيم ﷺ او په آل ابراهيم ﷺ باندې يقيناً ته دغوره صفاتو خاوند او ستايلی شوی ذات يې.

## دعا

رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ

اې الله راکړی مونږ ته په دُنيا کې ښه او غوره ژوند او په آخرت کې هم غوره او ښه ژوند او وساتې مونږ د آور له عذاب څخه.

## سلام

ددې دُعا په ويلو سره ستاسې لمونځ پوره شو اوس تاسې د خپل بادار او واکدار له دربار او حضور څخه بيرته ځئ او د تللو په وخت کې تاسې ښي لوري او چپ لوري ته ولو ناستو موجودو خلکو او ددُنيا د هر شي لپاره د رحمت او سلامتيا دعا کوئ او وايئ:

السلام عليکم ورحمةُ الله وبرکاتهُ:

سلام دی وي په تاسې او رحمت او برکت د الله دې وي پر تاسې . یعنې دا زیری دی د دنیا لپاره د الله پاک له دربار څخه د بیا راتللو اور خصت کېدوپه وخت کې .

دادی هغه لمونځ چې تاسې یې د خوب څخه د راپورته کېدو وروسته او د دنیوي کارونو له کېدو څخه مخکې اداء کوئ .

څو ساعتونه په دنیوي کارونو کې تر بوختیدو او مصروف کېدو وروسته د زوال کېدو څخه د لږ شاتته ځنډه وروسته بیا د الله پاک په دربار کې حاضرېږئ او همدا لمونځ اداء کوئ، بیا څو ساعته وروسته په ماذیگر کې همدا لمونځ اداء کوئ. بیا په دنیوي کارونو کې تر بوختیدو وروسته په ماښام کې همدا لمونځ اداء کوئ بیا چې کله د دنیوی کارونو څخه بالکل خلاص او وزګار شئ نو د خوب څخه مخکې د الله پاک په دربار کې حاضري ورکوئ چې ددې لمونځ خاتمه او پوره کېدل په وترو باندې کېږي چې په دریم رکعت کې یې تاسې یوه لویه اقرار نامه یا وینا لیک د خپل بادار او واکدار په مخکې وړاندې کوئ، دا دعای قنوت دی . د قنوت معنی ده د الله په وړاندې عاجزي او ښکته کېدل، دا طاعت او بندګۍ اقرار، دا اقرار تاسې څه ډول اداء کوئ . دا دعا تاسې ښه په غور سره واورئ .

## دُعای قنوت

اللهم انا نستعینک و نستغفرک ونؤمن بک ونتوکل علیک ونثنی علیک الخیر:

اې الله ! مونږ ستا څخه مرسته غواړو، او ستا څخه د ګناهونو ښښنه غواړو، پر تا ایمان راوړو، پر تا توکل او بروسه کوو، او ټول تعریفونه خاص تالره کوو .

ونشکرک ولانکفرک ونخلع ونترک من یفجرک :

مونږ ستا شکر او مننه کوو او ناشکري نه کوو، مونږ هر هغه څوک خوشي کوو او اړیکي ورسره شلوو چې ستا نا فرمان او بدي کوونکې وي .

اللهم ایاک نعبدُ ولک نصلی ونسجدُ والیک نسعیٰ ونحفدُ و نرجوا رحمتک و نخشيٰ عذابک ان عذابک بالکفار ملحق :

اي الله ! مونږ خاص ستا بندګي کوو، او خاص تا لره لمونځ کوو، او خاص تالره سجده کوو، او زمونږ ټول کوښښ او هلې ځلې خاص ستا لپاره دي، مونږ ستا د رحمت اُمیدواریو او ستا له عذاب څخه ویریږو، یقیناً ستا عذاب په کافرانو باندې پرېوتونکې دی .

## لمونځ او دانسان سیرت جوړیدل

زما د اسلام ورونو! لږ فکر او غور وکړئ، څوک چې د ورځې پنځه ځله اذان اوري او پدې پوهېږي چې دا د یو لوی شي شاهدي او ګواهي ورکول کېږي او د یولوی او عظیم الشان پاچا در بار ته خلک د حاضریدو لپاره غواړي او هغه څوک چې دا اواز هر وخت واوري، سمدستي خپل ټول کار او مصروفیت خوشي کړي او د لوی الله پاک په لوري منډه کړی کوم چې خپل بادار ، سردار او واکدار بولي .

او هغه څوک چې د هر لمانځه څخه مخکې خپل ځان، خپل لباس او خپل زړه پاک کړي او څوک چې په پوره هوښیارئ او پوهې سره په هر لمانځه کې بیا بیا هغه څه وایي کوم چې دلمانځه لپاره ټاکلې شویدي.

دا به څرنګه امکان ولري چې د هغه په زړه کې دې د الله پاک څخه ویره او ډار پیدا نشي؟
اوهغه به د الله پاک د حکمونو په مخالفت باندې ونه شرمېږي؟او د هغه روح به د ګناهونو او بدکاریو د داغونو سره سره د الله په دربار کې د حاضریدو په وخت کې ونه رپېږي ؟
دا څرنګه امکان لري چې یو انسان دې په لمانځه کې د الله پاک د بندګۍ اقرار وکړي، د هغه دا طاعت او منلو ژمنه دې وکړي، هغه دې دقیامت د ورځې مالک وبولي او بیاهم چې کله خپل کار او خپلې دندې ته راشي نو دروغ دې وايي؟ بې ایماني دې کوي؟ د خلکو حق دې خوري؟ د بې حیایې او فحاشۍ کار دې کوي؟ بیا دا د بدیو ټول باردې په سر پورته کړې د الله پاک حضور ته وړاندې کېږي او یو ځل بیا ددې خبرو اقرار او ژمنه کوي ؟
ایا د امکان لري چې تاسې په شپه او ورځ کې شپږدیرش (۳۲) ځله د الله پاک سره دا ژمنه کوئ چې مونږ ستا بندګي کوو او ستا څخه مرسته او کومک غواړو او بیا سره لدې هم د نورو بندګي کوئ ؟ او د نورو په دربارونو کې د مرستې او کومک لپاره لاسونه اوږدوئ ؟
یو ځلې که تاسې ژمنه او اقرار وکړ او بیا مو مخالفت وکړ نو په دوېم ځلې اقرار او مخالفت باندې تاسې خپل باطن او وجدان ملامتوئ او تاسې ته شرم او حیا ودرېږي، بیا چې تاسې اقرار او مخالفت کوئ نو شرم، حیا او ملامت والی ورسره زیاتېږي او خپل زړه او وجدان درباندې لعنت او ملامت وايي .
په ټول عمر کې دا څرنګه کېدای شي چې تاسې په شپه او ورځ کې پنځه ځله اقرار او ژمنه کوئ او بیا هم ستاسې کړه وړه

او اعمال سم او صالح نشي؟ ستاسي اخلاق او رویه سمه اوا صلاح نشي؟ ستا د ژوند پانه دی بدله نشي؟ په همدی خاطر الله پاک د لمانځه دا صفت او خصوصیت بیان کړیدی چې:

﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ﴾ العنکبوت: ٤٥

یقیناً لمونځ انسان له بی حیایې او بد کاری څخه ساتي.

خو که داسې څوک وي چې ددې لوی سموونکې او اصلاح کوونکې پروګرام سره بیا هم نه اصلاح کېږي نو دا به د هغه فطرت او باطن خراب او ناروغ وي نه دا چې لمونځ دا کمال نلري، دا د اوبو او صابن خرابي او کمزوري نده، دا د سکرو توروالې دی چې هغه یې تک تور کړیدی.

ورونو ! ستاسې په لمونځونو کې یوه غټه کمزوري او کمې شته، هغه کمې او کمزوري دا ده چې تاسې څه لولئ د هغې په معنیٰ، مفهوم او مطلب باندې نه پوهېږئ، که تاسې لږ شانته خپل وخت ورکړئ او د لمانځه په ټولو کلماتو او جملو باندې پخپله ژبه کې ځان پوه کړئ نو تاسې چې څه لولئ په هغې به پوهېږئ، دغه شي چې ژمنه او اقرار کوئ په هغې به بیا عمل کول درته اسانه شي.

# ۱۵
# په جماعت سره لمونځ

زما د اسلام ورڼو !

ما مخکې تاسې ته يواځې د لمانځه ګټې او فايدې بيان کړې چې د هغې څخه به تاسې ته دا څرګنده شوې وي چې دا عبادت پخپل ځای څومره قوي او ځواکمن شی دی، چې په څه ډول په انسان کې د بندګۍ کمال را پېدا کوي او بيا هغه د بندګۍ د حق اداء کولو ته چمتو کوي.

اوس زه تاسې ته د جماعت د لمانځه ګټې او فايدې بيا نوم چې د هغې په اوريدلو به تاسې ته څرګنده شي چې الله پاک په يو عبادت کې څومره دګټې اوفايدی شيان ايښی دي او دادهغه د فضل اواحسان برکت دی.

لومړې خو خپله لمونځ ډير لوی شی وو او بيا چې د هغه سره جماعت هم يو ځای شو نو د هغې ګټې او فايدی يې دوه چنده کړې او په هغې کې يې دومره توان او ځواک پېدا کړ چې د انسان د ژوند پاڼه بالکل بدلوي او پدې کې ورسره بل شي سيالي نشي کولای.

## لمونځ کوم صفات پېداکوي ؟

ما مخکې درته ويلي وه چې په ټول ژوند کې هر وخت خپل ځان د الله پاک بنده ګڼل ، د تابع غلام پشان د خپل بادار او سردار منوونکې جوړيدل او دخپل مالک د حکم د پر ځای کولو لپاره هر وخت ځان چمتو او تيار بلل اصلي او حقيقي عبادت

دی او لمونځ د همداسې اصلي او حقيقي عبادت لپاره انسان برابر وي، دا مې هم درته ويلي دي چې ددې لوی، ستر، حقيقي او اصلي عبادت لپاره چې کوم صفات او خويونه په انسان کې پکار دي هغه ټول لمونځ را پېداکوي لکه : د بندګۍ احساس، په الله پاک، نبي عليه السلام او د هغه په کتاب باندې ايمان او باور، د آخرت په ورځ يقين، د الله پاک څخه ويره او خوف، الله پاک په پټو او غيبو پوهيدونکې ګڼل، الله پاک خپل ځان ته هر وخت نژدې، حاضر او ناظر بلل، د الله پاک د حکم منلو لپاره هر مهال تيار او چمتو اوسيدل، د الله پاک له احکامو څخه ځان خبرول او داسې نور صفات لمونځ په انسان کې راپېداکوي چې بلاخره د هغه څخه يو حقيقي، اصلي او صحيح مؤمن بنده جوړيدای شي.

## پوره بندګي کول يواځې امکان نلري.

اوس تاسې فکر او غور وکړئ چې انسان هر څومره پخپل ځای کې کامل او پوره وي خو هغه په يواځې ځان د بندګۍ حق نشي اداء کولای تر څو پورې چې د هغه سره نور بندګان مرسته کوونکې نشي، د الله پاک ټول احکام نشي عملي کولايې تر څو پورې چې دهغه سره هغه کسان چې دده سره شپه او ورځ يو ځای وي او د هغه سره راکړه ورکړه لري دهغه مرسته کوونکې ونګرځي.

دُنيا ته خو انسان يواځې او ګوښې ندی راغلې او نه په يواځې ځان ټول کارونه کولای شي، د هغه ټول ژوند د خپلو ورونو، دوستانو، ګاونډيانو، معامله کوونکو او د ژوند د بې

شماره ملګرو سره په زرګونو اړیکو تړلی دی بله دا چې ټول احکام خو د یو سړي لپاره ندي نازل شوي بلکې دهمدی اړیکو د سموالي او اصلاح لپاره راغلي دي، اوس که دا ټول خلک د الله پاک د احکامو په پوره کولو او اداء کولو کې یو د بل سره مرسته وکړي نو ټول به منوونکې او غوره بندګان شي او که ټول په نا فرمانۍ او سرغړونه سره یو موټی شي یا دا چې د الله پاک د احکامو په عملي کولو کې د یو بل سره مرسته او کومک و نکړي نو د یو انسان لپاره د امکان نلري چې د الله پاک په ټول قانون دې پوره پوره اوسم عمل وکړي.

## په یواځې ځان د شیطان مقابله امکان نلري.

که چېرې تاسې قرآن مجید په غور او پوره توجه سره ولولۍ نو دا به درته ځرګنده شي چې د الله پاک حکم یواځې دا ندی چې تاسې په یواځې ځان د هغه منوونکې او عبادت کوونکې وګرځۍ بلکې ورسره ورسره دا حکم هم دی چې دنیا او نړۍوال د الله پاک بندګان او عبادت کوونکې وګرځوۍ، په نړۍ کې د الله پاک قانون خپور کړئ او عملي یې کړئ، د نړۍ په هر ګوټ کې چې د شیطان قانون چلېږي هغه ختم او ورک کړئ او دهغې پر ځای د یو او لاشریک الله قانون قایم کړئ، دا لوی او ستره د نده چې الله پاک تاسې ته سپارلې ده دا په یواځې ځان یو انسان نشي سرته رسولې او که په میلیونونو مسلمانان موجود وی خو هر یو بیل بیل کوښښ کوي او یو د بل سره مرسته نکوي نو د شیطان د پیروانو دا منظم ځواک نشي را پر زولې، په همدی خاطر دې خبرې ته اړتیا ده چې مسلمانان یوه ډله، یو اُمت، یو ملت او یو جماعت شي، یو د بل مرسته کوونکې شي، یو د بل

تکيه وګرځي او ټول سره يو ځای او يو موټې د يو موخې او هدف لپاره کار او فعاليت وکړي.

## د حکم اطاعت او منل اړين دي

کله چې تاسې په ژور او عميق نظر سره دې مسئلې ته وګورئ نو دا خبره به درته ځرګنده شي چې د دومره لوی موخې او هدف لپاره يواځې د مسلمانانو کامل او پوره کېدل بس او کافی ندي بلکې دې خبرې ته اړتيا ده چې دوی په سمه توګه سره يو ځای او يو موټې شي يعنې د مسلمانانو ټولې او جماعت داسې جوړ شي چې د هغوی ترمنځ خپل منځي اړيکې په سمه او صحيح توګه وي چې ځرنګه اړين او ضروری وي. د هغوی د اړيکو په منځ کې خرابي لاره پيدانکړي، په هغوی ټولوکې هم غړی وي، هغوی د يو مشر اويو سردار پيروي او اطاعت وکړي، دهغه د حکم په اساس په هغوی کې حرکت او خوزښت را پيداشي، هغوی پدې هم بايد پوه شي چې د خپل مشر او سردار اطاعت او مننه به تر کومه پورې کوي او د نه منلو او سر غړونی ځايونه کوم کوم دي.

## د جماعت د لمانځه ګټې او فايدې

دا ټولې خبرې په نظر کې ونيسئ او بيا وګورئ چې په جماعت سره لمونځ دا کارونه ځرنګه کوي.

### ۱- په يو اواز سره راټولېدل

حکم دا دی چې کله تاسې د اذان اواز واورئ نو خپل کارونه خوشې کړئ او جومات ته ولاړ شئ، د راټولېدو پدې اواز سره

ټول مسلمانان له هر لوري را روانېږي او يو مرکز ته راځي چې دا نظم او دسپلين يې د پوخ په شان دی .

پوځيان چې هر چېري وي چې کله د شپېلاق اواز واوري پدې پوهېږي چې مونږ خپل قوماندان رابولي، پدې اواز سره د ټولو په زړونوکې دا يو کېفيت راپېداکېږي چې د قوماندان د حکم اوامر منل او اطاعت کول اړين دي، د همدی فکر او کېفيت سره سم ټول يو کار کوي هغه دا چې له هرې خوا ځخه په منډه کېږي او يوټاکلي ځای ته راټولېږي .

په پوځ کې دا طريقه ولې غوره او ټاکل شويده؟ دا ددې لپاره چې په هر پوځي کې د حکم منلواحساس راپېداشي او د هغې حکم سره سم يوځای شي او يو ټولې، کنډک او غنډ جوړ کړی او په ټولو کې دا عادت او خوی کلک شي چې د قوماندان په يو اواز او شپېلاق سره خپل مرکز ته راټول شي ځکه چې کله يو کار او فعاليت ته اړتيا پېداشي چې هغوی ټول په يو اواز سره راجمع شي او هغه کارته ملا وتړي،که چېري دا عادت او خوی په هغوی کې پوخ نه وي او کله چې اړتيا را پېداشي هغوی هری خواته خپاره وي او راټولول يې يو مصيبت او کړاو شي، که چېري داسې بی باکه او خپل سري پوځيان په زرگونو هم وي نو د دښمن پنځوس کسيزه منظمه ډله يې بيل بيل ختمولای شي ځکه چې په هغوی کې د يو ځای والی عادت اوخوي نشته، د همدی لپاره په پوځيانو باندې هره ورځ همدا تمرين او ټريننگ کوي چې په راټلوونکې کې يې عادت او خوی وگرځي .

همدا طريقه د مسلمانانو لپاره هم ټاکل شويده چې کله د اذان اواز واوري ټول کارونه خوشی کړي او خپل نژدی جومات ته ځان ورسوي او د الله پاک د پوځيانو په شان کار وکړي. دا

تمرین، مشق او ټریننګ هغوی ته هره ورځ پنځه وخته ورکول کېږي ځکه چې دنړۍ د ټولو پوځونو څخه ددې پوځ دنده، وظیفه او کار سخت، کلک او زیات دی. نورو پوځیانو ته خو په کال یا میاشتو کې کله کار او فعالیت پېداکېږي او هغوی ددې لږ کار او فعالیت لپاره دومره تمرینونه او ټریننګونه کوي پداسې حال کې چې خداي او الهي پوځ ته هر وخت او هره ګړۍ د خپل ازلي او ابدي دښمن شیطان او د هغه د ملګرو سره جګړه او لانجه موجوده وي او هر وخت د خپل قوماندان امر او حکم منل ور په غاړه وي، دا ددوی سره اوس هم اسانتیا ده چې هغوی ته ددې پرله پسې او مسلسلې جګړې لپاره دومره کم تمرین او مشق ورکول کېږي یعنې پنځه وخته د اذان په اواز خپل جومات ته را ټولېدل.

## ۲- باهدفه او با موخې ټولنه

دا یواځې د اذان ګټه او فایده وه بیا تاسې په یو جومات کې را ټولېږئ چې دهغې بې شمېره ګټې او فایدې دي. کله چې تاسې جومات ته راټول شئ نو د یو بل سره ګوري، یو د بل سره پېژند ګلوي کوئ، پداسې حال کې چې تاسې ټول دیوالله بندګان یاستئ، د یو رسول او پېغمبر پیروان یاستئ، د یو کتاب منوونکي یاستئ، د ټولو د ژوند موخه او هدف یو دی، د یوې موخې او یو هدف د پوره کولو لپاره ټول راجمع شوی یاستي او کله چې ددې ځای څخه بېرته ولاړ شئ نو بیا هم همداسې کار کوئ ،دا ډول تمرین اومشق په تاسې کې دا عادت او خوي پخپله را پېداکوي چې تاسې ټول یو قوم یاستي، ټول د یو پوځ

پوځیان یاستئ. یو د بل ورونه یاستئ، په نړۍ کې ستاسې هېله، ستاسې موخه، ستاسې هدف، ستاسې تاوان او زیان او ستاسې گټې او فایدې سره شریکې او گډې دي او ستاسې ژوند یو په بل پورې تړلی دې.

## ۳- خپل منځي مرسته او کومک

بیا چې کله تاسې دیوبل سره وگورئ نو په غړولو سترگو یو بل گورئ، دالیدل او کتل د دښمن نه بلکې دیو دوست اوبل دوست او دیو ورور دبل ورور سره دي. کله چې تاسې یو ورور او دوست وگورئ چې د هغه جامې شلیدلې او زړې دي، اندیښمن او خفه دی، د لوږې څخه زیږه څېره لري، معذور، معیوب او بې وځلې دی، ړوند اوگوډ دی. پدې لیدلو سره ستاسې په زړونو کې خامخا زړه سوی او همدردي راپېدا کېږي، په تاسې کې چې څوک مالدار، شتمن او دوسې خاوند دي هغه په بې وځلو او غریبو خلکو رحم کوي، په غریبو کې د مالدارو سره دلیدو کاتو همت او جرئت پېدا کېږي.

څوک چې جومات ته رانشي د هغه حال سمدستي معلومېږي چې یا ناروغ دی او یا په بل کوم کړاو کې راگیر شویدی.

نوبیا دهغه پوښتنې او عیادت ته ورځي. کله چې د جومات د لمونځ کوونکو څخه څوک مړ یا وفات شي نو ټول د هغه دعا او جنازې ته ورځي او دهغه په غم او دردکې گډون کوي. دا ټولې خبرې په تاسې کې د خپل منځي همدردۍ، مرستې او کومک سبب گرځي او یو دبل مدد کوونکي در څخه جوړیږي. که داسې نه وي نو بیا به د یو بل څخه نه خبریږي چې په چا څه شوي او څوک چېرې ورک دی.

## ۴ - د پاک او سپیڅلی موخې لپاره راټولېدل

اوس لږ پدې خبره هم غور او فکر وکړئ، تاسې چې دلته راټول شوي یاستئ دا یو پاک ځای دی او تاسې د یو پاک هدف لپاره راټول شوي یاستئ، دا دغلو، لاره شکوونکو، شرابیانو او داړه مارانو ټولنه نده چې ټول د بد او خراب نیت سره راټول شوی وي بلکې داد الله پاک د بند ګانو او غلامانو ټولګی دی چې د الله پاک د عبادت او بندګۍ لپاره راټول شویدي، د الله پاک په کور کې ټول دهغه په وړاندې د خپلې غلامۍ او بندګۍ اقرار او ژمنه کوي.

پداسې ځای او داسې وخت کې خپله او خامخا د انسان په زړه کې په ګناهونو باندې شرم، حیا او خفګان پېداکېږي، خو که کوم چاد بل مسلمان وروړ په مخکې ګناه کړې وي او هغه هم دی جومات ته راشي نو چې کله ګنهګار هغه مسلمان وګوري یواځې په لیدلو سره هغه د شرم او حیا څخه ویلې کېږي او که پدې ټولنه او اجتماع کې د یو بل لپاره د خیر غوښتنې او نصیحت کار هم موجودوي بیا نو دا ټولنه او اجتماع ددې خلکو لپاره سراسر رحمت او برکت ګرځي او د یو بل دا اصلاح او سمون لپاره ښه مناسب وخت پلاس ورځي، پدې توګه یو مسلمان د بل مسلمان وروړ خرابي او غلطي په اسانه توګه اصلاح او لرې کولا ئ شي چې بلاخره دا ټولنه، ټولګی او جماعت د نېکو او صالحو بندګانو ډله جوړېږي چې نورو ته یې هم خیر او برکت رسېږي.

## ۵ - وروري

دا یواځې په جومات کې د راټولېدو برکتونه، ګټې او فایدې وې، اوس وګورئ، چې په جماعت سره په لمانځه اداء کولو کې څومره ګټې ، فایدې او برکتونه شته .

تاسې په لمانځه کې ټول په یو صف او یوه لیکه کې یو د بل سره برابر او مساوي ودرېږئ، نه په تاسې کې غټ شته او نه کوچنې، نه د لوړې مرتبې خاوندان ، د چا پلاس لګولو او یا نژدې کېدلو سره یو بل نه نا پاکه کېږئ . ټول پاک او صفا دي ځکه چې ټول انسانان دي، ټول د یو الله پاک بندګان دي او د یو دین منوونکې دي . په تاسې کې د قومونو، ژبو، رنګونو، کورنیو او هېوادونو فرق او توپیر هم نشته دی، څوک په تاسې کې سیدان دي، څوک پښتانه دي، څوک ازبک، څوک تاجک، څوک هندوستاني او څوک ایراني دي، د چا ژبه یوه ده او د چا بله، خو ددې ټولو فرقونو او توپیرونو سره سره تاسې ټول په یو صف او لیکه کې ولاړ یاستئ او د الله پاک عبادت په شریکه او په ګډه کوئ، ددې معنی او مطلب خو دادی چې، تاسې په اصل کې یو قوم، یو نسب او یو خلک یاستئ، ددې څخه دا هم څرګندیږي چې دا قومي، ژبني، جغرافیوي او رنګي ویش او تقسیم ټول د روغ او دوکه ده . ستاسې په منځونو کې لوی او غټ اړیکې د الله پاک بندګي او د هغه عبادت دی، کله چې تاسې ټول پدې کار کې سره یو وئ نو بیا دا بیلتون په څه کې دی؟

## ۶ - په حرکتونو کې یو شانته والې

کله چې تاسې په یو صف کې اوږه په اوږه سره نژدې لاس په نامه ودریږئ نو ددې څخه داسې څرګندیږي چې یو منظم پوځ د

خپل پاچا په وړاندې په آدب سره ولاړ دی، په یو صف کې خوا په خوا ودریدل اویو ځای ښکته پورته کېدل ستاسې په زړونو کې یوالې او اتحاد پېداکوي، دا کار په تاسې کې دا عادت او خوی پېداکوي چې تاسې ټول د الله پاک د عبادت او بندګۍ سره یو موټې او متحد شئ، ټول یو ځای پورته کېږۍ او ښکته کېږۍ، د ټولو پښې دې یو ځای مخ په وړاندې ځي، تاسې جلا جلا او بیل نه بلکې د یو وجود او یو بدن پشان یاستۍ.

## ۷ - دعاګانې

ددې صفونو اولیکو تر ترلو او جوړولو وروسته تاسې ټول په ګډه او شریکه خپل لوی او عظیم الشان بادار او مالک ته دا رنګه وړاندېز کوئ:

ایاک نعبدُ وایاک نستعین : ای الله! مونږ خاص ستا عبادت کوو اومونږ خاص ستا ځینې مرسته غواړو.

اهدناالصراط المستقیم : مونږ ته نیغه او سمه لاره وښایه.

ربنا ولک الحمد : ای زمونږ ربه! تالره ټول ښه صفات دي.

السلام علینا وعلی عبادالله الصلحین: په مونږ ټولو دې سلامتي وي او د الله په نېکو بندګانوباندې هم.

اسلام علیکم ورحمة الله : په تاسې ټولو دی سلامتي او رحمت د الله پاک وي.

ددې معنیٰ، مطلب او موخه دا شوه‌چې تاسې ټول د یو بل خیر غوښتونکې یاستۍ، ټول په ګډه او شریکه د خپل رب څخه د یو بل خیر او نېکۍ غواړي، تاسې یواځې یواځې او بیل بیل نه یاستۍ، په تاسې کې هېڅ یو هم خپل ځانته څه نه غواړي

بلکې د ټولو دُعا او غوښتنه دا وي چې په ټولو باندې دې د الله پاک فضل وي، ټولو ته دې د الله پاک په سمه او نیغه لاره د تللو توفیق په نصیب شي او ټول دی د الله پاک په سلامتی کې شامل شي. پدې توګه د جماعت لمونځ ستاسې زړونه سره پیوندوي، ستاسې په فکرونو کې یو شانتوالې را پېداکوي او په تاسې کې د خیر غوښتنی اړیکې او احساس را ژوندې کوي.

## جماعت له امام څخه پرته نه کېږي

خو ګورئ چې د جماعت لمونځ له امام څخه پرته نه کېږي، که چېرې دوه کسان هم د جماعت لمونځ کوي نو یو پکې امام او بل یې مقتدی وي. کله چې جماعت ودرېږي بیا بیل او یواځې لمونځ کول بند او سخت منع دي بلکې دا لمونځ له سره نه اداء کېږي، هر څوک چې راځي د همدی ولاړ امام شاته به ودرېږي.

دا کارونه یواځې د لمانځه لپاره ندي بلکې پدې سره مسلمانانو ته سبق او درس ورکول کېږي چې که مسلمان مسلمانی ژوند تیرول غواړي نو باید یوه ډله او یو ټولګې اوسي، ستاسې ټولګی او ډله تر هغې نه صحیح کېږي چې تر څو امام و نلرئ او کله چې تاسې جماعت شوئ نو بیا د هغې څخه بیل والې او جلاوالې دا معنیٰ لری چې ستاسې ژوند د مسلمانئ ژوند نه پاتې کېږي.

## د امامت نوعیت او حقیقت

یواځې پدې بسوالی ندی شوی بلکې په جماعت سره د امام او مقتدیانو ترمنځ اړیکې هم پېدا شوي دي چې لدی څخه تاسې ته څرګنده شي چې ددې کوچنې جومات څخه دباندې

پدې لوی جومات (ځمکه) کې د امام حیثیت، شان او درجه څه ده؟ دهغه مسؤلیت څه دی؟ دهغه حقوق څه دي؟ تاسې به په څه ډول د هغه اطاعت او مننه کوئ؟ او په کومو کارونو کې به یې اطاعت نکوئ؟ که چېري غلطي او خطاء وکړئ نو تاسې به څه کوئ؟ تر کومې اندازې پورې به تاسې د هغه په غلطئ کې هم اطاعت کوئ؟ تاسې په کوم وخت کې د هغه غلطي نیولای شئ؟ کله ورڅخه ددې غوښتنه کولای شئ چې خپله غلطي او خطا اصلاح کړي؟ او په کوم وخت کې تاسې هغه‌له امامت څخه لرې کولای شئ؟ دا ټول کارونه په یو کوچني جومات کې ددې لپاره په شپه او ورځ کې پنځه ځله اداء کېږي چې تاسې ته ددې مشق او تمرین درکړي چې د لوی حکومت او نظام چلول څه ډول پکار دي

## د امامت شرایط او ادبونه

دلته هغه ټول شیان نشو بیانولې خو لوی او غټې غټې خبرې به وړاندې کړم.

## ۱ – متقي او پرهیزګار

حکم دادی چې هغه څوک دی امام وټاکل شي چې پرهیزګار او متقي وي، علم او پوهه یې زیاته وي، په قرآن مجید زیات پوهېږي او عمر یې هم له نورو څخه زیات وي. په نبوي حدیث کې ددې ترتیب هم ښودل شویدی چې کوم کوم صفات دی مخکې وي . د همدی څخه مونږ ته دا ښودنه او تعلیم راکول کېږي چې مونږ به خپل مشر او سردار څوک او څه ډول انسان ټاکو، په هغه کې باید کوم کوم صفات موجود وي.

## ۲ - د زیاتو خلکو خوښه او رضا

حکم دادی هغه څوک باید امام نشي چې د جماعت زیات کسان ورڅخه نا خوښي او نا راضه وي، لږ زیات مخالفت خو د هر چا سره وي خو که د جماعت زیات او اکثریت خلک د چاڅخه نا خوښه وي هغه دې امام نه ټاکل کېږي. ددې څخه دا ښوونه او تعلیم مسلمانانو ته ورکول کېږي چې د سردارۍ او مشرۍ لپاره باید زیات خلک قانع وي.

## ۳ - د مقتدیانو خیر غوښتونکې

حکم دادی چې کله څوک امام وټاکل شي هغه باید پداسې طریقه لمونځ اداء کړي چې په جماعت کې د ګډون کوونکو څخه کمزورې او ناتوانه سړی هم په نظر کې وساتي او د هغه رعایت وکړي. یواځې د ځوانانو،روغو او قوي خلکو لپاره لوی لوی سورتونه، اوږدې اوږدې رکوع او سجدې ونکړي. بلکې دا باید په نظر کې وساتي چې پدې جماعت کې بوډاګان، کمزوري، ناروغان او داسې مشغول او بوخت خلک هم شریک دي چې هغوی سپک لمونځ کوي اود خپلې وظیفې او کارپسې درومي.

نبيﷺ پدې هکله دومره نرمي او مهرباني کوله چې په لمانځه کې به یې د کوم ماشوم او کوچني ژړا واوریدله نو لمونځ به یې لنډولو چې که د هغه کوچني مور په لمانځه باندې ولاړه وي چې د هغې زړه ته درد او تکلیف ونه رسېږي. پدې توګه د قوم او ملت مشرانو او سردارانو ته تعلیم او ښوونه کوي چې که تاسې ته دا دنده او وظیفه وسپارل شي نو د ملت د ټولو خلکو خیال به ساتۍ او د هریو رعایت به کوئ.

## ۴ – دعذر په حالت کې خپل ځای خالي کول

حکم دادی چې کله د لمانځه په دوران کې امام ته څه داسې تکلیف او عذر پیښ شي چې نور لمونځ نشي اداء کولای نو سمدستي دی خپل ځای خوشی کړي او پخپل ځای دې بل څوک ودروي. پدې ځای کې هم د قوم مشر او سردار ته دا ښوونه او تعلیم ورکول کېږي چې کله د قیادت، مشرۍ او سردارۍ کار سرته نشي رسولای نو خپله دې شاته شي او بل اهل او وړکس دې رامخ ته کړي، پدې کې نه شرم شته او نه خپل غرض او موخه.

## ۵ – د امام پوره او کامل اطاعت

حکم دا دی چې د امام به پوره او کامل اطاعت او پېروي کېږي، د هغه نه مخکې تلل راتلل او حرکت کول سخت منع دي، آن تر دې چې که څوک د امام څخه مخکې رکوع او سجدې ته ولاړ شي نو په حدیث شریف کې راغلي چې هغه به د خر په څېر راپورته کړای شي پدې کې قوم، رعیت او ولس ته دا ښودل شوي چې تاسې به د خپل ټاکلی شوي آمېر او امام اطاعت او منئه په پوره او مکمله توګه کوئ.

## ۶ – په غلطۍ باندې ګوت نیونه

که امام په لمانځه کې غلطي، سهوه یا خطاء وکړي لکه: دولاړۍ پر ځای کېني، یا د ناستی پر ځای ودرېږي، نو حکم دا دی چې د سبحان الله په ویلو سره هغه پوه کړي چې غلطي درڅخه وشوه. د سبحان الله معنیٰ داده چې الله پاک دی او ته

انسان يې د انسان څخه غلطي او خطاء كېږي او دا كومه د حيرانتيا او شرم خبره نده، دا دامام د خبرولو او گوت نيونې طريقه ده، امام ته هم حكم دادی چې كله گوت نيونه او توكل واوري سمدستي خپله غلطي اصلاح او سمه كړي كه چېرې شاته كسان په شک كې پرېوتي وي نو بيا دې پخپل يقين باندې عمل وكړي، پدې وخت كې مقتديانو ته حكم دا دی چې هغوی به يې مننه او پېروي كوي . د لمانځه څخه وروسته مقتدي دا حق لري چې امام ته د هغه غلطي په گوته كړي او كه ثابته شوه نو بيا دی لمونځ له سره وگرځوي پدې شرط كه په هغه غلطۍ لمونځ فاسد شوې وي .

## ۷ - په گناه او معصيت كې اطاعت نشته.

د امام او مقتدي ترمنځ دا ډول رويه تر هغې پورې ده چې د امام غلطي كوچنۍ وي، خو كه امام د نبوي سنتو په خلاف د لمونځ طريقه بدله كړي يا قرآن مجيد قصداً غلط ووايي يا د لمانځه په حالت كې كفر، شرک يا ښكاره گناه وكړي نو مقتديان بايد سمدستي لمونځ مات كړي او د هغه څخه جلا شي . دا ټول هغه لارښوونې او تعليمات دي چې مسلمانانو ته وركړل شوی چې ستاسې په ژوندانه كې بايد عملي شي.

گرانو ورونو ! تاسې به ددې څخه معلومه كړی وي چې الله پاک پدې يو عبادت كې څومره گټې او فايدې ايښې دي چې په شپه او ورځ كې پنځه وخت اداء كېږي، په څرنگه حكيمانه طريقه يې ددنيا او اخرت خير او گټه يكې راجمع كړی، په څه ډول دا يو عمل او كار د ټولو نېک بختيو او خوشحاليو

رانغاړونکې دی او په څه ډول تاسې د الله پاک غلامۍ او د نړۍ واکدارۍ ته چمتو او اماده کوي.

## ۱۲
## لمونځونه ولې بې اغېزې شویدي ؟

زما د اسلام ورونړو !

زه نن تاسې ته دا ویل غواړم کوم لمونځ چې دومره ګټې او فایدې او برکت لري نو بیا ولې زمونږ لمونځونه مونږته دا ګټې، فایدې او برکتونه نه رسوي؟ څه خبره ده چې تاسې لمونځونه هم کوئ او بیا هم ستاسې ژوند نه سمېږي او نه اصلاح کېږي؟ سره لدی هم ستاسې اخلاق نه پاکېږي؟ سرهٔ ددې هم تاسې یو الهي پوځ نه ګرځئ؟ سره ددې هم کفار پر تاسې غالب او برلاسې دي؟ سره ددې هم تاسې په نړۍ کې بې وځلې او ذلیل یاستئ؟ ددې پوښتنو ځواب خو دا هم کېدای شي چې تاسې له سره لمونځ نکوئ او که اداء کوئ یې هم نو په هغه طریقه یې نکوي کومه چې الله پاک او نبي علیه السلام تاسې ته ښودلی ده . نو پدې وجه تاسې لدی لمانځه څخه هغه هبله او ثمه مه ساتئ کومه چې یو مؤمن د معراج او کمال درجې ته رسوي . زه پدې پو هېږم چې دا لنډ ځواب تاسې نشي ډاډه کولای نو زه غواړم په پوره توګه تاسې ته دا خبره په ډاګه او څرګنده کړم .

### د ساعت مثال

کوم ساعت چې ستاسې مخامخ په دیوال کې ځوړند دی، پدې کې ډېرې پرزې او سامانونه یو له بل سره نښتی دي، کله چې دی ته کوک (یا بطري) ورکړل شي نو دا ټولې پرزې او

سامانونه کار پیل کړي، ددې د کار او حرکت سره سم د ساعت پرمخ چې کوم سپین کاغذ یا سپین مخ پروت دی په هغې باندې د ساعت ستنې حرکت او خوزښت پیل کوي چې دا ستنې ثانیه، دقیقه او ساعت خلکو ته ښیي.

اوس تاسې فکر او غور وکړئ چې ساعت د څه لپاره جوړ شوي؟ ددې لپاره چې صحیح او سم وخت خلکو ته په ګوته کړي، په همدې خاطر په هغې کې دا ټولې پرزې او سامانونه ځای پر ځای شویدي چې خپل کار په ښه او سمه طریقه سره پوره کړي، هره پرزه او هر سامان هغه کار او هومره کار وکړي چې د سم او صحیح وخت ښودلو لپاره اړین وي. بیا ددې لپاره د کوک یا بطرۍ اچولو طریقه هم ټاکل شویده تر څو دا پرزې او سامانونه له حرکت او خوزښت څخه پاتې نشي او تل یې په حرکت کې وساتي.

کله چې ټولې پرزې، سامانونه او بطرۍ یا کوک په سمه طریقه سره په کار واچول شي نو بیا ساعت خپل هغه اصلي کار کوي د کوم لپاره چې جوړ شویدی.

که تاسې روغ اوجوړ ساعت ته کوک یا بطرۍ ورنکړئ نو هغه وخت نه په ګوته کوي، یا دا چې تاسې کوک یا بطرۍ ورکړئ خو غلط او خرابه نو بیاهم هغه کار نکوي یا که کار کوي نو وخت سم نه ښایې. که تاسې لدی ساعت څخه څه پرزې او سامان وباسۍ او بیا کوک او بطرۍ ورکړئ نو بیا هم ساعت هیڅ کار نکوي، که تاسې پدې ساعت کې د بل ماشین پرزې او سامانونه واچوئ نو هغه به هم کار ورنکړي، یا تاسې ټولې پرزې او سامانونه یو له بل څخه بیلې او خلاصې کړئ او بیا

هغې ته کوک یا بطرئ ورکوئ نو هېڅ پلاس نه درځي. پداسې حال کې چې ټولې پرزې شته، بطرۍ او کوک شته خو بیا هم کار نکوي او نه وخت په گوته کوي، ددې لامل دادی چې د پرزو او سامان تعلق، اړیکې اونښلول تاسې له منځه وړي او غلط کړي ځکه نو هغه کار نکوي

ما چې تاسې ته څه وویل که دا کارونه همداسې وشي خو د بهر څخه چې څوک ساعت ته گوري نو هغه پدې نه پوهېږي چې دا ساعت ندی یا تاسې پکې بطرۍ نه ده اچولې یا مو کوک ندی ورکړی هغه خو په لیدلو سره دا فکر کوي چې دا ساعت دی او د هغې څخه هېله او تمه لرئ چې سم او صحیح وخت به په گوته کوي . که هغه له لرې تاسې وگورئ چې ساعت ته کوک ورکوی یا بطرۍ پکې اچوي نو هغه هېله کوئ چې ددې څخه وروسته به د هغې پایله خامخا راوځي.

تاسې ووایي چې دا ساعت چې له لرې ساعت ښکاري ایا سم او صحیح وخت ښودلی او په گوته کولای شي ؟

## د اسلامي امت موخه او هدف

کوم مثالونه چې ما ستاسې په وړاندې بیان کړل د هغې څخه تاسې په ټوله مسئله او معامله باندې پوهیدلا ی شئ، تاسې اسلام د یو ساعت په شان وگڼۍ، لکه څرنگه چې د یو ساعت وظیفه او دنده سم او صحیح وخت ښودل دي په همدی ډول د اسلام موخه او هدف دادی چې تاسې په ځمکه کې د الله پاک خلیفه، نائب، په خلکو گواه او په نړۍ کې د حق بیرغ پورته کوونکې او د حق لوري ته د عوت او بلنه ورکوونکې و گرځۍ. خپله هم د الله پاک په حکم عمل وکړئ او په ټولو باندې د الله

پاک حکم عملي کړئ، او ټول د الله پاک د حکم تابع وګرځوئ.
همدی موخي او هدف ته قرآن مجيد په څرګندو ټکو کې اشاره
کړېده فرمايي:
﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ﴾ آل عمران: ۱۱۰
تاسې غوره او بهتر امت ياستي چې د خلکودخيرلپاره را
ويستل شوی ياستئ، ستاسې کار دا دی چې ټولو انسانانو ته د
نېکۍ حکم ورکړئ او له بدۍ څخه يې منع کړئ او په الله باندې
ايمان و لرئ.
﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ ﴾
البقرة: ۱۴۳
او پدې توګه مو تاسې يو غوره او بهتر امت وګرځولئ تر څو
تاسې په خلکو ګواه او شاهد اوسئ.
﴿ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ ﴾ النور: ۵۵
الله وعده کړي ده د مئومنانو سره چې، ستاسې څخه ايمان
راوړي او نېک عمل وکړي ددې خبرې چې هغوی به خامخا پدې
ځمکه کې خليفه ګان ګرځوي.
﴿ وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ ﴾ البقرة: ۱۹۳
او لدوی سره و جنګېږئ تر هغې پورې چې فتنه او فساد ختم
شي او اطاعت په مکمل او پوره ډول د الله لپاره شي.

**اسلامي احکام يو له بل سره تړلي شوي لکه د ساعت پرزې.**

د پورتني موخي او هدف د پوره کولو لپاره الله پاک هغه
ټولې پرزې او سامانونه سره يو ځای کړي چې دا موخه او هدف

پوره کولا ئ شي لکه څرنگه چې په ساعت کې سره یو ځای شوی وي.اسلام هم ډیری پرزی لري لکه : په دین کې عقاید او اخلاقي اصول، د الله او بندگانو حقوق، د دنیا د ټولو هغه شیانو حقوق چې ستاسې سره اړیکې لري ،دگټې لاس ته راوړلو اصول، د خرځ او مصرف اصول، د جنگ او سولې اصول، د حکومت کولو اصول او د اسلامي حکومت د اطاعت اصول. دا ټول د اسلام پرزی او سامانونه دي چې پداسې ترتیب، تنظیم او شکل سره یو له بل سره یو ځای شوي چې کله د ساعت په شان کوک ورکړل شي یا بطری ورو اچول شي نو په منظم ډول حرکت کوي او ددې حرکت او خوزښت په پایله کې د اسلام اصلي موخه او هدف چې د اسلام غلبه او بر لاسي او په نړۍ باندې د الله پاک قانون عملي کول دي گام په گام او ورو ورو پیل کیږي. لکه څرنگه چې تاسې د ساعت د پرزو په حرکت سره د سپینې پاڼې په مخ د وخت ښودلو ستنې په حرکت گورئ.

په ساعت کې د پرزو او سامانونو د یو ځای والي لپاره څو میخونه هم استعمال شوی وي، په همدی توگه په اسلام کې د مختلفو پرزو او سامانونو د یو ځای والي او منظم توب لپاره د جماعت نظام تاکل شویدی، یعنې د مسلمانانو داسې مشر، سردار او امیر چې د صحیح علم، تقویٰ او پرهیزگارۍ خاوند وی، د جماعت د ماغ به یو ځای د هغه سره مرسته کوي، د جماعت پښې او لاسونه به د هغه اطاعت او مننه کوي، ددې ټولو خلکو په قوت او ځواک سره به هغه د اسلام قوانین عملي کوي او خلک به د مخالفت څخه منع کوي.

پدې طریقه او توگه چې ټولې پرزی سره یو ځای شي او د هغوی نظم او ترتیب هم جوړشي نو بیا د دوی د حرکت او

خوزښت لپاره کوک ورکول یا بطرۍ اچول اړین وي او هغه کوک او بطرۍ همدا لمونځ دی چې د ورځې پنځه ځله اداء کېږي. ځینې وخت د ساعت پاکولو، صافو لو او پرې مینځلو ته هم اړتیا پیښېږي، دا پاکي او صفایي ،همدا روژې دي چې په کال کې یوه میاشت نیول کېږي. کله کله دې ساعت ته تیل ورکول هم اړین وي او زکات هغه تیل دي چې په یو کال کې یو ځل د اسلام ساعت ته ورکول کېږي. بور او ترمیم ته هم اړتیا لري او د اسلام بور کول حج دی چې په ټول عمر کې یو ځلی صورت نیسی او که زیات وشي نو ډیره ګټه او فایده لري.

## د غلطو پرزو یو ځای کول کار نه ورکوي.

اوس تاسې غور او فکر وکړئ چې دا کوک یا بطرۍ، صفایي او پاکي او تیل ورکول هغه وخت ګټور او فایدمند کېږي چې کله د ساعت په فریم او قاب کې ټولې اړینې او ضروري پرزې موجود وي او د یو بل سره داسې په تر تیب او نظم سره تړلی شوی او نښتی وي چې څرنګه ساعت جوړونکې کمپنی جوړی کړي او دې ته تیارې، چمتو او اماده وي چې کله کوک ورکړل کېږي نو هغه حرکت کوي او خپله دنده یعنې ساعت، دقیقه او ثانیه خلکو ته ورښایې، خو دلته معامله ګډوډه شویده.

لومړې خو هغه نظم او میخونه ندي پاتې کوم چې د ساعت پرزې او سامانونه یې سره تړل او نښلول، کله چې میخونه سست شول نو ټولې پرزې یو له بل څخه جلا او خپرې شوې، اوس چې هر څوک څه غواړي هغه کوي، هېڅ پوښتنه کوونکې او څارونکې نشته هر یو ازاد او خپلواک دی، څوک چې غواړي

د اسلامي قانون ،پېروي کوي اوڅوک چې نه غواړي نه يې کوي،پدې باندې هم ستاسې زړه يخ نشو،نوددې ساعت ټولې پُرزې مو وويستلې اوهرچا دخپلې خوښې سره سم د نورو ماشينو نو پرزې او سامانونه راوړل او پدې ساعت کې يې نصب کړل، چا د جامو د ماشين پرزې پکې نصب کړې، چا د اوړو د ماشين ځينې پرزې خوښې شوې هغه يې پکې نصب کړې او چا د موټر ځينې پرزې خوښې شوې هغه يې پدې ساعت کې واچولې.

اوس تاسې مسلمانان هم ياستئ او د بانک سره مو سودي معاملې رواني دي، په بېمه کمپنيو کې مو هم کاراو راکړه ورکړه روانه کړيده، په محکموکې د روغجنې دوسيې او شخړې هم چلوئ، د کفر او الحاد خدمت هم د زړه له اخلاصه کوئ، مېرمنې او لوڼې هم لوڅې او لغړې ګرځوئ، کوچنيانو ته لويديځ او مغربی تعليم اوښوونه هم ورکوئ، د ګاندي او لنين پېروي او اطاعت او د هغوی نغمې غږوئ ، لنډه دا چې زمونږ مسلمانان وروڼه ټول هغه کارونه کوي چې خپله خوښه يې وي او هر ډول پرزې د اسلام په ساعت کې نصبوي.

## د توقع اوتمې خلاف پايلې

ددې ټولو خرابيو، غلطيواو وران کاريوسره سره تاسې بياهم غواړئ چې دی ساعت ته په کوک ورکولو، بطريواچولو،تيل ورکولو او صفايي کولو به ستاسې ساعت هغه کار وکړي د کومې موخې او هدف لپاره چې دا جوړ شويدی.که تاسې له عقل، غوراو فکر څخه لږ شانته کار واخلئ نودابه درته څرګنده شي چې تاسې کوم عمل او کارددې ساعت سره کړی که هغې ته ټول عمرکوک ورکړئ،تيل پکې واچوئ، بطری‌پکې نصب کړئ،

صفايي او ترميم ئې وکړي خو هېڅ کار به ونکړي او نه به ساعت او دقيقه درته وښايي او داحالت به تر هغې پورې روان وي تر څو پورې چې تاسې ټولې هغه پرزې او سامانونه ددې څخه لرې نکړئ کومې چې تاسې له بهر څخه راوړي او پدې کې مو نصب کړي او دهغې غلطو پرزو پر ځاى اصلي پرزې پکې نصب نکړئ او بيا دا پرزې په هغه نظم او ترتيب سره يو له بل سره ونه نښلوئ چې کومې کمپنۍ سره نښلولې وي، نو پداسې حال کې د هغې څخه هېڅ هېله، توقع او امېد نشئ ساتلی.

## د عباداتو د بې اغېزي کېدو اصلي لامل او علت

پدې ښه پوه شئ چې ستاسې د لمونځونو، روژو، زکاتونو او حجونو د بې اثره او بې اغېزه کېدو لامل او سبب همدا دی، بلکه دا چې په تاسې کې څومره لمونځ کوونکې، څومره روژه نيوونکې او څومره زکات ورکوونکې موجود دي، د جماعتی نظام او اداری د منځ تللو څخه وروسته هر يو ازاد او خپلواک ګرځېدلی دی، که زړه يې وي دا فرضونه اداء کوي او که زړه يې نه وي نه يې اداء کوي. څوک پوښتنه کوونکې او څارونکې نشته، او هغه کسان چې دا فرضونه اداء کوي په کومه او څه طريقه يې اداء کوي؟ په لمانځه کې د جماعت پابندی نشته، که چېرې د جماعت پابندي هم وي نو د جوماتونو د امامت لپاره مو داسې خلک غوره کړيدي چې په دنيا کې د بل هېڅ کار کولو وړتيا ونلري، د جوماتونو پراتې خوړونکې، بې علم او جاهل، بې حوصلې او بد اخلاقه خلک مودخپل لمانځه امامان ګرځولې چې بياستاسې څخه د الله پاک خليفه ګان او الهي پوځ

جوړ کړي، همدا رنګه د روژي، زکات او حج حال هم د بيانولو او ويلو وړندی، ددې ټولو ناکر ديو سره سره تاسې بيا هم وايي چې زيات مسلمانان ديني فرضونه پوره کوي .

مخکې ما وويل چې تاسې خو د ساعت ټولې پرزی ګډوډی کړي او نوری غلطی پرزی مو پکې نصب کړي او بياهم وايي چې په کوک ورکولو،بطری اچولو، تيل او صفايې کولو سره ولې ساعت کار نکوي.

ستاسې ساعت خو د لرې څخه ساعت ښکاري، ليدونکې خو وايي چې دا اسلام دی او تاسې مسلمانان ياستی، تاسې چې کله کوک ورکوئ او يا تيل او صفايې کوئ نو هغه ليدونکې فکر کوي چې کار خو سم روان دی، هېڅوک دا نه وايي چې دا لمونځ، لمونځ ندی، دا روژی، روژی ندې، خو ليدونکې بيچاره پدې څه خبر دی چې دساعت په قاب او فريم کې څومره ګوتې وهلې شوي او ورانکاری شويده .

## زمونږ افسوس ناک حالت

زما د اسلام ورونو ! ما تاسې ته اصلي علت او لامل وښودلو چې ستاسې دا ديني عملونه ولې بی اغېزي او بی اثره شويدي؟ څه علت او لامل دی چې تاسې د لمونځونو کولو او روژي نيولو سره سره د خداي پوځ جوړېدو پر ځای د کفارو غلامان او د نورو د ظلم او تېرې د لوبو او تمرين ميدان ګرځيدلي ياستی ؟ که تاسې نه خفه کېږی نو زه به ددې څخه هم افسوس ناک حالت تاسې ته بيان کړم

تاسې پدې خپل بد او افسوسناک حالت باندې خفه او انديښمن ياستی خو ستاسې په منځ کې په زرو کې نه سوه نهه

نوې داسې کسان شته چې ددې حالت په بدليدو باندې خوښ او راضي ندي، هغوی د اسلام لدې ساعت څخه چې کومې اصلي پرزې ويستلي او هر يو د خپلې خوښې پرزې پکې نصب کړي بيا رغولو، سمولو او اصلاح کولو ته تيار او چمتو ندي او نه دا کار زغملی شي، دا ځکه چې کله دا بدلون، اصلاح او سمون راځي نو د هر يو دخوښې شي به ورڅخه ويستل کېږي داسې خو نشي کېدائ چې د نورو د خوښې شي ورڅخه لرې شي او ستاسې د خوښې شي او پرزه پکې هماغسې ځای پر ځای وي، او کله چې هغه تړل کېږي اوکلکېږي نو ستاسې شيان به هم ور سره تړل کېږي، داسې نشي کېدائ چې ستاسې پرزه دې خلاصه، ازاد او خپلواکه وي او د نورو دې پابندې او تړلې شوې وي. همدا يو تکليف، کړاو او زحمت دی چې خلک يې په خپله خوښه، رضا او رغبت سره نشي قبلولې او د هغې منلو او قبلولو ته تيار او چمتو ندي. بس ټول همدا غواړي چې ساعت دې په ديوال همداسې ځوړند وي او هغه دې پرې ښکلې او ډولې ښکاري، له لرې دې خلک د هغې سيال او زيارت کوي. هغوی ته دې له لرې ددې کرامتونه، برکتونه، خيرونه او رحمتونه بيانېږي او هغه کسان چې ددې ساعت سره مينه او محبت لري هغوی دې ددې په کوک ورکولو، بطرۍ نوې کولو، تيل ورکولو او صفايې کې پوره اومکمل کوښښ او هلې ځلې کوي خو هېڅکله يې په زړه کې دانه ځايږي چې ددې څخه غلطې پرزې لرې کړي، اصلي او سمې پرزې پکې بيرته نصب کړي او بيا يې ميخونه ښه کلک او ټينګ کړي.

کاشکې ما ستاسې د هو سره خپله هو يو ځای کولای شوای، خو زه څه وکړم په هغه څه چې زه پوهېږم د هغې په خلاف خبره نشم کولای، زه تاسې ته په ډاډ سره وايم چې تاسې په کوم حالت کې اوس ياستئ که د پنځه وخت لمانځه سره د تهجد لمونځ، د اشراق لمونځ، د څاښت لمونځ، پنځه پنځه ساعته د قرآن مجيد تلاوت، د رمضان د مياشتې روژې او نورې پنځه مياشتې روژې هم ونيسئ نو هېڅ وخت په غالب او بر لاسي نشئ.

خو که تاسې په ساعت کې د غلطو پرزو پر ځای اصلي پرزې ځای پر ځای او کلکې ميخ کړې نو بيا به د لږ کوک او بطرۍ په اچولو سره ساعت کار پيل کړي. نو لږ تيل ورکول او لږ پاکوالې به هم ښه اوغوره پايله ولري، خو که ټول عمر کوک ورکړئ، بطرۍ ورواچوئ، تيل او صفايي يې وکړئ نه به چالان شي او نه به روان شي او نه به وخت درته وښايي.

# څلورم فصل

# روژه

# ١٧
# روژه

## په هر امت باندې روژه فرض شوې

ځما داسلام ورونو!

دوېم عبادت چې الله پاک پر تاسې فرض کړى هغه روژه ده، د روژې څخه مطلب اومراد دا دى چې د سهار څخه تر ماښامه پورې مئومن د خوراک، څښاک او جنسي اړيکو څخه ځان وساتي.

د لمانځه په شان دا عبادت هم د لمړي سر څخه د ټولو پيغمبرانو په شريعت کې فرض ګرځول شوى وو، مخکني خومره امتونه چې تير شويدي هغوى ټولو دامت محمدي په څېر روژې نيولې.البته د روژو په احکامو، شمېر او وخت کې يې سره توپير درلوده، اوس هم مونږ ګورو چې په ځينو مذهبونو کې روژې شته چې شکل او صورت يې بدل دى ځکه چې خلکو له ځانه پکې ډير شيان زيات او کم کړي او دهغه صورت يې بالکل بدل او خراب کړى. په قرآن مجيدکې دارنګه فرمائل شويدي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾ ﴾ البقرة: ١٨٣

يعنى اې مسلمانانو! په تاسې روژه داسې فرض شويده لکه څرنګه چې په نورو مخکينو امتونو باندې فرض شوې وه.

ددې ایت شریف څخه داخبره بالکل څرګندیږي چې الله پاک څومره شریعتونه رالیږلي هغه یو هم د روژې د عبادت څخه خالي نه وه.

## روژه ولې فرض شوی؟

که فکر او غور وکړئ چې ایا پدې روژه کې څه خبره ده چې الله پاک هغه په هر وخت او هر امت باندې فرض کړی؟

## د ژوند موخه او هدف د خپل رب بنده ګی ده.

لدې څخه مخکې ما څوځلې تاسې ته دا خبره بیان کړی وه چې د اسلام اصل موخه او هدف د انسان ژوند دالله پاک عبادت ګرځول دي، انسان عبد یعنی بنده پیدا شویدی اوعبدیت یعنی بندګي د هغه فطرت او خصلت دی.

نو ځکه هغه د عبادت یعنی په فکر، عقیده اوعمل کې باید یوه ګړۍ هم د الله پاک له بندګۍ او عبادت څخه ازاد اوخلاص نه وي، هغه به دخپل ژوند په هره معامله اوکارکې ګوري چې د الله پاک رضاا و خوښي په څه کې ده؟اود هغه غضب، خفګان اوناخوښي په څه کې ده، په کوم لوري کې چې رضا وي په هغه لوري به ځي او په کوم لوري کې چې دهغه خفګان او ناخوښي وي دهغې څخه به داسې ځان ساتي لکه د اور د سکروټې څخه چې انسان ځان ساتي،کومه طریقه چې الله پاک خوښه کړی په هغې تلل اړین-دي اود کومې طریقې څخه یې چې منع کړی له هغې څخه ځان ساتل اړین دي.کله چې د انسان ټول ژوند پدې

رنګ باندې رنګ شي نو بيا هغه د خپل رب دبندګۍ حق پوره اداء کړ او د دې ايت شريف موخه او مطلب پوره شو چې:

﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ ﴾ الذاريات: ٥٦

او ندي پيدا کړي ما پيريان او انسانان مګر ځما د عبادت لپاره.

## عبادت يعنی دبندګۍ ترتيب او تنظيم

دا خبره هم مامخکې بيان کړی وه چې د لمانځه، روژې،حج اوزکات په نامه چې کوم عبادتونه فرض شويدي د دوی اصلي موخه او هدف دلوی او ستر عبادت لپاره ځمونږ اوتاسې تيارول اوچمتو کول دي.

دهغې د فرض کولو مطلب دا ندی چې تاسې يوازې په شپه او ورځ کې پنځه وخته رکوع او سجدی وکړئ،د رمضان مياشت کې د سهار څخه ترماښام پورې ديرش ورځې ځان وږی او تږدی وساتی، او د شتمنۍ په صورت کې هر کال زکات ورکړئ او په ټول عمر کې يو ځل دبيت الله شريف حج ته ولاړشئ، نوکه دا کارونه مووکړل د الله پاک کوم حق چې پر تاسې ووهغه اداء او پوره شواو نور تاسې د بندګۍ څخه ازاد ياستۍ څه چې کوئ هغه کولای شئ.

بلکې په اصل کې د دې عبادتونو د فرض کېدو موخه اوهدف دا دی چې ددې پوسيله انسان داسې وروزل او تربيت شي چې د دې وړ او لايق وګرځي چې دهغه ټول ژوند دالله پاک عبادت او بندګي شي.

راځي چې اوس همدا موخه او هدف په نظر کې ونیسو او وګورو چې روژه څه ډول انسان ددې لوی اوستر عبادت لپاره تیار او چمتو کوي.

## ۱- روژه د ایمان د کلکوالي نښه ده.

دروژې دا حثیت په نظر کې وساتئ او بیا غور اوفکر وکړئ چې څوک روژه نیسي هغه نه په ښکاره اونه په پټه څه خوري اونه څه څښي، هغه په سخته ګرمۍ کې چې حلق اوستونی یې وچ کلک وي یوڅاڅکې اوبه هم له ستوني نه تیروي، په سخته لوږه کې چې سترګې یې تورې تورې کېږي هم یو دانه شي نه خوري، دا پدې خاطر او پدې عقیده چې الله پاک په پټو او ښکاره ټولو باندې پوهیدونکې ، عالم الغیب، حاضر او ناظر ګڼي.

هغه پدې باور، اعتماد او یقین لري چې څما هر عمل او کړه وړه که د ټولو خلکو څخه پټ هم شي نو د الله پاک څخه په هېڅ حالت کې نشي پټیدای، دا څومره ویره اوډار د هغه په زړه کې پروت دی چې سخت کړاو او تکلیف په ځان تیروي خو دالله پاک له ویرې او ډار څخه داسې څه نه کوي چې روژه یې پرې ماته شي.

څومره کلکه عقیده او باور دی د آخرت په سزا اوجزا باندې چې پوره یوه میاشت یعنی درې سوه شپېته ساعته هغه روژه نیسي او د یوې ثانیې لپاره هم د آخرت د سزا او جزا له تصور څخه بې پروا اونه غافل کېږي.

که د هغه سره په زړه یا ذهن کې لږ شانته شک اوزړه نا زړه توب موجود وای چې آخرت به وي یا نه نو هغه به هېڅکله هم خپله روژه نه شوای پوره کولای،د شک او تردید د پېدا کېدو

څخه وروسته بیا دا امکان نشته چې انسان دی له خوراک اوڅښاک څخه ځان وساتي پداسې حال کې چې څوک یی لیدلی هم نشي.

## ۲- یوه میاشت پرله پسی تمرین او ټریننګ

پدې توګه الله پاک هر کال تر یوی میاشتی پورې مسلمان پرله پسی په تمرین، مشق او ټریننګ کې اچوی او هر څومره چې پدې امتحان اوازمیښت کې انسان بریالی او کامیابېږي په هماغه کچه یې ایمان قوی او کلکېږي. یعنی دا ازمیښت ، امتحان ، ټریننګ، مشق او تمرین دی چې پرله پسی روان وی.

تاسې چې له چاسره امانت ږدئ نو د هغه امانت ساتنه امتحانوئ، که هغه پخپل امتحان او ازمیښت کې پوره او بریالی شو اوخیانت یې ونکړ نوپه هغه کې دامانتونو د ساتلو ځواک او توان نور هم زیاتېږي او هغه نور زیات امین ګرځي.

په همدی توګه الله پاک هر کال تر یوی میاشتی پورې په پرله پسې توګه د لسو څخه تر پنځلسو ساعتونو پورې ستاسې ایمان، باور او یقین په امتحان او ازمیښت کې اچوی چې ځما بنده پدې وخت کې څه کوي، خو کله چې تاسې پدې امتحان کې کامیاب اوبریالي شئ نو بیا په تاسې کې زیات ځواک راپېدا کېږي او بیا د نورو ګناهونو، خطاګانو او غلطیو څخه هم ځان ساتلی شئ ځکه چې تاسې الله پاک په هر څه پوهېونکې او عالم الغیب وګڼلو او پدې موباور او یقین پوخ شو چې هغه د قیامت په ورځ د هری ذری بدله ورکوونکې دی او هېڅ شي ورڅخه نشي پټېدایې او همدا مطلب او موخه د دې آیت شریف دې چې فرمایي:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾ ﴾ البقرة: ۱۸۳

ای د ایمان خاوندانو! په تاسې روژې فرض شویدی لکه څرنګه چې په مخکېنو خلکوفرض شوی وی د دی لپاره چې تاسې پرهیزګاران اومتقیان جوړشئ.

## ۳- داطاعت اوږد تمرین او مشق

روژه یو بل صفت او ځانګړتیا هم لري اوهغه دا چې د ډېر اوږد وخت لپاره د شریعت د احکامو پرله پسی اطاعت کول پکې دي، لمونځ خو دڅو دقیقو لپاره وي او بیا ختم شي، د زکات اداء کولووخت په کال کې یو ځل وي، حج سره لدی چې زیات وخت نیسي خو په عمر کې یو ځل چانس برابرېږي هغه هم د ټولو لپاره چانس نه وي. خوددې ټولو برعکس روژه هر کال پوره یوه میاشت شپه او ورځ دمحمديﷺ شریعت پرله پسی اطاعت او مننه کول دی.

د شپې له خواره خوب څخه د سحری د خوراک لپاره پورته کېدل، په ټاکلی وخت کې خوراک بندول،ټوله ورځ ځینی کارونه کولای او ځینی کارونه نشي کولای، ماښام په ټاکلی وخت ، بجو او دقیقو روژه ماتی کولای شئ، بیا د روژه ماتي څخه وروسته لږ ارام کول او بیا د نورو وختونو برعکس د زیات او اوږد لمانځه لپاره منډی وهل او تر ناوخته پورې لمونځ اداء کول، دا ټول داسې کارونه دی چې هر کال د رمضان په میاشت کې د سهار څخه تر ماښام او دماښام څخه تر سهار پورې پرله پسی د پوځیانو په شان منظم او په ترتیب سر ته رسول کېږي.

بیا د یولس میاشتو لپاره پرښودل کېږي چې د یوی میاشتی روزنی او تربیت اغېزی او اثرات راځرګندشي اوکوم کمی او زیاتی چې پدې منځ کې راپېدا شي هغه په راتلوونکې رمضان کې پوره کړی.

## ۴-د روزنی او تربیت لپاره غوره ټولنېز چاپیریال

ددې ډول روزنی او تربیت لپاره هر سړی بېل بېل او جلا جلا کول هېڅ ډول مناسب نه وي، په پوځ کې هم تاسې ګورئ چې هر پوځي جلا جلا نه روزل کېږي بلکې ټول پوځ او ټول ټولګي یو ځای او ګډ روزل کېږي، ټول د یو شپېلاق په اواز سره پورته کېږي او په یو اواز سره کار پیل کوي تر څو هغوی د یو ډلې او موټي ځواک په حیث کاروکړي اوهمدا عادت او خوی پکې پېدا شي، همدارنګه یود بل سره په روزنه او تربیت کې هم همکار اومرسته کوونکې ثابت شي، یعنی که د یو په روزنه کې څه کمی او نېمګړتیا پاتې وي هغه دوېم او د دوېم نېمګړتیا درېم پوره او مکمله کړی.

له همدې امله اسلام درمضان میاشت ټوله د عبادت لپاره ځانګړی کړی اوټولو مسلمانانو ته حکم کوي چې په یو ځل ټول یوځای روژه ونیسي، دې حکم انفرادي عبادت په ټولنېز عبادت باندې بدل کړ.لکه څرنګه چې یو عدد دیو لک سره په ضربولو سره یو لک کېږي چې ډېرلوی عدد دی، د یو یو شخص د روژی نیولوځخه چې کوم اخلاقي اوروحاني ځواک او قوت پېدا کېږي کله چې په لکونو او میلیونونو مسلمانان روژه ونیسي نو دهغې روحاني، اخلاقي او معنوي اثرات په لکونو او میلیونونو چند کېږي.

د رمضان دمیاشتی ټوله فضا د نیکۍ، پرهیزګارۍ، معنویت او روحانیت څخه ډکېږي، په پوره قوم او ملت کې دتقوی،پرهیز ګارۍ اوروحانیت کښت اوفصل راټوکېږي، هر مسلمان نه یواځی داچې پخپله له ګناه څخه ځان ساتي بلکې تر خپلې وسی پورې د بل مسلمان د ساتلو کوښښ هم کوي.هر روژه نیونکې په ګناه او بدۍ کولو شرمیږي، او هر یو پدې کوښښ کې وي چې څه نا څه نیک او ښه عمل وکړي، کوم غریب او بې وځلې ته خوراک ورکړي،کوم لوڅ او لغړ ته جامې ورواغوندي،د کوم بې وځلې سره مرسته وکړي، که څېرې کوم نیک کار کېږي نو هغه کوښښ کوي چې برخه پکې واخلي او که څېرې ښکاره بدي کېږي نو دهغې د مخنیوی کوښښ اوهلې ځلې کوي.

دتقوی، پرهیزګارۍ او روحانیت عمومي چاپیریال منځ ته راځي او د نیکیو دخپراوي موسم را پېدا کېږي، لکه څرنګه چې دهری غلې او دانې لپاره خپل موسم او وخت وي چې هغه پکې ښه نمو اووده کوي او هر لوري ته په سترګو ښکاري.

په همدې هکله رسول اللهﷺ فرمایلي دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ الْحَسَنَةُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعمائَة ضِعْفٍ قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ (رواه صحيح مسلم في باب فصل الصيام)

د بنی آدم هر عمل دالله پاک په وړاندې زیاتېږي او نیکې د لس چنده څخه نیولې تر اوه سوه چنده پورې زیاتېږي خوالله پاک

فرمايي چې روژه د دې څخه بيله ده، هغه خاص ځما لپاره ده اوزه چې څومره غواړم هغومره بدله ورکوم.

ددې حديث شريف څخه داسې څرګندېږي چې نيکې او عمل صالح د نيت او اخلاص په بنسټ زياتېږي، چې دهغې د لوړ والي او زياتوالي لپاره يوحد او اندازه وي خو د روژې د ترقۍ او لوړ والي لپاره کوم حد او اندازه نشته.

څرنګه چې درمضان مياشت دخير او نيکۍ د لوړ والي او زياتوالي مياشت ده يواځې يومسلمان نه بلکې په لکونو مسلمانان د نيکۍ او خير باغ اوبۀ ته اوبه ورکوي او دهغې خدمت کوي، نو هغه بې حده او بې حسابه ترقي او غوړيدل کوي.

څومره چې په ښه نيت اواخلاص سره زيات نيک عملونه پدې مياشت کې وکړئ، څومره چې په زياته کچه د دې مياشتې له برکتونو څخه ګټه پورته کړئ او نورو مسلمانوورونو ته خير او ګټه ورسوۍ، او په راتلوونکو يولسو مياشتو کې ددې اثرات زيات ښکاره شي نو د دې همدومره بدله اوثواب زياتېږي چې دهغې لپاره څه حد ،اندازه اوکچه نشته خو که څوک بخپل عمل اوکړو وړو سره هغه کم اورا محدود کړي نو دا دده خپل زيان او تاوان دی.

## د عبادتونو پايلې نن سبا چېرې دي؟

د روژې دا فضايل، اثرات او پايلې چې تاسې واوريدې نودهر يو په زړه کې به دا راګرځي چې نن سبا خو ددې يو اثر اواغېزه هم مونږ نه ګورو دا ولې؟مونږ خو روژې نيسو او لمونځونه کوو خو د يوې پايله اواثر مو هم ندی ليدلی.

ما ددي لامل او سبب مخکې هم بیان کړی وو چې داسلام هره برخه جلا جلا کول او بیا په هغې کې د خپل ځان څخه پیوندونه لګول هغه پایلې نلري کومې چې تاسې دهغې امېد او تمه لرۍ، چې د پوره او مکمل اسلامي نظام د عملی کېدو څخه منځ ته راځي.

ددې دوهم لامل دا دی چې دعبادتونو په هکله ستاسې فکر او نظربدل شویدی، اوس تاسې فکر کوئ چې دسهار څخه تر ماښام پورې د نه خوړلو اونه څښلو نوم عبادت دی اوکله چې دا کار وشي نو عبادت پوره شو، همدارنګه تاسې د نورو عبادتونو ظاهري شکل او صورت ته عبادت وایئ، او د عبادت اصل روح چې باید په هر عمل کې موجودوي دهغې څخه ستاسې ۹۹% خلک بې پروا اوغافل دي.

په همدی خاطر دا شکلی اوظاهری عبادتونه هغه پایلی نلري کومې چې په اصلي اوحقیقي عبادت کې وي، په اسلام کې نیت، فهم، پوهه او اخلاص مهم او ضروری دی چې په راتلوونکې کې به په هغې رڼا واچولې شي.

# ۱۸
# د روژې اصلي موخه او هدف

## هر کار یوموخه او هدف لري.

څما داسلام ورونو!

هر کار چې انسان کوي په هغې کې دوه شیان ضروري بولې. لومړې هغه موخه اوهدف دی چې د کوم لپاره دا کار کېږي. دوېم دهغه کار خاص شکل او صورت دی چې دموخه او هدف د لاس ته راوړلو لپاره غوره کېږي.

دمثال په ډول خوراک خوړل،دخوراک خوړلو څخه ستاسې موخه او هدف ژوندی پاتی کېدل او بدن ته انرژي اوتوان وربښل دی، د دې موخه اوهدف دلاس ته راوړلو لپاره تاسې دخوراک څخه نوړۍ جوړ وی، په خوله کې یې اچوی، دغاښونو پوسیله یې مېده کوي، اودستونی څخه یې ښکته تیروی.

دا پدې خاطر کوئ چې داصلي موخه او هدف لپاره ښه او غوره لاره همدا ده نو ځکه تاسې دا مناسبه او ښه لاره انتخاب کړه،تاسې ټول پدې ښه پوهېږۍ چې اصلي شي دانرژۍ او توان لاس ته راوړل دی نه دخوراک طریقه او شکل.

اوس که یوڅوک د لرګي بور، یا شګې یا خاوره را واخلي اوهغه خولې ته واچوي او په غاښونو وژووي او له ستوني یې تیر کړي نوتاسې به دې سړی ته څه وایي؟ یعنی دده دماغ اواعصاب خراب شویدی! دا ځکه چې دا احمق او بې عقل دخوراک اصلي موخه نه پېژني بلکې یواځې دخوړلو کار او فعل ورته مهم ښکاري.

همدارنګه که یوسړی خوراک وخوري او بیرته یې سمدستی کانګی کړی او بیا شکایت کوي چې ما خو خوراک وکړاو بیا هم ماته هغه ګټه پلاس رانغله چې دخوراک خوړلو څخه باید تر لاسه شوی وایي، بلکې ورځ په ورځ ورسره کمزوری کېږم، دا بې عقل اواحمق دخپلې کمزورۍ تور په خوراک باندې اچوي حال دا چې ده پخپله بې عقلي کړی اوخوراک یې په زور باندې کانګی کړیدی. هغه دا ګڼلی چې دخوراک په خوړلو باندې انرژی او توان لاس ته راځي نو په معده کې د خوراک پرېښودل هسې اضافی کار دی اوباید معده سپکه شي، کوم بې عقل اواحمق خیال چې ده کړی وو د هغې سزا اوس همده ته ورکول کېږي.

هغه باید پدې پوهیدلی وایي چې ترڅو خوراک معدی او کولمو ته ولاړ نشي اوهلته هضم او جذب نشي،بیا دوینی پوسیله په ټول بدن کې ونګرځي تر هغې پورې ددې خوراک څخه انرژی او توان نه جوړېږي.

سره لدی چې دخوراک طریقه هم ضروری ده ځکه چې پرته لدی طریقی څخه خوراک کولمو ته نه ځي اونه هلته هضم صورت نیسي خویواځې دخوراک په طریقه باندې اصلي موخه اوهدف نه پوره کېږي.

دا خوځه جادو او طلسم ندی چې کله ستا خوله چالان شي نو سمدستی دی په بدن کې انرژی راپیدا شي بلکې الله پاک چې د انرژۍ دتولېد او پېدا کېدو لپاره کومه طریقه اوقانون جوړکړی دهغې سره سم به پېدا کېږي اوهر څوک چې هغه قانون او طریقه ماته کړی نوخپله به هلاک او کمزوری شي.

## یواځې دظاهر په حقیقت ګڼلو باندې بدې پایلې

ما چې کوم مثال تاسې ته بیان کړ پدې باندې تاسې غور او فکر وکړئ چې ولې ځمونږ عبادتونه بې اثره او بې اغېزې شویدی؟ مامخکې هم درته ویلی وه چې ځمونږ او تاسې تر ټولو غټه غلطلي دا ده چې د لمانځه او روژې ظاهري ارکان، شکل او صورت مونږ اصلي عبادت بولو اوپدې غم کې اخته یوچې کله دا ظاهری شکل اوصورت اداء شي نو همدا د الله پاک عبادت دی او بس.

ددې مثال داسې دی چې څوک خوراک را واخلي،خولې ته یې واچوي، په غابښونویې مېده کړی او بیا یې له ستونی تیر کړی نو ده ته باید د خوراک خوړلو ټولې هغه فایدی پلاس ورشي چې دخوراک خوړلو اصلي موخه او هدف دی، سره ددې که هغه خاورې، شګې یا د لرګي بور خوړلی وي یایې سم خوراک خوړلی خو سمدستی یې کانګی کړی وي.

که تاسې پدې بې عقلۍاو حماقت کې اخته نه وئ نو ماته ووایي چې یوڅوک روژی نیسي، د سهار څخه تر ماښام پورې خوله بنده ساتي خو دهمدی عبادت او روژی په دوران کې دروغ وایي، غیبت کوي، د خلکو سره بی ځای جګړی کوي،کنځلی او بدرد وایي، دخلکو مال خوري، حرام او حلال نه پېژني، دا ټول غلط کارونه کوي خو بیا هم وایي چې ما د الله پاک عبادت کړیدی، ایا د دې سړی مثال داسې ندی چې خوراک یې شګې، خاوری اودلرګي بور وي او بیا هم د انرژۍ او توان امېد لری؟

## درمضان له میاشتی وروسته بیا خپل سری

نو بیا ماته ووایي چې کله تاسې پوره د رمضان میاشت روژه نیسئ او نژدی ۳۲۰ ساعته مو پرله پسی عبادت کړیدی او بیا

دا ټوله خواري، کوښښ او هلې ځلې داختر په لومړۍ ورځ په میله کې په اوبو لاهو کړئ.

هندوان چې پخپلو میلو او مراسمو کې څه کوي هغه ټول تاسې هم کوئ آن چې د آختر په ورځو کې شراب خوړل،زنا او قمار هم صورت نیسي.

ما ځینی داسې ظالمان هم لیدلی دي چې د ورځې روژه نیسي خو دشپې له پلوه شراب خوري او زنا کوي، عام مسلمانان خو ماشاء الله داسې بد اخلاقه ندي خو درمضان تر ختمیدو وروسته بیا پرته له یو څو کسانو په هیچا کې د تقوی، پرهیزګارۍ او معنویت هېڅ اثر نه وي پاتې.

د رمضان څخه وروسته څومره نیک کارونه کوئ ؟ څومره د ګناهونو څخه ځان ساتئ ؟ او په نفسانیت کې مو څومره کمې راغلې دی؟

## د عبادت د غلط تصور پایلې

فکر او غور وکړئ چې آخر ددې لامل اوعلت څه دی؟

زه تاسې ته یقین اوډاډ درکوم چې ددې یوائځنی لامل اوعلت دا دی چې ستاسې په ذهن او فکر کې دعبادت مفهوم اومطلب غلط شویدی.

تاسې دا فکر کوي چې دسهار څخه تر ماښام پورې نه څه خوړل او نه څه څښل روژه ده او بس همدا عبادت دی، په همدې خاطر تاسې دورځې له خوراک او څښاک څخه ځان ساتئ او دالله پاک څخه ستاسې په زړه کې دومره ویره اوډار شته چې هېڅ هغه شي نه خورئ او نه ورنژدی کېږئ چې د روژې دماتیدو

خطر پکې وي خو تاسې پدې نه پوهېږئ چې دا ورې اوترې اوسيدل اصلي عبادت ندی بلکې دا دهغې شکل او صورت دی، او د دې صورت او شکل تاکلو موخه دا ده چې په تاسې کې د الله پاک څخه ویره اومحبت پیدا شي، اودا ځواک، توان او استعداد درکې پیدا شي چې که په يو کار اوشي کې دټولې دنيا په اندازه ګټه ښکاري خو په هغې الله پاک ناراضي کېږي نو دهغې کار څخه تاسې ځان ساتئ او په يو کار کې چې هر څومره خطرونه او تاوان ښکاري خوالله پاک دهغې په کولو خوشاله کېږي نو تاسې خپل نفس مجبور وئ چې هغه کار سرته ورسوي.

دا ځواک، طاقت او استعداد هغه وخت پیدا کېږي چې تاسې د روژی په اصلي مفهوم او مطلب باندې پوه شئ او پوره یومیاشت د الله پاک دويری او محبت په نظر کې ساتلو سره خپل نفسي خواهشات کنترول اودالله پاک د حکم او رضا سره سم يې تمرين او مشق کړئ.

خوافسوس چې کله درمضان مياشت تيره شي تاسې دا ټول ګټلې او لاس ته راوړې توان او ځواک دا سی غورځوئ لکه چې څوک په زور اوجبر سره کانګې وکړي او خوراک وغورځوي. بلکې په تاسې کې خو ځينی خلک داسې هم شته چې څرنګه روژه ماته کړی ټوله پرهيزګاری لری وغورځوی.

نواوس تاسې ووايئ چې ايا دداسې روژی اورمضان څخه به هغه موخه او پايلې رامنځ ته شي کومې چې د هغې څخه رامنځ ته کېدی؟ لکه څرنګه چې د خوراک څخه تر هغې پورې انرژی او طاقت منځ ته نه راځي چې معدې ته ولاړه نشي او هلته تر هضم وروسته جذب اوبيا د وينی پواسطه ټول بدل ته ونه رسېږي. په همدی توګه د روژی څخه تر هغې پورې معنوي او

روحاني ځواک اوطاقت نه تر لاسه کېږي تر څو چې د روژې په موخه او مفهوم باندې ښه ځان پوه نکړي او پخپل زړه، دماغ، نيت او عمل باندي دا مقصد او هدف عملي نکړي.

## روژه دمتقي کېدو وسيله ده.

همدا وجه ده چې الله پاک دروژې د حکم کولوڅخه وروسته وفرمايل: لعلکم تتقون. يعنی تر څو تاسې د دې روژې په نيولو سره پرهيز ګاران او مقتيان وګرځئ.داسې يې ونه فرمايل چې حتماً به تاسې پدې سره متقيان شئ ځکه چې دروزې پايله، اغېزه اواثر د انسان په نيت، ارادې اوفهم پورې تړاو لري.

څوک چې د هغې په مقصد او مفهوم پوه شي او دهغې پوسيله دمقصد لاس ته راوړولو کوښښ وکړي نوهغه به لې شانته متقی شي خو چې څوک دهغې په موخې او هدف پوه نشي اونه دهغې لپاره کوښښ اوهلې ځلې وکړی نوهغه ته به څه پلاس ورشي؟.

# دروژې اصلي هدف او مقصد

## ۱- د دروغو څخه منع ګېدل

نبيﷺ په مختلفو طريقو سره د روژې اصلي موخه اوهدف ته ګوته نيولې ده او پدې يې مسلمانان پوه کړي چې ددې موخې او هدف څخه په غفلت اوبې پروايي سره دلوږې او تندې څخه هيڅ ګټه پلاس نه راځي.

نبي ﷺفرمايي:

: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ.(رواه البخاري)

چا چې دروغ ويل او په دروغو عمل خوشي نکړ نو الله د هغه خوراک او څښاک پرېښودلو ته هېڅ اړتيا نلری.

په بل حديث کې نبي ﷺ فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلَّا الْجُوعُ وَكَمْ مِنْ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلَّا السَّهَرُ (رواه مسند احمد )

ډير داسې روژه نيونکې شته چې پرته له لوږې څخه هغه ته روژه بله څه ګټه نلري او ډير داسې قيام کوونکې شته چې پرته له بې خوبۍ څخه ورته قيام بل څه ګټه نلري.

د دې دوه حديثونو مطلب بالکل څرګند او صاف دی، ددې څخه په ډاګه معلومېږي چې يواځې لوږه او تنده عبادت ندی بلکې داصلي او حقيقي عبادت وسيله، شکل او صورت دی، اصلي او حقيقي عبادت دا دی چې د الله پاک له ويرې اوخوف څخه دهغه د قانون مخالفت ونشي او د الهي محبت او مينی په اساس هغې عمل ته وردانګل په کوم کې چې د الله پاک رضا او خوښی وي او تر خپلې اخري وسی پورې دخپلو نفساني خواهشاتو د پوره کولو څخه ځان ساتل.

د دې اصلي او حقيقي عبادت څخه چې هر څوک بې پروا اوغافل پاتی شو نو هغه يواځی خپل ځان ته د لوږې او تندی تکليف ورکړ او نور يې هېڅ پلاس رانوړل، الله پاک ته ددې څه اړتيا شته چې هغه دی دولس، ديارلس ساعته وږی او تږی کېني.

## ۲- ایمان او احتساب

د روژی د اصلي موخې په لوري رسول اللهﷺ دا رنګه اشاره کړېده:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَال قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَاناًوَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ (رواه البخاري)

یعنی چا چې د ایمان او احتساب سره روژه و نیوله نو د هغه ټول پخواني ګناهونه معاف شول.

د ایمان څخه مراد او مطلب دا دی چې د الله پاک په هکله چې کومه عقیده مسلمان ولري هغه په نظر کې وساتي یعنی د ایمان په غوښتنه، او د احتساب څخه مراد دا دی چې انسان د الله پاک د رضا او خوښۍ غوښتونکې وي،هر وخت په خپل فکر، خیال او کړو وړو باندې نظر ساتي چې دالله پاک د رضا اوخوښۍ په خلاف استعمال نشي.

څوک چې ـ دې دواړو (ایمان او احتساب) په نظر کې نیولو سره پوره روژه و نیسي نودهغه پخواني ګناهونه به معاف شي. ځکه که هغه مخکې نافرمان او ګناه کوونکو هم وو خواوس یې د خپل حقیقي مالک او رب په لوري پوره توجه وکړه اوله ګناه څخه توبه کوونکې داسې دی لکه چې ګناه یې نوي کړې.

عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّائِبُ مِنْ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ.(رواه سنن ابن ماجه)

## ۳- دګناهونو په مقابل کې ډال او سپر

په یو حدیث کې دارنګه راغلي دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الصِّيَامُ جُنَّةٌ إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ صَائِمًا فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَجْهَلْ فَإِنْ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ أَوْ شَاتَمَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي صَائِمٌ إِنِّي صَائِمٌ ( رواه سنن ابي داود )

روژې د سپر او ډال په شان دی ( لکه څرنګه چې د دښمن څخه په سپر سره د ځان دفاع کېږي دغه شانته روژه د شیطان څخه دفاع کوونکې سپر دی) نو که چېرې یو څوک ستاسې څخه روژه دار وي نو هغه ته پکار دي (چې هغه دا سپر او ډال استعمال کړي) د فساد، بدوردو او چېغو څخه ځان وساتي، که څوک هغه ته کنځل وکړي یا ورسره جګړه او لانجه جوړه کړي نو هغه دې ورته ووایي! وروره! ماروژه نیولې ده ( زما څخه دا اُمید مه کوه چې زه به درسره جګړه وکړم).

## ۴- د نیکۍ کولو شوق او ذوق

په نورو مبارکو احادیثو کې نبي ﷺ فرمایلي دي چې تاسې د روژې په حالت کې زیات نیک او ښه کارونه کوئ او د هر خیر اونېکۍ شوق او ذوق باید وکړئ. په ځانګړي توګه د نورو ورونو سره د مرستې او لاس ورکولو جذبه اواحساس باید درسره زیات پیدا شي داځکه چې کله پخپله په لوږه اوتنده کې اخته شئ نودنورو دلوږې او تندی احساس ښه کولا ی شئ چې پدې نورو غریبو، بې وځلو او وږو تږو باندې به څه تیرېږي.

د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه روایت دی چې خپله رسول الله ﷺ به د نورو میاشتو په نسبت په رمضان او روژه کې تر ټولو زیات سخي، جواد اورحم کوونکې وو، هېڅ سوال کوونکې د

هغه له دربار څخه خالي لاس نه تللو اونه به کوم بندي په بندکي ساتل کېده.

## ۵- د روژه ماتی ورکولو ثواب

په يو حديث مبارک کې راغلی چې نبي ﷺ وفرما يل:

من فطر فيه صائما کان له مغفرة لذنوبه ، وعتق رقبته من النار ، وکان له مثل أجره من غير أن ينقص من أجره شيء.(رواه البيهقي في شعب الايمان)

چا چې په رمضان کې بل روژه نيونکې ته روژه ماتی ورکړ نو دابه ده ته د ګناهونو د معافيدو او د جهنم دآور څخه د ده دغاړې د خلاصيدو سبب شي او ده ته به دومره ثواب ورکول کېږي لکه څومره چې روژه نيونکې ته ورکول کېږي پرته لدی څخه چې د روژه نيونکې له ثواب څخه څه راکم کړل شي.

# پنځم فصل

# زکات

# ١٩
# زکات

## د زکات اهمیت

ځما داسلام ورونو!

د لمانځه څخه وروسته داسلام تر ټولو لوی رکن زکات دی، په عمومی توګه په عباداتو کې د لمانځه څخه وروسته د روژې نوم یادیږي نوځلک داسې فکر کوي چې د لمانځه څخه وروسته د روژې وار دی، خو د قرآن مجید څخه دا مونږ ته جوتیږي چې دلمانځه څخه وروسته لوی او غټ رکن زکات د ی. دادواړه د اسلام دوه لوی ستنی دي چې د دی د نړی:دو څخه وروسته د اسلام ودانۍ روغه نشي پاتی کېدې.

## د زکات معنٰی

زکات پاکولې او صفایې ته وایي، دخپل مال څخه یوه برخه اړو او بی وځلو خلکو ته ورکول ځکه زکات بلل شوی چې پدې سره دانسان مال او نفس دواړه صفا او پاکیږي.کوم کسان چې دالله تعالې دورکړي مال څخه د غریبو، اړو او بی وځلو حق او برخه نه وباسي دهغه مال او دولت ناپاک اوچټل دی چې د دی مال دناپاکوالي سره دده نفس هم ناپاک ګرځي.

دا ځکه چې د ده نفس داحسان هېرولو څخه ډک دی، دهغه زړه دومره تنګ، دومره خودخواه او دومره زرپالوونکې دی، چې الله پاک ده ته پخپل فضل او احسان سره د ده داړتیا څخه

زیات مال ورکړی ؤ، د دی احسان په حق اداء کولوکې هم دده زړه خفه کېږي. د داسې انسان څخه به څه هیله او امید وساتل شي چې په دنیا کې به دالله پاک لپاره کوم دخیر کار وکړي، کومه قرباني به دالله پاک لپاره ورکړي، ځکه نو د داسې انسان زړه هم ناپاک او چټل او دهغه مال هم ناپاک اوچټل وي.

## زکات امتحان او ازمیښت دې

الله پاک د زکات په فرضولو سره انسانان په ازمېښت او امتحان کې واچول، کوم خلک چې پخپله خوښه دخپل اضافي اوزیات مال څخه دالله پاک حق ورکوي او دهغه د بندګانو مرسته او لاس نیوی کوي، همدا د الله پاک د کار او چارو کوونکې انسان دي نو دا ددې وړتیا لري چې په مسلمانانو او مؤمنانوکې وشمارل شي.

اود چاچې زړه دومره تنګ وي چې داسې کوچنۍ قرباني هم نشي ورکولاۍ هغه د الله پاک د کارکولوانسان ندی، هغه د دې هېڅ وړتیا نلري چې دمؤمنانو او مسلمانانو په ټولې کې وشمارل شي. هغه یو خراب اوګنده شوې غړې دې چې له بدن څخه یې جلا کول او بیلول اړین دي، کنه ټول بدن به له ځان سره خراب اوګنده کړي.

همدا لامل ؤ چې کله رسول اللهﷺ وفات شو او دعربو ځینو قبیلو اوقومونو دزکات ورکولو څخه انکار وکړ نو لومړې خلیفه حضرت ابوبکر صدیقؓ دهغوی سره داسې جګړه وکړه لکه د کفارو سره چې کېږي، پداسې حال کې چې هغوی لمونځونه کول، الله پاک او نبيعليه السلام یې منلو. د دې څخه څرګندېږي چې دزکات څخه پرته لمونځ، روژه او د ایمان

شهادت او ګواهي ټول هسې بې کاره ګرځي اوبیا دهغه هېڅ شي ته هم اعتبار نه ورکول کېږي.

## د ټولو انبیاء علیهم السلام پر امتونو زکات فرض ؤ.

قرآن مجید را پورته کړئ او وګورئ، تاسې ته به څرګندده شي چې دپخوا نیو ټولو انبیاء علیهم السلام پر امتونو باندې لمونځ او زکات فرض اولازم ګرځول شوي ؤ، او د اسلام دین دهېڅ نبي اوپیغمبر په وخت او دوره کې د دې دواړو ارکانو څخه خالي نه ؤ، د حضرت سیدنا ابراهیم علیه السلام او دهغه دنسل څخه د انبیاؤ علیهم السلام یادونه چې کله کېږي نو بیا ورپسې فرمایي:

﴿ وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ ۖ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ ﴾

الأنبياء: ۷۳

اوټول مومږ کښان ګرځولي وه چې زمونږ په امر به یې ښوونه کوله.اودوحې په واسطه مودغوره کارونو،دلمانځه ودرولو اوزکات ورکولو هدایت ورکړ،اوهغوی زمونږ عبادت کوونکې وه.

د حضرت سیدنا اسماعیل علیه السلام په هکله فرمایي:

﴿ وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا ﴾

مریم: ۵۵

او خپلې کورنۍ ته ئې دلمانځه اوزکات امر کاوه،اودخپل رب په وړاندې منلې شوې ؤ.

حضرت موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته دُعا کوي وايي: ای ربه! مونږ ته د دې دنيا خير او د آخرت خير راکړه، تاسې ته څرګند ده چې الله پاک دهغې دُعا په ځواب کې څه وفرما یل:

﴿ عَذَابِيٓ أُصِيبُ بِهِۦ مَنۡ أَشَآءُۖ وَرَحۡمَتِي وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٖۚ فَسَأَكۡتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِنَا يُؤۡمِنُونَ ﴾ الأعراف: ۱۵۶

عذاب چې چاته وغواړم ورکوم يې خورحمت مې له هر شي نه پراخ دی،نودابه ډير زردهغه چاپه برخه کړم چې پرهيز ګاري کوي،زکات ورکوي اوزما په اياتونوايمان راوړي.

د حضرت موسیٰ علیه السلام د قوم زړونه ډير کوچني اوتنګ وه،هغوی په مال او زرو خپل ځان ورکولو لکه چې تاسې دنن سبا يهوديان ګورئ، ځکه نو الله پاک دخپل محبوب پيمغبر د دُعا او غوښتنې په ځواب کې وفرما یل: که ستا قوم زکات ورکړي نو بيا دهغوی سره ځما د رحمت ژمنه او وعده ده، که داسې ونکړي نو بيا به حتماً ځما د رحمت څخه بې برخې او ځما په عذاب به اخته وي.

په همدی خاطر د حضرت موسیٰ علیه السلام تر وفات وروسته څو څو ځلې بني اسرا ئيل پدې هکله خبردار کړای شويدي، بيابيا دهغوی څخه وعدي اوژمنې اخستل شوي چې د الله پاک څخه پرته د بل چا عبادت مه کوئ او په لمانځه او زکات باندې پابندي وکړئ.

﴿ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴾ البقرة: ۴۳

اولمونځونه وکړئ،اوزکاتونه ورکړئ،اوله رکوع کوونکوسره يوځای رکوع وکړئ.

آن تردې چې په آخر کې ورته په ډاګه داګوت څنډنه اواخطار ورکړل شو:

﴿وَقَالَ ٱللَّهُ إِنِّي مَعَكُمْۖ لَئِنْ أَقَمْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَيْتُمُ ٱلزَّكَوٰةَ وَءَامَنتُم بِرُسُلِي وَعَزَّرْتُمُوهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا لَّأُكَفِّرَنَّ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ﴾ المائدة: ۱۲

اوووېل الله بې شکه زه ستاسې سره يم،اوقسم دې که چېرې تاسې لمونځونه ودرول،زکاتونه موورکړل،زماپه رسولانو موايمان راوړ،دهغوی ملا تړ مو وکړ اوالله ته مو دزړه له اخلاصه قرض ورکړ نوزه به خامخا اوهرو مروستاسې ګناهونه ورژوم.

د رسول اللهﷺ څخه مخکې د بني اسرا ېلو اخري پيغمبر حضرت سيدنا عيسیعليه السلامؤ، هغه ته هم الله پاک د لمانځه او زکات حکم کړې ؤ، لکه چې په سورت مريم کې فرمايي:

﴿وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَانِي بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾﴾ مريم: ۳۱

اوګرزولې يې يم زه برکت ناک،اوامريې راته کړې چې دژوندترپايه به لمونځ اوزکات اداء کوم.

د دې څخه پوره ځرګنديږي چې داسلام دين له پخوا څخه دهر نبي او پيغمبر په وخت کې پدې دوه لوی ستنو، لمونځ او زکات باندې ولاړ وه او هېڅکله داسې ندي شوي چې دکوم پيغمبراو نبي امت دې د دې دواړو فرضونو څخه معاف اوخلاص بلل شوې وي.

## د رسول الله ﷺ په امت باندې دزکات فرضیت

اوس وګورئ چې دنبي علیه السلام په شریعت کې دا دواړه فرضونه په څه ډول یو له بل سره جوخت او لګیدلي دي، کله چې تاسې د قرآن مجید لومړئ پانه راواړوئ نو تر ټولو په لومړنیو ایاتونو مو چې سترګې ولګیږي هغه دا دي؟ فرمایي:

﴿ ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ۝٢ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱلْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ۝٣ ﴾ البقرة: ۱ - ۳

((دادالله کتاب دي هیڅ شک په کې نشته ،پرهیزګارانوته لاربښوونکې دي،هغوی چې په غیبوایمان راوړي،لمونځونه ودروي اوزمونږ دورکړي مال څه برخه خیراتوي)).

بیا د دې پایله اونتیجه داسې بیانوې فرمایي:

﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ۝٥ ﴾

البقرة: ٥

داډول خلک دخپل رب له لوري په سمه لاردي،اوهمدا خلک خلاصیدونکې دي.

یعنی هغه څوک چې ایمان نلري، لمونځ نه اداء کوي اوزکات نه ورکوي نه هغه په هدایت باندې دي او نه هغوی بریالیتوب او کامیابي تر لاسه کولای شي.

بیا په همدې سورت کې وروسته داسې راځي:

﴿ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرْكَعُوا۟ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴾ البقرة: ٤٣

اولمونځونه وکړئ،اوزکاتونه ورکړئ،اوله رکوع کوونکوسره یوځای رکوع وکړئ.

بیا لږ وړاندې داسې فرمایي:

﴿ لَّيْسَ ٱلْبِرَّ أَن تُوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلْكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّۦنَ وَءَاتَى ٱلْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِى ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَٰهَدُوا۟ وَٱلصَّٰبِرِينَ فِى ٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلْبَأْسِ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُوا۟ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾ ﴾ البقرة: ١٧٧

نیکي یواځې دانه ده چې تاسې خپل مخونه دختیځ یا لویدیځ لورته واړوئ، بلکې نیکي دهغه چاده چې په الله پاک، په اخر نئ ورځ، پرښتو، کتابونو اوپیغمبرانو ایمان راوړي اوزړه ته نژدې مال یې خپلوانو، یتېمانو، مسکینانو، مسافرو ،سوال کوونکواو د غلامانوپه اذاده ولو کې ورکړې وي. لمونځونه یې ودرولې، اوزکاتونه یې ورکړي وي. دخپلوژمنوپوره کوونکې، اودسختیو ،ناروغیو، جنګ اوجګړې په وخت کې صبرکوونکې وي. هو!همدا رښتیني اوهمدا پرهیزګاران دي)).

بیا وروسته په سورت المائده کې دارنګه فرمایي:

﴿ إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُمْ رَٰكِعُونَ وَمَن يَتَوَلَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فَإِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴾ : المائدة: ٥٥ – ٥٦

خبره همداده چې ستاسې دوست الله ،دهغه رسول اوهغه مؤمنان دي چې لمونځونه ودروي ،زکات ورکوي اوعاجزي کوونکې وي، اوهرڅوک چې له الله، دهغه له رسول اومؤمنانو سره دوستي کوي نوپوه دې شي چې برلاسې به یواځې د الله ډله وي.

## لمونځ اوزکات دایمان لرونکو نښه او علامه

په پورتني مبارک آیت کې یوه لوی قاعده او اصل بیان شویدې، تر ټولو دمخه تاسې ته څرګنده شوه چې ایمان لرونکې یواځې هغه کسان دي چې لمونځ کوي او زکات ورکوي، کوم کسان چې د اسلام د دې دوه لویو ارکانو څخه مخ واړوئ دهغو دایمان دعوه اوخبره دروغ اوغلطه ده ، بیا د دې آیت څخه څرګنده شوه چې دالله پاک، رسول اللهﷺ او ایمان لرونکو یوه ډله اوټولګې وي، ایمان لرونکو ته اړین دي چې له نورو څخه جلا شي او پدې ډله کې ځان داخل کړي، کوم مسلمان چې د دې ډلې څخه د بهرنیو خلکو سره که هغه یې پلار وي، یا ځوی وي، یایې ورور وي، یایې ګاونډی وي، یایې هېواد وال وي یا هر څوک چې وي که اړیکې، دوستي، محبت او مینه ورسره ولري نو د داسې مسلمان سره الله پاک د مرستې او کومک اړیکې ساتل نه خوښوي، د دې آیت له اخري برخې څخه داسې معلومیږي چې مسلمانانو ته برلاسي اوغلبه هغه وخت پلاس ورځي چې کله هغوی دنورو ټولو څخه خپل مخ واړوي او یواځې الله پاک، رسول اللهﷺ اومؤمنان خپل دوستان، ملګري، مرسته کوونکې، او ولیان وګرځوي.

## د اسلامي وروري بنسټونه

اوس لږ مخکې ولاړ شئ، په سورة التوبه کې الله پاک مسلمانانو ته د کفارو سره د جنګ کولو حکم کړې دې او تر څو رکوع ګانو پورې یې دجګړې په اړوند لارښوونې ورکړې، په دې لړ کې ورته فرمایي:

﴿ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَإِخْوَٰنُكُمْ فِي ٱلدِّينِ ﴾

نوبيا هم که توبه وباسي ،لمونځ وکړي اوزکات ورکړي نو ستاسې ديني وروڼه دي يوازې له شرک څخه توبه ويستل بس ندي، د دې خبرې دثبوت لپاره چې ايا دوی په رښتيا کفر او شرک خوشې کړې او ايمان يې راوړې دې، په دې معلومېږي چې هغوئ دلمانځه پابندي وکړي اوزکات ورکړي، که هغوئ په دې دواړو کارونو دخپل ايمان ثبوت وړاندې کړ نو بيا ستاسې وروڼه دي، که داسې ونشي نو بيا هغوی ستاسې ديني وروڼه ندي او جګړه ورسره بنده نکړئ.

بيا لږ مخکې په همدې سورة کې فرمايي:

﴿ وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ أُو۟لَٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ ٱللَّهُ ﴾ التوبة: ۷۱

اومؤمنان سړي اومؤمنې ښځې ځينې دځينو دوستان دي،دنيکېو په لوربلنه کوي ،له بديو نه خلک منع کوي،لمونځ ودروي،زکات ورکوي ،دالله اودهغه درسول پوره منښه کوي.پرهمدغوخلکو به ډيرژر الله پاک مهرباني وکړي.

تاسې واوريدل چې تر هغې پورې څوک د مسلمانانو ديني ورور نشي کېدائ چې دايمان اقرار ونکړي، عملاً لمونځ اداء نکړي اوزکات ورنکړي. ايمان،لمونځ اوزکات درې واړه سره يوځای کېږي اود ايمان لرونکو ډله اوجماعت جوړ وي، کوم خلک چې د دې درې واړو کارونو پابند وي هغه پدې ډله اوجماعت کې داخل دي اودهغوی په منځ کې ددوستئ، محبت، ملګرتيا او مرستې اړيکې او تعلق وي.کوم کسان چې د دې درې شيانو پابند نه وي هغه پدې ډله اوجماعت کې داخل ندي.

او لدی څخه بهر او دباندې دې سره لدې که دهغه نوم مسلمان هم وي.

د داسې خلکو سره د دوستئ، محبت اوملګرتیا اړیکې ساتل دالله پاک قانون ماتول او دالله پاک ډله او جماعت تیت پرکول دي، د دې سره سره تاسې په دنیا کې د برلاسی او غلبې تصور څه ډول کولای شئ؟

د دې څخه لږ مخکې په سورة الحج کې داسې لار ښوونه فرمایي:

## دالله پاک دمرستې اومدد شرایط

﴿ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ۝٤٠ ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ﴾

الحج: ٤٠ — ٤١

او الله به خامخا دهغوخلکوملاوتړي چې دهغه د دین ملا تړې وي، بې له شکه الله ډیرتوانااوپه هرڅه برلاسې دې. داهماغه کسان دي چې که مونږ په زمکه کې واک ورکړو نولمونځ دروي، زکات ورکوي، په نیکئ امرکوي، اودبدئ مخه نیسي ،اودټولوکارونوپای الله ته ده.

پدې ایاتونو کې مسلمانانو ته هم هغه ګوت ښنډنه اواخطار ورکړل شوې کوم چې مخکې بني اسرایېلو ته ورکړل شوی ؤ، لږ مخکې مونږ دهغې بیان وکړ چې بني اسرایېلو ته څه ډول ګوت ښنډنه شوې وه، هغوی ته فرما یل شوي وه چې زه تر هغې پورې ستاسې سره یم چې تر څو تاسې لمونځونه کوئ، زکاتونه ورکوئ او څما دانبیاؤ سره دهغوی په چارو کې مرسته کوئ.

یعنـی پـه نـړۍ کـې ځمـا د قـانون د پلـي کولـو، عمـل کولـو او خپرولو لپاره هلې ځلې او کوښښ کوئ.
هر کله چې تاسې ددې چارو څخه لاس واخیست زه به ستاسې له مرستې اوملګرتیا څخه لاس واخلم، بس همداسې خبره یې مسلمانانو ته هم وکړه، دوی ته یې هم وفرما یل چې که چېرې تاسې په ځمکه کې واک تر لاس کړئ نولمونځونه به قایموئ، زکاتونه به ورکوئ، نیکې به خپروئ اود بدئ مخنیوې به کوئ نو زه بـه ستاسې مرسته او کومـک کـوم او زه چې د چا مرسته کوونکې شم نوهغه بیا څوک لاندې کولې اوختمولې شي.
خوکـه تاسې دزکـات ورکولـو څخـه مـخ وګرځاوه او پـه ځمکـه کې د واکمنئ څخه وروسته مو دنیکئ پر ځای بدې خپره کړه او دبدئ دورکولو پر ځای مـودنیکئ ختمولـو تـه متې رابډوهلې او ځما د کلمـې داچتولـو پـر ځـای مـو خپلـه کلمـه پورتـه کـړه، دمالیـاتو او محصول څخه موځانونو تـه مـانۍ او جنتونـه جـوړ کـړل او همـدا مـود خپـل خلافـت او نیابـت اصـلي موخـه اوهـدف وګرځاوه نو په خلاسو غوږونو واورئ چې ځما مرسته او کومـک به ستاسې سره نه وي، بیا به نو شیطان ستاسې ملګرې، مرسته کوونکې او هڅوونکې شي چې هېڅ پلاس کې نلري پرتـه لـه چـل او دوکې څخه.

## مسلمانانو ته اخطار او ګوت څنډنه

الله اکبر! دا څومره د عبـرت ځـای دی،هغـه ګـوت څنډنـه چـې بني اسرایېلو ته ورکړل شوې وه هغوی هسې دخولې خبره وګڼله او دهغـې بـرعکس او مخـالف کـارېې وکـړ نـو خپـل بـد او خـراب

پای یې ولېدله چې اوس د ځمکې پر سر در په درگرځي، د هر ځای څخه ویستل کېږي او په هېڅ ځای کې تیکاؤ نلري، په مېلیونونو سرمایه او مال لري، د نړۍ تر ټولو مالدار او شتمن خلک همدوی دي، خو دا هر څه یې په کار نه راځي.

دا ځکه دوی د زکات پر ځای سود خوړل او د لمانځه پر ځای د بدکارۍ چارې پیل کړې چې پدې توگه یې پخپله د الله پاک قهر او غضب په ځان مسلط کړ او اوس د همدې قهر، غضب او لعنت لاندې د نړۍ په گوټ گوټ کې لوغړن گرځي (دا خطبه هغه وخت ورکړل شوې وه چې کله دوهم نړیوال جنگ روان وو او د نړۍ په هېوادونو کې یهودیان خواره واره گرځېدل او فرنگیانو ورته د پناه ځای لا نه وو جوړ کړی کوم چې اوس د اسرایېلو په نامه سره یادېږي).

بیا همدا گوت خنډ نه او اخطار مسلمانانو ته ورکړل شو چې هغوی یې هم پروا ونکړه، د لمانځه او زکات څخه بې پروا او غافل شول، د الله پاک ورکړې ځواک او زور یې د نېکویو په خپرولو او د بدیو په منع کولو کې پکار وانه چولو، د دې پای او انجام وگورئ چې مسلمانان د حکومت له گدۍ او تخت څخه راپرېوتل او د ظالمانو او تیرې کوونکو د ظلم او تیرې موخه وگرځېدل چې اوس د ځمکې په هر گوټ کې کمزورې، مغلوب او تر لاس لاندې ژوند تیروي، د لمانځه او زکات پرېښودلو بده پایله یې ولېدله.

اوس په هغوی کې داسې یوه ډله او ټولگې راپیدا شو چې مسلمانان په بې حیایۍ، فحاشۍ او بدکارۍ کې اخته کول غواړي او هغوی ته وایي چې ستاسې د غریبۍ او بې وځلۍ

یـواځنې عـلاج دادې چـې بېمـه کمپنـۍ اود سـود خـورۍ اډې جوړې کړئ.

په الله پاک قسم! که مسلمانانو دا چارې پیل کړې نـو دوی بـه هـم پـه هغـه سپکاوي ،خـوارۍ او رسـوایۍ بانـدې اختـه شـي پـه کومه چې بني اسرایېل اخته شوي وه، پـر دوی بـه هـم هغـه لعنـت وشي کوم چې په بني اسرایېلو باندې شوی ؤ.

## د زکات د نه ورکوونکو پایله

ځما داسلام ورونو!

په راتلوونکو خطبو کې بـه زه تاسـې تـه وواېـم چې زکـات څـه شي دې، څومره لوی ځواک او توان الله پاک پـه زکـات کـې ایښـی دې، نن چې مسلمانان دا الهي رحمت سـاده او عـادي څیز بـولې پدې کې څومره برکتونه پراته دي.

پـه نـنۍ خطبـه کې زه یـواځې دا خبـره کـوم چـې پـه اسـلام کـې لمـونځ او زکـات کومـه اوڅـه درجـه لـري؟ ډیـر مـسلمانان دا فکـر کوي، اود هغوی خپـل مولوي‌یان هـم همـدا شـپه ورځ ورتـه وایـي چـې کـه تاسـې لمـونځ او زکـات اداء نکـړئ نـو هـم مـسلمانان یاسـتئ، خـو قـرآن مجیـد د دې فکـر او خیـال رد کـوي. د قـرآن مجید له نظره د کلمهٔ طیبه اقرار بی معنیٰ دې تر څو چې دهغـې دثبوت لپاره دلمانځه او زکات پابند نه وي، په همدې خـاطر خـو حضرت ابوبکرصـدیق رضی الله عنه دزکـات نـه ورکـوونکې کـافر ګڼـل او دهغوئ په خلاف یې توره پورته کړه لکـه چـې مخکـې مـونږ هغـې ته اشاره وکړه.

په لومړئ مرحله کې صحابه کرامو پدې هکله شک او شبه لرله چې ایا هغه مسلمانان چې په الله او رسول باندې اقرار کوي او لمونځ هم کوي په هغو کسانو کې داخلیدائ شي چې دهغوی په خلاف توره پورته کول روا دي؟

خو کله چې ابوبکر صدیق ﷺ چاته چې الله پاک د نبوت سره نژدې مرتبه او درجه ورکړې وه پخپله خبره کلک ودریده او په کلکه یې دا خبره وکړه چې پخدای قسم! که دا خلک دزکات هغه رسۍ او پړې هم ورنکړي کوم چې درسول الله ﷺ په وخت کې یې ورکولوچې په کومې به اوښ تړل کیده نو زه به د دوی په خلاف توره پورته کړم او که پدې لاره کې یواځې پاتی شم نوهم به ورسره جنګیږم، دا څرنګه کیداې شي چې دابوبکر په ژوندانه دې دالله پاک کوم حکم ماتیږي.

بلاخره ټول صحابه کرام ﷺ پدې خبره قانع اوډاډه شول او ټولو ومنله چې دزکات د نه ورکوونکو سره قتال اوجګړه رواده.

قرآن مجید په ډاګه فرمایي چې زکات نه ورکول دهغو مشرکانو کار دې چې له آخرت څخه منکر دي.

﴿ وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِينَ ‎ الَّذِينَ لَا يُؤْتُونَ الزَّكَوٰةَ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ ﴾ فصلت: ٦ — ٧

هلاک اوتباه شول مشرکان، هغه کسان چې زکات نه ورکوي اوله اخرت نه هم منکر دي.

# ۲۰
# د زکات حقیقت

ځما داسلام ورونړو!

ما په مخکنۍ خطبه کې بیان کړل چې دلمانځه څخه وروسته د اسلام لوی رکن زکات دی،او دا دومره لوی اوستر رکن دی لکه څرنګه چې د لمانځه څخه انکار کوونکي کافر بلل کیږي دا ډول دزکات څخه انکار کوونکي هم نه یوائې دا چې کافر بلل کیږي بلکې دهغوئ په خلاف ټولو صحابه کرامو په اتفاق سره قتال اوجنګ کړیدی.

زه به په ننۍ خطبه کې تاسې ته د زکات حقیقت بیان کړم تر څو تاسې ته څرګنده شي چې په اصل کې دا زکات څه شي دی او په اسلام کې دې ته ولې دومره اهمیت ورکړای شوی دی؟

## الله پاک ته نژدیوالی څرنګه تر لاسه کیږي؟

### ۱_د عقل او پوهې امتحان او ازمینښت

په تاسې کې خو داسې ساده باده خلک هم شته چې هر څوک په دوستۍ نیسی، او ځینې وخت په دوست نیولو کې څوک امتحانوې هم نه چې ایا هغه په رښتیا سره د دوستۍ وړتیا لري او کنه؟ داسې ساده خلک په دوستۍ کې دوکه کیږي چې وروسته بیا ډیر پښېمانه او اندیښمن هم وی خو کوم خلک چې هوښیار اوزیرکه وي هغوی چې دهر چا سره یوځای کیږي نو په

هر ډول يې امتحانوي او ګوري چې په ده کې کوم يو ربښتنی، مخلص، وفادار، اوصادق انسان دی.

نو هماغه صادق، امين، وفادار او روغ انسان د خپل دوست په توګه غوره کوي اونور خوشي کوي.

الله پاک تر ټولو زيات حکيم او عليم ذات دی، دهغه څخه څرنګه داسې هيله او اُميد کېدای شي چې هغه دې هر کس اوناکس خپل دوست او ولې وګرځوي، پخپله ډله کې دی شامل کړی او پخپل دربار کې نژديوالی اودرجه ورکړی.

کله چې دانسانانو عقل، هوښياري او زيرکې د دی غوښتنه کوي چې پرته له ازميښت اوامتحان دوست او ملګرې نيول مناسب ندی نو الله پاک چې دټولو حکيمانو څخه لوی حکيم او دټولو پوهانو څخه لوی پوه اوعليم ذات دی، دا امکان نلري چې پرته له امتحان او ازميښت دی څوک په دوستۍ سره ونيسي.

دا مياپوژونه انسانان چې په ځمکه کې خپاره دي په هغې کې هر ډول انسانان شته، ښه او بد ټول د دې وړتيا نلري چې دالله پاک په ډله اوحزب الله کې دې داخل شي چاته چې الله پاک په دنيا کې دخلافت درجه اوپه آخرت کې دنژديوالی ژمنه او وعده کړېده.

الله پاک په پوره حکمت او کمال سره څوامتحانونه، څو ازميښتونه او څو معيارونه د تللواو معلومولو لپاره ټاکلي دي چې په انسانانو کې څوک په هغې کره او پوره شي نو د الله پاک په ډله او حزب الله کې داخل شي او څوک چې پدې معيار پوره نشي نوهغه خپله لدی څخه بيل او جلا شي، هغه پخپله پوه شي چې زه د دی وړ او لايق نه يم چې پدې ډله کې داخل شم.

دا معیار څه شي دی؟ څرنګه چې الله پاک حکیم اوعلیم ذات دی نو تر ټولو لومړې د انسان دحکمت، پوهی اوعلم امتحان اخلی، هغه ګوری چې پدې انسان کې هوښیاري، زیرکتیا او حکمت شته او کنه؟ وچ او سخت احمق او بې عقل خوندی؟ ځکه چې جاهل، ناپوهه، احمق او لیونی د حکیم، علیم او خبیر ذات دوست نشي کېدای.

هغه څوک چې د الهي نښو په لیدلو سره پدې پوه شي چې دا ځما مالک، خالق او رب دي، د ده څخه پرته بل معبود، بل پېدا کوونکې، بل پالوونکې، بل دُعا او فریاد اوریدونکې او بل مرسته کوونکې نشته.

اوهغه څوک چې دالله د کلام په لیدلو او اوریدلو پوه شي چې دا ځما دمالک اوخالق کلام دی دا د بل چا کلام نشي کېدای، او هغه څوک چې د رښتنی نبي او د دورغجنو دعوه کوونکو ژوند، اخلاق، چارې، ښوونې او کارنامې په ښه توګه سرد توپیر او بیلولای شي او پدې پوهیږي چې فلانې پدې دعوه کوونکو کې رښتنی، صادق او دالله پاک استازی او پیغمبر دی اودانسانانو دلارښوونې لپاره راغلی دی. فلانې د جال، کذاب او دوکه ورکوونکې دی،داسې انسان پدې ازمیښت اوامتحان کې بریالې او کامیاب راوځي،داسې انسان الله پاک د نورو خلکوڅخه بیلوی. کوم کسان چې په لومړنیو امتحانونو او ازمیښتونو کې ناکامیږي هغوی همداسې خوشي کوي او پرېږدي یې، چې چېرې ګرځي هلته دی ګرځي.

## ۲_د اخلاقي ځواک او قوت ازمېښت اوامتحان

په لومړني ازمېښت کې چې څوک کامیاب او بریالي شول هغوی اوس په بل امتحان کې باید ګډون وکړي، په دوېم ازمېښت کې دعقل، پوهې او علم سره سره د اخلاقي ځواک او قوت امتحان هم اخستل کېږي، پدې انسان کې دالیدل کېږي چې ایا د صداقت او نیکۍ د پېژندلو سره سره پده کې د هغې د قبلولو اومنلو صفت شته او کنه؟ د دروغو او بدۍ د پېژندلو سره سره پده کې دهغې دخوشي کولو او پرېښودلو صفت، ځواک او قوت شته کنه؟

ایا هغه دخپل نفسي خواهشاتو، د پلار نیکه د طریقو او رواجونو، د کورني دودونو، د دنیا د عامو نظریاتو اوخیالاتو او طریقو بنده او غلام خو ندی؟

ایا په هغه کې خو دا کمزوري نشته چې کوم شي د الله پاک د حکم خلاف او ضد وګوري اوهغه ورته تاواني او مضر ښکاري شي بیا هم دهغې پسې لیونې ګرځي. اوهمدارنګه بل شي پېژني چې د الله پاک خوښ دی خو سره له دې یې هم نه قبلوی؟

په دې امتحان اوازمېښت کې چې څوک ناکام شي نو داسې انسانان هم الله پاک پخپله ډله اوحزب الله کې نه مني، یوازې هغه کسان غوره اوانتخابوي چې دا صفات ولري:

فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا البقرة: ۲٥٦

نوڅوک چې له طاغوت څخه منکراوپه الله ایمان راوړي نوپه رښتیایې په نه شلیدونکې کړۍ منګولې خښې کړې.

یعنی داسې کسان چې د الله پاک دهدایت خلاف هره لاره اوخبره وګوري هغه په پوره زړورتیا سره خوشي کړي، دهېڅ شي

پروا ونه ساتي، او يواځې دالله پاک په لاره باندې تللو ته تيار اوچمتوو ي كه پدې خبره ورسره نورخلک راضي وي او كه ناخوښه، دې يې پروا نلري.

## ۳_داطاعت او فرمان منلو ازميښت اوامتحان

پدې ازميښت اوامتحان كې چې څوک بريالې او كامياب شي بيا په دريم ځلي امتحان او ازميښت كې اچول كېږي، پدې درجه كې داطاعت او فرمان منلو امتحان اخستل كېږي.

دلته دا حكم وركول كېږي چې كله هم څمونږ حكم درته وشي نو خپل خوب او آرام به قربان او ځان به رارسوي، خپل كار اوچارې خوشي كړه او دلته راشه، خپلې خوښې، خپلې ګټې، خپل خواهشات او خپل ساعت تېرې پرېږده،وظيفه او مسؤليت پوره او اداء كړه.

كه ګرمي وي كه يخني، كه هر حال وي چې كله هم درته دوظيفې او مسؤليت اداء كولو لپاره اواز وشي نوهر تكليف په غاړه واخله او په منډه راشه.

بيا چې مونږ درته حكم وكړو، چې دسهار څخه تر ماښام پورې وږى او تږى اوسه، دخپل نفس خواهشات پوره كول بنده كړه، نو بايد د دې حكم پوره كول په هر صورت وكړې، كه دلوږې اوتندې څخه هر حالت منځه ته راځي او هر ډول خوندور اوخواږه خوراكونه او شربتونه ستاسې په وړاندې پراته وي.

كوم كسان چې پدې ازميښت او امتحان كې خام راوځي نوهغوى ته هم ويل كېږي چې تاسې څمونږپكار نه ياستئ. يواځې هغه خلک او كسان غوره اوانتخابيږي چې پدې دريم

ازمیښت او امتحان کې هم بریالي او کامیاب راوځي، ځکه یوائې، دهمدوی ځخه دا هلیه او امید کېدای شي چې دالله پاک له لوری چې کوم حکمونه او قوانین دوی ته راځي نو دوی به یې په ښکاره او پټه، په فایده او تاوان، په راحت او تکلیف په ټولو حالتونو کې پېروي او پابندی کوي.

## ۴_د مالي قرباني ازمیښت او امتحان

ددې ځخه وروسته څلورم ازمیښت دمالي قربانۍ اخستل کېږي، په دریم ازمیښت کې بریالي او کامیاب انسان لاد دې ورټیا نلري چې دالله پاک په نوکرۍ کې داخل او وشمارل شي، اوس به دا لیدل کېږي چې ایادا انسان خو تنګ زړی، بې همته، بی حوصلی او زرپالوونکې ندی؟ ایا دا خو دهغو خلکو له ډلې څخه ندی چې ددوستۍ، مینی او محبت اوږدی اوږدی ژمنی او وعدی کوي خودخپل دوست، ملګری او محبوب په خاطر چې کله د جیب څخه د خرخ او مصرف وخت راځې نو بیا وایي چې زه دې کارته چمتو نه یم؟ ایا دا خو دهغو خلکو له ټولګي څخه ندی چې قربان، قربان ، جار، جار او صیب، صیب کوي اود دوی لپاره دخلکو سره جګړی کوي خو چې کله همدا خلک ورڅخه غله، میوه او دانه وغواړي نو بیا انکار، جګړه او خفګان هم ورسره کوي؟

داسې خودخواه، تنګ زړې، زرپالوونکې اوماده پرست سړی هېڅ انسان آن چې ساده باده خلک یې هم دوست نه ګرځوي، هوښیار اوزیرک سړی خو داسې خلکو ته پخپل څنګ کې هم ځای نه ورکوي. نوهغه لوی، عظیم او ستر پاچا چې هره ګړئ خپلې خزانې بې حسابه په خپل مخلوق باندې مصرفوي داسې

بی همته انسان کله دخپلې دوستۍ ورګنې چې د خدای ورکړې مال هم خپل خالق اومالک ته په ورکولو زوریږي؟ هغه الله پاک چې حکمت، علم او پوهه یې تر ټولو زیاته ده څرنګه به داسې انسان پخپله ډله کې داخلوي چې دهغه دوستي او محبت یواځې په ژبه باندې وي او هیڅ باور او اعتبار پرې نشي کیدای؟

نوهغه کسان چې پدې څلورم ازمېښت کې هم ناکام شي هغوی ته صاف ځواب ورکوي چې تاسې ولاړ شئ، ستاسې لپاره دالله په ډله او حزب الله کې ځای نشته، تاسې بې کاره خلک یاستئ، تاسې د دی لوی او ستر کار د سمبالولو اوپلاس کې اخستلو ورتیا نلرئ چې الهي خلافت او نیابت درته وسپارل شي.

پدې ډله اوجماعت کې یواځې هغه کسان شمارل کیږي چې دالله پاک په محبت، مینه اودوستۍ باندې خپل ځان، مال، دولت، کورنۍ، وطن، اولاد اوهر شي قربان او جار کړی.

قرآن کریم فرمایي:

﴿ لَن تَنَالُواْ ٱلۡبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ ﴾ آل عمران: ۹۲

تاسې هیڅکله بشپړه نیکي نشئ ترلاسه کولای ترڅو مو دخپلې خوښې مال خیرات کړې نه وي.

## د حزب الله صفات

### ۱– زړه تنګی نه وي.

په دی ډله او جماعت کې د زړه تنګو خلکو لپاره ځای نشته، پدې کې یواځې هغه خلک داخلیدای شي چې زړونه یې لوی او پراخه وي.

﴿ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ الحشر: ۹
حقیقت دادي چې هر څوک له بخیلۍ څخه وژغورل شونوهمدوی بریمن دي.

## ۲- دپراخه حوصلی خاوند وي.

دلته داسې حوصله لرونکوخلکو ته اړتیا ده چې که دهغوی سره چادښمنی هم کړی وي، هغوی ته یې زیان او تکلیف هم رسولې وي، دهغوی زړه یې مات کړی وي، نوبیا هم دهغوی د بدن د پټوالی لپاره جامې اودهغوی د ګیډې مړولو لپاره ورته دخوراک ورکولو څخه انکار نکوي، اودمصیبت په وخت کې ورسره د کومک اومرستی څخه دریغ نکوي.

﴿ وَلَا يَأْتَلِ أُوْلُواْ ٱلْفَضْلِ مِنكُمْ وَٱلسَّعَةِ أَن يُؤْتُوٓاْ أُوْلِي ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلْيَعْفُواْ وَلْيَصْفَحُوٓاْ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَكُمْ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (۲۲) ﴾ النور: ۲۲

ستاسې مهربان اوشتمن خلک دې لوړه نه کوي چې خپلوخپلوانو، تش لاسواودالله په لاره کې مهاجروخلکو ته به څه ور نه کړي. بایدعفوه وکړې اوتیرشي .ایاتاسې نه خوښوۍ چې الله درته بښنه وکړي؟ الله ښه بښونکې اومهربان دي.

دا آیت شریف هغه وخت نازل شو چې کله د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه یو خپلوان په حضرت بی بی عایشه رضی الله عنها باندې په تور پورې کولو کې برخه واخسته او پدې کار سره حضرت ابوبکر رضی الله عنه خفه شو اوهغه ته یې مرسته او کومک بند کړ، کله چې دا آیت شریف نازل شو نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه ولړځیده، او ویې فرمایل: زه دالله پاک بښنه غواړم، بیایې دهغه تور پورې

کوونکي خپلوان سره مرسته او کومک پیل کړ کوم چې هغه ته یې معنوي او روحاني تکلیف رسولې وو.

## ۳- د لوړ ظرفیت څښتن وي.

پدې ډله کې دلوړ ظرفیت خلکو ته اړتیا ده، فرمایي:

﴿ وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ﴿٨﴾ إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا ﴿٩﴾ ﴾ الإنسان: ۸ — ۹

دالله په مینه کې مسکین، یتیم اوبندي ته خوراک ورکوي. اووایي به چې مونږ یوازې دالله په خاطر درکوو له تاسې څخه نه بدل غواړو اونه مننه.

## ۴- د پاک اوصاف زړه خاوند وي.

دلته دهغو پاکو اوصافو زړونو خاوندانو ته اړتیا ده چې دالله پاک په لاره کې دهغه دورکړې مال او دولت څخه غوره اوښه مال را باسي او ورکوئ.

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ ۖ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ ﴾ البقرة: ۲٦۷

ای مؤمنانو! دخپل ګټلي مال اودهغه چې مونږ درته له زمکې څخه راویستلي دي غوره اوښه خیرات کړئ، دخراب مال د ورکړې هڅه مه کوئ چې اوس یې تاسې خیراتوئ.

## ۵- په بې وځلۍ او تنګ لاسۍ کې هم خرڅ کوي.

دلته هغو لوړ همته اود پراخ زړو خلکو ته اړتیا ده چې د تنګ لاسۍ، غریبۍ او بې وځلۍ په حالت کې هم دخپل اولاد،

خپلي کورنۍ اوخپلي ګيډي څخه يې ساتي اوداالله پاک دديـن دخدمت او دخپلو مسلمانانو ورونو سره پرې مرسته او کومک کوي.

﴿ وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ أُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِينَ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ ﴾

آل عمران: ۱۳۳ - ۱۳٤

((دخپل رب دبښني اودهغه جنت دترلاسه کولولپاره يوله بل څخه وړاندې شئ چې پلن والې يې اسمانونه اوځمکه دي دپرهيز ګارانو لپاره تيارشوې دي.پرهيزګاران هغه کسان دي چې په خوښئ اوناخوښئ دواړووختونوکې مالونه خيراتوي.))

## ۶- جواد اوسخي وي.

دلته هغوايمان لرونکوته اړتياده چې دزړه له اخلاصه په دې يقين او باور ولري چې څه داالله په لاره کې ورکوي هغه بې ځاى ،عبس اوخوشي نه ځي ،بلکې الله پاک په دنيااواخرت دواړوکې غوره او ښه بدله ورکوي.نو ځکه هغوى داالله درضالپاره مصرف کوي،ددې پروا نه ساتي چې چاته دده دجود اوسخا معلومات کيږي اوکه نه؟ يايې چا مننه اداء کړې اوکه نه؟

﴿ وَمَا تُنفِقُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَلِأَنفُسِكُمۡۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ ٱللَّهِۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِنۡ خَيۡرٖ يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ ﴿٢٧٢﴾ ﴾

البقرة: ۲۷۲

((اوتاسې چې څه خيراتوئ دخپلو ځانودګټې لپاره يې کوئ.اوخيرات خوتاسې هسې هم داالله په خاطرورکوئ .اوچې څه موخيرات کړل ،نوبدل به يې پرته له دې چې تيرې درسره وشي پوره درکړل شي.))

## ۷- په هر حال کې یې الله پاک یاد وي.

دلته هغه زړورو او باتورو خلکو ته اړتیا ده چې په شتمنۍ، مالدارۍ او سرمایه دارۍ کې هم الله پاک له یاده نه باسي اوهغه یې په یادوي، هغوی چې په ماڼیو او بنګلو کې هم ناست وي نوالله له یاده نه باسي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُلۡهِكُمۡ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴾ المنافقون: ۹

ای مؤمنانو!باید مالونه اوبچیان مود الله له ذکرنه غافله نه کړي،اوهرڅوک چې په دی کاراخته شو نو همدوی پوره زیانمن دي.

دا د الله تعالې په ډله اوجماعت کې د داخلیدونکو لازمي او اړین صفات دي، د دې صفاتو څخه پرته هېڅوک دالله پاک په دوستانو کې نشي داخلیدا ی، داپه اصل کې دانسان داخلاقو نه بلکې د ایمان سخت او کلک امتحان او ازمېښت دی.

هغه څوک چې دالله پاک په لاره کې د مصرفولو اوخرڅولو څخه ځان یوی او بلې خوا ته کوي، دا خرڅ اومصرف پخپل ځان باندې ټیکس اوباج ګڼی، په حیلو او پلمو دځان خلاصولو کوښښ کوي، او کله چې خرڅ اومصرف کوي نو خپل خفګان اوغم له خلکو څخه په احسان او منت بارولو سره وباسي، یادا غواړي چې د ده د جود او سخا انګازه په ټوله نړۍ کې خپره شي، په اصل او حقیقت کې دوی په الله پاک او آخرت باندې ایمان نلري، هغوی دا فکر کوي چې دالله پاک په لاره کې چې څه خرڅ شول هغه ضایع او عبث شول، هغه ته خپل عیش اوعشرت، خپل آرام او راحت، خپل خوندونه او لذتونه، خپلې

ګټې اونوم، تر الله پاک او دهغه تر خوښي او رضا زيات عزيز او محبوب وي، هغوی فکر کوي چې که هر څه دي نو همدا دنياده، که مال او دولت مصرفيږي نو بايد په دنيا کې نوم او ښان تر لاسه شي تر څو د دی مصرف بدله په همدی دنيا کې پلاس راشي، که روپۍ هم لاړی شي اونوم نښان هم ونشي نو بيا مال په اوبو کې ولاړ، په قرآن مجيد کې صاف او څرګند ويل شويدی چې داسې انسان د الله پاک ندی بلکې د ايمان د اقرار او دعوی سره سره منافق دی، لکه چې فرمايي:

## ۸- احسان او منت بارونکې نه وي.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُبْطِلُواْ صَدَقَـٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ كَٱلَّذِى يُنفِقُ مَالَهُۥ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ ﴾ البقرة: ٢٦٤

اى مؤمنانو!خپل خيراتونه مو په احسان بارولو، اوضرر رسولوسره دهغه چا په څېر مه بابيزه کوئ چې خپل مال دخلکودښودانې لپاره لګوي ،نه په الله ايمان لري اونه داخرت په ورځ.

## ۹- مال نه راټولوي.

﴿ وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ ﴾ التوبة: ٣٤

هغوخلکوته چې سره اوسپين زر راټولوي اود الله په لاره کې يې نه مصرفوي ددردناک عذاب زيرې ورکړه.

## ۱۰- د الله پاک په لاره کې رخصت او اسانتیاوې نه لټوي.

﴿ لَا يَسْتَـْٔذِنُكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ أَن يُجَـٰهِدُوا۟ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلْمُتَّقِينَ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَا يَسْتَـْٔذِنُكَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ وَٱرْتَابَتْ قُلُوبُهُمْ فَهُمْ فِى رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ ﴿٤٥﴾ ﴾ التوبة: ٤٤ - ٤٥

هغه کسان چې په الله او د اخرت په ورځ ایمان لري هېڅکله به له تا اجازه ونه غواړي چې هغوی دې په خپلو سرونو او مالونو له جهاد کولو معاف کړای شي. او الله ته پرهیزګاران ښه معلوم دي. اجازې یواځې هغه کسان غواړي چې په الله او د اخرت په ورځ ایمان نه لري. زړونه یې شکمن او یکې لا لهانده وي.

## ۱۱- په خپله خوښه د الله پاک د لارې اطاعت کوي.

﴿ وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَـٰتُهُمْ إِلَّآ أَنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأْتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَـٰرِهُونَ ﴿٥٤﴾ ﴾ التوبة: ٥٤

د هغوی د مصرف د نه منلو یوازینی لامل دا دی چې هغوی له الله او د هغه له رسول نه منکر، او چې لمانځه ته ورځي ډېر کسالت او ناخوښۍ سره ځي او چې مصرفوي نو ډېر ناخوښه وي.

﴿ ٱلْمُنَـٰفِقُونَ وَٱلْمُنَـٰفِقَـٰتُ بَعْضُهُم مِّنۢ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ ۚ نَسُوا۟ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمْ ۗ إِنَّ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ هُمُ ٱلْفَـٰسِقُونَ ﴿٦٧﴾ ﴾ التوبة: ٦٧

((منافق سړي او منافقې ښځې ټول یو له بل سره یو شان دي. هغوی د بدۍ په لوربلنه او له نېکۍ څخه منع کوي. خپل

لاسونه له نیکبوڅخه تړي. الله یې هېرکړ نو الله هم هغوی هېرکړل. په رښتیاچې همدامنافقان فاسقان دي.))

## ۱۲- انفاق فی سبیل الله باج اوټیکس نه بولي.

﴿ وَمِنَ ٱلْأَعْرَابِ مَن يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغْرَمًا ﴾ التوبة: ۹۸

په بانډه چې عربانوکې داسې خلک هم شته چې دالله په لاره کې ورکړه پرځان باج ګڼي.

## ۱۳- بخیل او کنجوس نه وي.

﴿ هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ ۖ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ وَٱللَّهُ ٱلْغَنِىُّ وَأَنتُمُ ٱلْفُقَرَآءُ ۚ وَإِن تَتَوَلَّوْا۟ يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓا۟ أَمْثَٰلَكُم ﴿٣٨﴾ ﴾ محمد: ۳۸

هو! تاسې همدغه خلک یاستئ چې درڅخه غوښتنه کېږي چې خپل مالونه دالله په لاره کې ولګوئ خوستاسې ځیني خلک بخیلي کوي. اوهرڅوک چې بخیلي خپله کړي نوپه حقیقت کې هغه پر خپل ځان بخیلي کوي. الله غني اوبې پروادې اوتاسې مسکینان اومحتاج یې. اوکه چېرې تاسې مخ واړولونوستاسې پرځای به بیا بل قوم راولې اوهغه به ستاسې په شان نه وي))

ځما د اسلام ورونو!

داؤ د زکات حقیقت چې ستاسې د دین ستر رکن دی، دا د نړۍ د حکومتونو د ټیکس پشان مه ګڼئ بلکې دا په اصل کې د اسلام روح او جان دی، داپه حقیقت کې د ایمان امتحان دی، لکه څرنګه چې انسان درجه په درجه امتحانونه ورکوي او پرمختګ کوي آن تر دې چې اخري امتحان ورکړي او سند تر لاسه کړي، په همدی توګه دالله پاک په وړاندې هم مختلف

امتحانونه شته چې د هغې تیرول اړین دي. کله چې هغه څلورم امتحان ورکړي چې دمال قرباني ده او بریالي شي نو بیا هغه پوره او مکمل مسلمان شي. سره ددې چې دا ازمېښت آخري نه دې بلکې د دی څخه وروسته نور سخت امتحانونه هم راځي چې د ځان قرباني ده خو دا څلور امتحانونه چې دهغې یادونه ما وکړه په حزب الله کې د داخلیدو لپاره دي چې څلورم یې د مالی قربانۍ ورکولو دی.

ځینې خلک وایي چې د انفاق او مصرفولو خبرې د پخوا وخت څخه خلکو ته کېږي، اوس د بې وځلۍ اوغربت په حالت کې دمال راټولو او ګټلو طریقی او لارې چاری خلکو ته ښودل پکار دي، خو دوی ته دا څرګنده نده چې په کوم شي دوی خفه اوغمګین کېږي هغه د اسلام روح دی، مسلمانان چې نن په کوم سپکاوي او ذلت کې پرېوتي، داد همدې روح کمې ده، مسلمانان دې روح ندی غورځولې بلکې ددې روح نشتوالي غورځولې دي، په راتلوونکې خطبو کې به زه تاسې ته څرګنده کړم چې زکات اوصدقات څمونږ د ټولنېز ژوند روح دی، پدې کې نه یواځې اخروي بلکې دنیوي ګټې هم پټې دي.

# ٢١
# په ټولنیز ژوند کې دزکات درجه

ځما د اسلام وروڼو!
د دی څخه مخکې په خطبه کې می تاسې ته د زکات حقیقت بیان کړ، اوس پدې خطبه کې دهغې په یو بل اړخ باندې رڼا اچول غواړم.

## دالله پاک کریمي شأن

په قرآن مجید کې څای پر څای د زکات او صدقاتو لپاره د انفاق في سبیل الله کلمه اوصطلاح استعمال شویده، یعنی دالله پاک په لاره کې خرڅول اومصرفول، په ځینو ځایونو کې داسې هم فرمایل شویدی چې کوم مال تاسې د الله په لاره کې خرڅ اومصرفوئ دا په الله پاک باندې قرض حسنه دی، یعنی دا چې تاسې الله پاک ته قرض ورکوئ اوهغه ستاسې پوروړی او قرضدار ګرځي. په زیاتو ځایونو کې دا فرمایل شویدی کوم شی چې تاسې دالله په لاره کې ورکوئ دهغې بدله اوعوض په الله پاک باندې دي نو هغه به یواځې د دی بدله نه درکوي بلکې څو چنده به یې زیاته درکوي، پدې خبره اومضمون باندې فکر او غور وکړئ.

ایا د ځمکې او آسمان څښتن نعوذبالله تاسې ته اړ او محتاج دی؟ ایا دهغه لوی ذات ستاسې څخه قرض غواړي؟ ایا هغه د پاچایانو پاچا او د بی شمېره خزانو څښتن دخپل ځان او خپل ذات لپاره در څخه څه غواړي؟ معاذالله، معاذ الله.

دهغه په بخشش تاسې ژوند کوئ او لويږئ، دهغه درکړل شوې روزي تاسې خورئ، ستاسې دهر غريب او شتمن سره چې څه دي دا دهغه بخشش او هديه ده، د يو غريب او فقير څخه نيولې تر يو ميلو نرپورې ټول هغه ته اړ او محتاج دی اوهغه ذات هيڅ ته اړ او محتاج ندی، هغه ته څه اړتيا ده چې ستاسې څخه قرض غواړي او دخپل ذات لپاره تاسې ته لاس غزوي؟

په اصل او حقيقت کې دادهغه کرېمي شان دی چې ستاسې د فايدې او ګټې لپاره، ستاسې دخير او صلاح لپاره او ستاسې د کارونو دمصرف لپاره تاسې ته وايي او بيا همدا خرڅ او مصرف په خپله لاره کې بولي او هغه پرځان قرض بولي، دهغې مسؤليت په غاړه اخلي او دهغه لپاره ستاسې احسان اومنت پر ځان باروي.

تاسې يې دخپل قوم او ملت اړو خلکو ته ورکړئ، هغه بې وځلي ا وغريبان به له کومه دهغې بدله درکړي، زه يې دهغوی له لوري بدله درکوم، تاسې دخپلو غريبو او بې وځلو خپلوانو مرسته وکړئ دهغې منت او احسان پر مابانـدې دې، زه به ستاسې دا احسان پوره کوم.

تاسې چې خپل يتيمانو، ګُنډو، رنډو، معيوبو، فلجو، مسافرو اومصيبت ځپلو ورونو ته څه ورکوئ هغه ټول ځما پسې وليکئ، تاسې به يې دهغوی څخه نه غواړی ځما څخه به يې غواړی او زه به يې درکوم. تاسې خپلواند يښمنو ورونو ته قرض او پور ورکړئ اوله هغوی څخه ګټه او سود مه غواړی، هغوی مه تنګوی، که هغوی د اداء کولو وړتيا نلري نو زندان ته يې مه استوئ، دهغو د کور سامان مه خرڅوئ، دهغوی کوچنيان

اوماشومان مه بی کوره کوئ، ستاسې قرض په هغوی نه بلکې پر ماباندې دی، که هغوی اصل سرمایه درکړي نو سود يې زه درکوم.

که هغوی اصل هم درنکړی شي نو اصل سرمايه او سود دواړه زه يوځای درکوم.

پدې توګه ستاسې په ټولنېزو چاروادو انساني خوا خوږې په کارونو کې چې څه مصرفيږي دهغې فايده او ګټه سره لدې چې تاسې ته رسيږي خودهغې احسان او منت پر ماباندې دی، زه به دهغې يوه يوه ذره د ګټې، فايدي او سود سره بيرته درکوم،

دا دی د کريمانو کريم، دا دی د پاچايانو دپاچا شان، ستاسې سره چې څه دي دا د هغه بخشش دی، تاسې د بل ځای څخه ندی راوړي، دهغه له خزانو څخه يې اخلې، او بيا چې څه درکړي هغه بيرته نه ورکوئ، تاسې خو هغه خپلو خپلوانو، ورونو، کورنۍ، او خپل قوم ته ورکوئ، يايې پخپلو ټولنېزو اړتياو خرڅوئ چې ګټه يې همدا تاسې ته رسيږي خو د دې جواد او سخی ذات سخاوت وګورۍ چې تاسې يې خپلو خپلوانو ته ورکوئ خوهغه وايي چې دا ماته راکول دي، ځما په لاره کې مو ورکړي، ماته موقرض او پور راکړی، زه به د دې بدله، ثواب او اجر درکوم.

الله اکبر!دا شان او حيثيت يواځې د دې مخلوقاتو د خالق او پيدا کوونکې سره مناسب او ښه ښکاري، د دې بی نيازه او بی پروا ذات دا مقام او مرتبه ده چې دخپل جود، سخا او کرم ځرګندونه وکړي، هيڅ انسان د دې لوړ او پورته مرتبې او مقام تصور هم نشي کولای.

## د انفاق تلقین او تشویق د څه لپاره؟

راشئ اوس پدې غور وکړئ چې الله پاک انسان نیکۍ او سخاوت ته د تشویق او ترغیب لپاره داسې لاره او طریقه ولې غوره کړه؟ تاسې چې څومره پدې پوښتنه باندې غور وکړئ نو د اسلامي ښوونو او تعلیماتو سپیڅلتیا به درته ځرګنده او ښکاره شي، او ستاسې زړه به دا شاهدي او ګواهي ورکړي چې دا ډول تعلیم او ښونه پرته له الله پاک څخه د بل چا لخوا نشي کېدای.

## انسان ځان غوښتونکي اوخود خواه دې.

تاسې پوهیږئ چې انسان دخپل فطرت په اساس او بنسټ تېري کوونکې، ناپوهه او جاهل واقع شویدی، د هغه نظر تنګ دی، هغه تر لری پورې نشي لیدلای، دهغه زړه کوچنی دی، زیات پراخه او وسیع خیالات دهغه په ذهن کې کم ځای نیسي، هغه خپل ځان غوښتونکې(خودخواه) ثابت شویدی، دخپل ځان غوښتنې پراخه او وسیع تصورهم دهغه په دماغ کې نشته، هغه بیړه کوونکې هم ثابت شویدی.

خُلِقَ ٱلْإِنسَـٰنُ مِنْ عَجَلٍ سَأُو۟رِيكُمْ ءَايَـٰتِى فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ الأنبياء: ۳۷

انسان تلواري پیدا شوېدې. ډیرژر به خپلې نښې تاسې ته وښایم تلوارمه کوئ.

هغه د هر شي بیړنۍ پایله اونتیجه لیدل غواړي، همدا پایله اونتیجه آخري او حتمي بولي، او هغه زر تر زره کتل اومحسوسول غواړي، لری پایلو اونتیجو ته دهغه سترګی او دیدنه رسیږي، او په پراخه پېمانه چې کومې ګټې او فایدې تر لاسه کیږي هغه ډیر زیات وخت نیسي او دهغې ادراک ګران

وی، دا دانسان فطري کمزوری ده، د دې پایله دا راوځي چې هغه یواځې خپله فایده ګوري خو داسې فایده چې لږه ، عادي او ډیر زر تر لاسه یا محسوسه شي.

هغه فکر کوي چې څه ماګټلي او څه ماته له پلار نیکه څخه راپاتې شوي هغه ځما خپل دي، په هغې کې د هیچا برخه او حصه نشته، هغه باید ځما په خپلو اړتیاوو، ځما پر خواهشاتو، ځما پر اسانتیاؤ، او ځما د نفس په خوندونو او لذتونو خرڅ اومصرف شي، که په بل چامصرفېږي نو کم له کمه باید ځما نوم لوړ شي، ځما نوم خپور شي، ځما عزت زیات شي،ماته کوم لقب پر برخه شي، لوړه او پورته څوکۍ راکړل شي، خلک ماته ښکته او ټیټ شي، په ژبو دې ځما یادونه کېږي، که دا خبرې اوچارې ماته نه راکول کېږي نوبیا ولې زه خپل مال پخپل لاس برباد کړم؟که چېرې ځما سره نژدې کوم یتیم له لوږې مري او درپه درګرځي زه ولې دهغه غم وخورم؟ دهغه حق خو پر خپل پلار باندې ؤ، هغه باید خپل اولاد ته څه پرېښې او بیا ولاړ وا ـی یا به یې ښمه کړی وا ـی، که چېرې ځما په خواکې کومه کونډه د مصیبت په حال کې ژوند کوي نو ماته څه ؟ دهغې خاوند بایـد د هغې غم او درد خوړلی وایـي، کـه کوم مسافر یوی او بلې خواته ګرځي نو ځما سره دهغه څه اړیکې دي؟ هغه بې عقله پرته له ترتیب او تیارۍ ولې له کوره وتلو؟ که څوک بې وځلې او په بدحال ګرځي نو ګرځي دی، هغه ته هم الله پاک ځما پشان پښې، لاسونه، فکر او دماغ ورکړیدی، هغه باید خپلې اړتیاوې خپله پوره کړي، زه د څه لپاره دهغه سره مرسته وکړم؟ که زه یې هغه ته ورکوم نو قرض باید ورکړم، چې د اصل سره باید سود هم ورڅخه واخلم ځکه چې ځما سرمایه خو خوشې

لاس ته نده راغلې؟ ماپه هغې باندې کور جوړولای شو، موټر مې پرې اخستلای شو، یا په بل کوم ګټور کارکې مې لګولې شوې چې دهغې څخه به ګټه او فایده پلاس راتلله، نو بیا ولې زه دخپلې سرمای ګټه اوسود تر لاسه نکړم؟

## د ځان غوښتونکې ذهني پایلې

ددې ډول ذهن او خیال لومړۍ پایله دا راوځي چې انسان د مال، خزانې او زرو شمار ګرځي، که خرڅ کوي نو دخپلې فایدې او ګټې لپاره یې کوي، که چېرې په کوم کار کې هغه ته خپله فایده او ګټه ښکاره نشي نو هغه له جیب څخه یوه روپۍ هم نه راوباسي، که هغه د کوم غریب سره مرسته کوي نو دهغه سره کومک نکوي بلکې هغه له هر څه څخه خلاصوي، یعنی دخپلې سرمایه سربیرلانور مال هم ورڅخه تر لاسه کوي، که کوم غریب او مسکین ته څه ورکوي په هغه باندې په زرګونو احسانونه او منتونه کوي او دهغه څخه وینه وباسي، تر دې یې زوروي چې دهغه له شخصیت څخه عزت او وقار ختم شي، که په کوم ملي او قومي کار کې سرمایه لګوي نو لومړې دا ګوري چې په هغې کې یې خپله کومه فایده شته کنه؟ په کومو کارونو کې چې دهغه ګټه او فایده نه وي نو د ده له کومک او مرستی څخه بې برخې کېږي.

د دې خیال اوذهنیت پایلې څه دي؟ د دې پایلې اونتایج نه یواځې داچې د ټولنېز ژوند لپاره تباه کوونکې اوخطرناک دي بلکې بلاخره دهمدې ذهن لرونکې لپاره هم خطرناک او هلاکوونکې دي چې پخپل جهالت او تنګ نظرۍ یې د ځان

لپاره گټهور بللو، کله چې دخلکو په منځ کې دا ډول خیال او ذهنیت کار کوي نو مال اودولت یواځې دځو کسانو پلاسونو کې جمع کېږي.

بې شماره انسانان بې اسرې او بې وسیلې پاتې کېږي، شتمن او مالدار خلک دخپل مال اودولت په زور نور مال او دولت راکش کوي چې پدې توګه د بې وځلو اوغریبو خلکو ژوند نور هم تنګ او خرابیږي، کله چې په یوه ټولنه کې غربت، بې وځلی او بیکاري زیاته شي نوهلته هر ډول خرابي، بدامني او ګډوډي رامنځ ته کېږي، هلته ناروغۍ راپیدا کېږي او روغتیا له منځه ځي، هلته دمال او دولت لاس ته راوړل ګران ګرځي، هلته جهالت اوناپوهي عامه ګرځي، اخلاق ورسره خرابیږي، خلک دخپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره په جرمونو پیل کوي، بلاخره هر لوري ته ډاکې، لاره شکونې او چورتالان پیل کېږي، عام پاخون صورت نیسي، شتمن او مالدار خلک وژل کېږي، دهغوی کورونه، مال اوشتمنی سوځول او له منځه وړل کېږي، لنډه دا چې هغوی داسې تباه او بربادیږي چې نوم او نښان یې له منځه ځي.

## د ټولنې په بریالیتوب کې د فرد بریالیتوب هم دی.

که تاسې غور وکړئ نو درته ځرګنده به شي چې په حقیقت کې دهر چا خیر او بری دهغې ټولنې په خیر اوبري پورې تړاو لري په کومه کې چې هغه اوسیږي، ستاسې سره چې کوم مال او دولت دی که تاسې هغه د نورو وروڼو دخیر لپاره استعمال کړئ نو دا مال او دولت به تر ګرځیدلو اوچکر وهلو وروسته د ډیرو فایدو او ګټهو سره تاسې ته بیرته راشي، خو که همدا دولت او

مال د ځان سره وساتئ، او یا یې یواځې دخپل ځان په ګټه استعمال کړئ نو ورځ په ورځ به مخ په کمیدو شي.

دمثال په توګه که تاسې د ټولنې یو یتیم وپاللو او هغه ته مو تعلیم ورکړ نو تاسې ټولنې ته یومال او دولت ګټونکې فرد ورانده کړ چې پدې توګه په ټولنه کې دمال ګټوونکو شمېر زیاتېږي، پدې توګه د ټولنې مال زیاتیدل خپله تاسې ته ګټه او فایده رسوي، پداسې حال کې چې شاید تاسې ته هېڅ څرګنده نشي چې دا ګټه او فایده دهغه یتیم د پالنې څخه تر لاسه شویده، خو که تاسې له تنګ نظرۍ او بخل څخه کار واخلئ او دا ووایئ چې زه د دی یتیم سره څه اړیکې لرم، دهغه پلار باید دده غم خوړلی وای، نو دهغه یتیم څخه به لوفر او کوڅه ګشت انسان جوړ شي او په ټولنه به بار وي یا دا چې د ټولنې لپاره به غم او اندیښنه وګرځي ځکه هغه به جرمونو او بدکاریو ته لاس اچوي، داسې هم کیدای شي چې همدا یتیم دشتمن په کور برید وکړي او چورېي کړي. د دې معنی دا شوه چې تاسې پخپل لاس د خپلې ټولنې یو فرد ګناهونو، بداخلاقیو او جرمونو ته برابر کړ او پدې توګه مو ټولنې ته زیان او تاوان ورساوه.

که دې مثال ته تاسې په پراخ او وسیع نظر وګورئ نو تاسې ته به څرګنده شي چې کوم مال اودولت ستاسې له جیب څخه د ټولنې دخیر او بریا لپاره وتلی دی هغه به په ټولنه کې ګرځي او زیاتېږي چې بلاخره د ډیرو فایدو او ګټو سره به بیرته ستاسې په لوري راشي، او کوم کسان چې بخل کوي او خپل مال د ځان سره ساتي په حقیقت کې هغوی خپل مال کموي اوپخپلو لاسونو

دخپلې بربادۍ او تباهۍ سامان برابروي،همدا راز پدې کې پټ دی چې قرآن مجید په ښه شکل بیان کړی.

﴿ يَمْحَقُ ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰاْ وَيُرْبِي ٱلصَّدَقَٰتِ ﴾ البقرة: ۲۷٦

الله پاک سود له منځه وړي اوخیراتونه زیاتوي.

﴿ يَرْبُواْ عِندَ ٱللَّهِ وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن زَكَوٰةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُضْعِفُونَ ﴾ الروم: ۳۹

اوکوم سودچې تاسې ورکوئ چې دخلکو دمالونوسره دیوځای کېدلوله کبله نور هم زیات شي له الله سره نه زیاتیږي،اوچې داالله دخوښې لپاره زکات ورکوئ نوهمدغه کسان په حقیقت کې خپل مالونه څوچنده کوي.

د دې راز په پوهیدلو کې د انسان ناپوهي، جهالت او ځان غوښتنه خنډ او مانع ګرځي، ځکه چې هغه د حسي شیانو بنده او غلام دی، کوم مال چې دده په جیب کې دی هغه ګوري، کوم مال چې په تجارت او سود ورکوي په هغې هم پوهیږي چې زیاتیږي، خو کوم مال او دولت چې دده له جیب څخه وځي په هغې نه پوهېږي چې په څه توګه زیاتیږي، په کوم ځای کې زیاتیږي، څومره ډیریږي او څه وخت د ډیرو ګټو او فایدو سره ده ته بیرته راګرځي، دې خو یواځې پدې پوهیږي چې دومره مال راڅخه ولاړ او د تل لپاره راڅخه رخصت شو.

د دې جهالت اوناپوهۍ غوټه ترنن ورځې پورې د انسان عقل او پوهې پخپل کوښښ سره خلاصه نشوه کړای، په ټوله نړۍ کې همدا حال دی، یو لوري ته پانګواله نړۍ ده چې ټول کار او چارې یې په سود چلیږي، د دولت او مال د زیاتوالي سره سره یې اندیښنې، غمونه او مصیبتونه زیاتیږي.

بل لوري ته داسې ډله او ګروپ را پیدا شوی چې په زړه کې یې دحسد ، کرکې او نفرت اور لمبې وهي، او د پانګوالو په

خزانو باندې د ډاکې اچولو په تکل ټول انساني تمدن او کلتور له بيخه ويستل غواړي.

## د ستونزو حل

دا جنجالي غوټه هغه حکيم ذات پرانستې ده چې دهغه دکتاب نوم قرآن مجيد دی، د دې قلف کلي او کُنجي په الله او اخرت باندې ايمان راوړل دي، که انسان په الله پاک باندې ايمان راوړي او پدې باور او يقين وکړي چې د آسمان او ځمکې دخزانو مالک او څښتن الله پاک دی، او دانساني معاملاتو اصلي تنظيم او تدبير دهغه پلاس کې دی او دهغه په دفتر کې د يوې يوې ذرې حساب شته، د انسان دنيکيو او بديو اخري سزا او جزا به دهغه د ثبت شوي حساب سره سم په آخرت کې ورکول کيږي، نو د ده لپاره به بيا ډيره اسانه شي چې دخپل تنګ نظر څخه تير شي او دالله پاک په حکمونو باندې عمل وکړي، په الله پاک توکل او باور وکړي، دهغه د حکمونو سره سم خپل مال او دولت مصرف کړي، ګټه او تاوان يې الله ته وسپاري، د دې باور، يقين او ايمان سره چې هغه څه مصرفوي نو يقيناً چې هغه يې د الله پاک په لاره کې مصرف کړل ،هغه به خامخا د الله پاک په علم او دفتر کې موجود وي، که څوک د ده احسان او منت مني او که يې نه مني خوالله پاک به د ده احسان مني او دهغې بدله به حتماً ورکوي، او کله چې دالله پاک وعده او ژمنه پدې هکله شويده نو بيا پدې يقين او باور پکار دی چې دهغه بدله او عوض به خامخا ورکوي، که هغه په دنيا کې وي يا په آخرت او دنيا دواړو کې.

# ۲۲
# دانفاق في سبيل الله
# عام احکام

## د احکامو دوه ډولونه ( عام او خاص)

څما د اسلام ورونو!
الله پاک د خپل شریعت اصل داسې ایښې دی چې لومړې د خیراو نیکۍ کولوعام حکم ورکوي تر څو خلک په خپل ژوند کې دخیر او نیکۍ لاره غوره کړي، بیا ددې خیر او نیکۍ یوخاص او ځانګړي شکل او صورت هم وړاندې کوي چې په خصوصي توګه د هغې پابندي وشي.

## د الله پاک د یادولو عام حکم

د مثال په ډول تاسې ګورئ چې د الله پاک یادول د خیر او نیکۍ کار دی، تر ټولو لوی، غټه او ستره او د ټولو نیکیو سر چینه ده، د دې لپاره خصوصی حکم دا دی چې تاسې هیڅ وخت دالله پاک له یاد څخه بې پروا او غافل کیږي مه. فرمایي:
﴿ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمۡ ﴾ النساء: ۱۰۳
په ولاړه، په ناسته او په ملاسته هر وخت دالله ذکر کوئ.
﴿ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٤٥﴾ ﴾ الأنفال: ٤٥
الله تعالی ډیر یادوئ تر څو تاسې کامیاب شئ.

﴿ إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٍ لِّأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٩٠﴾ ٱلَّذِينَ يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَٰطِلًا ﴾

آل عمران: ۱۹۰ - ۱۹۱

بې شکه د ځمکې اواسمانونو په پېدا ينښت کې اود شپې او ورځې په اختلاف کې ډيرې نښې دي د هغو خلکو لپاره چې عقل لري، هغوی چې الله پاک په ولاړه، ناسته او ملاسته يادوي او د ځمکې اوآسمانونو په پېدا ينښت کې غور او فکر کوي او بيا وايي ای ځمونږ ربه! دا تا بې ځای او هسې ندی پېدا کړی.

﴿ وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُۥ عَن ذِكْرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمْرُهُۥ فُرُطًا ﴿٢٨﴾ ﴾ الکهف: ۲۸

او د هغه چا خبره مه منه چې د هغه زړه ځمونږ د ياد او ذکر څخه خالی او غافل وي اود خپلو خواهشاتو پسې لګيدلې وي او دهغه ټول کارونه د حد او پولې څخه تير شوی وي.

پدې اياتونو اونورو ډير مبارکو اياتونو کې حکم ورکړل شويدی چې په هر وخت کې بايد خپل رب اوالله پاک ياد کړې ځکه دالله پاک ياد او ذکر هغه شي دی چې د انسانانو ټول حال احوال سموي اوهغه په نيغه او مستقيمه لاره باندې برابروي، کله چې د انسان زړه د الله پاک له ياد اوذکر څخه غافل اوبې پروا شو، په نفساني او شيطاني خواهشاتو پسې شو نو ددې حتمي پايله اونتيجه دا ده چې هغه به د نيغې او مستقيمې لارې څخه بې لارې او ګمراه او پخپلو معاملو کې به د حد څخه تيريږي.

## د الله پاک د یاد خاص حکم

دا خو عام حکم وو،اوس دالله پاک دیاداوذکرلپاره خاص او ځانګړی شکل او صورت هم وړاندي شویدی. لمونځ او په لمانځه کي چي پنځه وخته څومره رکعتونه فرض شویدي په هغو ټولو کي یواځي نیم یاد نیم ساعت وخت مصرفیږي. څو دقیقي په یو وخت کي اوڅو دقیقي په بل وخت کي دالله پاک یاد او ذکر فرضول دا معنیٰ نلري چي بس دومره وخت الله پاک یاد کړئ او پاتي وخت هغه له یاده وباسیﺉاو ورڅخه بي پروا او غافل شئ. بلکي ددي مطلب او موخه دا دئ چي کم تر کمه دومره وخت خو تاسي باید دالله پاک په یاد کي مصرف کړئ، بیا دهغي څخه وروسته خپل کارونه هم کوئ او الله پاک هم ورسره یادوﺉ یو فارسي متل دی: دست بکار دل به یار.

## د انفاق في سبیل الله عام حکم

بس همداسي معامله دزکات هم ده،پدي کي هم یو عام حکم دی اوبل خاص، یو دا دی چي تاسي د بخل او زړه تنګی څخه ووځیﺉ ځکه چي دا د ټولو بدیو بیخ او مور ده، پخپلو اخلاقو کي د الله پاک رنګ خپل کړئ چي هر وخت بي شمېره او بي حسابه سخاوت کوي، پداسي حال کي چي د هیچا حق اودعویٰ پري نشته، دالله په لاره کي چي څه مصرفولای او خرڅولای شئ هغه خرڅ او مصرف کړئ.

د خپلو اړتیاو څخه چي څومره بچ او خوندی کولای شئ هغه د نوروارو او محتاجو خلکو د اړتیا پوره کولو لپاره پکار واچوئ،د دین د خدمت او د الله پاک په لاره کي د خپل ځان اومال د قربانولو څخه هیڅ وخت دریغ ونکړئ، که د الله پاک

سره مینه او محبت لری نو د مال او دولت مینه د الله پاک له مینې اومحبت څخه قربان کړئ. دا دی عام حکم.

## دانفاق في سبيل الله خاص حکم

د عام حکم سره خاص حکم دا دی،څومره مال چې ستاسې سره شته او جمع شویدی دهغې څخه دومره د الله پاک په لاره کې خامخا مصرف او خرڅ کړئ، ستاسې د زمکې حاصل چې څومره دی په هغې کې کم له کمه دومره برخه د اللهﷻ په لاره کې مصرف او خرڅ کړئ. لکه څرنګه چې د څورکعتونو د لمانځه د فرض کېدو مطلب دا ندی چې پدې وختونو کې الله پاک یاد کړئ او په پاتې وختونو کې هغه له یاده وباسئ.

په همدی توګه لږه برخه مال چې فرض شویدی د دې مطلب هم دا ندی چې د چاسره چې دومره مال وي هغه دې مصرف کړي او د چاسره چې نه وي هغه دې خپل لاسونه مبنيي، او دا مطلب هم ندی چې شتمن او مال لرونکې دې یواځې تاکلې فرض زکات ورکړي او بیا چې کوم اړ او محتاج راشي نو هغه دې ورټيي، یاچې د دین کوم خدمت راشي او دې ووایي چې مونږ خوزکات ورکړې او مسؤلیت مو پوره کړیدی نور را څخه د یوې روپۍ امیدهم مه کوئ.

د زکات د فرض کېدو مطلب هېڅکله دا ندی بلکې د دې مطلب دا دی چې دومره مال به تاسې په هر صورت د الله په لاره کې ورکوئ او د دې څخه چې د چاسره زیات وي هغه دې هم څه ورکړي.

## د انفاق د عام حکم لنډه تشریح

اوس زه تاسې ته د انفاق دعام حکم لنډه تشریح وړاندې کوم، بیا به بل ځل د خاص حکم بیان درته هم وکړم.

د قرآن مجید اصل او ځانګړتیا دا ده چې کله د کوم شي او کار حکم ورکوي نو دهغې حکمتونه، مصلحتونه، فایدې، ګټې او فضایل هم بیانوې تر څو حکم منوونکې ته دا څرګنده شي چې دا حکم ولې ورکړل شویدی او د دې ګټه او فایده څه ده؟ کله چې تاسې قرآن مجید لومړې ځل را خلاص کړئ نو پدې مبارک آیت به مو سترګې پرېوځي:

﴿ الٓمٓ ﴿١﴾ ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٢﴾ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱلْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٣﴾ ﴾ البقرة: ١ - ٣

الم. داد الله کتاب دی، پدې کې هېڅ شک نشته، دا هغوپرهیزګارو خلکو ته دژوند نیغه لاره په ګوته کوي چې په غیبو ایمان راوړي، لمونځ قایموي اوکوم رزق چې مونږ ورکړی د هغې څخه مصرف کوي)).

پدې آیت شریف کې دا ا صول بیان شویدي چې ددنیا په ژوند کې په نیغه او مستقېمه لاره دتللو لپاره درې شیان اړین او لازمي دي:

لومړې په غیبو ایمان، دوېم لمونځ قایمول او درېم د الله پاک د ورکړي رزق څخه د هغه په لاره کې مصرفول.

قرآن مجید په بل ځای کې فرمایي:

﴿ لَن تَنَالُوا۟ ٱلْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا۟ مِمَّا تُحِبُّونَ ﴾ آل عمران: ٩٢

تاسې هېڅکله دنیکۍ مقام ته نشئ رسیدلا ی تر هغې پورې چې د الله تعالی په لاره کې خپل ګران اومحبوب شیان خرڅ او مصرف نکړئ.

په بل ځای کې داسې فرمايي:

﴿ ٱلشَّيْطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِٱلْفَحْشَآءِ ﴾ البقرة: ۲۶۸

شيطان تاسې لدی څخه ويروي که مصرف وکړئ نو غريب او فقير به شئ او تاسې ته د شرمناک شي يعنی بخل تعليم درکوي.

د دې څخه وروسته فرمايي:

﴿ وَأَنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلْقُوا۟ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى ٱلتَّهْلُكَةِ ﴾ البقرة: ۱۹۵

د الله په لاره کې خرڅ وکړئ او پخپل لاس ځانونه هلاکت ته مه غورځوی (يعنی دالله په لاره کې خرڅ نکول ځان په هلاکت کې غورځول دي.

بيا په اخره کې داسې فرمايي:

﴿ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ۝٩ ﴾ الحشر: ۹

او څوک چې له بخل او زړه تنګۍ څخه خلاص شو هغه کامياب او بريالی دي.

## د ژوند تيرولو دوه طريقې

ددې ټولومبارکو اياتونوڅخه دا څرګنده شوه چې په دنيا کې د انسان لپاره د ژوند تيرولو دوه طريقې او لارې دي:

۱ـيوه طريقه او لاره د الله پاک ده چې په هغې کې نيکې، خير او کاميابي ده او د دې لارې قاعده او اصل دا دی چې د انسان زړه بايد پراخه، وسيع او خلاص وي. څه رزق او رزوي چې اللهﷻ هغه ته ورکړی د هغې څخه خپلې اړتياوې هم پوره کړي،د خپلو وروڼو او ملګرو سره هم مرسته وکړي او د الله پاک د کلمې د لوړولو لپاره هم خرڅ او مصرف وکړي.

۲ـ دوېمه لاره د شيطان ده چې په هغې کې په ښکاره خو د انسان ګټه او فايده معلومېږي خو په حقيقت کې د هلاکت او بربادۍ څخه بل څه نشته، او د دې لارې اصل او قاعده دا ده چې انسان دې د مال او دولت راټولولو کوښښ وکړي، په روپۍ روپۍ دې ځان ورکړي او هغه دې په غاښونو باندې کلکې وساتي چې مصرف او خرڅ نشي او که مصرفيږي نو يواځې پخپل ځان او خپلو نفسي خواهشاتو دې مصرف شي.

## د الله ﷻ په لاره کې د مصرفولو طريقې

اوس وګورئ چې د الله پاک په لاره کې د خرڅولو او مصرفولوکومې کومې طريقې او لارې چارې بيان شويدي زه هغه په ترتيب سره تاسې ته وړاندې کوم:

## ۱- يواځې دالله پاک د رضا او خوښئ لپاره

ترټولو لومړۍ خبره دا ده چې په مصرف اوخرڅ کې يواځې د الله پاک رضا اوخوښي مطلب وي، په چا باندې احسان کول او منت باړول نه وي او نه په دنيا کې دنوم او شهرت پيدا کولو لپاره وي، قرآن مجيد فرمايي:

﴿ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ ٱللَّهِ ﴾ البقرة: ۲۷۲

تاسې چې څه خرڅ کوئ په هغې کې پرته د الله ﷻ د رضا اوخوښئ څخه ستاسې بل مطلب نه وي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُبْطِلُوا۟ صَدَقَٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ كَٱلَّذِى يُنفِقُ مَالَهُۥ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۖ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُۥ وَابِلٌ فَتَرَكَهُۥ صَلْدًا ۖ لَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَىْءٍ مِّمَّا كَسَبُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٦٤﴾ ﴾ البقرة: ۲٦٤

ای د ایمان خاوندانو! خپل خیرات او صدقات په منت بارولواوزیان رسولو سره مه ضایع کوئ دهغه چا پشان چې خلکو ته د ځان ښودلو په خاطر مصرف کوي او د اخرت په ورځ ایمان نلري، د دې مصرف اوخرڅ مثال داسې دی لکه په یوه ښویه تیږه چې خاوره پرته وي اوپه هغې سخت باران راشي نو ټوله خاوره وبهیږي،اوپاکه صافه تیږه پاتی شي، چې هیڅ هم ورپسې نه وي نښتی.

## ۲- احسان او منت نه بارول

دوېمه خبره دا ده چې کله چاته خوراک او روپۍ ورکړئ یاجامې او لباس ورکړئ نو په هغه باندې احسان او منت مه باروئ او داسې سلوک او رویه هم ورسره مه کوئ چې هغه خفه او غمگین شي.

﴿ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَآ أَنفَقُواْ مَنًّا وَلَآ أَذًى لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٦٢﴾ ۞ قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَآ أَذًى ﴾ البقرة: ۲٦۲ – ۲٦۳

هغه کسان چې د الله په لاره کې مصرف کوي او بیا د خرڅ څخه وروسته منت او احسان نه بار وي او تکلیف نه رسوي، دداسې خلکو لپاره دالله په وړاندې اجر او ثواب دی او په هغوی به د هیڅ زیان او تاوان غم او ویره نه وي نرمه، پسته خبره او ښښنه غوښتل د دی څخه غوره ده چې د صدقې او خیرات څخه وروسته تکلیف رسول کېږي.

## ۳- غوره او ښه مال ورکول

دريمه خبره دا ده چې د الله په لاره کې ښه او غوره مال ورکړل شي، بد او خراب مال ورکول ندی پکار، هغه کسان چې کوم غريب ته شليدلي او زړې جامې ګوري، يا کوم غريب او فقير ته بې کاره اوخرابه خوراک را باسي نو هغوی هم بايد د همداسې شليدلي او خراب اجر او ثواب اميد او تمه د الله پاک څخه ولري.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبۡتُمۡ وَمِمَّآ أَخۡرَجۡنَا لَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِۖ وَلَا تَيَمَّمُواْ ٱلۡخَبِيثَ مِنۡهُ تُنفِقُونَ وَلَسۡتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغۡمِضُواْ فِيهِۚ ﴾ البقرة: ۲٦٧

ای دايمان خاوندانو! هغه څه چې تاسې ګټلي او څه چې مونږ ستاسې لپاره د ځمکې څخه راويستلي دهغې څخه ښه او غوره مال د الله په لاره کې ورکړئ، داسې مه کوئ چې د الله په لاره کې خراب او بدشي ولټوئ چې تاسې خپله هم د هغې اخستونکې نه وئ.

## ۴- تر خپلې وسې پورې پټ اومخفی ورکول

څلورمه خبره دا ده چې تر ممکن حده پورې پټ او مخفي مصرف کول تر څو ريا او ځان ښودنه پکې رانشي، سره ددې چې په ښکاره کې هم څه خبره نشته خو مخفي او پټ ورکول غوره دي.

﴿ إِن تُبۡدُواْ ٱلصَّدَقَٰتِ فَنِعِمَّا هِيَۖ وَإِن تُخۡفُوهَا وَتُؤۡتُوهَا ٱلۡفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۚ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّـَٔاتِكُمۡۗ ﴾

البقرة: ۲۷۱

که په ښکاره صدقه ورکړئ نوهم ښه ده،خو که په پټه توګه يې فقيرانو او غريبانوته ورکړئ دا ستاسې لپاره ډير غوره او ښه ده او پدې سره ستاسې ګناهونه رژيږي.

## ۵- ناپوهه او بې عقلو خلکو ته زيات مال نه ورکول

پنځمه خبره دا ده چې ناپوهه او بې عقلو خلکو ته دهغوی د اړتيا او ضرورت څخه زيات شي نه ورکول چې ځان ورڅخه ورک شي او په خرابو خويونو کې پرېوځي، بلکې هغوی ته چې څه ورکول کېږي دهغوی دحيثيت سره سم بايد ورکړل شي.

الله تعالی دا غواړي چې ګېډې ته ډوډۍ اودبدن د پټوالي لپاره جامې هر بدکار او خراب انسان ته هم ورسيږي خو د شراب څښلو،بدمعاشۍ، قمار او ډم بازۍ لپاره روپۍ ندي ورکول پکار کنه دې هم ورسره په ګناه کې شريکېږي.

﴿ وَلَا تُؤْتُوا۟ ٱلسُّفَهَآءَ أَمْوَٰلَكُمُ ٱلَّتِى جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمْ قِيَـٰمًا وَٱرْزُقُوهُمْ فِيهَا وَٱكْسُوهُمْ وَقُولُوا۟ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ۝٥ ﴾ النساء: ٥

خپل مالونه چې الله پاک ستاسې لپاره دژوند تيرولووسيله ګرځولې ناپوهه او بې عقله خلکو ته مه سپارئ خود هغې مالونو څخه هغوی ته د خوراک او پوښاک لپاره څه ورکړئ.

## ۶- پوره وړی مه زوروئ

شپږمه خبره دا بيان شويده چې که تاسې کوم غريب او بې وخلې ته د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره قرض حسنه ورکړ نو هغه په غوښتلو غوښتلو مه اندېښمن کوئ بلکې هغه ته دومره وخت ورکړئ چې هغه په اسانۍ سره اداء کړي او که دا خبره ربښتيا ځرګنده شي چې هغه يې نشي اداء کولای او تاسې هم دومره مال لرۍ چې هغه معاف کولا ی شئ نو بيا معافول ډېر غوره دي.

﴿ وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ وَأَن تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٨٠﴾ ﴾ البقرة: ۲۸۰

که پوره ورې تنګ لاسې وي نو هغه ته تر اسانتیا پورې وخت ورکړئ، که صدقه او خیرات یې کړئ نودا ستاسې لپاره تر ټولو غوره ده که تاسې د هغې په ګټه اوفایده پوه شئ.

## ۷- په صدقه او خیرات کې اعتدال او میانه روي

اوومه خبره دا بیان شویده چې انسان باید په خیرات او صدقاتو کې له حد او پولې څخه تېرې او تجاوز ونکړي. دالله پاک دا مطلب اومقصد ندی چې تاسې د خپل ځان، خپل اهل او عیال څخه هر څه راټول کړئ او هغه په صدقه او خیرات کې ورکړئ ، بلکې هغه غواړي چې ساده ژوند غوره کړئ اود دې ډول ژوند لپاره چې څومره شیان پکاریږي هغه د خپل ځان، خپلې مېرمنې او خپلو اولادونو لپاره مصرف کړئ او که څه در څخه پاتې شول هغه دالله په لاره کې ورکړئ.

﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ ﴾ البقرة: ۲۱۹

ستاسې څخه پوښتنه کوي چې مونږ څه خرڅ اومصرف کړو؟ ای نبيﷺ! هغوی ته ووایه هغه څه مصرف کړئ چې ستاسې څه زیات اواضافه وي.

﴿ وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾ ﴾ الفرقان: ٦٧

د الله تعالی نیک بندګان هغه دي چې کله نفقه اوخرڅ کوي نو اسراف نکوي اونه ډیره تنګي کوي بلکې دهغوی لاره ددواړو تر منځ وي.

﴿ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ ٱلْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ﴿٢٩﴾ ﴾ الإسراء: ۲۹

لاس دومره مه راکاږه چې د غاړې پورې نښتي وي او مه يې دومره خلاصه وه چې بيا انديښمن او خفه ناست وې او خلک دې هم ملامتوي.

## د مرستې اوکومک مستحق او وړ کسان

په اخر کې داهم واورئ چې الله پاک په قرآن مجيد کې د مرستې او کومک دوړو اومستحقو کسانو پوره لست بيان کړيدی چې هغې ته په کتلو سره دمرستې او کومک وړ کسان معلوميږي،دچا حق چې ستاسې په مال او دولت کې الله پاک تاکلی دی:

﴿ وَءَاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلْمِسْكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ ﴿٢٦﴾ ﴾ الإسراء: ۲٦

غريبو خپلوانو ته دهغوی حق ورکړئ، مسکين اومسافر ته هم دهغوی حق ورکړئ اوبې ځايه خرڅ مکوئ.

﴿ وَءَاتَى ٱلْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِى ٱلرِّقَابِ ﴾ البقرة: ۱۷۷

او نيک کسان هغه دي چې دالله په مينه اومحبت کې خپل مال ورکوي غريبو خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو، مسافرانو او هغو خلکو ته چې دهغو غاړې په غلامۍ او بندګۍ کې نښتې وي.

﴿ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا وَبِذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَٱلْجَارِ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْجَارِ ٱلْجُنُبِ وَٱلصَّاحِبِ بِٱلْجَنۢبِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ ﴿٣٦﴾ ﴾ النساء: ۳٦

نیک او ښه سلوک وکړئ د خپل مور پلار سره، دخپلوانو سره، د یتیمانو سره، دمسکینانو سره، د نژدی ګاونډیانو او لری ګاونډیانو سره، دخپل ملګري سره، دمسافرو سره اود خپلوغلامانو اووینځو سره (خدمت کوونکو سره).

﴿ وَيُطْعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ﴿٨﴾ إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَآءً وَلَا شُكُورًا ﴿٩﴾ إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا ﴿١٠﴾ ﴾ الإنسان: ۸ – ۱۰

اونېک خلک د الله پاک په مینه او محبت کې غریبو، یتیمانو او بندیانو ته خوراک ورکوي، اوورته وا ي چې مونږ تاسې ته یواځې د الله پاک په خاطر خوراک درکوو،ستاسې څخه هېڅ بدله، غوض او مننه نه غواړو،مونږ د خپل الله څخه دهغې ورځې ویرې او ډار اخستې یو چې دهغې د سختوالي او شوموالي څخه دخلکو څېرې او مخونه غونج او ګونځې ګونځې کېږي او وچولې تریو یږي.

﴿ وَفِىٓ أَمْوَٰلِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَٱلْمَحْرُومِ ﴿١٩﴾ ﴾ الذاريات: ۱۹

اودهغوی په مالونو کې حق دی د کومک اومرستې غوښتوونکو او بې برخې خلکو.

﴿ لِلْفُقَرَآءِ ٱلَّذِينَ أُحْصِرُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِى ٱلْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ ٱلْجَاهِلُ أَغْنِيَآءَ مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُم بِسِيمَٰهُمْ لَا يَسْـَٔلُونَ ٱلنَّاسَ إِلْحَافًا ۗ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴿٢٧٣﴾ ﴾ البقرة: ۲۷۳

صدقه او خیرات دهغو اړو خلکو لپاره دی چې خپل ټول وخت یې د الله په لاره کې داسې لګولې وي چې دخپلې اړتیا لپاره منډې ترړې نشي وهلې، د هغوی ځان ساتنه اوا ستغنا چې کله ناخبره خلک وګوري نو ګمان کوي چې هغوی غنیان او

شتمن دي، خو که تاسې د هغوی څېرو او شکلونو ته وګورئ نودرته څرګنده به شي چې په هغوی څه تیر شویدي، هغوی داسې خلک نه دي چې دخلکو څخه یې په زور او زاریو وغواړي، تاسې چې څه خیرات او صدقات ورکوئ الله په هغې ښه پوهېږي او د هغې بدله او ثواب به درکوي.

# ٢٣
# د زکات ځانګړي احکام

ځما د اسلام ورونو!

په مخکنۍ خطبه کې ماتاسې ته د انفاق في سبيل الله (يعنی دالله په لاره کې خرڅول) په هکله عام احکام بيان کړل، اوس زه د دې حکم د دوهمې برخې تفصيلات درته وړاندې کوم چې هغه په زکات پورې اړه لري کوم چې فرض ګرځول شويدي.

## د زکات په اړوند درې حکمونه

دزکات په اړوند الله پاک په قرآن مجيد کې درې ځايه بيل بيل حکمونه بيان کړيدي.

(١)- په سورة البقره کې فرمايي:

﴿ أَنفِقُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ ﴾ البقرة: ٢٦٧

دخپل ګټلي پاکيزه مال اودهغه چې مونږ درته له ځمکې څخه راويستلي دي مصرف وکړئ.

(٢)- په سورة الانعام کې فرمايي چې ما ستاسې لپاره په ځمکه کې باغونه او فصلونه پيدا کړي نو بايد تاسې:

﴿ كُلُوا۟ مِن ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثْمَرَ وَءَاتُوا۟ حَقَّهُۥ يَوْمَ حَصَادِهِۦ ﴾

الأنعام: ١٤١

ددغوټولوبوټوله ميوواوحاصل څخه خوراک وکړئ اودريبلو په ورځ يې دالله حق ورکړئ.

دا دواړه اياتونه د ځمکې د حاصلا تو په اړوند دي، حنفي فقهاء فرمايي چې کوم شيان پخپل سر او ځنګلي وي د هغې ځخه بر سيره په ټولو ترکاريو، غلو، دانو او ميوو کې بايد دالله پاک حق ((زکات او عشر))ورکړل شي، په نبوي حديث کې راځي چې که چيرې فصل او حاصلات دآسماني اوبو (باران) پوسيله اوبه شي نو په هغې کې لسمه برخه او که دانسان په کوښښ اوبه راوويستل شي په هغې کې شلمه برخه ده چې دا برخه او عشر د فصل او حاصل د اخستلو سره سم فرض کيږي.

(۳)- د دې ځخه وروسته په سورة التوبه کې فرمايي:

﴿وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٣٤﴾ يَوۡمَ يُحۡمَىٰ عَلَيۡهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكۡوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمۡ وَجُنُوبُهُمۡ وَظُهُورُهُمۡۖ هَٰذَا مَا كَنَزۡتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَكۡنِزُونَ ﴿٣٥﴾﴾

التوبة: ٣٤ – ٣٥

هغوخلکوته چې سره اوسپين زر راټولوي اودالله په لاره کې يې نه مصرفوي ددردناک عذاب زيرې ورکړه ،په هغه ورځ چې په مالونوبه يې ددوزخ اورښه ګرم اوبيابه پرې دهغوی تندي،اړخونه اوشاګانې داغول کيږي ،او ورته ويل کيږي به چې دا همغه مال دې چې تاسې دخپلوځانونولپاره راټول کړې ؤ ،نواوس دهغه څه خوندواخلئ چې تاسوبه راټولولو.

اوبيا فرمايي:

﴿۞ إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡعَٰمِلِينَ عَلَيۡهَا وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَٱلۡغَٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٦٠﴾﴾ التوبة: ٦٠

زکاتونه يوازې اويوازې دفقيرانو، مسکينانو، زکات راټولوونکو، مؤلفة القلوبو، دغاړو اذادولو، پوروړو، دالله په لاره کې، اودمسافرولپاره دالله له لوري ټاکل شوې دی ،اوالله په هر څه پوه اودحکمت څښتن دې.

د دی څخه وروسته بيا فرمايي:

﴿ خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا ﴾ التوبة: ١٠٣

دهغوی له مالونوڅخه زکات اوخيرات واخله اوپه دې توګه يې له ګناهونو پاک اوکړنې يې سپيڅلې اوغوره کړه.

د دې درې اياتونوڅخه څرګنديږي چې کوم مال جمع کيږي، زياتيږي او دالله پاک په لاره کې نه مصرفيږي نو هغه ناپاک ګرځي، د دی مال د پاکوالي يوازې يوه طريقه ده چې دهغې څخه دالله پاک حق وويستل شي او دهغه بندګانو ته ورکړل شي.

په حديث شريف کې راځي چې کله د سرو او سپينو زرو جمع کوونکو ته دعذاب نازليدو ګوت څنډنه وشوه نومسلمانان ډير انديښمن شول، ځکه د دې ظاهري معنیٰ خو دا وه چې هېڅوک به يو درهم او دينار هم نه ساتي او ټول بايد مصرف کړي، بلاخره حضرت عمر فاروق رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته ورغې او دخپلو ملګرو انديښنه يې ورته څرګنده کړه، رسول الله ﷺ وفرما يل: الله پاک زکات دهمدی لپاره پر تاسې فرض کړی چې ستاسې نور پاتې مال پاک شي، په همدی توګه يو حديث شريف له حضرت ابو سعيد خدری رضي الله عنه څخه روايت شويدی چې نبي عليه السلام وفرما يل: کله چې تاد خپل مال څخه زکات ورکړ نو کوم حق چې پر تا واجب وو هغه اداء شو.

د پورتني اياتونو څخه يواځې دا څرګنديږي چې د ځمکې پر حاصلاتو، سرو زرو او سپينو زرو باندې زکات فرض دی، خوله نبوي احاديثو څخه معلوميږي چې زکات په تجارتي مال، اوښانو، غوايانو، وزو او پسونو هم شته دی.

## د څو شيانو د زکات نصاب

په اسلامي قانون او شريعت کې د زکات لپاره نصاب تاکل شويدی چې کله مال دې ټاکلی نصاب ته ورسيږي نو په هغې باندې بيا زکات کيږي او که لدی نصاب څخه کم وي له سره پرې زکات نشته.

د سپينو زرو «نقرې» نصاب دوه سوه درهمه يعنی ۵، ۵۲ تولې دی.

د سرو زرو نصاب اووه نيمی تولې دی.

داوښانو نصاب ۵ پنځه اوښان دي.

د وزو او پسونو نصاب څلويښت دې.

دغوايانو نصاب ۳۰ ديرش دې.

د تجارتي مال نصاب د سپينو زرود نصاب په کچه دی.

که د چاسره دنصاب په اندازه مال موجود وي اوپه هغې يوکال تير شي نو بيا به د طريقی سره سم دهغې زکات ورکوي او داپرې واجب او فرض دې، حنفي فقهاء فرمايي که چيری د چا سره د سرو او سپينو زرو جلا جلا نصاب نه پوره کيږي خو چې دواړه سره يو ځای شي نو بيا پوره کيږي دمال پداسې مالک باندې زکات ورکول واجب ګرځي.

## په ګاڼه او زیوراتو باندې زکات

که چېرې سره او سپین زر ګاڼې او زیوراتو په شکل کې وي نو د حضرت عمر فاروق او حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنهما په وړاندې د دوی زکات ورکول فرض دی، او امام ابو حنیفه رحمة الله علیه هم همدا خبره دلیل نیولې ده، په نبوي حدیث کې راځي: چې نبي عليه السلام د دوه مېرمنو سره د سرو زرو بنګړي ولیدل نو ورځخه وئ پوښتل: ایا تاسې د دې زکات اداء کړی؟ یوی وویل: نه! ندی مو ورکړی.نو نبي عليه السلام ورته وفرمایل: ایا تاسې دا خوښوئ چې د قیامت په ورځ تاسې ته د دې دواړو په بدل کې د اور بنګړي در پلاس شي؟

په همدې ډول د حضرت ام سلمه رضي الله عنها څخه روایت دی چې ځما سره د سرو زرو یو پایزیب ؤ، ماله نبي عليه السلام څخه وپوښتل چې ایا دا هم په کنز کې راځي؟ نبي عليه السلام راته وفرمایل: که چېرې پدې کې د سرو زرو اندازه نصاب ته رسیږي او زکات ورځخه ورکړل شي نودا په کنز کې نه راځي.

د دې دواړو مبارکو حدیثونو څخه څرګندیږي چې که سره او سپین زر د ګاڼې او زیوراتو په شکل وي او نصاب ته ورسیږي نو زکات پکې ورکول فرض دي، لکه په نقدو باندې چې زکات فرض دی، البته په کاڼو، غمیو اوقیمتي ډبرو کې زکات نشته.

## د زکات اخستوونکي (د زکات مستحقین)

په قرآن مجید کې د زکات اخستونکې اته ډلې یا اته کسان بیان شویدي چې په لاندې ډول دي:

﴿ إِنَّمَا ٱلصَّدَقَـٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَـٰكِينِ وَٱلۡعَـٰمِلِينَ عَلَيۡهَا وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ وَفِى ٱلرِّقَابِ وَٱلۡغَـٰرِمِينَ وَفِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ فَرِيضَةً مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ التوبة: ٦٠

زکاتونه یوازې اویوازې دفقیرانو، مسکینانو، زکات راټولوونکو، مؤلفة القلوبو، دغاړو اذادولو، پوروړو، دالله په لاره کې، اودمسافرولپاره دالله له لوري تاکل شوې دي، اوالله په هر څه پوه اودحکمت څښتن دې.

## (۱)- فقیرا ن (الفقراء)

دا هغه ډله خلک دي چې څه لږ ډیر مال ولري خو دهغه د اړتیا لپاره پوره اوبس نه وي، تنګ ژوند سرته رسوي او له چا څخه څه نه غواړي، امام زهری اوامام ابو حنیفه رحمه الله، حضرت ابن عباس رضي الله عنه، امام حسن بصری رحمة الله علیه، ابوالحسن کرخی اونوروفقهاؤاوعلماؤد فقیر همدا تعریف کړیدی.

## (۲)- مسکینا ن (مساکین)

دا ډیر بد حاله خلک دي چې دخپل اړتیاؤ د پوره کولو لپاره هیڅ هم نلري، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه داسې کسان هم په مساکینو کې داخل کړي چې هغوی دکار طاقت ولري خو کار ورته نه پیدا کیږي.

## (۳)- د زکات راټولونکې (عاملین علیها)

دا هغه خلک دي چې اسلامي حکومت دزکات راټولو لپاره ټاکلي دي، ددوی تنخوا او مصارف به د زکات له بودیجې څخه ورکول کېږي.

## (۴)- د زړه نرمولو لپاره (مؤلفة القلوب)

پدې کې هغه خلک راځي چې د اسلام د پلوۍ لپاره یاد اسلام د مخالفت پرېښودلو لپاره ورته دمال او دولت ورکول اړین او ضروري وي، پدې کې هغه نوې مسلمان شوي خلک هم راځي چې زړه یې ډاډه کول مطلب وي، کوم کسان چې دخپل کافر اومشرک قوم څخه را جلا شي او اسلام راوړي دهغوی مرسته او کومک هسې هم پر مسلمانانو فرض او واجب دی خو که هغه شتمن اومالدار هم وي دزړه د ټلکوالي اوثبات لپاره ورته زکات ورکول کېدای شي، دحنین د جګړې په غنیمت کې نبي ﷺ نوې مسلمانانو ته تر نورو زیات مال اودولت ورکړ آن تردې چې د یو یو کس برخه سل سل اوښان ورسیدل، د مدینې انصارو شکایت وکړ نو نبي ﷺ ورته وفرمایل: داخلک اوس اوس اونوي اسلام ته راغلي دي زه دهغوئ زړونه ډاډه کول غواړم، په همدې خاطر امام زهري رحمه الله د مؤلفة القلوب تعریف دا رنګه کړیدی: کوم عیسایې، یهودي، کافراو مشرک چې په اسلام کې داخل شي سره لدې چې هغه شتمن اومالدار هم وي (پدې هکله تفصیلي بحث په تفهیم القرآن دوېم ټوک سورة التوبه کې شویدی).

## (۵)- غلامان او بندیا ن (فی الرقاب)

د دې څخه مطلب هغه غلامان دي چې غواړي دخپل بادار څخه دمال په بدل کې ځان خلاص کړي او ازادي واخلي نو دې خلکو ته زکات ورکول کېږي،نن سبا چې غلامي نشته نو پدې کې هغه بندیان هم راځي چې جرمانه او تاوان نشي ورکولای او په بند کې پراته وي، کېدای شي د مسلمانانو بندیان هم ورڅخه مراد وي چې باید له بند څخه راخلاص شي.

## (۶)- پوره وړي یا قرض دارا ن (الغارمین)

د دې څخه مراد پوره وړي او قرضداران دي، ددې مطلب داندې چې د څاسره یوزر روپۍ وي اوسل یکې قرضداروي نو هغه ته دې هم زکات ورکړل شي، بلکې مطلب دادی چې که په یو چاباندې دومره قرض وي چې کله هغه ورکړي نودنصاب څخه کم شي ورسره پاتې کېږي یا هېڅ شي پاتې نشي نو داسې کسانو ته زکات ورکول کېږي.

فقهاء فرمايي چې که څوک داسراف اوبد کاریو په سبب پوره وړې شوی وي هغه ته بيا زکات ورکول مکروه دي ځکه چې هغه به بيا نورهم زړور شي اوبدکاریو ته به زور ورکړي چې په زکات به بيا قرضونه خلاصوي.

## (۷)- د الله پاک په لاره کې (في سبيل الله)

دا عامه اصطلاح ده چې ټولو نېکو اوخیر کارونو ته استعمالېږي خو په ځانګړي توګه ورڅخه د الله پاک ددین او کلمې دپورته کولو کار او کوښښ مراد دی، نبي عليه السلام فرما يلي

چې شتمن او مالدار سړی ته زکات اخستل جایز ندي، خو که شتمن سړی د دیني اوجهادي کار لپاره مال ته اړتیا ولري نوهغه ته زکات ورکول کېږي، دا سمه ده چې هغه سړی مالدار دی خو د جهاد او دیني کار لپاره زیاتې خرڅې اومصرف ته اړتیا وي چې یواځې په خپل مال هغه نه پوره کېږي نوزکات ورکول کېدای شي.

## (۸)- مسافران (ابن السبیل)

که د مسافر سړي سره په وطن کې ډېر زیات مال هم وي خود سفر په حالت کې اړ وي نو زکات ورکول ورته روا او جائز دي.

## زکات چاته ورکول کېږي اوچاته نه ورکول کېږي؟

اوس دا پوښتنه پېدا کېږي چې کوم اته کسان په قرآن مجید کې بیان شویدي په هغوی کې کوم یو ته په کوم حالت کې زکات ورکول کېږي او په کوم حال کې نه ورکول کېږي؟ د دې لړ شانته تفصیل تاسې ته وړاندې کوم:

(۱)- هېڅوک خپل پلار او خپل اولاد ته زکات نشي ورکولای، خاوند ښځې ته او ښځه خاوند ته زکات نشي ورکولای، پدې باندې ټول فقهاء سره هم غږی دي، ځینې فقهاء دا هم وایي چې تاسې داسې چاته زکات نشئ ورکولای چې دهغه نفقه او مصارف پر تاسې واجب دي او یا هغوی ستاسې شرعی او قانوني میراث وړونکې وي، البته لرې خپلوان دزکات اخستلو حق لري بلکې د نورو خلکوڅخه زیات حقدار او مستحق دي، حضرت امام اوزاعی رحمة الله علیه فرمایي چې کله تاسې زکات وباسۍ نو بیا یواځې په خپلوانو پسې مه ګرځۍ.

(۲)- زکات یواځې د مسلمان حق دی، د کافر او غیر مسلمان حق پکې نشته.

په حدیث شریف کې د زکات تعریف داسې راغلې دی:

تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ فِي فُقَرَائِهِمْ . (رواه مسلم)

یعنې هغه به ستاسې له شتمنو څخه اخستل کیږي او ستاسې په فقیرانو به ویشل کیږي.

البته نا مسلمانو خلکو ته عام صدقات اوخیرات ورکول کیدای شي، بلکې په عامو صدقاتو او خیراتونو کې توپیر او فرق کول هم ښه ندي چې د کافر اومسلمان لټون دې وشي بلکې هر څوک چې محتاج او اړوي هغه ته باید ورکړل شي.

(۳)- امام ابو حنیفه رحمة الله علیه، امام ابو یوسف رحمة الله علیه او امام محمد حسن شیباني رحمة الله علیه فرمایي چې دهر کلي زکات په هماغه کلي کې مصرفول پکار دي، دیو کلي څخه بل کلي ته استول ښه کار ندی.

که پخپل کلي کې د زکات مستحق نه وي یادا چې په بل ځای کې داسې مصیبت راغلې وي چې هغه ته باید زیات کومک ورکړل شي لکه سیلاب، زلزله، قحطي یا وبا، د دې سره نژدې رایه او نظر د امام مالک رحمة الله علیه او امام سفیان ثوري رحمة الله علیه هم دی، خو د دې مطلب دا ندی چې له یو ځای څخه بل ځای ته زکات استول ناروا کار دی.

(۴)-ځینې پوهان وایي چې د چاسره د دوه وختونو خوراک وي هغه باید زکات وانخلي، ځینې بیا وایي چې د چاسره لس درهمه یا دولس درهمه وي هغه دې زکات نه اخلي.

خو دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه او نورو حنفي فقهاؤ رایه دا ده چې څوک کور، سامان او سپرلۍ ولري او دهغې څخه برسېره پنځوس درهمه ولري نو هغه زکات نشي اخستلای اوکه د دې څخه کم ولري نوزکات اخستل ورته روا دي، پدې لړکې دوه خبرې په نظر کې ساتل پکار دي یو قانون او بل فضیلت او پدې دواړو کې فرق اوتوپیر شته.

نبي علیه السلام فرما یلي دي: که چېرې څوک دوه وخته خوراک ولري او بیا هم هغه بل چاته دسوال لاس اوږدوي نو هغه د ځان لپاره اور راټولوي.

په بل ځای کې نبي علیه السلام فرمايي: زه دا خوښوم چې یو سړی دې لرګي مات کړي، هغه دې وپلوري او خپل ضرورت دې پرې پوره کړي د دې پرځای چې بل چاته سوال وکړي.

بل ځای نبي علیه السلام فرما یلي: د چاسره چې خوراک وي او یا د کار کولو توان ولري نو هغه دې زکات نه اخلي. خو دا ټول دغزیمت درجه او ښوونه ده.

پدې هکله قانون څه دی چې انسان څومره لري نو بیا زکات نشي اخستلای. پدې هکله هم نبوي احادیث شته، د مثال په توګه:

نبي علیه السلام فرما یلي: د سوال کوونکې حق دی سره لدې که هغه په آس هم راغلې وي.

یو سړی نبي علیه السلام ته راغې ویې پوښتل: یا رسول الله! ځما سره لس درهمه دي ایا زه مسکېن یم؟ نبي علیه السلام ورته وفرما یل: هو!.

یو ځلې دوه کسان راغلل او دنبي علیه السلام څخه یې زکات وغوښت، نبي علیه السلام هغوی دواړو ته لاندې باندې په غور اودقت

سره وکتل، بیایې وفرمایل: که تاسې یې غواړئ نو زه یې درکوم خو پدې مال کې دغنیانو او دکارد توان لرونکو خلکو حق نشته.

د دې ټولو مبارکو نبوي احادیثو څخه څرګندېږي چې کوم خلک دنصاب څخه کم مال لري هغوی په فقیرانو کې شمارل کېږي نو زکات ورکول کېدای شي خو په اصل او حقیقت کې زکات دغریبو او بې وځلو حق دی.

## دزکات لپاره د ټولنیز نظام اړتیا

د زکات اړین او ضروري احکام ما بیان کړل خو د دې ټولو سره یو بل شي هم مهم او ضروري دی چې هغه لوري ته ستاسې پام راګرځول ضروري او اړین بولم ځکه چې نني مسلمانانو هغه له یاده ویستلې دی.

هغه مهمه اواړینه خبره داده چې دزکات ټول کار د یو ټولنیز نظام لاندې باید سرته ورسیږي، انفرادیت (ګوښیتوب) اسلام نه خوښوي.

که ستاسې کور له جومات څخه لرې وي اوپه کور کې لمونځ وکړئ نو هغه اداء کېږي خو شریعت دا غواړي چې تاسې باید دجماعت سره لمونځ اداء کړئ.

په همدې توګه که ټولنیز نظام نه وي نو بیل بیل زکات ورکول هم سمه ده او اداء کېږي خو د دې لپاره باید کوښښ وشي چې زکات یو ټولنیز مرکز ته راټول شي تر څود هغې مرکز څخه په ترتیب اوتنظیم سره وویشل شي، همدی کار ته قرآن مجید اشاره کړیده فرمایي:

﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ صَدَقَةً ﴾ التوبة: ۱۰۳
دهغوی له مالونونه زکات اوخیرات واخله.

یعنی الله پاک نبي ﷺ ته فرمایي چې تاسې دهغوی څخه زکات راټول کړئ، مسلمانانو ته یې داندي ویلي چې تاسې جلا جلا زکات وباسی او مصرف یې کړئ.

همدارنګه دعاملین علیها څخه دي خبری ته اشاره ده چې دزکات سمه او صحیح طریقه داده چې دمسلمانانو امام به هغه راټولوي او بیا به یې مصرفوي.

په دي هکله نبي ﷺ فرما یلی دي:

((اُمرتُ ان اخذ الصدقة من اغنیاء کم و اردها فی فقراء کم)).

یعنی ماته حکم شویدی چې ستاسې له شتمنو څخه زکات واخلم او ستاسې په فقیرانو یې وویشم.

په همدی طریقه باندې نبي ﷺ او خلفاء راشدینو عمل کولو، ټول زکات به داسلامي حکومت مامورینو اوعاملینو راټولولو او د مرکز له لوري به هغه مصرفیدلو.

نن سبا چې اسلامي حکومت نشته او نه دهغې لپاره نظام وجود لري نو هر مسلمان باید خپل زکات وباسي او په شرعي مصارفو کې یې خرخ او مصرف کړي، خو پر ټولو مسلمانانو دا لازم دي چې دزکات لپاره یو ټولنېز نظام جوړ او برابر کړي څکه چې ددې نظام څخه پرته دزکات د فرضیت ګټې اوفایدې نیمګړې اوناقصې پاتې کیږي.

# شپږم فصل

# حج

# ۲۴

# حج

څما د اسلام وروڼو!

په مخکنيو خطبو کې د لمانځه، روژې او زکات په هکله تاسې ته معلومات وړاندې شو چې دا عبادات په څه ډول دانسان ژوند د اسلام په قالب کې اچوي او د الله پاک بندګۍ ته يې برابر وي.

اوس د اسلام په عبادتونو کې يواځې حج پاتې دی چې زه بايد دهغې فايدې تاسې ته وړاندې کړم.

## د حج معنیٰ

په عربي ژبه کې دکوم ځای د زيارت کولو قصد او ارادې ته حج وايي، په حج کې ټول خلک د کعبې شريفې زيارت ته ځي ځکه نو د دې مراسمو نوم حج کېښودل شو.

## د حج پيل

تر ټولو لومړې چې حج پيل شو دهغې قيصه ډيره د عبرت او پند څخه ډکه ده، تاسې دا قيصه ښه په غور سره واورۍ تر څو د حج حقيقت درته په ښه توګه څرګند او په ذهن کې مو ځای ونيسي، بيا د هغې فايدې په اسانه درته ياديدې شي.

## د حضرت ابراهيم عليه السلام په وخت کې حالات

کوم مسلمان، عيسايي او يهودي به وي چې د ابراهيم عليه السلام له نامه سره اشنا او بلد نه وي، د نړۍ دوه پر درې برخې

انسانان هغه خپل امام او لاربنود مني، حضرت موسیٰ علیه السلام، حضرت عیسیٰ علیه السلام او حضرت محمد ﷺ دري واړه دهغه له اولاد او نسل څخه دي، دهغه د روښانه شوې شمع څخه په ټوله نړۍ کې دهدایت نور اورڼا خپره شویده، نژدې څلور زره کاله مخکې هغه د عراقي ښار بابل په اُر نومي کلي کې پېدا شو، هغه وخت ټولو انسانانو الله پاک له یاده ویستلې وو، د ځمکې په سر هېڅ داسې انسان موجود نه وو چې خپل حقیقي مالک اوخالق یې پېژانده او یواځې دهغه په وړاندې یې د اطاعت او بندګۍ سر ټیټاوه، هغه چې په کوم قوم او ملت کې سترګې پرانستلې هغه دخپل وخت او زماني پر مختللی قوم وو خو په بې لارۍ او ګمراهۍ کې هم تر ټولو مخکې، وړاندې او پر مختللې وه. په صنعت، کسب کارۍ اوعلم وفن کې د ترقۍ او پرمختګ سره سره هغوی پدې ساده او اسانه خبره هم نه پوهیدل چې مخلوق هېڅ وخت معبود او دعبادت وړ نشي کېدای، هغوی دستورو او بُتانو عبادت کاوه. نجوم، فلکیات، فال نیونه، غیب ویل، جادو او سحر، تعویذونو او بندونو اچولو پکې پوره رواج درلوده.

لکه نن سبا چې په هندوستان کې پنډتان او برهمنان دي هغه وخت هم د بتانو د منجاورانو یوه ډله موجوده وه، چې د بت ځایونو (بُت خانو) ساتنه او خدمت به یې کولو، خلکو ته به یې د عبادت رسم اوطریقې هم سرته رسولې او ښودلې، د ښادۍ او غم رسمونه به یې هم اداء کول، هرلوري ته یې د غیب پوهیدلو او ویلو انګازې خپرې کړې وې.

عام ولس دهغوی په لومه اوجال کې داسې راګیر شوی وو چې هغوی یې دخپل ښه او بد برخلیک خاوندان او څښتنان بلل، دهغوی په اشارو تلل او پرته له دلیل څخه به یې دهغوی دخواهشاتو بندګي او غلامي کوله. ځکه هغوی دافکر او ګمان کاوه چې دخدایانو دربار ته یواځې همدوی لاره لري، که هغوی وغواړي نو مونږ خدایانو ته نژدې کولای شي کنه مونږ به تباه او برباد شو، د دې منجاورانو سره حکومت مرسته او کومک کولو او هغوی د حکومت او واکمنانو سره، څرنګه چې چارواکو اوواکمنانو د منجاورانو سره مرسته کوله نو دوی د خلکو په ذهن کې دا خبره اچوله چې پاچا د نورو خدایانو په شان یو خدای دی، د هېواد اوولس مالک دی، دهغه ژبه قانون دی، او هغه دولس او رعیت په مال او ځان باندې هر ډول واک او اختیار لري، نه یواځې دا بلکې دهغوی په وړاندې باید د بندګۍ مراسم هم پر ځای شي. په دې ډول هغوی غوښتل د ولس په زړونو کې د پاچایانو د خدایتوب رُعب او د بدبه ځای پر ځای شي.

## د حضرت ابراهیم علیه السلام کورنۍ

پداسې وخت او داسې قوم کې حضرت ابراهیم علیه السلام پېدا شو، حیرانوونکې خبره دا وه چې په کومه کورنۍ کې هغه پېدا شو هغه خپله د منجاورانو کورنۍ او ځاله وه، دهغه پلار اونیکه مذهبي او دیني مشران وه، هغه ته پخپل کور کې داسې ښوونه او تعلیم ورکول کېده کوم چې د یو دیني مشر ځوی ته ورکول کېږي، د کوچنیوالي څخه دهغه په غوږونو کې همدا خبره اچول کېده، هماغه د پیرانو او پیرزایانو نخرې او اداګانې یې

په خپله کورنۍ کې تر سترګو کېدي، د درمسال هغه ګدۍ او تخت دده لپاره هم تيار او چمتو ووچې په هغې کښني او دخپل قوم مشر اولاربنود جوړ شي.

هماغه نذرونه او شکرانې ده ته هم تيارې اوچمتو وې چې کورنۍ يې پرې مزې چړچې کولې، د ده په وړاندې د ښکته کېدو لپاره هم خلک موجود وه، پدې ډول که هغه د شلخي خدايانو سره تړاو پيدا کړی واي نو د يو عادي دهقان څخه نيولې تر پاچا پورې ټول يې پخپله لومه اوجال کې راګيرولې شول، پداسې توره تياره کې چې يو انسان هم الله پاک نه پېژندلو، نه هلته د حق رڼا يې او اواز شتون درلوده.او نه داد يو عادي انسان ځواک او توان کېدای شو چې د دومره لويولويو ګټو، فايدو او امتيازاتو څخه لاس واخلي اوهغه په لغته ووهي او د نړۍ ټولو کړاونو اومصيبتونو ته غاړه کېږدي.

## د حضرت ابراهيم عليه السلام دبېزارۍ اعلان

خو حضرت ابراهيم عليه السلام کوم عام او عادي انسان نه وه، د بلې خاورې څخه دهغه خميره تياره شوې وه، دهوش او حواسو تر سمباليدو سمدستي وروسته يې فکر اوغور پيل کړ چې دا لمر، سپوږمۍ او ستورې چې خپله دغلامانو او نوکرانو پشان ځرخي، دا بتان چې انسانان يې پخپل لاس له ډبرو او لرګيو څخه جوړ وي او دا پاچا چې ځمونږ پشان انسان دی! آخر دا ټول ځرنګه خدايان کېدای شي؟ هغه غريبان چې پخپله خوښه حرکت هم نشي کولای، هغوی د خپل ځان سره مرسته هم نشي کولای، دخپل ژوند او مرګ واک اواختيار هم نلري.آخر په

هغوی کې څه کمال او ښوالی دی چې انسان ورته سرښکته کوي؟ د هغوی څخه د خپلو اړتیاؤ پوره کول وغواړي؟ د هغوی د ځواک څخه ویره او ډار ساتي او د هغوی خدمت او اطاعت کوي؟ د ځمکې او آسمان ځومره شیان چې مونږ ته ښکاري یا د کومو شیانو څخه چې مونږ خبر یاستو، په هغوی کې یو هم داسې ندی چې پخپله اړ او محتاج نه وي، خپله د کوم ځواک په وړاندې ښکته او تابع نه وي او په هغوی باندې هېڅکله زوال راتلونکې نه وي.

کله چې د دې ټولو دا ډول حالت وي نو بیا څرنګه هغوی رب او معبود کېدای شي؟ په هغوی کې یو هم زه نه یم پیدا کړی، او نه د هغوی پلاس کې ځما مرګ او ژوند دی، نه د هغوی پلاس کې ځما ګټه او تاوان دی، نه د هغوی سره د ځما رزق او اړتیا د پوره کولو کلیانی شته، نو بیا زه ولې د داسې بې وځلو، غریبو او اړ شیانو په وړاندې د بندګۍ او اطاعت سر ښکته کړم؟

ځما رب یوازې هغه ذات کېدای شي چې دا ټول شیان یې پیدا کړیدي کوم ذات ته چې دا ټول اړ او محتاج دي [illegible] پلاس کې چې د ټولو د مرګ او ژوند [illegible] او اختیار دی، د کوم ذات په لاس کې چې د ټولو ګټه او تاوان دی.

د دې کتلو، لیدلو او پوهیدلو څخه وروسته حضرت سیدنا ابراهیم علیه السلام غوڅه پرېکړه وکړه چې کوم شیان ځما قوم لمانځي زه هېڅکله د هغوی عبادت او لمانځنه نکوم، د دې پرېکړې او فیصلې څخه وروسته هغه د خلکو په وړاندې په ډاګیزه دا اعلان وکړ:

﴿ قَالَ يَـٰقَوْمِ إِنِّي بَرِيٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴿٧٨﴾ ﴾ الأنعام: ۷۸

اى زما قومه! زه له هغه څه نه بې زار يم چې تاسې يې له الله سره شريک ګڼئ.

﴿ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا ۖ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٧٩﴾ ﴾ الأنعام: ۷۹

ما خپل ځان هغه چاته سپارلې دې چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړيدي. زه په سمه لار يم او هرګز له مشرکانو څخه نه يم.

## د کړاونو او مصيبتونو غر

د دې اعلان څخه وروسته په ابراهيم عليه السلام باندې د کړاؤنو او مصيبتونو غر راپرېوت، پلار ورته وويل: زه به دې عاق کړم او له کور څخه به دې وشړم، د قوم خلکو ورته وويل: مونږ هېڅوک تاته پناه هم نه درکوو، حکومت هم دهغه پسې شو او د پاچا دفتر ته يې دوسيه او قضيه وړاندې کړه.

خو هغه کامل مؤمن انسان په يواځې ځان د دې ټولو په وړاندې په صداقت سره په کلکه ودريده، پلار ته يې په آدب سره ځواب ورکړ چې کوم علم او پوهه ځما سره ده هغه ستا سره نشته، د دې پر ځاى چې زه ستا پېروي او مننه وکړم بايد ته ځما خبره ومنې، د قوم د اخطارونو او ګوت څنډونو په مقابل کې يې دهغوى بتان پخپل لاس مات کړل او داېې ثابته کړه چې ستاسې دابتان معبودان نه بلکې هغه ذات دى چې ځما او ستاسې پيدا کوونکې او خالق دى او هغه ذات دى چې لمر او نور آسماني اجسام دهغه پېروي او اطاعت کوي، د دې څخه وروسته په پاچايي دربار کې پرېکړه وشوه چې ابراهيم عليه السلام ژوندى په اور کې وسوزول شي.

خو د غر څخه د قوي او ځواکمن زړه لرونکې انسان چې په یو الله یې پوخ ایمان راوړی وه د دې خطرناکې سزا لپاره چمتو او تیار شو، کله چې الله پاک پخپل توان او قوت سره هغه له اور څخه خوندي وساتلو نوبیا هغه خپل کور، خپل خپلوان، قوم او هېواد پرېښوده .یواځې خپله مېرمن او یو وراره یې له ځان سره ملګری کړ او د دعوت په خاطر په هېوادونو دګرځیدلو لپاره روان شو.

د چالپاره چې پخپل کور کې د مذهبي لارښود ګدۍ اوڅوکۍ خالي وه چې په هغې تر کېناستلو وروسته د قوم پیر اولارښود ګرځیده، مال، دولت او عزت دهغه پښې ښکلولو ته چمتو او تیار وه، او هغه خپل اولاد هم ددې ګدۍ لپاره پرېښودلې شو چې مزي چړچې پرې وکړي خو هغه د بې وطنۍ اوهجرت لاره دخپل ځان او خپل اولاد لپاره غوره کړه، دا ددې لپاره چې هغه نه غوښتل د شلځي اوجعلي خدایانو تر سیوري لاندې مزې چړچې وکړي بلکې هغه دا غوښتل چې د رښتني خالق او مالک لوري ته خلک راوبولي او د دې جرم په سبب په هېڅ ځای کې ډاډه ژوند ونکړي.

## هجرت

د خپل پلرني هېواد څخه تر وتلو وروسته حضرت ابراهیم علیه السلام په شام، فلسطین، مصر او عربي هېوادونو کې دعوت پیل کړ، الله پاک پوهېږي چې پدې سفرونو کې به په هغه باندې څه کړاونه تېر شوې وي. کله چې دعوت یې خپل پلار اوقوم ندی منلی نو نورو به څه ځواب ورکړی وي؟ چېرې به دهغه هر کلی شوی وي؟ په هر ځای کې دهمدې باطل مذهب

واکمنـان موجـود وه او پـه هـر ځـای کـې هماغـه ناپوهـه عـوام اوسیدل چې د دې دوکه کوونکو مذهبي مشرانو اوواکمنانو په لومه او جال کې راګیر وه، ددې ناپوهه او بې عقله خلکو په منځ کې هغه ځوان ځرنګه ارام کېناستې شو چې خپله یې په یو الله ایمان راوړې او نور یې هم دهمدې یو الله دین اولارې ته په ډاګه رابلل، ټولو ته یې ویل چې پرته دالله ځخه ستاسې بل مالک اوخالق نشته، د ټولو شلخي او باطلو خدایانو واکمني چپه کړئ اویوائې د الله پاک بندګان شئ،په همدې وجه په هېڅ ځای کې هغه ته آرام او کراري په نصیب نشوه. کله به د کنعان په کلو کې، کله به په مصر او کله به په عربي دښتو کې د دعوت په خاطر ګرځیده، پدې توګه دهغه ځواني ختمه اوتور ویښتان یې سپین شول.

## اولاد او دهغوی روزنه

په آخري عمرکې چې نوې کلنو ته یوائې ځلور کاله پاتې وه او د اولاد ځخه ناهېلې شوی وو الله پاک اولاد ورکړ، خو دالله ددې بنده په زړه اوذهن کې دا فکر پېدا نشو چې خپله خو له کاره ووتې باید خپل اولاد پداسې ځای کې پکار واچوي چې راتلوونکې ژوند د ځان لپاره برابر کړي، دده فکر، هم او غم دا وو چې کوم دعوت او بلنه ده پیل کړی او په هغې کې یې خپل عمر مصرف کړی بل داسې ځوک پېدا شي چې دا کار اوچاری مخ په وړاندې بوځي، دهمدې لپاره یې د الله پاک ځخه د اولاد غوښتنه کوله، او کله چې الله پاک هغه ته اولاد ورکړ نو هغه

وغوښتل خپل ځوی دخپل کار، بلنې او دعوت لپاره تیار او چمتو کړي.

د دې کامل انسان ژوند د یو رښتیني، صادق او اصلي مسلمان ژوند ؤ. د ځوانۍ په لومړنۍ دوره کې چې کله په خبره پوه شو خپل خدای یي وپېژانده او هغه یې پیدا کړ.

کله چې خپل رب ورڅخه وغوښتل اسلم (خپل ځان ماته تسلیم کړه) نو هغه ورته دا وعده او ژمنه ورکړه:

﴿أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٣١﴾﴾ البقرة: ۱۳۱

ما اسلام قبول کړ،زه د رب العالمین یم، ما خپل ځان رب العالمین ته سپارلې دی.

دا وعده، ژمنه او وینا دې رښتیني اوصادق انسان په خپل ټول ژوند کې په پوره اخلاص سره پوره کړه، هغه د رب العاليېن لپاره خپل پلرنۍ عقیده، رسم او رواج خوشي کړ، د دنیا ټولې ګټې او فایدې یې شاته ورغورځولې، خپل ځان یې لمبې وهونکې اور ته وغورځاوه، بې وطنې او دربه در ګرځيدل يې ومنل، هېوادونه، هېوادونه يې چاڼ کړل، دخپل ژوند يوه يوه دقيقه يې د الله پاک په اطاعت، مننه، تبلیغ او دعوت کې تیره کړه، او کله چې په بوډاتوب کې الله پاک اولاد ورکړ نو دهغه لپاره يې هم همدا کار او لاره غوره کړه.

## تر ټولو لوی ازمېښت

خو د دې ټولو امتحانونو او ازمېښتونو څخه وروسته يو غټ او لوی ازمېښت پاتې وو چې پرته له هغې څخه دا پرېکړه او فيصله نشوه کېدای چې ايا دا عظيم او لوی انسان دهر شي څخه زيات دخپل رب او خالق سره مينه او محبت لري؟ هغه

امتحان او ازمیښت دا وو چې کوم ځوی الله پاک هغه ته په بوډا توب کې ورکړی وو، همدا یواځنې ګران او محبوب ځوی د الله لپاره قرباني کړي، هغه ته چې کله اشاره وشوه نو سمدستي دخپل ګران، محبوب او یواځني ځوی قربانۍ او حلالولو ته تیار شو، نو الله پاک پرېکړه او فیصله وکړه چې تا اوس خپله وعده اوژمنه بالکل پوره او رښتینی کړه، اوس ته د دې لیاقت، وړتیا اوحق لرې چې د دې ټولې نړۍ امام، لارښود او رهنما شې، دا خبره په قرآن مجید کې دا رنګه بیان شویده:

﴿ ۞ وَإِذِ ٱبْتَلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٍ فَأَتَمَّهُنَّ ۖ قَالَ إِنِّى جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا ۖ قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِى ۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٢٤﴾ ﴾ البقرة: ١٢٤

(اویادکړه هغه وخت چې پر ابراهیم عليه السلام دهغه رب دخوخبرو ازمیښت وکړ اوهغه ټولې سرته ورسولې، نوالله وفرمایل:زه تادټولوخلکو لارښوونکې ټاکم، ابراهیم عليه السلام وړاندېز وکړچې زمایه اولاده کې به هم له ځینوسره همدا ژمنه وي؟الله ځواب ورکړ چې:زما وعده دظالمانوسره نشته.

پدې ډول حضرت ابراهیم عليه السلام ته امامت اورهبري وسپارل شوه او هغه د نړۍ وال اسلامي تحریک عمومي لارښود او امام وګرزېده، اوس دهغه لپاره داسې انسانان پکار وه چې په مختلفو ځایونو کې د دې تحریک دخپرولو کار په غاړه واخلي اوهلته ځای پر ځای شي او د ده دخلیفه او نائب په توګه کار وکړي، په دې لړ کې دهغه سره درې کسان مرسته کوونکې موجود وه، یو دهغه وراره حضرت لوط عليه السلام، دوېم دهغه مشر ځوی حضرت اسماعیل عليه السلام چاچې خپل ځان د الله حکم ته پرته

له کوم عذر اوېلمې ځخه تسلیم کړی وو او درېیم دهغه دویم ځوی حضرت اسحاق علیه السلام.

## حضرت لوط علیه السلام یې ختیځ ته واستولو.

خپل وراره حضرت لوط علیه السلام یې د فلسطین په جنوبی برخه سدوم سیمه کې ځای پر ځای کړ، چې نن سبا دختیځ اردن (ترانس جوردنیا) په نامه سره یادیږي. پدې سیمه کې یو بد او خراب قوم اوسیده نو دهغوی اصلاح او سمون اړین وو، همدارنګه په شااوخوا سیمو باندې هم اغېزه کول مطلب وه.

ځکه چې دایران، عراق اومصر کاروانونه دهمدی سیمې ځخه تیریدل او دا ځای د دواړو لورو لپاره د دعوت، تبلیغ اوبلنې مرکز ګرځیدای شو.

## حضرت اسحاق علیه السلام یې فلسطین ته واستولو.

خپل دویم ځوی حضرت اسحاق علیه السلام یې دکنعان په سیمه کې میشت کړ چې نن سبا ورته فلسطین وایي، دا سیمه د شام او مصر په منځ کې پرته وه او د بحر د غاړی، ساحل او لمنې درلودلو په سبب په نورو سیمو باندې هم اغېزمنه کېدای شوه، د همدی ځای ځخه د حضرت اسحاق د ځوی حضرت یعقوب علیه السلام (اسرایېل) علیه السلام او دهغه د لمسي حضرت سیدنا یوسف علیه السلام په برکت، هلو ځلو او کوښښونو داسلام خوزښت مصر ته هم ورسیده.

## حضرت اسماعيل عليه السلام په حجاز کې ميشت شو.

خپل مشر ځوی حضرت سيدنا اسماعيل عليه السلام يې د حجاز په ځمکه باندې ميشت کړ، خپله هم دهغه سره څه موده پاتې شو او د اسلام ښوونې او تعليم يې په عربي خاوره کې خپور کړ.

## د کعبې شريفې ودانول

بيا همدلته پلار اوځوی داسلامي تحريک او خوزښت هغه مرکز ودان کړ چې د کعبې شريفې په نامه سره په ټوله نړۍ کې نوم او شهرت لري،د دې مرکز انتخاب اوغوره والی خپله الله پاک کړی او ځای هغه ورته په ګوته کړ، دا ودانۍ يواځې دعبادت ځای نه وو. لکه چې خلک مسجدونه او جوماتونه جوړ وي، بلکې له لومړۍ ورځې څخه دا دنړيوال اسلامي تحريک اوخوزښت د تبليغ، دعوت او بلنې خپرولو مرکز بلل شوی وو، ددې موخه او هدف داوو چې له هر ګوټ ګوټ څخه د يو الله پاک منونکې همدی ځای ته راټول شي، يو ځای عبادت وکړي اوبيا د اسلام پيغام له ځان سره واخلي او دنړۍ ګوټ ګوټ ته يې ورسوي، همدا ټولنه، اجتماع اوراټولېدل د حج په نامه سره ياد شول، د دې پوره تفصيل او بيان چې په څه ډول دا ودانۍ جوړه شوه، پلار او ځوی په کومو ولولو او دُعاګانو سره دا کار پيل او بشپړ کړ،په قرآن مجيد کې ددې يادونه دارنګه شويده.

﴿ إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِى بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَٰلَمِينَ فِيهِ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ مَّقَامُ إِبْرَٰهِيمَ وَمَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنًا ﴾ آل عمران: ۹۶ — ۹۷

هغه لومړنۍ خونه چې دخلکو لپاره ټاکل شوې وه په مکه کې ده،هغه مبارکه اودټولو خلکو لپاره ښوونه ده،په دې کې

ښکاره نښې دي، دابراهیم دودریدلو ځای دی.اوهرڅوک چې هلته ننوزي په امن دي.

﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا ءَامِنًا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ﴾

العنکبوت: ۶۷

ایا نه ګوري چې مونږ حرم دډاډ ځای ګرزولې دې؟ په داسې حال کې چې په شااوخواکې یې خلک تښتول کیږي.

## د حضرت ابراهیم علیه السلام دُعا ګانې

﴿ وَإِذْ جَعَلْنَا ٱلْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا وَٱتَّخِذُوا۟ مِن مَّقَامِ إِبْرَٰهِـۧمَ مُصَلًّى ۖ وَعَهِدْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَـٰعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيْتِىَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلْعَـٰكِفِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴿١٢٥﴾ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَـٰذَا بَلَدًا ءَامِنًا وَٱرْزُقْ أَهْلَهُۥ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ مَنْ ءَامَنَ مِنْهُم بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ ۖ قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُۥ قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلنَّارِ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٢٦﴾ وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَٰهِـۧمُ ٱلْقَوَاعِدَ مِنَ ٱلْبَيْتِ وَإِسْمَـٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١٢٧﴾ رَبَّنَا وَٱجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَآ أُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٢٨﴾ رَبَّنَا وَٱبْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَـٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ ۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٢٩﴾ ﴾ البقرة: ۱۲۵ - ۱۲۹

اوهغه وخت راپه یادکړه چې مونږ دکعبې خونه دخلکو دورتګ خوندي ځای وګرځاوه،اوامرمووکړچې دابراهیم د اودریدو ځای دلمانځه لپاره خاص کړي،اوابراهیم اواسماعیل دواړوته مې امر وکړ چې زماخونه دطواف کوونکو،اعتکاف کوونکو،رکوع اوسجده کوونکو(لمونځ کوونکو) لپاره پاکه کړئ.

اوهغه وخت هم راپه یاد کړه چې ابراهیم وویل:ای ربه زما!دغه ځای دامن ښار وګرځوه اوهغواسیدونکي ته یې چې په الله اودقیامت په ورځ ایمان راوړي دخوراک لپاره ډول ، ډول میوې ورکړه.الله پاک وفرمایل:اوڅوک چې کافرشي زه دیوڅوورځوګټه وته ورکوم خوبلاخره به یې داور عذاب ته په زوربیایم ،اوهغه دورتګ لپاره خورا بدځای دی.اوهغه وخت هم را په یاد کړه چې ابراهیم اواسماعیل دخونې بنستونه کېښودل اوپه دُعاکې یې ویل چې ای زمونږ ربه!زمونږ هلې ځلې ومنه ته ښه اوریدونکې اوښه پوه یې.ای زمونږ ربه! مونږ دواړه ستاحکم منونکې وګرځوه .اوزمونږ په اولادې کې هم یوه حکم منونکې ډله راپورته کړه.دحج احکام ،اودعبادت لارې چارې راوښایه .توبه مو ومنه.بیشکه چې ته ښه توبه منونکې ډیرمهربان یې.ای زمونږ ربه!په دوی کې یو داسې استازې راپاڅوه چې ستاایاتونه ورته ولولې ،کتاب اوحکمت وروښایې اوپاک یې کړي.بیشکه چې ته دلوی توان اوحکمت څښتن یې.))

﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا ٱلْبَلَدَ ءَامِنًا وَٱجْنُبْنِى وَبَنِىَّ أَن نَّعْبُدَ ٱلْأَصْنَامَ ﴿٣٥﴾ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ فَمَن تَبِعَنِى فَإِنَّهُۥ مِنِّى ۖ وَمَنْ عَصَانِى فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٦﴾ رَّبَّنَآ إِنِّىٓ أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِى بِوَادٍ غَيْرِ ذِى زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ ٱلْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجْعَلْ أَفْـِٔدَةً مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهْوِىٓ إِلَيْهِمْ وَٱرْزُقْهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ ﴿٣٧﴾ ﴾ إبراهيم: ٣٥ – ٣٧

اوراياد کړه هغه وخت چې ابراهیم وویل:ای زما ربه!دغه دمکې ښار دامن ځای وګرځوه .مااوزما اولادله دې نه وژغوره چې دبوتانو عبادت وکړو.ای زما ربه!دغوبوتانو ډیرخلک

گمراه کړیدي،نو چاچې زما مننه وکړه هغه زما دډلې دی.اوچاچې له مانه سر غړونه کړیده نوته ښه بښوونکې اوډیرمهربان یې.ای زماربه!ماخپل ځینې بچیان په یوه بې کښته اوبې اوبو ناوه کې ستادو پاړمن کور تر څنګ مېشته کړل .اوای ربه! دامې ځکه وکړل چې لمونځ قایم کړي. نو ته دخلکو زړونه دهغوی لور ته را مات کړه.اوته هغوی ته هرډول مېوې ورپه برخه کړه شاید چې هغوی شکر وباسي.

﴿ وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلْبَيْتِ أَن لَّا تُشْرِكْ بِى شَيْـًٔا وَطَهِّرْ بَيْتِىَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلْقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴿٢٦﴾ وَأَذِّن فِى ٱلنَّاسِ بِٱلْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ﴿٢٧﴾ لِّيَشْهَدُوا۟ مَنَـٰفِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ فِىٓ أَيَّامٍ مَّعْلُومَـٰتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلْأَنْعَـٰمِ ۖ فَكُلُوا۟ مِنْهَا وَأَطْعِمُوا۟ ٱلْبَآئِسَ ٱلْفَقِيرَ ﴿٢٨﴾ ﴾ الحج: ۲۶ – ۲۸

اوهغه راپه زړه کړه چې مونږ ابراهیم ته دکعبې دخونې ځای وښوولو.او ورته مو ویلې چې :له ماسره هیڅ شي مه برابروه.اوزما کور دطواف کوونکو،قیام کوونکو،رکوع کوونکواوسجده کوونکو لپاره پاک کړه.اوخلکو ته دحج په لور یوه عامه بلنه ورکړه چې هغوی تاته پلي اوپه ډنګرو،اوسترو ستومانه اوښانو سپاره له لرې نه راشي. ترڅوهغو ګټو ته حاضر شي چې دلته ورته موجودې دي.اوپه ټاکلو ورځو کې پرهغوبې ژبوځارویو دالله نوم یاد کړي.چې الله پاک ورکړیدي. په خپله یې ترې وخورئ اوپه تنګ لاسو بې وزلانو یې هم وخوروئ.))

ځما د اسلام ورونو!.

داوه د حج د پیل او شروع قیصه چې داسلام د پنځم رکن په توګه ټاکل شویدی، ددې قیصې څخه به تاسې ته څرګنده شوی

وي چې تر ټولو لومړي پیغمبر چې د اسلام د نړۍ وال دعوت او بلنې لپاره ګمارل شوی وه دهغه مرکز د مکې ښار وو، کعبه شریفه هغه ځای او کور وو چې له هغه ځای څخه به دعوتي، بلني او تبلیغي وفدونه، پلاوي او ګروپونه، د نړۍ هر لوري ته تلل، د حج دا طریقه ځکه ټاکل شوی وه چې څومره انسانانو د یو الله پاک دبندګۍ اقرار کړیدی اود نړۍ په هر ګوټ کې اوسیږي د دې مرکز سره دهغوی اړیکې پیدا شي او ټول د دې مرکز پورې وتړل شي، هر کال دلته راټول او بیا د دې څخه طواف وکړي.

یعنی پخپل ظاهر باندې دخپل داخلي اوباطني کیفیت نقشه ثبت کړي او دهغوی دژوند څرخ به تل د دې مرکز په شااوخوا څرخي.

# ۲۵
# دحج تاریخ

ځما د اسلام ورونو!

په مخکې خطبه کې ماتاسې ته دابیان کړل چې حج څرنګه اودڅه موخي لپاره پیل شو؟ دامي هم درته وویل چې حضرت ابراهیم علیه السلام دمکې ښار داسلامي تحریک دنړیوال مرکزپه توګه وټاکلواوخپل ځوی حضرت سیدنااسماعیل علیه السلام یې هلته میشت کړترڅودده څخه وروسته دعوتي اوبلني چارې پرمخ بوځي.

## دحضرت ابراهیم علیه السلام په راتلونکې نسل کې دبُت پالنې رواج

الله پاک ښه پوهیږي چې دحضرت اسماعیل علیه السلام اولاداونسل ترکوم وخت اوموده پورې په هغه دین باندې سم اوکلک پاتې شول چې ددوی پلرونواونیکونوورته په میراث پرېښې وو. لنډه داچې څو پیړۍ وروسته هغوی دخپلونیکونو، پلرونواومشرانولارښوونې اوزده کړې له یاده وویستلې اوکراره کراره هغه بې لارۍ اوګمراهۍ پدوی کې هم راپیداشوی چې په نوروجاهلي قومونوکې موجودې وې.

په هغه کعبه کې چې دیوالله دعبادت اوبندګۍ لپاره مرکزجوړشوی ؤ.په لس ګونوبتان کېښودل شول. دافسوس ،شرم اوحیرانتیاخبره خوداده چې خپله دحضرت سیدنا ابراهیم علیه السلام اوحضرت سیدنااسماعیل علیه السلام شکلونه اوڅېرې جوړې شوې کوم چې ټول ژوندیې دبُت پالنې د ختمولو لپاره وقف اوتیرکړی ؤ.دحضرت ابراهیم حنیف علیه السلام اولاد. لات

،منات ،هُبل،نسر،یغوث،یعوق،عزی ،اِساف،نائله اونورګڼ شمیربتان جوړ اودهغې عبادت یې کاوه .هغوی دلمر،سپوږمۍ پیریانو،دیوانو،ښاپیریانو،پرښتواودمړه شوی مشرانو دروحونوعبادت کاوه.دناپوهۍ اوجهالت زوراوځواک دومره زیات خپورشوی ؤ چې کله به له کوره وتل اودعبادت لپاره به ورته بُت پېدانشونوبوه ښویه ډبره به یې راواخستله اودهغې عبادت به یې کاوه.اوکه ډبره به ورته پیدا نشوه، نو خاوری او شګې به یې په اوبو لمدی کړی او بیا به یې یو بُت ورڅخه جوړ کړ، د اوزی شیدی به یې په بُت وشیندلی نو هغه به د دوی خدای او پالونکې شو. د کومې بُت پالنې، بت جوړونې او بُت لمانځنې په خلاف چې حضرت ابراهیم علیه السلام په عراق کې جګړه کړی او هغه هرڅه یې ختم کړی وه هماغه بُت پالنه د ده کورته راننوتله، د کعبې شریفې څخه یې بت خانه او درمسال جوړ کړ، خپله دهغې ځای منجاوران وګرځیدل، حج یې د بتانو په خاطر یو سفر وګرځاوه، کوم کور چې د توحید او یوالي د تبلیغ او دعوت لپاره ودان شوی وو هغه د بُت پالنې د دعوت مرکز وګرزېده، هغوی د منجاورانو ټولې هغه لارې چارې، طریقې. دوکې او چلونه پکار واچول تر څود کعبې شریفې د زیارت کوونکو څخه شکرانې، نذرانې، خیراتونه او صدقې راټولې کړي، لنډه دا چې ټول هغه خواري، هلې ځلې او کوښښونه تباه او برباد شول چې حضرت سیدنا ابراهیم علیه السلام او حضرت سیدنا اسماعیل علیه السلام کړي وه، کومه طریقه چې هغوی د حج لپاره ټاکلې وه دهغې برخلاف کار پیل شو.

## د حج دخرابۍ ډولونه

د جاهلیت په وخت کې چې د حج څخه کومه ډرامه او لوبه جوړه شوې وه دهغې اندازه تاسې د دې څخه کولای شئ چې دا یوه لویه او ستره میله وه چې هر کال کېدله. لوی لوی قومونه او قبیلې به دخپلو ډلوټپلو سره راتللی اوپه بیلا بیلو ځایونو کې به یې اړول، دهر قوم او قبیلې شاعرانو او ادیبانو به د خپل قوم او قبیلې د عزت، زړورتیا، باتورۍ، سخاوت او ځواک په هکله داسې لاپې شاپې، پرړې او باټې وهلې چې ځمکه او آسمان به یې سره ښورول. د نورو په سپکاوي او شرمولو به یې خپلې خولې او ژبې وچې کړې. یو بل ته پیغورونه ورکول او دځان څخه لاندې او ښکته ثابتول ددوی نیکې او عبادت وو.

## د دروغجن سخاوت څرګندوني

د شعر، شاعرۍ، باټو، پرړو اولاپوشاپو وهلو څخه وروسته به دسخاوت، میلمستیا، ډوډیو اودیګونو مقابله او مسابقه پیل کېده، دهرې قبیلې سردار او مشر به دخپل نوم او نښان پورته کولو لپاره بې شماره دیګونه بارول او اوښان به یې پرله پسې حلالول.

د دې ټولو بې ځایه مصارفو او بربادیو څخه د هغوی مطلب اومراد دا وو چې په ټولو عربو کې دهغوی نوم او نښان وځلېږي او دا انګازې خپرې شي چې فلانې سردار دومره زیات اوښان حلال کړل او فلانې سردار دومره خلکو او میلمنو ته ډوډۍ ورکړه، پدې میلو ټیلو کې به نڅاګانې، ګډاګانې، شراب او کباب، زنا، هر ډول بدکاري او بد اخلاقي کېدله،دجاهلیت په

دي مراسمو کې به د الله پاک خيال او فکر د هيڅ سره هم نه پېدا کېده.

## لوڅ لغړ طواف کول

د کعبې شريفې او بيت الله شريف څخه به هم طواف کېده خو په څه ډول او طريقې سره؟ نر او ښځې به ټول لوڅ لغړ يدل او بيا به په ګډه له بيت الله شريف څخه څرخيدل، بيا به يې ويل: مونږ خداى ته پداسې حال کې ورځو لکه څرنګه چې مونږ مور زيږولې ؤ.

د حضرت ابراهيم عليه السلام په جوړشوى جومات او مسجد کې عبادت کېده خو په څه ډول او طريقه؟ چکې او لاسونه پړقول، شپېلې وهل او سورنې وهل د دوى لمونځ او عبادت وو.

د الله پاک نوم اخستل کېده او دهغه يادونه کېده خوپه څه ډول او طريقه؟

هغوى به ويل: لبيک اللهم لبيک لاشريک لک الا شريکا هو لک تملکه و ماملک)) زه حاضر يم اى الله! ستا هيڅ شريک نشته، خو هغه څوک چې تا برخه ورکړى، ته دهغه مالک او دهغه د ملکيت هم مالک يې.

## د قربانۍ تصور

دخداى په نوم به يې قربانۍ کولې خو په څومره سپين سترګۍ او بې شرمۍ سره؟ د قربانۍ په وينه به يې د کعبې شريفې ديوالونو لړل، غوښه به يې په دروازه کې اچوله، دا يې فکر او تصور وو چې ګوندې الله پاک دى وينې او غوښې ته اړتيا لر.

## د محترمو میاشتو بې عزتي کول

حضرت ابراهیم علیه السلام د حج او عمرې لپاره څلور میاشتې حرامې او محترمې ګرځولې وې چې پدې څلورو میاشتو کې به هېڅوک جنګ، جګړې او ناکلارې نکوي، خو دې خلکو د دې محترمو میاشتو څه ډول احترام کولو؟ څه وخت به یې چې جګړې ته زړه وشو او یا به ورته اړتیا پېښه شوه نو په یو کال کې به یې محترمې میاشتې دځان لپاره حلالې کړې اوبل کال بې یې بیا دهغه بدله پوره کوله، دې ته په قرآن مجید کې نسي ویل شویده.

## د ځان څخه ځو جوړ شوي بندیزونه

کوم خلک چې پخپل مذهب کې مخلص او نیک نیت لرونکې وه هغوی هم دناپوهۍ او جهالت په وجه حیرانوونکې طریقې، رواجونه او رسمونه جوړ کړي وه.

ځینې خلک پرته له توښې، خرڅې او مال څخه حج ته تلل او بیا به یې له خلکو څخه سوال او غوښتنه کوله، هغوی دا کار نیکي او توکل بللو، ویل به یې چې مونږ توکل کوونکې یو، د الله پاک کورته ځو نودنیا سامان ولې د ځان سره واخلو؟

په عامه توګه هغوی د حج په سفر کې کار، مزدوري، تجارت او سوداګري بده او ناروا بلله، ځینو خلکو په حج کې خوراک او څښاک کول ناروا بلل او دایې عبادت او نیکې ګڼله، ځینو به حج ته د وتلو سره سم خبرې کول بند کړل او دې ته به یې حج مصمت یعنې ګونګې حج ویلې، پدې توګه ډیر غلط او ناروا رواجونه او رسمونه په هغوی کې راپیدا شوي وه چې دلته پرې هسې ستاسې وخت نه خرابوم.

## د خلیل الله علیه السلام د دُعا قبلېدل

دغه ډول خراب حالات تر دوه زره کلنو پورې همداسې روان وه، پدې اوږده موده کې هېڅ نبي او پیغمبر په عربو کې راپېدا نشو، نه دکوم نبي او پیغمبر خالص، اصلي او سوچه دعوت، بلنه او پیغام عربو ته راورسیده، بلاخره د حضرت ابراهیم علیه السلام دهغې دُعا د قبلېدو وخت راورسیده چې د کعبې شریفې دد یوالونو د پورته کولو په وخت کې یې کړې وه، هغه دا وه:

﴿ رَبَّنَا وَٱبۡعَثۡ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُزَكِّيهِمۡۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١٢٩ ﴾ البقرة: ۱۲۹

ای زمونږ ربه!په دوی کې یوداسې استازې راپاخوه چې ستاایتونه ورته ولولې، کتاب اوحکمت ورته وښاې اوپاک یې کړي، بیشکه چې ته دلوی توان او حکمت څښتن یې.

ای الله! په دوی کې د دوی د قوم څخه یو پیغمبر ولېږه، چې ستا ایاتونه ورته واوروي، د کتاب اوحکمت ښوونه ورته وکړ او دهغوی اخلاق سم کړي، اوته عزیز اوحکیم ذات یې.

څکه نو د حضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت اسماعیل علیه السلام له اولادې څخه یو کامل انسان را پورته شو چې مبارک نوم یې محمد بن عبدالله ﷺ وو.

لکه څرنګه چې حضرت ابراهیم علیه السلام دمذهبي مشرانو اومنجاورانو په کورنۍ کې سترګې پرانستلې وې، په همدې توګه نبي علیه السلام هم پداسې کورنۍ کې سترګې پرانستلې چې د کلنو کلنو څخه د کعبې شریفې منجاوران، متولیان او سرپرستي کوونکې وه، لکه څرنګه چې حضرت ابراهیم علیه السلام د خپلې کورنۍ په مذهبي مشرۍ او منجاورۍ باندې کلک ګذار

کړی ؤ په همدی توګه محمد مصطفیﷺ هم پرې سخت ګذار وکړچې دا یواځې ګذار نه بلکې دهغې ریښې یې د تل لپاره غوځې او ختمې کړی.

په کومه توګه چې حضرت ابراهیمعليه السلام د شلخې او باطلو خدایانو دخدایې ختمولو اود یو الله د بندګۍ خپرولو لپاره چې کوم کوښښ او هلې ځلې کړی وی په هماغه توګه حضرت محمد ﷺهم وکړی اوبیا یې هماغه ابراهیمی دین راتازه او روښانه کړ.

د یو یشت کلنو خوارئ، هلو ځلو او کوښښ څخه وروسته چې کله د روزنې، تربیت، پاکوالې، سمون او اصلاح کار بشپړ او مکمل شو نود الله پاک په حکم سره یو ځل بیا کعبه شریفه دنړۍ د مؤمنانو او مسلمانانو لپاره د دعوت، تبلیغ او بلنې مرکز اعلان شو اویو ځل بیا اعلان وشو چې دحج لپاره مکې ته راټول شئ.

﴿ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٧﴾ ﴾ آل عمران: ۹۷

دالله له لوري ،پرهغو خلکو دې خونې حج فرض شوی دی،چې دلارې توان ورسره وي.

## د ابراهیمی طریقو اوسنتو را ژوندي کول

پدې توګه د حج د نویو مراسمو او طریقو د رواجولو او نافذولو وروسته ټول هغه خراب، غلط او ناروا رسمونه او رواجونه باکل او بشپړ بند کړای شول چې د دوه زره کلنو څخه راپدېخوا په خلکو کې عملي کېدل.

## د بُت پالنې ختمیدل

د بیت الله شریف او کعبې سره نژدې اوشااوخوا ټول ایښودل شوي بتان، مجسمې او شکلونه مات، دړې وړې اود خاورو سره برابر شول، د الله پاک څخه پرته چې د چا عبادت هلته کېده هغه بالکل بند او منع شو، ټول جاهلي رواجونه او دودونه ختم او محوه شول، مېلې ټیلې او تماشې بندې شوې، اوټولو ته حکم وشو چې په کومه اصلي او شرعي طریقه به عبادت کوي.

﴿ وَٱذْكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمْ وَإِن كُنتُم مِّن قَبْلِهِۦ لَمِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿١٩٨﴾ ﴾ البقرة: ۱۹۸

الله پاک په هماغه شان یاد کړئ چې تاسې ته یې ښوونه کړې ده.که څه هم تاسې له دې وړاندې بې لارې واست.

## د غلطو او بې ځایه چارو بندول او منع کول

ټول بې ځایه، خوشې، عبث او غلط کارونه بند او منع شول.

﴿ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي ٱلْحَجِّ ﴾ البقرة: ۱۹۷

نوشهواني خبرې، کارونه، ورانکاري اونوره جنګ جګړه به دحج په اوږدو کې نه کوي.

## دشعر او شاعرۍ مسابقې بندې شوې

د شعر او شاعرۍ مسابقې، دپلار نیکه دو یاړ او افتخار چېغې اونارې، بد ویل او پیغورونه ورکول ټول بالکل منع او بندشول.

﴿ فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَٰسِكَكُمْ فَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ كَذِكْرِكُمْ ءَابَآءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا ﴾ البقرة: ۲۰۰

نوچې کله مو دحج احکام پر ځای کړل،نوالله پاک په همغه ډول یادکړئ لکه څرنګه مو چې خپل پلرونه یادول،بلکې له هغې یې هم زیات یادکړئ.

## د ځان ښودنې لپاره سخاوت منع شو.

دسخاوت، خیرات او دیګونو ډرامه ختمه شوه چې د ځان ښودنې او ریا لپاره کېدلې، اویو ځل بیا هغه طریقه او لاره غوره شوه چې یواځې دالله پاک لپاره دالله پاک په مبارک نامه سره څاروي ذبح شي،تر څو د مالدارو او شتمنو له قربانۍ څخه عام حاجیان هم ګټه پورته کړي.

وَكُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ وَلَا تُسْرِفُوٓا۟ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُسْرِفِينَ الأعراف: ٣١

وخورئ او وڅښئ خو اسراف مه کوئ،ځکه چې الله پاک اسراف کوونکې نه خوښوي.

﴿ فَٱذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ ۖ فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا فَكُلُوا۟ مِنْهَا وَأَطْعِمُوا۟ ٱلْقَانِعَ وَٱلْمُعْتَرَّ ﴿٣٦﴾ ﴾ الحج: ٣٦

په اوښانو په ولاړه دالله نوم واخلئ،او چې له حلا لولو وروسته په ځمکه پرېوځي نو په خپله یې هم وخورئ اومسکینانو ته یې هم ورکړئ چې سوال کوي اوکنه.

## د قربانۍ وینه مښل او غوښه اچول بند شول.

د قربانې وینه د کعبې په دیوالونو مښل اوغوښه په دروازه کې اچول بالکل منع او بند شول اودا ډول سبق ورکړل شو.

لَن يَنَالَ ٱللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلَـٰكِن يَنَالُهُ ٱلتَّقْوَىٰ مِنكُمْ ۚ الحج: ٣٧

الله ته نه دهغوی غوښې رسیږي اونه یې وینې بلکې هغه ته یوازې ستاسې تقوی رسیږي.

## لوڅ لغړ طواف کول بند شول

لوڅ لغړ طواف کول د کعبې شریفې څخه باکل منع او بندشول او دا اعلان وشو:

قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِيٓ أَخۡرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزۡقِ ( الأعراف: ۳۲)

((ورته ووایه چې د الله هغه ښکلا چا حرامه کړې ده چې دخپلو بندګانو لپاره یې راویستلې ده او چا پاک او خوندور خوراک حرام کړیدي؟))

﴿ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَأۡمُرُ بِٱلۡفَحۡشَآءِ ﴾ الأعراف: ۲۸

ورته ووایه چې الله پاک په بدۍ او فحشاء امر نه کوي.

﴿ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ ﴾ الأعراف: ۳۱

ای دادم اولادې! بایدپه هرجومات(لمونځ) کې په خپله ښکلا سینګار اوسئ.

## د حج په محترمو میاشتو کې بدلون کول بند او منع شول

د حج لپاره چې کومې مېاشتې محترمې اوحرامې ګرځول شوې وې دهغې بدلون، تغیر اوبې ځای کول بالکل منع او بند شول او لدې کار څخه په کلکه ممانعت وشو.

﴿ إِنَّمَا ٱلنَّسِيٓءُ زِيَادَةٞ فِي ٱلۡكُفۡرِۖ يُضَلُّ بِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُحِلُّونَهُۥ عَامٗا وَيُحَرِّمُونَهُۥ عَامٗا لِّيُوَاطِـُٔواْ عِدَّةَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ فَيُحِلُّواْ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ ﴾ التوبة: ۳۷

په تحقیق سره دمیاشتو وروسته کول دکفر زیاتوالې دې، په دې توګه بې لارې کولای شي هغه کسان چې کافران دي. ځکه هغوی د یوکال ځینې میاشتې حلالې ګڼي اوبل کال یې بیا

حرامی، ترڅو د الله له لوري د حراموکړی شوو میاشتو شمېره پوره کړي. نو هغه څه حلال ګڼي چې الله حرام کړي دي.

## د حج لپاره د توښې اخستلو حکم

پرته له توښې او خرڅ څخه حج ته تلل منع او بند شول او دارنګه حکم وشو:

﴿ وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيْرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقْوَىٰ ﴾ البقرة: ۱۹۷

دحج لپاره له ځان سره توښه واخلئ. تر ټولو ښه او غوره توښه له الله څخه ډاریدل دي.

## په حج کې د روزۍ ګټلو اجازه

د جاهلیت په وخت کې د حج په لاره کې او هلته کار او مزدوري کول ناروا او بدکار بلل کېده، د دې تصور او فکر تردید وشو او اجازه ورکړل شوه چې د اړتیا په وخت کې کار کېدای شي.

﴿ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَبْتَغُواْ فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ ﴾ البقرة: ۱۹۸

په دې کې پر تاسې ګناه نشته چې د حج په اوږدو کې د خپل رب د مهربانۍ (حلال رزق) د ترلاسه کولو لپاره هڅه وکړئ.

## د جاهلي دودونو او رواجونو ختمول

د ګونګي حج او په لوړه اوتنده حج کول بند شول، پدې توګه ټول جاهلي او شرکي دودونه او رسمونه بند شول او د دې پر ځای حج د تقویٰ، الهي ویرې، پاکوالي، ساده ګۍ او درویشۍ مکمله نمونه او مثال وبلل شو. حاجیانو ته حکم وشو چې کله تاسې له کوره د حج په نیت وځئ نو د دنیا د ټولو ناپاکېو څخه

ځان پاک کړئ، نفسي خواهشات خوشي کړئ د خپلو ميرمنو سره هم د احرام په حالت کې جنسي اړيکې مه ساتئ، کنځلې، بدرد اوټول بې ځايه او خوشي خراب کارونه پرېږدئ.

## د ميقاتونو ټاکل

د کعبې او بيت الله شريف په لوري دراتلوونکو حاجيانو لپاره په لاره کې ميقاتونه (د احرام تړلو ځايونه) وټاکل شول تر څو هغه ځای ته په رسيدو خپلې جامې بدلې کړي او دحج ساده، فقيرانه او درويشانه لباس په ځان کړي تر څو ټول مالدار، شتمن اوغريب يو ډول او يو رنګ شي. د بيلا بيلو قومونو او هېوادونو نښانې اوعلامې ختمې او ورکې شي اوټول يوځای دالله پاک په دربار کې عاجز، فقير، دمحتاجواو اړو انسانانو په شان ورانديې او حاضر شي.

## د ډاډ من چاپيريال برابرلو حکم

د احرام تړلو څخه وروسته د انسان وينه څو لاڅه کوی چې د ښکاريو، خزندګانو اوحشراتو وينه تويول هم حرام او منع شول تر څو هر لوري ته ډاډمن چاپيريال اوامنيت راشي، حيوانيت او ځنګلي توب ختم شي او په هر چا باندې معنويت او روحانيت برلاسې او غلبه پيدا کړي، څلور مياشتې دهمدې لپاره حرامې وګرځول شوې چې په هغې کې هېڅ ډول جګړې او شخړې نه وي، کعبې ته په تلوونکو لارو کې امن اوډاډ وي، د حج قصد کوونکې څوک ونه زوروي.

پدې شکل، صورت اوشان سره چې کله حاجیان حرم شریف ته ورسیږي نو دهغه لپاره کومه میله ټیله، لوبې، نڅا او ګډاګانې نه وي بلکې پل په پل دالله پاک یاد اوذکر وي، لمونځونه اوعبادتونه وي، قربانۍ او طوافونه وي، که کوم اواز اوناره وي نو هغه به یواځې دا وي:

((لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ ))(بخاري عن عبدالله بن عمر)

د همداسې پاک، صاف او خالص حج په هکله رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

(عن ابي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَنْ حَجَّ لِلَّهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ. (بخاري)

چاچې دالله لپاره حج وکړ او په هغې کې يې د شهواتو، فسق او بدکارۍ څخه ځان وساتلونو پداسې حال کې راوګرزيده لکه چې د مور د ګيډې څخه نوې پيدا شوې وي.

## دحج کولو اهمیت

مخکې لدې څخه چې ستاسې په وړاندې د حج فايدې او ګټې بيان شي داخبره يادول اړين بولم چې داحج اخر څه ډول عمل دی؟ په قرآن کريم کې الله پاک فرمايلي:

﴿ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٧﴾ ﴾ آل عمران: ۹۷

دالله له لوري ، پرهغو خلکو ددې خونې حج فرض شوی دی، چې دلارې توان ورسره وي .اوچاچې انکارکړی دی نوبايد پوه شي چې الله پاک له ټولو خلکو بې پروا دي

پدې آیت شریف کې دوسی، توان او قدرت لرلو سره حج نکول کفر بلل شویدی چې ددې شرح او تفصیل د نبيﷺ په دوه احادیثو کې دا رنګه بیان شویدی:

مَنْ مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلَى بَيْتِ اللَّهِ وَلَمْ يَحُجَّ فَلَا عَلَيْهِ أَنْ يَمُوتَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا (رواه سنن الترمذي)

څوک چې توښه اوسپرلۍ لري چې بیت الله ته پرې رسیدای شي او بیا هم حج ونکړي نو پدې حالت کې مړه کېدل اویا یهودي اونصراني مړه کېدل ده ته یو شانته دي.

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– :« مَنْ لَمْ يمنَعْهُ مِنَ الْحَجِّ حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ أَوْ سُلْطَانٌ جَائِرٌ أَوْ مَرَضٌ حَابِسٌ فَمَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ فَلْ يمتْ إِنْ شَاءَ يَهُودِيًّا وَإِنْ شَاءَ نَصْرَانِيًّا »((طبراني))

چې ځرګندې اړتیا له حج څخه نه وي منع کړی،نه کوم ظالم پاچا، نه کوم منع کونکې ناروغي او بیا هم ده حج ونکړ او په همدې حالت کې ورته مرګ راشي نو د ده خوښه ده چې یهودي مري اوکه نصراني مري.

او د دی تشریح حضرت عمر فاروقؓ داسې کړی (( کوم خلک چې د توان لرلو سره سره حج نکوي زما زړه غواړي چې په هغوی باندې د کفارو پشان جزیه ولګوم ځکه چې هغوی مسلمانان ندي، هغوی مسلمانان ندي))

د الله پاک د دې فرمان او بیا درسول اللهﷺ او دهغه دخلیفه د تشریح څخه به تاسې ته ځرګنده شوی وي چې دا څه عادي عبادت ندی چې که دچا زړه یې غواړي نو ودې کړي او که نه غواړي نه دې کوي. بلکې دا داسې عمل او فرضي رکن دی چې

څوک دلارې وسه او طاقت ولري باید، پخپل عُمر کې یو ځل خامخا ولاړ شي، که هغه د نړۍ په هر ګوټ او کنج کې وي، که په هغه باندې د کور او نور تجارتي مسؤلیتونه هر څومره بار وي.

کوم کسان چې د توان او قدرت سره سره حج ځنډوي او په سل ګونو پلمې او عذرونه وړاندې کوي نو پده چې څومره کلونه تیریږي نو دخپل ایمان غم دی وخوري. پاتې شول هغه کسان چې د توان او طاقت سره سره یې په ټول عمر کې دا خبره په زړه او ذهن کې نده تیره شوی چې حج هم کوم فرض او د اسلام رکن دی او کنه؟.

د ټولې نړۍ سفرونه کوي، د اروپا او امریکا دکعبې سفرونه اوچکرې لګوي، د حجاز په غاړه غاړه تیریږي چې مکه مکرمه ورته په څو دقیقو کې واټن لري خو بیا هم د حج اراده او قصد یې په زړه کې نه راځي نوداسې خلک بالکل مسلمانان ندي، دروغ وایي چې ځان ته مسلمان وایي، هغه څوک چې داسې خلکو ته مسلمان وایي هغوی هم ناپوهه او جاهل دي، که دهغوی په زړونو کې د مسلمانانو درد وي نو وي دي، په هر صورت او شکل دهغوی په زړونوکې د الله پاک د حکم منلو او اطاعت ولوله اواحساس نشته کوم چې دمسلمانئ لپاره ضروري دی.

# ۲۶
# د حج فایدې او ګټې

ځما د اسلام ورونو!

په قرآن مجید کې چې کوم ځای حضرت ابراهیمؑ ته د حج لپاره دعام اواز او رابللو حکم شوېدی هلته د دې وجه اودلیل داسې بیان شوېدی:

﴿ لِيَشۡهَدُواْ مَنَٰفِعَ لَهُمۡ ﴾ الحج: ۲۸

ترڅوهغو ګټوته حاضرشي چې دلته ورته موجودې دي.

یعنی هغوی دې سفر وکړي او پخپلو سترګو دی وګوري چې دا ټول د دوی د ګټې او فایدی لپاره دي، او پدې کې چې څه ګټې اوفایدې پټې دي هغه وخت راڅرګندېږي چې کله انسان خپله هغه کار وکړي او پخپله یې وګوري.

د حضرت امام ابو حنیفهؒ په هکله روایت دی تر څو پورې چې هغه حج نه وو کړی نو پدې خبره کې یې شک وو چې کوم یو عبادت او رکن به تر نورو افضل او غوره وي؟ خو کله چې هغه حج وکړ او هغه بې شمېره ګټې او فایدی یې ولېدی نو پرته له ځنډ څخه یې وویل چې حج په ټولو عبادتونو کې غوره او افضل عبادت دي.

راشئ اوس زه تاسې ته په لنډو ټکوکې هغه ګټې او فایدي وړاندې کړم:

## د سفر ډول

په دنیا کې خلک د دوه ډوله سفرونو څخه خبر دي، لومړې سفر دادی چې درزق او روزۍ ګټلو لپاره کېږي.

دوېم هغه دی چې د چکر، تفریح او ساعت تیرۍ لپاره وي.

پدې دواړو سفرونو کې دانسان خپل خواهش اوهېله دکور څخه دوتلو سبب او لامل ګرځي، که کور پرېږدي نو د خپل موخې لپاره اوکه دخپلو خپلوانو څخه جلا کېږي نو دخپل ځان په خاطر.

که مال او دولت ورکوي اووخت مصرفوي نو دخپل مطلب لپاره، نو پدې کې دقربانۍ هېڅ پوښتنه او سوال نه پېدا کېږي.

خو د کوم سفر نوم چې حج دی دهغې معامله دنورو سفرونو سره بالکل توپیر لري، دا سفر دخپل کوم مطلب او موخې لپاره اونه د کوم نفسي خواهش لپاره وي بلکې یواځې د الله پاک لپاره او دهغه مسؤلیت د اداء کولو لپاره چې الله پاک ورته ټاکلې دی، دې سفر ته تر هغې څوک نه چمتو کېږي تر څو پورې چې یې په زړه کې د الله پاک سره مینه او محبت نه وي او دا سفر فرض او خپل مسؤلیت ونه بولي.

نوهغه څوک چې دیو اوږد وخت لپاره دخپلې کورنۍ، خپلوانو، تجارت او دفتر څخه جلا کېږي اوبیا پدې سفر کې مال خرڅوي، کړاونه او تکلیفونه تیروي، تجارت یې زیان او توان ویني، ددې ټولو سره سره چې هغه له کوره وځي نو دا د دې دلیل دی چې د ده په زړه کې دالله پاک څخه ویره اومحبت دواړه شتون لري، او د مسؤلیت احساس هم ورسره دی، پدې کې اوس دا توان او ځواک هم شته که چېرې د الله پاک په لاره کې کله وتلو ته اړتیا شي نو دې بالکل وتلو ته چمتو او تیار

وی، کړاونه ګاللی شي. خپل مال، وخت او خوښي د الله پاک په رضا باندې قربانولې او ورکولای شي.

## نیکۍ او تقوي' ته تشویق او ترغیب

کله چې هغه ددې پاکې ارادې او قصد سره له کوره وځي نو دده د طبیعت حال بل ډول وي، په کوم زړه کې چې دالله پاک مینه او محبت لمبی وهي هغه زړه بیا په هر حالت کې نیکۍ ته په تلوسه کې وي ، د ګناهونو څخه توبه وباسي او دخلکو څخه دخپلو غلطیو ښښنه اوبخشش غواړي.

د چا حق چې پرې وي دهغې داداء کولو تکل کوي تر څو دالله پاک دربار ته پداسې حال کې ورنشي چې دخلکو بارېې په اوږو باندې پروت وي، دبدیو او ګناهونو څخه یې زړه کرکه کوي، او په طبعی توګه نیکیو ته میلان او رغبت پیدا کوي، د کور څخه تروتلو وروسته اوځومره چې دالله پاک حرم ته نژدی کیږي هومره یې په زړه کې د نیکۍ احساس زیاتیږي، هغه پدې کوښښ کې وی چې چاته زیان او تکلیف ونه رسوي، او دچاچې څومره خدمت او چوپړ کولای شي هومره یې وکړي.

کنځلې، بدې خبرې، ترخې وینا ، بی حیایې، خیانت، جګړې او فساد نکوي ځکه چې دده طبیعت ددې څخه نفرت او کرکه لري اوهغه د الله پاک په لاره کې روان دی.

دا ورته شرم او عار ښکاري چې دالهي حرم مسافر دې بد او د ګناه کارونه کوي، دداسې انسان څخه په څرنګه دګناه کار کیږي.

لنډه داچې د ده ټول سفر عبادت عبادت ګرځي، ځکه د عبادت په مهال د ظلم او فسق کول څه معنی لري؟ نو د نورو سفرونو په خلاف دا سفر د انسان نفس او باطن پاکوي بلکې داسې فرض کړئ چې دا یو اصلاحي او سمونکې کورس دی چې هر حج کوونکي مسلمان د دې څخه تیریږي.

## احرام او دهغې شرایط

د سفریوه برخه ختمه شوه او حاجی داسې یو ځای او مقام ته ورسیده چې له هغه ځایه د جامو اولباس بدلیدو پرته مخکې نور نشي تللای، دا احرام آخر څه شي دی؟

یو غریبانه او فقیرانه لباس، چې په هغې کې د یو لُنګ، یو څادر او یوه جوړه څپلۍ یا خپلکو څخه زیات څه نه وي، د دې مطلب دا دی چې تر اوسه پورې چې ته هره بلا وې هغه به وې، خو اوس چې ته دخپل رب دربار ته ورځې نو عاجز، فقیر او غریب به ورځې، په ښکاره به هم فقیر اوغریب وې او زړه به هم د فقیرانو او غریبانو پشان جوړوې، رنګ په رنګ جامې او ډول سینګار خوشي کړه، ساده او فقیرانه لباس واغونده، موزې او ښکلی بوټان مه اغونده، خپل سر لوڅ اوبربنډ کړه، خوشبوي او عطر مه استعمالوه، ویښتان مه جوړوه، دهر ډول ښکلا او سینګار څخه ځان وساته، دنر او ښځې جنسي اړیکې خوشي کړه بلکې هغه خبرې اترې او حرکتونه هم خوشې کړه چې دې عمل ته تشویقول کوي.

ښکار مه کوه بلکې ښکاري ته د ښکاره اشاره هم مه کوه.

کله چې په ظاهر دا رنګ خپل کړې، نو په باطن باندې هم د دی اثر او اغېزه پرېوځي، دننه ستا زړه هم فقیر، عاجز او

محتاج ګرځي. کبر، غرور او نخرې ورڅخه لرې کېږي، عاجزي، ډاډ او آطمنان يکې ځای نيسي، د دنيا او دهغې دخرابيو څخه چې ستا روح اومعنويت پيکه او تت شوی وه هغه بيرته روښانه او صفا کېږي، چې بلاخره ستا په ظاهر او باطن باندې د الله پاک دعبادت او بندګۍ حالت او کېفيت خپرېږي.

## تلبيه

د احرام تر تړلو وروسته چې کوم کلمات د حاجي په ژبه جاری کېږي، دهر لمانځه څخه وروسته چې حاجي دڅه وظيفه کوي، په هره لوړه او ژوره باندې د تيريدلو په وخت کې چې هغه څه وايي، دهر کاروان سره دمخامخ کېدو په وخت کې يې چې څه له خولې څخه وځي، هر سهار دخوب څخه تر راويښيدو چې کومه خوندوره ترانه ترنم کوي هغه دا ده.

((لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ)(بخاري،مسلم،نسائي اومسنداحمد)

په اصل کې دا د هغې اواز،بلنې او دعوت ځواب دی چې څلور زره کاله مخکې حضرت سيدنا ابراهيم عليه السلام د الله پاک په حکم سره کړی وو، پنځه څلويښت پيړۍ تېرې شويدي چې تر ټولو لومړي بنده دا اواز پورته کړی وو:

وَأَذِّن فِي ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَجِّ يَأۡتُوكَ رِجَالٗا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٖ يَأۡتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٖ ﴿٢٧﴾ (الحج: ۲۷)

ای د الله پاک بندګانو! د الله پاک د کور په لوري راشئ، د ځمکې دهر ګوټ څخه راشئ، که پلې راځئ او که سپاره راځئ))

ددې په ځواب کې هر حج کوونکې په لوړ آواز سره وايي: (زه

حاضر یم، ځما الله زه حاضر یم، ستا هیڅ شریک نشته، زه یواځې په غوښتنه حاضر شوی یم، تعریف او صفت تالره دی، نعمت ستادی، ملک ستا دی، په هیڅ کې هم ستا شریک نشته.

پدې توګه د لبیک دهر اواز سره دحاجي اړیکې د رښتیني او خالص الهي بندګۍ د هغه خوزښت او تحریک سره نښلي چې د حضرت سیدنا ابراهیم علیه السلام او حضرت سیدنا اسماعیل علیه السلام له وخت څخه راروان دی. څلورنیم زره کلنه فاصله له منځه ځي، داسې معلومېږي لکه دهغه لوري چې حضرت ابراهیم علیه السلام د الله پاک په حکم اواز او بلنه ورکوي او لدی پلوه حاجي ځواب ورکوي چې ځواب همداسې زیاتېږي او لوړیږي، څومره چې دا اوازونه مخکې ځي په هماغه کچه یې شوق او ذوق هم زیاتېږي، په هره لوړه او ژوره دهغه اواز کوونکې اواز تر غوږو کېږي او دی د ځواب ورکولو په حالت کې مخ په وړاندې روان وي.

هرکاروان ورته دهغه پیغام راوړنکې معلومېږي او د یو عاشق په شان دهغه پیغام اوري او ځواب ورکوي چې زه حاضر او تیاریم، هر سهار هغه ته د دوست او محبوب پیغام راوړی او د نور په راښکاره کېدو سره سترګی خلاصوی او د لبیک اللهم لبیک خوندوره ترانه یو ځل بیاتکراروي.

لنډه دا چې بیا بیا دا اواز د احرام په غریبانه او فقیرانه لباس، د سفر پدې کړاونو، اوپل په پل کعبې شریفې ته په نژدې کېدو سره د انسان په زړه کې داسې کېفیت منځ ته راوړي چې حاجی په الهي عشق او محبت کې له ځانه ناخبره کېږي او زړه یې داسې له نورو ټولو شیانو او محبتونو څخه خالي کېږي چې ګویا په دې کائناتو کې بل هیڅ هم نشته، یواځې د الله پاک مینه او محبت دی اوپرته له دوست څخه هر څه ختم او خاورې

ایری شول،لکه شاعرچې وایي: (پدې کور داسې اور ولګېده چې څپلی هم وسوزیدی).

## د دیدن او زیارت طواف

پدې شان او شوکت سره حاجي نیغ هغه دربار ته مخ کوي کوم دربار ته چې بلل شوې ،لومړې د دوست درشل ښکلوي ، بیا د خپلې عقیدې، ایمان او دین د مرکز شاوخوا طواف او چکر لګوي، هر چکر او ګرځیدل د درشل ښکلولو څخه پیل او په درشل ښکلولو یې ختموي[1].

د طواف تر ختمیدو وروسته په مقام ابراهیم کې دسلامی دوه رکعتونه لمونځ اداء کوي، بیا له هغه ځای دصفا په غونډۍ ورپورته کېږي او چې کله یې سترګې په بیت الله شریف پرېوځي نو بې اختیاره وایي:

((لااله الاالله ولانعبدُ الاایاه مخلصین له الدین ولوکرد الکافرون)).

---

[1] (په حجر اسود ښکلولوباندې ځینې جاهل اوناپوهه خلک ګوت نیونه کوي اودا یو ډول بت پالنه بولي، حال داچې دا ددرشل ښکلولو څخه پرته بل څه ندي، د بیت الله شریف طواف د حجر اسود څخه پیل کېږي او دهر طواف په پوره کېدو سره یو ځل حجر اسود ښکل کېږي، یاهغې ته اشاره کېږي، پدې کې د یوې ذرې په اندازه هم ددې توري ډبرې د عبادت شک او شبه نشته، د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دا وینا مشهوره ده چې هغه حجر اسود ته وفرمایل: زه پوهیږم چې ته یوه ډبره یې، که رسول الله ﷺ نه وي ښکل کړې نو مابه ته نه وي ښکل کړې).

(پرته له الله څخه بل هېڅوک د عبادت وړ نشته، د بل هیچا بندګي مونږ نه کوو، څمونږ اطاعت یواځې دالله لپاره خاص دی سره لدې که په کافرانو دا سخت او ګران پرېوځي)

## د صفا او مروه تر منځ منډې وهل

بیا هغه د صفا او مروه غونډکېو تر منځ منډې وهي، یعنی پخپلو دې منډو دا ثابتوي چې زه به هر وخت او هر کله د خپل رب په رضا او خوښۍ لاس ته راوړلو کې داسې منډې وهم، ددې منډو په دوران کې کله ناکله د هغه له خولې څخه داسې وځي:

((اللهم استعملنی بسنة نبیک و توفنی علی ملته واعذنی من مضلات الفتن)).

(ای الله! څما څخه کار واخله په هغه طریقه چې ستا دنبي طریقه ده، او ماته مرګ راکړه په هغه لاره چې ستا دنبي لاره ده، او په ژوندکې ماله هغو فتنو څخه وساته چې له نیغې لارې ګمراه کوونکې دي).

((رب اغفر وارحم و تجاوز عما تعلم،انک انت الاعز الاکرم)).

((ای ربه! معاف کړه او رحم وکړه پر ما اوتیرشه څماله هغو کمیوڅخه چې ته پرې پوهېږې، ستا توان تر ټولو زیات دی،او ستا کرم هم له ټولو زیات دی)).

## په منیٰ، عرفات او مزدلفه کې ودریدل

د دې څخه وروسته هغه لکه د الله دسپایې او عسکر په شان شي، چې پنځه شپږورځې په پوځي او عسکري کېمپ اوچاونۍ کې تیروي،یوه ورځ په منیٰ کې پاتي کېږي، دوېمه ورځ په

عرفات کې خېمې لګوي، په خطبه کې د خپل عمومي قوماندان خبرې اولاربنوونې اوري، د شپې په مزدلفه کې ځای پر ځای کېږي.

## جُمرې (شیطان) ویشتل

کله چې په مزدلفه کې سهار شي نو د منیٰ په لوري حرکت کوي، او هلته په هغه ستنه باندې کاڼي ولي چې هغه ځای ته د ابرهه پوځ د کعبې شریفې د ورانولو لپاره رسیدلی وه، د هر کاڼي د ویشتلو په وخت کې حاجي وایي:

((الله اکبر رغماً الشیطن و حزبه)) اویاداسې ویل:

(( اللهم تصدیقاً بکتابک واتباعاً لسنة نبیک)).

د کاڼو د دې ویشتلو څخه د حاجي مطلب دا وي چې ای الله! هر څوک چې ستا د دین په خلاف راپورته کېږي، ستا د دېن او ستا د کلمې د ښکته کولو اراده کوي زه به دهغې مقابلې ته راپورته کېږم اوداسې به ورسره جنګېږم، بیا هلته قرباني کوي او د وینې تویولو یاد تازه کوي.

د دې څخه وروسته یو ځل بیا د بیت الله شریف په لوري ورګرځي داسې لکه عسکر چې دخپلې دندې او مسؤلیت تر پوره کولو وروسته خپل مرکز او قرارګاه ته بریالې واپس کېږي. د طواف او دوه رکعته لمونځ څخه وروسته احرام خلاصوي، کوم کارونه چې د احرام په سبب پرې بندوه هغه ورته بیا حلالېږي، اوس نو حاجي بیرته خپل عادي او نور مال ژوندته راځي، ددې څخه وروسته حاجي بیا منیٰ ته ځي او هلته په خپله چوڼۍ کې اړوي، بیا دوه نورې ورځې هم د کاڼو ویشتلو کار سرته رسوي

چې دې ته جمرات وايي، دا دهغه پوځ او لښکر د ختميدو او تباه کېدو يادونه ده چې د کعبې شريفې د تباه کولو لپاره راغلي او دلته رارسيدلي وو، خوالله پاک د مرغيو پوسيله پرې د کاڼو باران وکړاوهغه يې تباه اوبرباد کړل.[2]

دريمه ورځ چې کله په هغو ستنو دکاڼو باران وکړي نو حاجي بيرته دمکې مکرمې ښار ته راځي اوبيااوه ځلې د خپل دين له مرکز څخه ګير چاپيره راګرځي، دې ته د وداع ياد رخصت اخستلو طواف وايي او ددې معنیٰ داده چې حاجي د حج له مناسکو څخه خلاص شو.

## د حج اغېزې او برکتونه

دا ټول تفصيلات چې تاسې واوريدل دهغې څخه اندازه کولای شئ چې دحج دارادې څخه نيولې تر بيرته راتللو پورې نژدې دوه مياشتې لګېږي، پدې دوه مياشتو کې څومره زيات اوقوي اثر او اغېزه دانسان په زړه او دماغ باندې پرېوځي.

پدې کې د وخت قرباني ورکول، دمال او دولت قرباني، د آرام اوراحت قرباني، د ډېرو دنيوي اړيکو قرباني ده، د ډېرو نفساني خواهشاتو اوخوندونو قرباني ورکول کېږي، دا ټول

---

[2] (په عمومي توګه خلک فکر کوي چې جمرات دهغې پيښې يادونه ده چې حضرت ابراهيم عليه السلام ته د قربانۍ ورکولو په وخت کې پيښه شوې وه، يعنې د حضرت اسماعيل عليه السلام د قربانولو په وخت کې شيطان حضرت ابراهيم عليه السلام لارې اړولو لپاره کوښښ کاوه خو هغه په کاڼو باندې وويشتو يا دا چې د حضرت اسماعيل پر ځای چې کوم پسه راغلې وه هغه تيښته وکړه او حضرت ابراهيم عليه السلام هغه په کاڼو وويشتو، خو په هېڅ صحيح حديث کې د دې ثبوت له نبي ﷺ څخه ندی راغلې چې د رمي جمار اصلي علت او لامل دادی).

يواځې د الله پاک لپاره او د هغه په خاطر وي چې هېڅ نفسي خواهش پکې داخل نه دی.

بيا پدې ټول سفر کې تقوی، پرهيزګاری، د الله پاک يادول او ذکر، او دهغې څخه چې کوم شوق او کيفيت په انسان کې راپيدا کيږي په زړه باندې داسې يو اثر اواغيزه غورځوي چې تر کلنو کلنو پورې پاتې کيږي.

کله چې د حرم پاکې سيمې ته انسان ورسيږي هلته دهغو بې شماره انسانانو اثار ګوري چا چې د الله پاک او دهغه د دين لپاره هرڅه قربان کړی وه، د ټولې دنيا سره وجنګيدل. کړاونه يې وګالل، بې وطنه شول، ظلمونه يې وزغمل او بلاخره يې د الله پاک مبارکه کلمه او بيرغ پورته کړ او دهر باطل سر يې ښکته کړ چې د الله پاک څخه يې پرته انسانان د نوروعبادت او بندګۍ ته رابلل، دا ډاګيزي، څرګندې او ښکاره نښې نښانې، اياتونه او مبارک آثار چې يو مسلمان ګوري نو د هغه همت، عزم او اراده د جهاد في سبيل الله لپاره پورته او لوړيږي چې کيدای شي د بل کوم شي څخه يې وانخلي.بيا چې د کعبې شريفې د دين د دې مرکز سره د اړيکو په لړلو د حج د مراسمو د پرځای کولو، منډې او تړې او د مجاهدانه ژوند تيرولو کوم تمرين او ټرينګ چې ګوري نوکه هغه د روژې، لمونځ او زکات سره يو ځای کړي دا به څرګنده شي چې د دې عبادتونو پوسيله الله پاک مسلمانان ديولوی کار، پلان او پروګرام لپاره تياروي، ځکه نو هر هغه څوک چې کعبې شريفې ته د تللو وس اوتوان ولري کول يې پرې فرض کړيدي، تر څو پورې په هر وخت

کې چې ځومره زيات مسلمانان د دې تمرين اوټريننګ څخه تير شي او هغه لوی کار اوپروګرام ته چمتو او تيار شي.

## حج يو ټولنيز عبادت

د حج په ټولو فايدو او ګټو باندې تاسې ترهغه نشئ پوهيدلای تر څو پورې چې تاسې دا خبره په ذهن کې رانولئ چې هر يو مسلمان بيل بيل حج نشي کولای بلکې د ټولو لپاره په ټول کال کې يو څو په شمار ورځې ټاکل شويدي چې په لکونو اوزرګونو مسلمانان د نړۍ د ګوټ ګوټ څخه هلته راټولېږي اود حج مراسم اداء کوي.

مخکې چې ما څه ستاسې په وړاندې بيان کړل د هغې څخه تاسې ته هغه ګټې او فايدي معلومې شوې چې هر يو حاجي ته بيلی بيلی رسيدلې او په هغه يې اثر کولو.

زه به په راتلوونکې خطبه کې تاسې ته دا ووايم چې دنړۍ د ټولو حاجيانو لپاره چې کوم يو وخت ټاکلې شويدی پدې سره يې د ځومره ګټو اوفايدو دروازه پرانستلی ده.

د اسلام يو کمال او حکمت دا دی چې په يو عبادت او نيکۍ باندې دوه، دری نه بلکې په سل ګونو کارونه کوي ،يواځې لمونځ کول هم له ګټو او فايدو څخه خالي نه وي چې دهغې سره يې د جماعت شرط، د امامت اصل، د جمعي اواخترونو لمونځونه يو ځای کړل نو د يواځې لمونځ څخه يې د بې شماره فايدو صورت او شکل جوړ کړ.

په يواځې يواځې توګه روژه نيول داصلاح او روزنې لوی وسيله وه، خو ټولو مسلمانانو ته د رمضان مياشت د روژی نيولو لپاره ټاکل دهغې ګټې اوفايدی دومره زياتې کړې چې په

شمار کې نه راځي. بیل بیل زکات ورکول هم ډیري ګټې درلودې، خو د هغې لپاره یې د بیت المال نظام جوړکړ چې پدې سره یې ګټې دومره زیاتې شوې چې دهغې اندازه تاسې هغه وخت کولای شئ چې کله سوچه اسلامي حکومت او نظام جوړ او عملي شي او تاسې پخپلو سترګو و ګورئ چې ټول مسلمانان خپل زکات یو ځای ته په ټولولو اوبیا حقداروته په ورکولو کې څومره ګټې اوبرکتونه پراته دي.

همدا ډول د حج معامله هم ده، که هر څوک بیل بیل حج اداء کړي بیا هم دخلکو په ژوند باندې ژورې اغېزي لري او لوی بدلون راولي خو دټولې نړۍ لپاره دحج یو وخت ټاکل دهغې فایدې بې اندازې کړي، دا مضمون لږ شانته تفصیل غواړي ځکه نو زه په راتلوونکې خطبه کې هغه درته وړاندې کوم.

# ۲۷
# حج نړیواله اجتماع او ټولنه

## د حج ثمرات

### په اسلامي نړۍ کې حرکت او خوزښت

ځما د اسلام ورونو!

تاسې پوهیږئ چې په کومو مسلمانانو حج فرض دی، یعنی چې کعبی ته تللی او راتللی شي، هغه خو یو یادوه نه وي، په هر کلي کې دهغې ښایسته شمیر موجود وي، په هر ښار کې په سل ګونو او زرګونو او په هر هیواد کې په لکونو باندې وي، او هر کال لدی خلکو څخه دحج په اراده ډیر زیات کسان له کوره وځي.

غور او فکر وکړئ چې دنړۍ په ګوټ ګوټ کې چې هلته مسلمانان اوسیږي د حج په موسم کې څومره د اسلام ژوند په حرکت او خوزښت راځي، څه ډول راپورته کیږي او څومره ورځې او وخت پاتی کیږي، د رمضان دمیاشتی څخه نیولې تر ذی القعدې پورې دمختلفو هیوادونو مسلمانان د حج په نیت او ارادې سره له کورونو حرکت کوي، دحج تر اداء کولو وروسته بیا د بیرته راتللو لړۍ آن تر ربیع الثاني پورې روانه وي.

پدې پنځه شپږ میاشتو کې دنړۍ په هر ګوټ کې د مسلمانانو په سېمو او کورونو کې یو ډول ژوند او دیني حرکت لیدل کیږي، هغه مسلمانان چې حج ته ځي او د هغې څخه وروسته راځي هغوی خو په یو ځانګړي دیني حالت او کیفیت کې آخته وي، بلکې هغه مسلمان چې خپله حج ته نه ځي د نورو

حاجیانو د رخصتولو او بیا د بیرته راتللو پورې په یو خاص ډول حالت کې وي او ټول پکې بوخت او مشغول وي.

## د تقوی او پرهیزګارۍ زیاتوالی

کله چې یو یو حاجي نیت کوي د همدی نیت سره په هر یو باندې د الهي ویرې، پرهیزګارۍ، توبې، استغفار او نېکو اخلاقو اغېزې او اثرات پیل کېږي، هغوی د خپلو خپلوانو، عزیزانو، دوستانو، معامله کوونکو اوهر ډول خلکو څخه داسې رخصتېږي لکه چې یو نوې انسان ورڅخه جوړ شوی وي، او د الله پاک له لوري د هغه زړه پاکېدل او صفا کېدل پیل کېږي، تاسې وګورئ چې د یو حاجي پدې حالت په ځومره خلکو باندې نېک، ښه او غوره اثر پرېوځي، که چېرې د نړۍ څخه یو لک حاجیان پدې ډول او دې اخلاقو د حج لپاره تیار او چمتو شي نو د نړۍ په ځومره خلکو به یې اثر پرېوځي، بیا چې د حاجیانو کاروانونه د کومو کومو ځایونو څخه تیرېږي، هلته د خلکو دلیدلو، مخامخ کېدلو او د لبیک اواز اوریدلو سره د ځومره خلکو زړونه ګرموي، د ځومره خلکو پام د الله او هغه د کور په لوري اړوي، پدې سره د ځومره خلکو ویده شوی روحونه رابیدارېږي او د حج شوق پکې راپیدا کېږي، بیا چې کله حاجیان د دیني مرکز څخه راستانه شي او خلکو ته خپل حالات او د هغه ځای برکتونه وایي نو د ځومره خلکو په زړونو کې ولولې او احساسات په جوش راځي او هریو دا هیله او ارزو لري چې زر ترزره هغې دیني او اسلامي مرکز ته ولاړ اوهلته حاضري ورکړي.

## د اسلامي نړۍ د بيدارۍ وخت

که زه دا وواېم لکه څرنګه چې د رمضان مياشت په اسلامي نړۍ کې د ديني ژوند او تقوئ وخت دی، په همدې توګه د حج وخت هم په ټوله نړۍ کې د اسلام د ژوند او بيدارۍ وخت او زمانه وي، پدې توګه داسلامي دين راليږونکې ذات داسې بې مثاله طريقه وړاندې کړيده چې تر قيامته پورې به ان شاء الله د اسلام نړۍوال خوزښت او حرکت نه څوک ختم کړی اونه به يې څوک ودروي، که د نړۍ حالات هر څومره خراب اوڅومره هم ګډوډ شي د کعبې شريفې مرکز د اسلامي نړۍ په منځ کې داسې ايښودل شويدی لکه د انسان په بدن کې چې زړه ځای پر ځای شوی دی، تر څو پورې چې زړه حرکت کوي بدن نه مړکيږي، سره د دې که د ناروغيو په سبب حرکت او خوزښت هم نشي کولای، په همدې توګه د کعبې دا زړه په هر کال کې دلرې لرې څخه وينه راکاږي اوبيا يې د شريانونو پوسيله بيرته دنړۍ ګوټ ګوټ ته رسوي، تر څو پورې چې د کعبې دا زړه حرکت کوي او تر څو پورې چې دنړۍ له هر لوري څخه وينه را اخلي اوبيا يې ويشي دا لړۍ به همداسې روانه وي، تر هغې پورې د دې بدن مړينه اومرګ امکان نلري سره له دې چې ناروغيو ډير بدحاله کړی هم وي.

## د ديني او امتي يوالي ناشنا ننداره

لږ شانته خپلې سترګې بندې کړئ او هغه نقشه په تصورکې راولئ چې دختيځ له لوري، د لويديځ له لوري، د شمال له لوري او د جنوب له لوري د بې شماره هېوادونو، بې شماره قومونو، بې شماره ميليتونو مسلمانان په زرګونو لارو د يو

مرکز په لوري راروان وي چې شکلونه او رنګونه يې مختلف، ژبې او تلفظ يې مختلف. بيا چې کله دا ټول ګډوډ اوغير متجانس انسانان يوي خاصي سيمي اوځانګړي ځاى ته ورسيږي، هر يو خپل وطني، قومي اوولسي لباس،پوښاک، خولۍ، پګړۍ، واسکټ، کوټ، بوټان، او هر څه لرى کړي او ټول يو ساده فقيرانه لباس او يونيفورم واغوندي.

د احرام ددې يونيفورم تر اغوستلو وروسته په څرګنده داسې معلومېږي چې د کائناتو د شاهنشاه او د ځمکې او آسمانونو د لوى پاچا پوځ د نړۍ د زرګونو قومونو او ميليتونو څخه چاڼ او راټول شوى او د يو پاچا پوځ او لښکر دى، د يو ډول بندګۍ او اطاعت نښان په ټولو باندې ثبت شوى،په يو ډول تارباندې ټول تړل شوى، اوټول د يوى پلازمينې په لورد خپل لوى او عظيم شاهنشاه حضور اودربار ته وړاندې کېږي.دا يونيفورم اغستونکې پوځ چې کله د ميقات څخه تيريږي نو د ټولو سپايانو او عسکرو په ژبه او خوله باندې همدا يوه ترانه وي.
((لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ))(بخاري).

د دې ټولو لښکريانو ژبې او الفاظ سره بدل دي خو د ټولو شعار اوناره يوه ده، څومره چې مرکز ته نژدې کېږي دهغوى دايره او حلقه کوچنۍ او تنګه کېږي، د مختلفو هېوادونو کاروانونه سره يو په بل کې مدغم اوننوځي، بيا ټول سره يو ځاى لمونځونه اوعبادت اداء کوي چې د لمانځه او عبادت طريقه د ټولو سره يو شانته وي.

د ټولو يونيفورم يو، د ټولو امام يو، د ټولو حركت يو، د ټولو ژبه يوه، د ټولو ناره او شعار يو، ټول د يو الله اكبر په ويلوښكته كېږي، پورته كېږي، ركوع اوسجده كوي، ټول يو ډول عربي قرآن لولي اواوري.په دې توګه دژبو،هېوادونو اونسلونو فرق او توپير له منځه ځي او د يو او لاشريک الله نړيوال جماعت او ډله جوړېږي. بيا چې همدا كاروانونه په يوه خوله اويوه ژبه د (لبيک اللهم لبيک) شعار اوناری پورته اوحركت پيل شي، په هره لوړه اوژوره او دهر كاروان سره د مخامخا كېدو په حالت كې همدا شعار اوناره پورته كېږي، دخوب څخه سهار د راپورته كېدو په مهال يو ځل بيا د لبيک خوندوره ترانه زمزمه كېږي نوبيو حيرانوونكې اوعجيب حالت رامنځ ته كوي چې انسان پكې خپل وجود له ياده وباسي او ددې لبيک په كېفيت كې جذبېږي.

بيا د ټولې نړۍ څخه راټول شوي انسانان د يوی كوټی څخه ګير چاپيره راڅرخي چې ټولو يوشانته لباس اغوستی وي، ټول د صفا او مروه په منځ كې منډې وهي، بيا ټول په منی كې كېمپ لګوي، بيا ټول د عرفات په لوري حركت كوي، هلته بيا د يو امام خطبه اوري، بيا ټول دشپې په مزدلفه كې وخت تيروي او بيا سبا ټول منی ته راځي، بيا ټول دعقبه جُمری په كاڼو باندې ولي، بيا ټول قرباني كوي، بيا ټول د كعبی طواف ته راګرځي اوهلته طواف كوي، يو ځای لمونځونه اداء كوي، دا د يو داسې وحدت او يوالی ننداره اوننظاره ده چې دهغې مثال اونمونه په نړۍ كې ډيره كمه ليدل كېږي.

## د يو موخې لپاره په يو مرکز کې راټولېدل

دنړۍ د ټولو قومونو اوميليتونو څخه دراتلونکو خلکو راټولېدل په يو مرکز کې او بيا دا ټول په يو زړه، يو فکر اوتصور، پاکوولولو اواحساساتو، پاکواوصافو اعمالو اومقصدونوسره يو ځای کېدل په حقيقت کې دومره لوی اوعظيم نعمت دی چې پرته له اسلام څخه بل دين دآدم ﷺ اولاد او نسل ته ندی ورکړی.

دنړۍ قومونه تل يو له بل سره مخامخ اويو ځای کېږي خو په څه ډول؟ د جګړې په ميدان کې د غاړو پرېکولو اوغورځولو لپاره، يادروغې جوړې په کانفرانسونو او سېمينارونو کې، د هېوادونو د ويش او تقسيم لپاره، يا په نړيوال تنظيم کې، تر څو هر قوم بل قوم ته د دوکې، چل، فريب، دسيسې او خيانتونو لومه اوجال وغوړوي او دنورو له زيان او تاوان څخه خپله ګټه او فايده پورته کړي.

دټولو قومونو او ميليتونو د خلکو يوځای کېدل په صاف او پاک زړه سره، په ښه نيت، ښو اخلاقو، مينه او محبت سره، د ز.. ا.. ـحاني يوالي سره، دتصور فکر او اعمالو په وحدت سره، يو ځل نه بلکې د تل لپاره، بلکې تل او د هميشه لپاره په يومرکز کې راټولېدل ايا پرته له اسلام څخه بل څوک دا ډول لوی نعمت انسان ته ورکولای شي؟

په نړۍ کې د امنيت راوستلو اوساتلو لپاره، دقومونو تر منځ د جګړو او شخړو ختمولو اود دوستۍ د راوستلو په خاطر د دوستۍ، ورورۍ ،ميني اومحبت په پراخه فضا کې پرته لدی څخه کومه نسخه کار ورکولای شي؟

## د امن او ډاډ راوستلو لپاره تر ټولو لوی خوزښت

اسلام یوائې همدا کار نکوي، ددې څخه زیاتي نوري چاري هم شته، هغوی په خپلو پیروانو باندې لازم کړی چې په کال کې ځلور میاشتی چې د حج او عمری لپاره ټاکل شویدی په هغې کې باید کوښښ وکړی چې د حاجیانو په ټولو لارو کې ډاډمن امنیت او کراري وي.

دا په نړۍ کې تر ټولو لوی او غټ امن راوستونکې تحریک او خوزښت دی، که د نړۍ د واک واګي د اسلام په لاس کې وي نو د مسلمانانو پوره کوښښ به دا وي چې په نړۍ کې داسې ګډوډي او ناکراري رانشي چې د حج اوعمری اداء کول ورسره اغېزمن شي.

## په ټوله نړۍ کې یوائینې د امن مرکز

اسلام نړۍ ته داسې یو حرم ورکړی چې تر قیامت پورې به دآمن او ډاډ ځای او ښار وي، هلته د انسان خو څه کوي د ښکار هم ناروا دی، هلته د وښو ریبل هم ناروا دي، هلته دځمکې اغزي هم نه ماتول کېږي، هلته حکم دا دی چې که دچا څخه څه پرېوتل نو هېڅوک به یې پرته له ټاکل شوي کسانو څخه نه راپورته کوي.

اسلام نړۍ ته داسې ښار ورکړی چې هلته د وسلی راوړل بند او منع دی. هلته غلی، دانې، مېوې او د اړتیا وړ شیانو منع کول او یا د قېمتئ لپاره ساتل د الحاد تر پولې پورې رسیږي، هلته ظلم کوونکو ته الله پاک داسې اخطار ورکړیدی: (نذقه من عذاب الیم). (مونږ به هغوی ته دردونکې عذاب ورکړو).

## د حقيقي مساوات مركز

اسلام نړۍ ته داسې مرکز ورکړی چې دهغې تعریف داسې کېږي:

﴿ سَوَآءً ٱلْعَـٰكِفُ فِيهِ وَٱلْبَادِ ﴾ الحج: ۲۵

مونږ (مسجدالحرام) داوسيدونکو اوله بيرون نه دراتلونکو خلکو لپاره یو شان ګرزولې دي.

يعنی هلته د ټولو هغو انسانانو حقوق بالکل برابر دي څوک چې دالله پاک پاچايي اومحمد مصطفیﷺ لاربسوونې منې اوپه اسلامي وروری کې داخل وي.

که هغه د امريکا اوسيدونکې وي او که د اروپا، د چين وي او که د هندوستان، چې هغه مسلمان وي نو په مکه کې دهغه هومره حقوق دي لکه څومره چې د مکې داوسيدونکو حق دی.

ټول حرم شريف د جومات پشان دی چې هر څوک په هر ځای کې واړوي هماغه يې ځای دی، هېڅوک يې له ځای نشي پورته کولای، نه ورځخه کرایه غوښتلې او اخستلای شي که ټول عمر هلته پاتې شي. هېڅوک دا حق نلري ووايې چې دا ځما ځمکه يا ملکيت دی، نه يې خرڅولای شي، نه دهغې کرايه اخستلای شي، کله چې هغه ورځخه پورته شي نو بل راتلوونکې پکې هماغه حق لري لکه چې مخکنی پکې لرلو. بالکل دا ټول حرم همداسې حکم لري.

د نبيعليه السلام فرمان دی:

((مکة مناخ لمن سبق)).

هر څوک چې مخکې دې ښارته راشي او ځای ونيسي هغه ځای د همده شو)).

هلته د کورونو کرایه اخستل جواز نلري.

حضرت عمر فاروقؓ په خپل خلافت کې حکم کړی وو چې د حرم اوسیدونکي دې خپلو کورونو ته دروازې او پردې نه لګوي، تر څو هر څوک چې وغواړي دهغوی په کور کې دیره شي، ځینې فقهاء تردې پورې وایي چې دمکې په هېڅ کور باندې دچا دملکیت حق نشته، اونه چاته په میراث ورکول کېدای شي.

ایا پرته د اسلام څخه بل کوم دین داسې نعمتونه چاته ورکولای شي؟

ځما داسلام ورونو!

د اوو هغه حج چې دهغې په هکله فرما یل شوی دي چې هغه په عملي کولو سره وګورئ چې په هغې کې څومره ګټې او فایدې اینبودل شویدي.

زما په ژبه کې دومره توان نشته چې د هغې ټولې فایدې او ګټې درته بیان کړم خو ما چې د ګټو او فایدو کومه لنډه نقشه ستاسې په وړاندې کېښوده دهغې څخه به تاسې پوهیدلي وئ چې حج څه شي دی؟

## ځمونږ بې پروایي اوناقدري

د دې ټولو خبرو تر اوریدلو وروسته اوس ځما د سوځیدلي زړه څخه هم څه واورئ.

دنسلي او نژادي مسلمانانو حال دهغه کوچني ماشوم په شان دی چې د ملغلرو او الماسو په کان او معدن کې پیدا شوی وي، هغه ماشوم ته ملغلرې او الماس د ډبرو او کاڼو په شان بې ارزښته اوبې قیمته ښکاري، همدا حالت د نسلي اونژادي

مسلمانانو هم دی چې نړۍ د کومو نعمتونو څخه بې برخې ده او ددې بې برخې توب په وجه په سختو کړاونو او مصیبتونو کې اخته شوی اودهغې په لټون پسې لیوني او اندیښمن ګرځي، دا ټول نعمتونه پرته د لټون اوکړاونو څخه تاسې ته خوشې او مفت پلاس درغلي دي او یواځې پدې لامل چې تاسې د یو مسلمان په کور کې پیدا شوي یاست.

دتوحید کلمه چې دانسان دژوند ټولې غوټې خلاصوي او نیغه لاره انسانانو ته ښيي‌له کوچنیوالي څخه ستاسې په غوږونو کې اچول شویده.

د لمونځ او روژې کیمیاوي نسخه دومره قیمتي اوارزښتناکه ده چې د څاروي څخه انسان جوړوي، او انسانان یو دبل ورونه او خواخوږي ګرځوي،د ورور توب او دوستۍ لپاره د دې څخه غوره اوارزښتناکه نسخه بله نشته، دا تاسې ته پخپله د مور پلار څخه په میراث پاتې شوه، د زکات بې مثاله نسخه چې دمال او زړه د پاکوالي سبب ګرځي اومالي نظام ټول داصلاح او سمون په لاره بیایي، تاسې خپله پوهیږۍ چې د دې څخه بې برخې انسانان د یو بل مخونه څیروي، تاسې ته داسې خوشې اوبې بیه پلاس درغلل لکه چې د یو تکړه طبیب ځوی ته خوشې هغه نسخې پلاس ورشي کومې چې نور خلک پسې لیوني او سرګردانه ګرځي، پدې توګه د حج هغه لوی او ستره طریقه چې نن سبا په نړۍ کې دهغې مثال اونمونه نشته کوم چې دهغې څخه ځواکمنه لاره بله نه پیداکیږي چې د اسلام نړیوال تحریک د تل لپاره ژوندی اوخوزنده وساتي، اوس په نړۍ کې داسې مادي ځواک نشته چې د دنیا دګوټ ګوټ څخه

انسانان د یو مرکز په لوري راجذب کړي او بیا د بیلا بیلو قومونو، میلیتونو او نسلونو خلک سره یو ځای او د هغوی څخه خدای پالوونکي، نیک نیت لرونکي او خواخوږی وروڼه جوړ کړی.همدا بی مثاله اوبی جوړې طریقه تاسې ته په لاس درغله، خو تاسې د دې ټولو نعمتونو قدر، ارزښت او قیمت ونه پېژانده دا ځکه چې ستاسې سترګې پداسې حال کې خلاصې شوی چې دا شیان تاسې ته په کور کې خوشي او مفت پلاس درغلل.

تاسې اوس ددې ارزښناکو طریقو اونسخو سره داسې لوبې کوئ لکه چې یو ناپوهه ماشوم یې په کان کې د ملغلرو او الماسو سره کوي او هغه یواځې کانې او ډبرې ګڼي.

کله چې څوک د داسې ارزښناکو شیانو سره لوبې کوي او هغه بی ارزښته بولې نو د سړي زړه ورسره سوځي، څوک به دومره حوصله وکړي چې دومره ازښناک مال او دولت دخرابیدو او ضایع کېدو په حال کې وګوري.

تاسې به د یو شاعر دا شعر اوریدلی وي.

خر عیسیٰ اګر بمکه رود+++++چون بیاید هنوز خر باشد

لمونځ، روژه، زکات او حج ټول د غور او فکر کوونکو انسانانو د اصلاح، روزنې، تربیت اوسمون لپاره دي نه د ځارویو او ځناورو لپاره، څوک چې د دې په معنیٰ او مطلب پوه نشي، دهغه موخه او هدف ونه پېژني، دهغې څخه د فایدې اخستلو اراده ونلري چې کومې فایدې پکې ایښودل شویدي، او دچاپه دماغ کې چې ددې عبادتونو دموخې اوهدف هیڅ تصور نه وي.

که چېری هغه ددې عبادتونو اوطریقو یواځې شکل اوصورت اداء کړي لکه چې مخکنیو کول نو د دې څخه به څه تر لاسه شي.

د افسوس خبره همدا ده چې نني مسلمانان د دې ټولو عبادتونو يوازې شكل، صورت او ظاهري اركان اداء كوي پداسې حال كې چې په هغې شكل او صورت كې هېڅ روح نه وي، تاسې ګورئ چې په لكونو انسانان هر كال حج ته ځي او د حج كولو څخه وروسته بيرته راګرځي، خو نه د تللو په وخت كې په هغوی باندې هغه حالت او كېفيت راځي چې د حرم په يو تلوونكې مسافر باندې بايد راشي اونه د راتللو څخه وروسته هغه اغېزه او اثر پكې وي چې بايد حج يې پرې وكړي، هغوی د تللو او سفر په دوران كې په لاره كې په هېڅ مسلمان او غير مسلمان باندې هېڅ ډول اثر نشي غورځولای، بلكې د خپلې بداخلاقۍ، بد كردارۍ او غلطو كارونو په وجه د اسلام په پاكه لمن باندې تور داغ لګوي. په ځای د دې چې په خلكو ښه او غوره اثر وكړي اونامسلمان خلك اسلام ته راتشويق كړي خپل مسلمان ورونه هم ددوی څخه كركه او نفرت پېدا كوي ځكه نو څمونږ ځوانان اوس د دې سوال او پوښتنه كوي چې آخر پدې عبادتونو كې څه ګټه او فايده ده؟ پداسې حال كې چې حج هغه عبادت او طريقه ده كه په اصلي شان سره ادا شي نو دومره فايدې او ګټې به ورڅخه راڅرګندې شي چې كافران به يې په ليدلو سره ايمان راوړي.

هغه وخت چې د بيلا بيلو هېوادونو څخه په لكونو خلك يو مركز ته راټولېږي او بيا خپلو هېوادونو ته ستنېږي، په لارو كې او بيا په خپلو هېوادونوكې ددې فايدې او ګټې بيانېږي نو ددې سره سره به هم څوك ددې له فايدو او ګټو څخه ناخبره پاتې شي؟

په الله پاک قسم؛ که دا مراسم او عبادت په خپل اصلي شکل او شان سره اداء کېدای نو ړندو به یې هم ګټې اوفایدي لیدلي وای، کڼو به یې فایدي اوریدلي وای، د حج مراسمو به هر کال په لکونو خلک نیکان کرځول، په زرګونو کافران به اسلام ته راتلل، د لکونو کافرانو په زړونو کې به د اسلام عزت او درناوي پېدا کېده،خو لعنت دې وي په ناپوهی او جهالت باندې،ناپوهو اوجاهلو خلکو ته چې قېمتي اوارزښناک شي پلاس ورشي نو څه ډول ورڅخه ضایع کېږي.

## د حج څخه د پوره ګټې او فایدې لاس ته راوړلو طریقه

د حج څخه د پوره فایدي د تر لاسه کولو لپاره اړینه وه چې د اسلام په مرکز کې داسې یو لاس اوځواک وا ي چې د دې نړۍوال ځواک او طاقت څخه یې کار اخستلای. یا داسې لوی او پراخ زړه وا ي چې په ټول کال کې یې د نړۍ په بدن کې صافه او سمه وینه چلولې. یا داسې دماغ وا ي چې د دې لکونو خلکو څخه یې هر کال په ټوله نړۍ کې د اسلام دخپرولو کار اخستلای، یا کم له کمه داسې یوه نمونه اوماډل وای چې د اسلامي ژوند تنده پرې ماتیدای او په لکونو خلکو د دې نمونې او ماډل په لیدلو سره خپل ژوند برابرولي او بیا خپلو هېوادونو ته تللي لکه چې په صدر اسلام کې همداسې کېدل.

خو افسوس دا چې هېڅ هم نشته، د ډېرې مودې راهیسې په عربو کې نوې جهالت پالل کېږي، دعباسیانو څخه نیولې تر عثمانیانو پورې هر پاچا اوواکمن د عربو د پرمختګ او ترقۍ پر ځای هغوی مخ ښکته روانول تر څو خپل سیاسي موخه تر لاسه کړي.

هغوی عربان د علم، فرهنګ، اخلاقو، تمدن بلکې د هرشي څخه بې برخې کړل او ترټولو ښکته درجې ته یې ورسول، د همدې لامله هغه سېمه او ځمکه چې د هغې څخه د اسلام نور او روښنايي ټولې نړۍ ته خپره شوې ده اوس خپله د جهالت په تيارو کې پټه ده او هغه دور ته نژدې شوې کوم چې د اسلام څخه مخکې وه.

نه هلته اوس اسلامي علم شته نه اسلامي اخلاق او نه اسلامي ژوند.

خلک له لرې لرې څخه د ډېرې مينې او محبت سره د حرم شريف سفر کوي، خو کله چې هلته ورسيږي هرې خواته جهالت، ناپاکې، حرص، بې حيايې، دنيا پالنه، بد اخلاقي، ګډوډي او نور بد حالتونه وګوري نو د هغوی د مينې، محبت، درناوي اواحترام ولولې او احساسات ختم او ساړه شي آن تردې چې ځينې د ايمان سره تللي خلک بيرته بې ايمانه راګرځي. اوس بيا هغه منجاوري سيستم چې د حضرت سيدنا ابراهيم عليه السلام او حضرت سيدنا اسماعيل عليه السلام څخه وروسته په خلکو کې رواج شوی او حضرت محمد مصطفى ﷺ ختم کړی وو يو ځل بيا سر راپورته کړی او د ځاې خلکو، چارواکو او واکمنانو لپاره حرم او کعبه شريفه د مالي او مادي ګټې، تجارت او سوداګرۍ وسيله او ذريعه ګرځيدلې ده، حج کوونکې هغوی خپل تجارتي مال او سامان بولې، په بيلا بيلو هېوادونو کې د هغوی استازي ډېلې ډېلې تنخواګانې اخلي ترڅو د حج لپاره حاجيان برابر کړي اودوی پرې هلته مزې، چړچې او تجارت وکړي. هغوی عامو خلکو ته د قرآن او نبوي حديثو څخه د حج برکتونه او فايدې

بیانوې تر څو هغوی تشویق شي اود دوی لپاره د ګټې اوتجارت وسیله وګرځي.[۳]

د دې خبرو څخه ځما مطلب دا ندی چې څوک ملامت کړم بلکې زه دا ویل غواړم چې د حج پشان لوی او ستر عبادت خلکو څه ډول بې اثره او بې اغېزي کړي دي، تاسې دا فکر ونکړئ چې کمزوري او نېمګړتیا په اسلامي عباداتو او طریقو کې ده بلکې اصلي کمزوري او نېمګړتیا په هغو خلکو کې ده چې په نامه مسلمانان دي او د اسلام نوم د خپلې ګټې لپاره استعمالوي.

دا طریقې خو ستاسې لپاره راویستل شوي وې تر څو ستاسې څخه د ټولې نړۍ اصلاح کوونکې، سموونکې، معلمان او لارښوونکې جوړ کړي، که تاسې پدې طریقو باندې پوره عمل کړای وا ی اوس به دټولې نړۍ امامت ستاسې پلاس کې وای، خو افسوس چې اوس دا طریقې داسې بدنامې شوې چې خپل خلک هم پرې شک کوي.

د دې داسې مثال دی لکه یو پوه او لایق طبیب چې ډیرې ښې اوغوره نسخې پرېږدي خو وروسته دا نسخې جاهلو اوناپوهو خلکو ته پلاس ورشي چې هغوی یې نه په طریقه پوهیږي او نه په قدر او ارزښت باندې او بلاخره هغه ټولې ضایع اوخوشې ولاړې شي.

---

[۳] ((څرنګه چې دا وینا په ۱۹۳۸ میلادي کال کې ورکړل شوی ده نو هغه وخت حالات همداسې وه اوس حالات څه لږ شانته بدل شویدي خو سوداګري اوتجارت لاهماغسې په حاجیانو باندې سرته رسول کېږي بلکې کوم هېوادونه چې حاجیان لېږي هغوی هم اوس پرې تجارت کوي.))

که نسخه هرڅومره قوي، ښه او غوره وي خو دهغې څخه کار اخستل او د استعمال طريقه حکمت غواړي، که جاهل اوناپوهه کسان دا غوره او ښه نسخه استعمال کړي نو د ګټې پر ځای تاوان او زيان هم رسوي، او بيا دا ټول زيان او تاوان په نسخه باندې ور وتپل شي چې په اصل کې همدا غلطه وه، مونږ خو خپل کارسم کړی دی.

# اووم فصل

# جهـــاد

# ۲۸
# جهاد

ځما د اسلام ورونړو!

په مخکنيو خطبو کې ما ځو ځو ځلې دا خبره کړې چې دا لمونځ، روژه، زکات او حج چې الله پاک پر تاسې فرض کړي او د اسلام ارکان يې ګرځولي ، دا ټول شيان د نورو مذهبونو په شان يواځې مذهبي مراسم، شکلونه، او صورتونه ندي چې دهغې په ظاهري اداء کولو درڅخه خپل خالق اومالک رضا او خوشحاله شي.

بلکې دا په اصل کې د يو لوی هدف، موخې او پروګرام دعملی او پلی کولو لپاره ستاسې د تياري او چمتوالي کورس دی، چې په دې توګه تاسې ته تمرين اوټرينينګ درکړي او هغه لوی کارته مو چمتو او اماده کړي.

څرنګه چې ماستاسې په وړاندې په پوره تفصيل سره دا ټول شيان بيان کړل نو اوس د دې وخت راغلې چې هغه اصلي موخه، هدف او پروګرام درته بيان کړم دکوم دعملي او پلي کولو لپاره چې دا ټول کارونه کېدل.

## د اسلام حقيقي مقصد او هدف

په لنډه توګه مقصد او هدف داسې بيانولې شو چې د انسان څخه دانسان حکومت اوواکمني لرې کول او د يو الله پاک واکمني او حکومت پرې پلی اوعملي کول، پدې لاره کې پخپل مال او ځان سره هلې ځلې کول، قرباني ورکول او کوښښ کول

عبارت له جهاد څخه دی، لمونځ، روژه، زکات او حج د دې موخې اوهدف د لاس ته راوړلو لپاره تیارې اوچمتوالی دی.

ځرنګه چې د ډیرې مودې راهیسې خلکو دا موخه اوهدف هېر کړی او ټول عبادتونه اوس هغوی ته یوازې تصوف اورهبانیت ګرځیدلی نو ځکه ما چې کوم لنډ تعریف بیان کړ هغه تاسې ته یو معما ښکاري نور دهغې په مطلب نه پوهېږئ.

راشئ چې اوس دهغې موخه او هدف پوره تفصیل درته بیان کړم.

## دخرابیو اصلي لامل دحکومت خرابي ده.

په نړۍ کې چې تاسې څومره خرابۍ ګورئ د هغې ټولو خرابیو ریښې او بیخ د حکومت په خرابۍ او ناسموالي کې وي.ځواک او دولت (مال) د حکومت پلاس کې وي، قانون حکومت جوړ وي، د نظم، اداری او دسپلین ټول واک د حکومت سره وي، د پوځ او پولېسو ځواک هم د حکومت په لاس کې وي، ځکه نو په خلکو او ولس کې چې څه خرابۍ راپېدا کېږي هغه د حکومت له لوري وي یاد هغوی په مرسته او کومک رامنځ ته کېږي ځکه د یو شي د خپراوي او نشر لپاره چې د کوم ځواک او توان اړتیا ده هغه د حکومت سره وي.

۞- تاسې ګورئ چې دسود خوړلو بازار ورځ په ورځ ګرمېدونکي دی، شتمن او مالدار خلک دغریبو او بې وځلو خلکو وینې زبېښي، دا ټول ولې؟ دا پدې خاطر چې حکومت خپله سود خوري او دنورو سره پدې هکله مرسته هم کوي، ددې حکومتونو قضایي محکمې او عدالتونه سود خوړونکو ته سندونه او ډګرې ورکوي،د همدې خلکو په زوراو قوت باندې دا سودي کمپنۍ او بانکونه روان دي.

❁- تاسې ګورئ چې په خلکو کې ورځ په ورځ بداخلاقي، بې حيايي او فحاشي خپرېږي دا ولې؟ دا ځکه چې حکومت دخلکو د زده کړې، تعليم اوروزنې لپاره داسې نمونې او ماډلونه جوړ کړي دي چې تاسې يې پخپلو سترګو ګورئ که تاسې دبل ډول زده کړې، تعليم او روزنې ډول او نمونه وړاندې کول او عملي کول غواړئ نو د دې د عملي کولو لپاره به وسايل اوامکانات له کومه راوړې؟ که تاسې څه تيار کړئ نو هغه به بيا چېرى کار کوي ځکه د رزق او روزۍ ټولې لارې خو د غلط او خراب حکومت پلاس کې دي.

❁- تاسې ګورئ چې په نړۍ کې بې کچه او بې حده وينه تويېږي، د انسان علم او پوهه ددې تباهۍ او هلاکت لپاره استعمالېږي، دانسان د کوښښونو مېوه آورته غورځول کېږي، قيمتى او ارزښناک ځانونه دخاورې او شګود ځلو پشان له منځه وړل کېږي، دا ټول ولې؟ دا يواځې پدې سبب چې د آدم عليه السلام په ځامنو کې چې کوم تر ټولو زيات شرير، بداخلاقه، رزيل او سپک وه هغوې د ټولو ملتونو او هېوادونو مشران، واکمنان او چارواکې شويدي، ځواک دهغوى پلاس کې دى کوم لورې ته چې نړۍ روانوې هغه لورې ته ورپسى ځي.

د علم، دولت،مال، شتمنۍ، ځان او نفس لپاره چې هغوی دمصرف لارې کومې جوړې کړي په هماغه لارو کې لګيادي مصرفيږي.

❁- تاسې ګورئ چې په نړۍ کې هر لورې ته د ظلم اوزياتي بازار ګرم دى، بې وځلو او غريبو ته په هېڅ ځاى کې دعدل او انصاف لاس ته راوړلو اميد او هيله نشته، دغريبو ژوند ګران

شویدي، محکمي، قضاءاو عدالتونه دوکانونه ګرځیدلي چې دقېمت په بدل کې عدل او انصاف اخستل او پلورل کېږي،دولس څخه مالیات او ټیکسونه اخستل کېږي او په هغې باندې د لویو چارواکو، صاحب منصانو اوواکدارانوماڼۍ، ښکلی موټرونه او نور د عیاشئ او فحاشي مصرفونه او خرڅونه پوره کېږي. سود خوړونکي، اربابان، نوابان، بایان، چارواکي، مشران، سپین روبي، پیر فقیر، سینما لرونکي، د شرابو سوداګران، د فحشو کتابونو او رسالو خپرونکي، جواري او قمار کوونکي او داسې نور زیات خلک دالله پاک د مخلوق او انسانانو عزت، حیا، ابرو، اخلاق، مال او ځان تباه او برباد وي خو سره د دې ټولو څوک منع کوونکي او لاس نیونکي نشته، دا هرڅه ولې داسې کېږي؟ دا ځکه چې دحکومت ماشین خراب شویدی، ځواک چې دچا پلاس کې دی هغه خراب دی، هغوی خپله ظلم او زیاتي کوي او دظالمانو مرسته هم کوي،دا ظلم ځکه کېږي چې هغوی ددې ظلم غوښتوونکي یا په هغې سترګې پټوونکي دي.

ددې مثالونوڅخه به تاسې ته څرګنده شوی وی چې دټولو خرابیو بیخ او ریښې دحکومت په خرابی پوربټړاو لرې، د خلکو دفکر اونظر خرابوالی،داخلاقوفساد اوخرابي، انساني ځواک او توان بې ځای مصرفول، د کاروبار غلطی لارې چاری خپلول، د ژوند د غلطواو خرابو طریقو رواجول، د ظلم، زیاتي او بد کاریو خپرول،او دالله پاک مخلوق تباه کول دا ټول پدې خاطر دي چې دواک، اختیار او اقتدار کلیانی په غلطو، خرابو او فاسدو لاسونوکې دي.څرګنده خبره ده چې کله واک او اختیار په غلطو او بدو لاسونو کې وي او دخلکو او ولس روزي ددې

خلکو په واک کې وي نو هغوی په خپله هم خرابي او وراني خپروي اود خرابۍ هر ډول ته به وده ورکوي تر څو پورې چې واک اواختيار د داسې خلکو پلاسونو کې وي د اصلاح او سمون هېڅ کار فايده نلري.

اوس چې تاسې پدې پوه شوې نو داخبره به درته اسانه شي چې دخلکو، عام ولس اومخلوق اصلاح او سمون، دتباهۍ اوهلاکت څخه د خلاصون او نجات لاره يوازې اويوازې دا ده چې د حکومت خرابي ختمه شي او په هغې کې اصلاح او سمون راشي.

يو عام او عادي سړی هم پدې پوهيږي چې په کوم ځای کې زنا آزاده او عامه وي، هلته که د زنا په خلاف هر څومره وعظونه او نصيحتونه وشي نو ګټه او فايده نلري، خو که د حکومتي اختيار څخه کار واخستل شي او ټولې هغه لارې او چارې بندې شي چې دزنا لپاره شرايط او حالات برابروي نو عام ولس او خلک به خپله د حرامو لاره خوشې او حلاله پاکه لاره به خپله کړي ځکه د حکومت وظيفه ده چې حلالې لارې په برابرولو کې به د عام ولس سره مرسته او کومک کوي.

شراب، قمار، بې حيايې، بد اخلاقي، بې حياء لباس، بې حيا تعليم او نور چې که تاسې د وعظ او نصيحت په لاره سمول او اصلاح کول غواړئ نو پوره او مکمله کاميابي امکان نلري خو دا ټول د حکومت په زور او ځواک سره ختمېدايې شي.

هغه ځوک چې خلک لوټوي او خلک خرابوي هغوی که تاسې دوعظ او نصيحت په طريقه لدې کارونو څخه منع کول او اړول

غوا ړئ نو هیڅ امکان نلري خو که د حکومت په زور وغواړئ نو هر څه سم او اصلاح کېږي.

که تاسې غواړئ د انسانانو کوښښ اوهلې ځلې ، دولت، استعداد، پوهه او لیاقت په غلطو لارو کې مصرف نشي او په سمو اوغوره لارو کې په مصرف ورسیږي، که تاسې غواړئ چې ظلم ختم او عدل راشي، فساد ختم او اصلاح راشي، دانسان وینه نه توی شي او نه وزبیښل شي، بې وځلې انسانان راپورته کړای شي او ټولو انسانانو ته یو شانته عزت، ډاډ، امنیت، پرمختګ او شتمني پلاس ورشي نودا ټول کارونه یواځې په وعظ، تبلیغ اوتلقین سره نه کېږي خو که ددې سره سره د حکومت زور او ځواک هم ملګرې نودا هر څه کېدای شي.

دا یوه څرګنده خبره ده چې زیات فکر او غور ته هم اړتیا نلري چې د خلکو داصلاح او سمون هیڅ پلان او پروګرام دحکومت داختیاراتو اوواک څخه پرته پوره او مکمل نشي عملي کېدای.

هغه څوک چې په ریښتیا سره دالله پاک د مخلوق خدمت، اصلاح اوسمون غواړي،فساد او بداخلاقي ختمول غواړي نو هغه باید یواځې نصیحت کوونکې اووعظ کوونکې نه وي، هغه باید راپورته شي او غلط حکومت ختم کړي، دغلطو او خرابو لاسونو څخه حکومت واخلي او په صحیح اوروغه طریقه باندې هغه روان کړي.

## دحکومت دخرابۍ بنسټ دانسان واکمني په انسان باندې ده.

پدې خبرو دپوهیدو څخه وروسته تاسې یو ګام نور هم مخکې ولاړ شئ،تاسې ته خو څرګنده شوه چې د انسانانو په

ژوند کې خرابي د حکومت له خرابوالي او فساد څخه منځ ته راځي اود اصلاح لپاره پکار ده چې هغه اصلاح او سم شي اوس دا پوښتنه پیدا کېږي چې دحکومت د خرابوالي سبب او علت څه شي دی؟ د دې ریښې او بیخ چېرې دی چې هغه اصلاح شي تر څو خرابي راپیدا نشي کومې چې مخکې دهغې یادونه وشوه.

د دې خبرې ځواب دا دې چې دا ریښه او بیخ دانسان حکومت په انسان باندې دی او پرته لدی څخه هېڅ اصلاح او سمون نه راځي چې تر څو الهي حکومت په انسان نه وي نافذ او عملي شوې. د دومره لوی پوښتنې دومره لنډ او اسانه ځواب چې تاسې واورئ نو حیرانیږئ مه، خوکه تاسې پدې هکله هر څومره لټون، تحقیق او پلټنه وکړئ نو همدا ځواب به پلاس درشي.

لږ څه غور او فکر وکړئ.

په کومه ځمکه چې تاسې اوسیږئ ایا دا الله پاک پیدا کړې او که بل چا؟ دا انسان چې په ځمکه اوسیږي ایا الله پاک پیدا کړی که بل چا؟ دا ټول وسایل، مواد او سامان چې انسان ورڅخه خپلې اړتیاوې پوره کوي ایا دا ټول الله پاک پیدا کړي که بل چا؟ ددې ټولو پوښتنو ځواب همدا یو دې چې د انسان، ځمکې، ټولو وسایلو او سامانونو خالق او پیدا کوونکې یوالله پاک دی نو ددې معنیٰ، مطلب او مفهوم دا شو چې: ملک دالله پاک دی، دولت د الله پاک دی، ولس او رعیت هم د الله پاک دی. چې خبره داسې ده نوایا بیا بل څوک د دې حقدار دی چې هغه دبل چا په خاوره، د بل چا په خلکو اود بل چا په وسایلو خپل واک، خپل اختیار او خپل حکم او قانون وچلوي؟

ایا بل څوک ددې حق لري چې د الله پاک په رعیت او ولس باندې خپل قانون یاد همدی رعیت پلاس جوړ شوی قانون وچلوي؟ هېواد ،خاوره اومملکت به د یو چا وي او حکومت د بل چا؟

ملکیت به د یو چا وي او حکم به د بل چا پکې چلېږي؟ رعیت دې د یو چا وي او حکومت دې د بل چاوي؟

ایا دا خبری ستاسې عقل قبلولای شي؟ دا خو په څرګنده د عقل او حق خلاف خبرې او کار دی، څرنګه چې د عقل او حق خلاف دی نو به هرځای کې د هغې پایلی او نتیجه غلطه او خرابه راوځي.

د کومو انسانانو پلاس کې چې د قانون اختیار ورځې هغوی د خپل جهالت او ناپوهۍ په سبب څه غلطۍ کوي او څه غلطۍ دخپل نفساني خواهش د پوره کولو لپاره ورځخه کېږي ځکه لومړې خو د هغوی سره دومره علم، پوهه او قضاوت نه وي چې دانسانانو د معاملاتو د چلولو لپاره مناسب او لازم قواعد او اصول جوړ کړي، دوېم دا چې هغوی خو د چاپه وړاندې ځان حساب او ځواب ورکوونکې نه بولې نو ځکه بې مهاره اوښان ورځخه جوړ شي.

لږ شانته عقل هم د دې لپاره بس دی چې کله انسان دالله پاک څخه ویره، ډار اوخوف ونلري، هغه ځان ازاد اوخپلواک وګڼي او دا ووایي چې څوک ځما څخه پوښتنه کوونکې نشته نو هغه به ایا بې مهاره او بې واګې اوښ نه جوړیږي؟ کله چې دداسې خلکو پلاس کې دخلکو د زرق او روزۍ کلیانې وي، کله چې د خلکو ځانونه او مالونه دوی په واک کې وي،کله چې په زرګونو او لکونو سرونه ددوی په وړاندې ښکته کېږي!ایا ددې ټولو سره سره به هغه د عدل او انصاف په لاره برابر شي؟ ایا

تاسې د دې امید او تمه کولای شي چې دوی به دحرام خوړلو او دخلکو دحق خوړلو څخه لاس واخلي؟ ایا تاسې ته دا امکان ښکاري چې داسې خلک به خپله هم په نیغه لاره ولاړ شي او نور به هم په هغه لاره روان کړي؟ هیڅکله داسې نشي کیدای، داسې کیدل دعقل خلاف کار دی. دزرګونوکالونو تجربه د دې په خلاف ګواهي او شهادت ورکوي، نن سبا تاسې پخپلو سترګو ګورئ چې دالله پاک څخه ناخبرو، بې پروا او غافلو خلکو چې واک، اختیار او حکومت تر لاسه کړی څه ظلم، زیاتې، ناروا او خیانت نکوي.

## په انسان دالله ﷻ واکمني داصلاح بنسټ دې.

د حکومت په اصل اوبنیاد کې چې دکوم شي اصلاح او سمون پکار دی هغه دادی چې په انسان باندې باید دانسان حکومت او واکمني نه وي بلکې دالله پاک حکومت او واکمني وي. ددې حکومت چلوونکې باید خپل ځان مالک، بادار او آقا ونه ګڼي بلکې الله پاک خپل پاچا،واکدار او حاکم وګڼي او دهغه د خلیفه اونائب په توګه کار وکړي او بیا داهم په خپل فکر،ذهن او زړه کې وساتي چې ددې ټولو کارونو او امانتونو حساب او کتاب به یوه ورځ ځما څخه اخستل کیږي خوداسې څوک به یې اخلي چې په ښکاره او پټو ټولو باندې ښه پوهیږي.

د حکومت قانون باید د هغه چا په لارښوونوولاړ وي چې هغه په ټولو شیانو پوره علم ولري اودپوهې منبع اوسر چشمه وي.

دحکومت په قانون کې هیڅ ته د ترمیم او بدلون اختیار او واک نه وي تر څو هغه دخپلو نفسي خواهشاتو په اساس خراب اووران نکړي.

همدا اساسي او بنیادي خرابي ده چې اسلام دهغې اصلاح اوسمون غواړي، هغه انسانان چې الله پاک خپل حقیقي پاچا بولي او هغه قانون چې دنبي ﷺ پوسیله راغلي ایمان رواړي نودداسې انسانانو څخه اسلام دا غوښتنه کوي چې دخپل حقیقي پاچاپه هېواد او مملکت کې دې د هغه د قانون د عملي کولو او نافذولو لپاره راپورته شي، دهغه په رعیت او ولس کې چې څوک سرغړونکې او باغیان شویدي او خپل ځانونه پاچایان او خپلواک ګڼي دهغوی زور مات کړي او دالله پاک رعیت د نورو دغلامۍ څخه وژغوري.

د اسلام له نظره دا خبره کافي او بس نده چې انسان دې الله پاک پاچا وګڼي او دهغه قانون دې هم برحق وبولې بلکې د منلو سره جوخت په هغه دا بار او مسؤلیت اچوي چې په کوم ځای کې تاسې اوسۍ او چېرې مواستوګنه وي هلته دخلکو داصلاح او سمون لپاره راپورته شئ، د حکومت د غلطو اصولو د اصلاح او سمون کوښښ پیل کړئ. له الله پاک څخه دبې پروا، باغیانو او بې واګې اوښانو څخه د قانون جوړولو او واکمنۍ واګې واخلۍ، او بیا دالله پاک دقانون سره سم داخرت د حساب او کتاب په نظر کې نیولو سره د حکومت چلولو کار مخ په وړاندې بوځئ ،الله پاک عالم الغیب وبولۍ او په هغه یقین وساتۍ چې هر څه ګوري او له هر څه خبردی ،دهمدې کوښښ او هلوځلو نوم جهاد دې.

## حکومت کول اسانه کار ندې.

خودا یاد ساتئ چې دحکومت واکې او اختیارات داسې بده بلا ده چې هر څوک يې پلاس کې واخلي نو په زړه کې يې د خواهشاتو طوفانونه او موجونه راپېدا کېږي،دانسان نفساني خواهشات دا غواړي چې کله دځمکې خزانې اودخلکو څټونه او غاړې د هغه لاس ته ورشي نو بې دريغه واکمني او خدای پرې وکړي.

د حکومت لاس ته راوړل اونيول دومره سخت ندي لکه څومره چې دواکمني دلاس ته راوړلو وروسته چې انسان خپل ځان د خدای ګڼلو،خپلواک او تولواک بللو څخه ځان ساتل او دالله پاک بنده ځان جوړول ګران دي. بیا چې داسې نه وي نو څه ګټه او فایده وشوه؟ چې یوفرعون مولری کړ او خپله فرعون جوړ شوئ؟ په همدې خاطر اسلام پدې امتحان،ازمايښت او ابتلاء کې د غورځېدلوڅخه مخکې تاسې دې کارته چمتو کوي او تر روزني او تربیې لاندې مو نیسي.

تر هغې تاسې ته د خلکو سره د حکومت په سر جنجال کولو او دعویٰ کولو ته نه خوشي کوي تر څو چې ستاسې له زړونو څخه نفسي خواهشات او د خپل ځاني حکومت جوړولو خواهش ختم نشي.

تر هغې چې په تاسې کې داسې پاکوالې او د نفس صفايې پېدا نشي چې قومي او نفسي خواهشات مو ختم او هر څه مو د يو الله پاک درضا او دهغه د مخلوق د خدمت او اصلاح لپاره وګرځي.

اوتر هغې پورې چې په تاسې کې دا استعداد ، قوت او ځواک پېدا نشي، چې کله تاسې ته حکومت پلاس درشي دخپلو نفسي

خواهشاتو پېروي ونکړئ بلکې دالله پاک په قانون باندې ثابت اوکلک پاتې شئ.

يواځې په کلمه ويلو اوپه اسلام کې په داخليدو سره تاسې ددې حقدار او وړ نګرځئ چې دخلکو په څښتونو سپاره شئ او بيا د الله پاک او رسول الله دنامه په اخستلو سره په خلکو او انسانانو هغه څه وکړئ چې د الله پاک څخه باغيان، ظالمان او د وخت فرعونيان يې کوي.مخکې لدی څخه چې تاسې ته اسلام د داسې درونداولوی مسؤليت په، غاړه اخستلو حکم او امروکړي په تاسې کې داسې ځواک،قوت، استعداد او توان پېدا کوي چې د دې دروند مسؤليت بار په خپلو اوږو پورته کړای شئ.

## عبادتونه روزنيز کورس دې.

دا لمونځ،روژه،زکات، حج او نور عبادتونه په اصل کې ددې کار لپاره تياري او چمتوالی دی، لکه څرنګه چې د ټولې نړۍ حکومتونه او نظامونه خپل پوځ، خپل پولېس او اداري کارکوونکې روزي او هغوی ته خاص ډول تمرينونه او کارونه په ګوته کوي او بيا د روزنې، تربيت او ټريننګ څخه وروسته ورڅخه کار اخلي.

په همدې توګه اسلام هم ټول هغه انسانان چې پدې دين او دې وظيفی کې ځان داخلوي په ځانګړي توګه تمرين، روزنه او ټريننګ ورکوي بيا ورڅخه دجهاد اوالهي حکومت دقيام اونافذولو کار اخلي.

توپير او فرق دا دی چې دنړۍ او دنيا حکومتونه د خپلو کارکوونکو څخه چې کوم کار اخلي په هغې کې اخلاق، نفسي

پاکوالې اوله الله پاک څخه ویره اوخوف درلودل حتمي او ضروري نه وي بلکې هغوی یوائې کارکوونکې روزي که هغه شرابي، زناکار، بې ایمان او خائن وي.

خو اسلام چې کوم کار دخپلو کارکوونکو څخه اخلي هغه بیا ورسره فرق او توپیر لري ځکه چې داسلام کار په اخلاقو ولاړ دی نو هغوی د کار په طریقه د پوهولو سره سره پدې هم پوهوي چې هغوی باید له الله پاک څخه ویره،ډار او خوف ولري ، نفسي خواهشات یې باید کنترول وي او په هغوی کې داسې ځواک او استعداد را پیدا کوي که د الهي حکومت دعوه وکړي نو بیا هغه په عمل کې هم ثابته کړي.

هغوی چې جګړه کوي نو ددې لپاره یې نکوي چې ځانته مال، دولت او ځمکه تر لاسته کړي، بلکې هغوی د خلکو د خدمت، نجات، او بریالیتوب لپاره جنګیږي، کله چې کامیاب او فاتح شي نو کبر او غرور نکوي بلکې دهغوی سرونه د الله پاک په وړاندې ښکته وي اوکله چې واکمنان شي نو خلک خپل غلامان نه بولې بلکې خپله او نور خلک دالله پاک غلامان او بندګان ګرځوي، کله چې دځمکې خزانې پلاس ورشي دخپلوجیبونو او د خپلوانو جیبونه پرې نه ډکوي بلکې دالله پاک رزق د هغه په بندګانوباندې دعدل او انصاف په اساس ویشي، او په هر حالت کې داسې کار کوي لکه چې څوک هغوی څاري او د هغوی هر عمل تر دقیقې اوکلکې څارنې لاندې دي او د هر پل او قدم حساب ورسره کیږي.

د دې روزنې، تربیت او ټریننګ لپاره ددې عبادتونو څخه پرته بله لاره او طریقه نشته او کله چې اسلام پدې توګه او

طریقه سره انسانان چمتو او اماده کړي نو بیا هغوی ته وایي چې هو اوس تاسې د ځمکې په سر د الله پاک صالح بندګان یاستئ نو مخکې ولاړ شئ، دالله پاک د باغیانو او فرعونیانو سره وجنګېږئ او د هغوی د حکومت نظام دړې وړې او ختم کړئ او واکمني پخپل لاس کې واخلئ.

﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ﴿١١٠﴾ ﴾ آل عمران: ۱۱۰

## داسلامي حکومت برکتونه

تاسې اوس پدې پوهېدلې شئ چې کله پوځ، پولېس، محکمې، قضاء، عدالتونه، ولسوالۍ او ولایت، ګمرکونه او نور اداري نظام دداسې مامورینو او چارواکو پلاس کې وي چې ټول د الله پاک څخه ویره او ډار ولري او خپل ځان دهغه په وړاندې حساب ورکوونکې او داخرت د ورځې په سزا او جزا باندې باور لرونکې وګڼي او کله چې د حکومت ټول اصول، قاعدې، او مادې دالهي قانون په لاربښوونو ولاړ وي، چې هلته دبې عدالتۍ او بې انصافۍ هېڅ امکان نه وي،هلته چې د بدۍ او بدکارۍ مخه سمدستي نیول کېږي، د نیکۍاو معروف لپاره خلک او حکومت هر وخت کار او فعالیت کوي، تاسې فکر وکړئ چې پداسې حکومت او نظام کې به د خلکو او عام ولس حالت څومره غوره او بهتر وي.

تاسې لږ غور او فکر وکړئچې کله داسې صالح حکومت د خلکو په منځ کې کار وکړي او ټولې بدی لارې چارې ختمې او ورکې کړي. کله چې حرام خوړل، بدکاري،ظلم، بې حیایې، رشوت خوړل او بداخلاقي ختمه شي، کله چې غلط تعلیم او

تربیه ختمه او پرځای یې غوره او ښه ښوونه او روزنه ورکړل شي، او کله چې دعدل،انصاف، امنیت، نیک اوسیدنې او ښکو اخلاقو هوا او فضا برابره شي او د خلکو سترګې د حق لیدلو او کتلو ته خلاصې شي، نو بلاخره ټول ولس به هم حق ګوري اوهم به د حق د لیدلو توان او ځواک پیدا کړي، هغه زړونه چې د پیړیو پیړیو ګردونو او غبارونو پوسیله خیرن او زنګ شوي وه په کراره کراره دآینې پشان صاف او روښانه کیږي او دحق قبلولو او منلو استعداد پکې پیدا کیږي.

پداسې وخت کې خلکوته پدې خبره پوهیدل آسانه کیږي چې د هغوی مالک او خالق الله پاک دی اوپرته دهغه ځخه د بل چا عبادت او بندګي پکارنه ده اومحمدﷺ د هغه برحق استازې او پیغمبر دی او څه چې هغه راوړي هغه ټول حق او ځمونږ په خیردي.

کومې خبرې چې اوس یې د انسانانو زړه، ذهن او دماغ نه قبلوي په هغه وخت کې به دا ټول شیان پرته له ځنډه قبول کړي. نن چې د کتابونو، رسالو، خطبو او وعظونو پوسیله په خبرو پوهول ګران دي هلته به په ساده طریقه په هر څه پوه او خبر شي. کله چې انسانانو ته دا ثابته شي چې دانسانانو په واکمنۍ، طریقو او معاملو چلولوکې، اوپه الهي طریقو، احکامو اوواکمنۍ کې د معاملاتو چلول ځومره فرق اوتوپیر لري نوبیا به د هغوی د زړه حالت او کیفیت څه ډول وي؟ هغه وخت به په توحید اورسالت باندې ایمان راوړل ډیر آسانه او ساده شي او دهغې ځخه به انکار ورته په اور کې غورځول ښکاري.

لکه ځرنګه چې د ګل اواغزي په فرق پوهیدلو سره د ګل غوره کول اسانه او د اغزي غوره کول ګران او سخت وي دارنګه

به د اسلام غوره کول او قبلول آسانه او په کفر او شرک باندې پاتې کېدل سخت او ګران و ي.په هغه وخت کې به لښکرې اوکاروانونه اسلام قبلوي او د ګوتو په شمار خلک به په خپل پخواني ضد او دین باندې پاتې کېږي.

ورونو!

زه هېله لرم چې تاسې به اوس په دې ښه پوه شوي یاست چې دالمونځ،روژه،زکات اوحج دڅه لپاره دي؟ تاسې ترنن پورې فکرکولواوله پخوا څخه پدې غلطۍ کې ساتل کېدلۍ چې دا عبادتونه بس دلمانځنې څورسمونه دي ،تاسې ته دا هېڅ ویل شوي ندي چې دادیولوی خدمت لپاره تیارې اوچمتوالې دی.په همدې خاطرتاسې پرته له کوم موخې او هدف دارسمونه سرته رسول اودهغه لوی کاردتیارۍ فکر هم ستاسې سره پېدانشو دکوم لپاره چې دا تاکل شوې وه.

خوزه اوس درته وایم په کوم زړه کې چې دجهادنیت نوې اونه دجهادموخه او هدف ولري دهغه ټول عبادتونه بې ځای دي.

که تاسې ددې بې معنۍعبادتونوڅخه داهېله اوامېدلرۍ چې پدې به دالله پاک نژدیوالې پلاس راوړۍ نوکله چې الله پاک ته ورشئ هلته به درته څرګنده شي چې څومره نژدیوالې مو تر لاسه کړې.

# ۲۹
# دجهاد اهمیت

خما داسلام ورونړو!

ما مخکې یو ځل تاسې ته د دین، شریعت اوعبادت په هکله معلومات درکړی ؤ، اوس یو ځل بیا هغه خبرې او مضمون په فکر او ذهن کې راتازه او نوې کړئ.

د دین معنیٰ اطاعت او مننه ده.

شریعت قانون ته وایي.

عبادت بندګئ ته ویل کېږي.

## د دین معنیٰ

کله چې تاسې د چاپه اطاعت کې داخل شوۍ اوهغه مو خپل حاکم ومنلو نو تاسې د هغه دین قبول کړ، هغه ستاسې حاکم شو او تاسې د هغه رعیت اوولس نو بیا د دې حاکم احکام او ټاکلې شوې قاعدې او اصول ستاسې لپاره قانون یا شریعت ګرځي، او چې کله تاسې د دې قانون او شریعت سره سم ژوند تیروۍ، هغه چې څه غواړي هغه ورکوئ، د څه شي چې حکم درکوي هغه ورسره منۍ او له څه شي څخه موچې منع کوي دهغې څخه منع کېږئ، کوم چوکاټ چې هغه درته ټاکې دهغې په منځ کې کار کوئ، پخپلو معاملو، شخړو او لانجو کې د هغه فیصله منۍ نو د دې سلوک او رویې نوم عبادت دی.

د دې تشریح څخه دا څرګنده شوه چې دین په اصل کې د

حکومت نوم دی، شریعت د هغې قانون دی او عبادت د هغې قانون او قاعدو پابند ده، تاسې چې هر څوک خپل حاکم منئ او د هغه محکومې قبلوئ په اصل کې تاسې د هغه په دین کې داخلېږئ، که ستاسې هغه حاکم الله پاک وي نو تاسې د الله پاک په دین یعنی اسلام کې داخلېږئ، که هغه حاکم پاچاوي نو تاسې د پاچا په دین کې ((فی دین الملک)) کې داخلېږئ، لنډه دا چې د هر چا داطاعت او مننی غړوندی چې ستاسې په غاړه کې وي په حقیقت کې تاسې د هماغه په دین باندې یاستئ، او د چاپه قانون چې عمل کوئ نو تاسې په حقیقت کې د هماغه عبادت کوئ.

## د انسان دوه دینونه نشي کېدای.

کله چې تاسې پدې خبره پوه شوئ نو پرته دکوم غور اوفکر څخه پدې ساده او عادي خبره هم پوهیږئ چې د انسان په یو وخت کې دوه دینونه نشي کېدای،ځکه چې په مختلفو واکمنانو کې تاسې په یو وخت کې د یو حاکم حکم منلی شئ،او یو قانون ستاسې د ژوند لپاره گرځیدی شي، په دوه معبودانو کې یواځې د یو عبادت ستاسې لپاره امکان لري.

تاسې دا هم ویلی شئ چې په عقیده کې به یو حاکم منو خو په عمل کې به د بل منو، عبادت او پرستش به د یو کوو او بندگي به د بل یو کوو، په زړه کې به عقیده په یو باندې لرو، خو په عمل کې به د بل قانون سره سم چلیږو.

زه د دې په ځواب کې دا وایم چې بې شکه دا کار کېدای شي خو همدې ته شرک وایي او شرک سراسر دروغ دی، په حقیقت کې تاسې په هغه دین یاستئ چې د کوم پېروي او مننه کوئ ،

ایا دا دروغ ندي نو څه دي چې تاسې د چامنه او اطاعت نکوي او بیا د هغه دین خپل دین بولئ؟

که تاسې په خوله او زړه کې جلا جلا خبرې لرئ نو د دې اثر او اغېزه به څه وي؟که تاسې دا وایي چې مونږ په شریعت ایمان راوړیدی نو دا خو هسې د خولې وینا ده پداسې حال کې چې تاسې د ژوند په معاملوکې د شریعت له دایري او چوکاټ وتلي یاستئ، او په دوهم شریعت کې داخل شوی یاستئ. ستاسې داخبره چې مونږ فلانې معبود منو او ستاسې دا سرونه چې ستاسې په ورمیږونو دپاسه پراته دي د هغه په وړاندې په ځمکه د سجدې لپاره ښکته کول یو مصنوعی اوریایې کار دی پداسې حال کې چې په حقیقت کې تاسې د بل چا غلامي او بندګي کوئ.

په حقیقت کې ستاسې معبود هماغه دی او په اصل کې تاسې د هماغه چا عبادت کوئ چې د چاپه ټاکلی شوي چوکات کې ژوند تیروئ، د هغه په ټاکلې شوې طریقو باندې عمل کوئ، د هماغي قانون سره سم تاسې د خلکو څخه مال اخلئ او خپل مال نورو ته ورکوئ، د خپلو معاملو د حل لپاره هغه ته ورځئ، د هماغه د قانون په اساس ستاسې خپل منځې اړیکې او حقوق ویشل کېږي او د هغه په غوښتنه تاسې خپل مال، دولت، ذهني او بدني توان، او خپل ځان هم وړاندې کوئ، نو که ستاسې عقیده یوه وي او عمل بل شانته وي نو په حقیقت کې به هماغه شي واقع کېږي چې څه دي، د عقیدې لپاره هلته بیا هېڅ اهمیت نه وي او نه د داسې عقیدې څه قیمت او وزن وي.

که تاسې په واقعیت کې د پاچاپه دین باندې یاستئ نو پدې کې د الله د دین لپاره هېڅ ځای نشته، یا که تاسې د جمهور په

دین یا د انګریز په دین یاد جرمن په دین یا د ملک او وطن په دین باندې یاستئ نو پدې ټولو کې د الله پاک ددېن لپاره هیڅ ځای نشته او که په حقیقت او واقعیت کې تاسې دالله پاک په دین باندې یاستۍ نو د نورو دینونو لپاره هیڅ ځای نشته، په هر حال پدې پوه شئ چې چېرې هم شرک وي هغه به دروغ وي.

## هر دین واکمني غواړي

کله چې تاسې پدې خبره پوه شوئ نو بیا د اوږد بحث څخه پرته ستاسې ذهن پدې خبره رسیږي چې دین که هر یووي خامخا خپل حکومت او خپل واک غواړي، که جمهوري دین وي او که پاچایي، له الهي دین وي او که اشتراکې ، چې هر دین وي د خپل پاینبت لپاره حکومت ته اړتیا لري، اود حکومت څخه پرته دین داسې وي لکه چې د تعمیر نقشه د انسان په دماغ کې وي، نو د دې نقشي څه ګټه او فایده ده پداسې حال کې چې تاسې په اباد او ودان تعمیر کې اوسیږئ، دهغه له دروازې څخه ننوځۍ او د هغې له بلې دروازې څخه وځئ، د هغې چت اوبام په تاسې له پاسه سیوری کوي، نو په ذهن کې بله نقشه او په عمل کې په بل تعمیر کې اوسیدل آخر څه ګټه او څه فایده لري.

د عمارت او تعمیر نقشې ته هیڅوک هم تعمیر او ودانۍ نه وایي بلکې خلک هغه ته عمارت وایي چې عملاً پکې اوسیږي او د هغې څخه ګټه اخلي.

د همدې مثال په شان دین هم دی چې یوائې عقیده پرې څه معنیٰ نلري او داسې عقیده بې ګټې ده چې عملاً ژوند په بل دېن سره تیروي،لکه څرنګه چې په خیالي او ذهني تعمیر کې څوک نشي اوسیدای په همدې ډول په خیالی او ذهنی دین کې څوک نشي پاتې کېدائ.

دين هغه دی چې دهغې حکومت او واکمني وي، د هغه قانون عملي وي، دهغې سره سم د ژوند معاملات چلېږي.
نو هر دين دخپل فطرت په اساس دخپل حکومت او واکمنی غوښتنه کوي، او دين دهمدې لپاره دی چې څوک يې مني د هغه عبادت او بندګي وشي او دهغه قانون او شريعت نافذ او عملي وي.

## څو مثالونه

مونږ د ښه معلوماتولپاره څو مثالونه وړاندې کوو.

## جمهوري دين

د جمهوري دين مفهوم څه شي دی؟ دا دی چې د يو هېواد او مملکت عام خلک دې د خپل حکومت او واک خاوندان شي، په هغوی باندې دې خپل جوړ کړی قانون عملي شي، او د هېواد ټول اوسيدونکي دې د دې جمهوري حکومت اطاعت او بندګي وکړي.
تاسې راته ووايئ چې جمهوري دين څرنګه جاري کېدا ی شي چې حکومت اوواکمني ورسره نه وي او د جمهورو قانون او شريعت نافذ نه وي؟

که د جمهورو پر ځای د کوم قوم يا کوم پاچا حکومت او واک وي او د هغه شريعت روان وي نو بيا جمهوري دين چېرې دی؟ که څوک په ذهن او زړه کې پرې عقيده ولري نو ودې لري څکه چې تر څو پورې د بل قوم اوبل پاچا دين جاري او نافذ وي په جمهوري دين باندې عمل نشي کېدا ی.

## پادشاهي دين

پاچايي دين هم يو دين دى، دا دين چې کوم پاچا لوړاو حاکم بولې نو د هغه اطاعت او دهغه شريعت نافذول او عملي کول غواړي، که داسې ونشي نو بيا د پاچا پاچايي او د هغه لوړ حاکميت څه معنیٰ او مفهوم لري؟ دين که جمهوري وي که د بل کوم قوم خو چې حکومت د چاوي نو دين د هماغه دى .کوم پاچا چې څوک يې امر او حکم نه مني هغه آخرڅه شي دى؟

## فرنگي دين

کله چې قانون د انگريز او فرنگ وي اودهغوى په زور مدني او جزايي قانون نافذ وي او خلک هغې ته غاړه ږدي نو بل دين ته څه ځاى پکې نشته خو که د فرنگ مدنې او جزايې قانون ختم او ورک شي او څوک ورته غاړه نه ږدي نو بيا د فرنگي دين معنیٰ او مطلب څه شو.

## د اسلام دين

په همدى ډول د اسلام د دين معامله هم ده، ددې دين بنياد او بنسټ دا دى چې د دې ځمکې اوانسانانو مالک او پاچا يواځې او يواځې الله پاک دى، پس يواځې دهماغه بندگي او اطاعت پکار دى او د هماغه په شريعت بايد د انسانانو ژوند سمبال شي، د الله پاک د لوړ اوپورته حاکميت اصول چې اسلام وړاندې کوي دا د دې لپاره دي چې په زمکه باندې يواځې دالله پاک حکم وچلېږي، په محکمه او قضاء کې پرېکړې دهغه په قانون او شريعت سره وشي، پولېس د هماغه احکام نافذ کړي، راکړه ورکړه د هغه د قواعدو په اساس سرته

ورسيږي،ماليات او ټيکس د هغه دقانون په اساس وټاکل شي او په هغو ځايونو کې مصرف شي کوم چې هغه ورته ټاکلي او مقرر کړيدي، اداري او پوځي چارې د هغه د حکم سره سم رواني وي،

د خلکو استعدادونه، ځواکونه او کوښښونه د هغه په لاره کې وي، ويره، خوف او تقوىٰ له هغه ځخه وشي،رعيت اوولس دهغه تابع وي، لنډه داچې انسان پرته له هغه ځخه د بل هيچا بنده او غلام نه وي.

څرګنده خبره ده چې دا موخه او هدف تر هغې نه پوره کېږي چې تر څو الهي حکومت او قانون نه وي عملي او نافذ شوی.د بل دين سره دا دين کله شرکت او ګډون منلی شي؟ او بل کوم دين دی چې د بل چا شرکت او ګډون د ځان سره مني؟ د هر دين پشان دا دين هم غواړي چې ټول واک او اختيار دې ځما په لاس کې وي او هر بل دين دې ځما په وړاندې مغلوب او تابع وي!که داسې نه وي نو بيا ځما پېروي او اطاعت نه کېږي.که زه وم نو جمهوري دين به نه وي،اشتراکي دين به نه وي، پاچاهي دين به نه وي او نه به بل دين وي خو که بل دين وي نو بيا زه نه يم او يواځې په منلو او عقيده لرلو سره ځما څه کار نشته. همدا خبره قرآن مجيد بيابيا تکراروي او فرمايي:

﴿ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعْبُدُواْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ ﴾ البينة: ٥

(( خلکو ته پرته لدې ځخه د بل هيڅ شي حکم ندې ورکړې شوې چې هغوی دې دهر لوري ځخه مخ واړوي او خپل دين خالص الله لره کړي او دهغه عبادت دې وکړي)).

﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ﴿٣٣﴾ ﴾ التوبة: ۳۳

الله هغه ذات دی چې خپل رسول یې د هدایت او حق دین سره لیږلی دی تر څو پورې چې هغه په ټولو دینونو باندې غالب او برلاسي کړي سره د دې چې مشرکان دا بد ګڼي.

﴿ وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ ﴾ الأنفال: ۳۹

او دهغوی سره وجنګېږه تر هغې پورې چې فتنه پاتې نشي او دین ټول د الله لپاره شي.

﴿ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ ﴾ یوسف: ٤٠

حکم پرته د الله څخه بل چاته نشته، دهغه امر دی چې پرته دهغه څخه د بل چاعبادت مکوئ.

﴿ فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا ﴿١١٠﴾ ﴾ الکهف: ۱۱۰

پس څوک چې دخپل رب د ملاقات هیله من وي نو هغه ته پکار دي چې صالح عمل وکړي او دخپل رب په عبادت کې بل څوک شریک نکړي.

﴿ أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزۡعُمُونَ أَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدۡ أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦ ﴾ النساء: ٦٠

ایا تا ونه لیدل هغه کسان چې د ایمان دعوه یې کوله په هغه هدایت باندې چې تاته نازل شوې او ستا څخه مخکښنو انبیاء ته نازل شوې ، سره ددې بیاهم هغوی خپلې شخړې اومعاملې د فیصلې لپاره طاغوت ته وړاندې کوي، پداسې حال کې چې هغوی ته په طاغوت باندې دکفراوانکار کولو حکم شوی.

﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ ﴾
النساء: ٦٤

مونږ چې کوم رسول لیږلی دی‌د دې لپاره مولیږلی چې د الله په اجازه د هغه اطاعت وشي.

لږ مخکې چې ما د عبادت، دین او شریعت کومه تشریح وکړه د هغې څخه وروسته د دې خبرو په پوهیدلو کې به تاسې ته لږ شانته سختي هم نه وي چې د قرآن مجید دا مبارک ایاتونه څه وایي.

## په اسلام کې د جهاد اهمیت

اوس خبره پوره ښکاره او ځرګنده شوه چې په اسلام کې جهاد ولې دومره اهمیت لری، اود نورو دینونو پشان د الله پاک دین هم یوازې پدې خبره قانع او ډاډه ندی چې د هغه حقانیت دې ومنل شي او د عقیدې تر حده پورې دې دهغه څه رسمي او شکلي عبادات هم سرته ورسول شي. اصلي او حقیقي خبره دا ده چې د بل دین لاندې داسې‌دلو په صورت کې ددې دین پېروي نشي کېدا ی،د بل دین په شرکت او ګډون کې هم ددې دین پېروي نشي کېدای.

که تاسې په حقیقي اوواقعي توګه دا دین حق بولۍ نو بیا تاسې ته پرته لدې څخه بله چاره نشته چې د دې دین د عملي کولو اونافذلو لپاره خپل ټول ځواک، توان او قوت استعمال کړئ، یا هغه نافذ کړئ یادا چې پدې لاره کې خپل مال او سر ورکړئ، دا هغه معیار او سټهندر دی چې ستاسې د ایمان او عقیدې صداقت او رښتیوالې پرې معلومیږي.

که ستاسې باور، عقیده او ایمان رېښتني وي نو بیا تاسې د بل دین لاندې هېڅکله آرام او کرار نشئ کېناستې دا څه کوې چې هلته د هغې خدمت وکړی او د خدمت خوراک ښه په مزو سره وخوري او خپلې پښې وغزوې او خوب وکړی.

کله چې ته دا دین حق بولې بیا به تاته د بل دین لاندې ژوند کول داسې ګران او سخت وي لکه په بستره چې درته اغزي اچولې شوی وي، خوراک مو زهر او مرغوني وي، د حقیقي هلو ځلو او کوښښونو څخه پرته به تاسې ته یوه ثانیه هم خوب نه درځي.

که تاسې ته د الله پاک د دېن پر ځای په بل دین کې ډاډ اوارام په برخه کېږي اوتاسې پرې راضي او خوشحاله اوسئ نو بیا تاسې مؤمنان نه یاستئ، که تاسې هر څومره دزړه په اخلاص لمونځونه وکړئ، اوږدې اوږدې مراقبې وکړئ، څومره د قرآن او حدیث شرح وکړئ، او څومره د اسلام فلسفه او حکمت بیان کړئ، دا د هغه کسانو معامله ده چې پرته دالهي دین څخه په بل دین باندې راضي او خوښ وي.

اوهغه کسان چې د بل دین په اخلاص سره خدمت اوچوپړکوي او د بل دین «جمهوري دین» د راوستلو لپاره هلې ځلې او کوښښ کوي نو زه به د هغوی په هکله څه درته ووایم؟

مرګ څه لرې ندی، کله چې هغه وخت راشي نو هغوی چې د دنیا په ژوند کې څه ګټلي او کړي هغه به ټول الله پاک ورته په مخ کې کېږدي، که داسې خلک ځانونه مسلمانان او مؤمنان بولې نو ډېر احمقان او بی عقلان دي، که په هغوی کې لږ شانته عقل هم وايي نو دوی به پدې پوه شوی وای چې یودین حقیقي او اصلي منل او بیا په بل دین باندې راضي کېدل یادهغې په عملي کولو او نافذولو کې هلې ځلې کول یا د هغې لپاره منډې

ترړی وهل، دا ټول یو دبل ضد او مخالف کارونه دي.
اوبه اوآور سره یوځای کېدای شي خو دایمان باالله سره داپورتني عمل نشي یوځای اوجمع کېدای. قرآن مجید چې پدې هکله څومره شیان ویلي دهغې ټولو راوړل دلته ګران دي خو څو به د نمونې اومثال په توګه درته وړاندې کړم.

﴿ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتْرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ ﴿٢﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۖ فَلَيَعْلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٣﴾ ﴾ العنكبوت: ۲ – ۳

ایا خلک ګمان کوي چې یواځې پدې به پرېښودل شي چې مونږ ایمان راوړیدی اوهغوی به ونه ازمایل شي؟ پداسې حال کې چې ددوی څخه مخکې چې چا د ایمان دعوه کړی وه هغوی موازمایلي دي، پس دا ضروري ده چې الله څرګند او ښکاره کړي چې څوک دایمان په دعوه کې رښتني او څوک پکې دورغجن دی)).

﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ فَإِذَآ أُوذِىَ فِى ٱللَّهِ جَعَلَ فِتْنَةَ ٱلنَّاسِ كَعَذَابِ ٱللَّهِ وَلَئِن جَآءَ نَصْرٌ مِّن رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ۚ أَوَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ بِمَا فِى صُدُورِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠﴾ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ ﴿١١﴾ ﴾ العنكبوت: ۱۰ – ۱۱

اوځینې له خلکو څخه داسې هم دي چې وایي ایمان مو راوړیدی په الله باندې، خو کله چې هغوی د الله په لاره کې وزورول شي نو د انسانانود زورونو څخه داسې وډار شي لکه د الله له عذاب څخه چې ویره پکار ده، خو که ستاد رب له لوري برې او فتح راشي نو بیا همداکسان راځي او وایي چې مونږ خو

ستاسي سره ملګري وو، ايا الله په هغه څه نه پوهېږي چې دخلکو په سينو کې دي، خامخا به الله ښکاره کړي هغه کسان چې مؤمنان دي او هغه کسان چې منافقان دي.

﴿ مَّا كَانَ ٱللَّهُ لِيَذَرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ ۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى ٱلْغَيْبِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَجْتَبِى مِن رُّسُلِهِۦ مَن يَشَآءُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ۚ وَإِن تُؤْمِنُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٩﴾ ﴾ آل عمران: ١٧٩

دالله تعالی د حکمت خلاف خبره ده چې مؤمنان په همدې حالت باندې پرېږدي په کوم حالت کې چې اوس دي (چې د ريښتني ايمان خاوندان اومنافقان سره ګډوډ دي) آن تر دې چې خبيث او طيب (پاک او نا پاک) سره چانې او جلا نکړي.

﴿ أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تُتْرَكُوا۟ وَلَمَّا يَعْلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُوا۟ مِنكُمْ وَلَمْ يَتَّخِذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا ٱلْمُؤْمِنِينَ وَلِيجَةً ۚ وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾ ﴾ التوبة: ١٦

ايا تاسې ګمان کړيدی چې تاسې به همداسې پرېښودل شئ، پداسې حال کې چې الله تعالی ندي په ډاګه کړي ستاسې څخه هغه کسان چې چا جهاد کړی او هغوې چې له الله تعالی، رسولﷺ او مؤمنانو څخه پرته يې بل څوک په دوستۍ ندی نيولې.

﴿ ۞ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ تَوَلَّوْا۟ قَوْمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مَّا هُم مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ وَيَحْلِفُونَ عَلَى ٱلْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤﴾ ﴾ المجادلة: ١٤

ايا تا ونه ليدل هغه کسان چې د هغه قوم سره ملګرتيا کوي له کوم څخه چې الله تعالی ناراضي دی، دا خلک نه ستاسې څخه دی او نه د هغوی څخه.

﴿ ٱسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ ٱلشَّيْطَٰنُ فَأَنسَىٰهُمْ ذِكْرَ ٱللَّهِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ حِزْبُ ٱلشَّيْطَٰنِ ۚ

أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱلشَّيْطَٰنِ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿١٩﴾ المجادلة: ۱۹

دا د شیطان د حزب او ګروپ خلک دي، او خبردار اوسئ چې د شیطان د حزب کسان ناکام او تاواني دي، يقيناً هغه کسان چې د الله او رسول مقابله کوي (يعنی د حقيقي دين په خلاف کار کوي) هغوی د ماتې خوړونکو او ذليلو څخه دي.

﴿ كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِىٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴿٢١﴾ ﴾ المجادلة: ۲۱

د الله فيصله او پرېکړه ده چې زه او زما رسول به خامخا غالبيږي، يقيناً الله تعالی قوي او زورور دی.

## جهاد د رېښتني مؤمن د پېژندلو نښه

د پورتني اياتونو څخه دا خبره بالکل په ډاګه او څرګنده شوه چې کله په ځمکه باندې د الله پاک د دين څخه پرته بل دين نافذ او واکمن وي او کوم مسلمان پداسې شرايطو کې راګير شي نو د هغه د ايمان او صداقت علامه او نښه دا ده چې هغه به د حق دين د نافذولو اود باطل دين د ختمولو هلې ځلې او کوښښ کوي، که هغه کوښښ او هلې ځلې کوي او پدې لاره کې خپل ټول توان اوزور مصرفوي، خپل ځان قربانوي او هر ډول تاوان او زيان ګاللوته چمتو وي نو دا صادق او رښتنی مؤمن دی که دهغه کوښښ بريالی کېږي او که ناکامېږي خو دی خپله بريالی او کامياب دی، هغه څوک چې د باطل دين په غلبه او برلاسی باندې خوښ او راضي وي يا د باطل په بر لاسی او غلبه کې خپله برخه اخلي نو دا د ايمان په دعوه کې دروغجن دی.

## بدلون د هلو ځلو او کوښښ ځخه پرته نه راځي.

پدې اياتونو کې قرآن مجيد هغو خلکو ته هم ځواب ويلی دی، چې د الهي دين د نافذولو په برخه کې مشکلات او تکليفونه د عذر او پلمې په ډول وړاندې کوي.

ښرګنده خبره ده چې کله دحق دين د نافذولو لپاره هلې ځلې او کوښښ پيل کېږي نو خامخا به مخکې له مخکې هلته کوم باطل نظام او حکومت د خپل ځواک، زور او قوت سره موجود وي، ځواک به دهغوی پلاس کې وي، درزق اوروزۍ خزانې به هم ورسره وي او د ژوند په ټول ميدان اوډګر کې به هغوی واکمن اومسلط وي.

دداسې باطل دين په خلاف راپورته کېدل او د بل حقيقي دين قايمول خو څه د ګلانو لوبه نده، په کراره کېناستلو او خوب کولو باندې دا کار هېڅکله نه کېږي او نه مخکې شويدی، که تاسې دا غواړۍ چې د پخوانې نافذ باطل دين څخه موچې څه څه ګټې تر لاسه کړي هغه د لاسه ونه وځي او حق دين هم د دې ګټو د ساتلو سره سره نافذ شي نو دا بالکل ناممکن او محال کار دی.

دا هغه وخت کېدای شي چې تاسې په باطل نظام او حکومت کې خپل ټول حقوق، اسانتياوې او فايدوته لغته ورکړئ او د حق دين په لاره کې چې څه زيانونه، تکليفونه او مصيبتونه راځي هغه په حوصله او همت سره وزغمئ.

کوم کسان او ځوانان چې ددې بار او پيتې د پورته کولو همت او حوصله ولري جهاد د همدوی کار او دنده ده او داسې کسان هر وخت ډير کم پېدا کېږي.

پاتې شوه هغه کسان چې د حق دين پېروي او برلاسي غواړي

خو په ارامه او کراره نو هغوی باید برېږ او پورته ونه غړېږي بلکې کراره کښني او د خپل نفس خدمت او چوپړ وکړي او کله چې د الله په لاره کې د غازیانو اومجاهدینو هلې ځلې بریالی او کامیابي شي نو بیا دې راشي اوو دې وایي چې ((انا معکم)) مونږ خو ستاسې ملګري وو، ستاسې ډګروپ او ډلې خلک وو اوس مونږ ته هم پکې برخه راکړئ.

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين